د قارون له مال څخه زيات خو حلال مال وګټه ............................... ۲۲۸
د مسلمانانو د ناکامۍ څلوريزه .................................................. ۲۲۹
موږ بايد د دين جوهر خلکو ته وښايو................................................ ۲۳۹
دين سراسر د انسان په ګټه دی...................................................... ۲٤۰
له الله تعالی سره اړيکه جوړول څومره آسان دي...................................... ۲٤۳
د لمونځ دنيوي او اخروي ګټې .................................................... ۲٤٥
په ځان ظالمه، ولې؟ .............................................................. ۲٤٦
درې مهم کارونه همېشه کوه ....................................................... ۲٤۹
زيری درکوم ...................................................................... ۲٥۰

د دنیا اصلي حیثیت .......... ۱٦۹

د ژوند مهمه قاعده .......... ۱۷٥

آیا ژوند مو له کړاوونو ډک دی؟ .......... ۱۷٦

د هر چا هره خبره مه منه .......... ۱۹۰

د دجال له فتنې څنګه په امان شو؟ .......... ۱۹۰

د مرستې لپاره اصلي مرستندوی ته مخ کړه .......... ۱۹۷

د الله تعالی مینه څنګه ترلاسه کړم؟ .......... ۱۹۷

د قتل امر یې وشو خو پاچا ورته په ګونډو شو .......... ۲۰۰

د عثمان رضي الله عنه ژړا .......... ۲۰۱

د دوه شیانو په اړه اندېښنه کوې، خو بې ځایه .......... ۲۰۱

یوازې په مال جنت نه ګټل کیږي .......... ۲۰۲

دوه کارونه مو د الله تعالی له عذابه ساتي .......... ۲۰۳

له ستونزو د وتلو آسانه طریقه .......... ۲۰٥

د بریا څلوریزه .......... ۲۰۷

اړیکې زموږ حیاتي اړتیا .......... ۲۱۳

بریا خلکو ته په ګټه رسولو کې ده .......... ۲۱٦

څلور قاعدې دي چې انسان پرې بریالی کېدای شي .......... ۲۱۷

تر ټولو لویه پښېماني .......... ۲۲۰

په آخرت کې د بریالي کېدو لپاره مهمې قاعدې .......... ۲۲۱

ولې ناهیلی یې؟ .......... ۲۲٥

د عقل د پیاوړي کولو لپاره دوه مهمې قاعدې .......... ۲۲۷

منطقي ځواب ........................................................ ۱۲۷
د قرآن کریم په رڼا کې د ډیپریشن (ژور خپګان) درملنه ..................... ۱۲۸
د هغه ځوان به څه حال وي؟ ............................................. ۱۳٦
عمر ډېر لنډ دی ...................................................... ۱۳۷
هغه کسان چې جنت کې به د نور پر منبرونو ناست وي ......................... ۱۳۸
ولې الله تعالی د مسلمانانو حال نه بدلوي؟ ................................ ۱٤۱
د وروسته پاتې هېوادونو یوه نښه ......................................... ۱٤۳
په داسې حالت کې به څه وکړې؟! ......................................... ۱٤٤
د ټولنې د کمزورۍ کېدو اسباب ........................................... ۱٤٤
ظالمان غافلان دي؛ له جدي خبرداریو ..................................... ۱٤٦
فاسق خبر ........................................................... ۱٤۹
مور ریښتیني نه یوو .................................................. ۱٥۱
غیبت لکه مرداره غوښه ................................................ ۱٥۱
ماشوم پلار حیران کړ ................................................. ۱٥۲
په اسلام کې عدالت او صداقت هم شته .................................... ۱٥٤
د دوزخیانو ارمانونه .................................................... ۱٥٥
څومره ګناهونه دې کړي دي؟ ............................................ ۱٥۹
مسلمانانو ته د هندي فلمونو لوبغاړي مهم پیغام ............................ ۱٦۰
د مرګ پر وخت د هر انسان پنځه لویې پښېمانۍ ............................. ۱٦۳
رسول الله ﷺ داسې پلار و ............................................. ۱٦۷
په روزي کې مو ولې برکت نشته؟ ......................................... ۱٦۸

د ويرې او کمزورۍ علاج ........................ ۹۳

د شيطان ملګري ........................ ۹۷

په دنيا کې هر شی ختمېدونکی دی ........................ ۱۰۰

څنګه پياوړي کېدای شو؟ ........................ ۱۰۱

تر ټولو لويه بدبختي څه ده؟ ........................ ۱۰٤

اووه ډله کسان به د عرش تر سيوري لاندې وي ........................ ۱۰۵

شتمني يا بېوزلي د الله تعالی د محبت نښه نه ده ........................ ۱۰٦

زموږ د بدمرغيو اصلي لامل څه دی؟ ........................ ۱۰۷

د الله تعالی نظام عجيب دی ........................ ۱۱۰

له ځوانانو د اسلام غوښتنه څه ده؟ ........................ ۱۱۱

آيا ما ګنهګار به الله وبښي؟ ........................ ۱۱۲

په ناپوهۍ د اسلام ضد دعوت ........................ ۱۱۵

د سعادت، خوشحالۍ ترلاسه کولو عملي لار ........................ ۱۱۵

اندېښنه مه کوه ........................ ۱۱۸

د ايمان تله؛ څنګه خپل ايمان اندازه کړم؟ ........................ ۱۱۸

اصلي مېړانه ........................ ۱۲۰

په ځوانانو کې د بې لارۍ لاملونه ........................ ۱۲۰

شکلاني عبادت ........................ ۱۲۳

دواړو تېروتنه وکړه، يو پيغمبر او بل د الله دښمن شو ........................ ۱۲٤

د ځان اصلاح ........................ ۱۲۵

زه هم له ډېرې مودې راهيسې ايډز لرم ........................ ۱۲٦

د ژوند لپاره څو مهمې قاعدې.......... ۳۷
د انسانانو سترگې خلک اغېزمنولی شي؟ .......... ۳۸
څنگه د سترگو له تاثیر یا سحر خوندي کېدای شو؟.......... ٤٠
زموږ د اُمت د اوسني وضعیت د بدلون حل لار .......... ٤٧
قرآن کریم زموږ د ژوند تگلاره .......... ٤٨
تنبلي او وخت ضایع کول د نه بخښل کېدو وړ گناه ده .......... ٤٩
لور څه ډول انسان ته واده کړم؟ .......... ٥٤
څومره توپیر دی د اوس او د پخوا ترمنځ؟.......... ٥٥
ریښتیني زیان کوونکي .......... ٥٥
د ژوند لپاره مهمې قاعدې .......... ٥٦
په غم یا خپگان او تشویشونو اخته یې؟.......... ٥٧
تر ټولو لویه گناه .......... ٥٨
انسان ته د شیطان گواښ .......... ٦١
د انسان په بې لارې کولو کې د شیطان تگلارې .......... ٦٣
هیڅ مې نه خوښېږې.......... ٧٣
د غم او خپگان لرې کولو دعا .......... ٧٤
سوالگر سره د خیر البشر چلند .......... ٧٥
قرآني دعاگانې چې ژر قبلېږي .......... ٧٦
د ملگرتیا او ورورلۍ معیارونه.......... ٩٠
دا عادت به دې په رښتیا ژوند بدل کړي.......... ٩٠
تر هر څه مخکې الله تعالی راضي کړه.......... ٩٢

لړلیک

د زړه بار دې سپک کړه ........................................ ۱
لږ فکر وکړه .................................................. ۳
د زړه سکون .................................................... ۳
ته باید ځان پیاوړی کړې ........................................ ٤
د هر کار له پیل مخکې له الله تعالی مرسته غواړه ................ ٤
تل پر درې اړخونو پام ساته ...................................... ٥
هر انسان تاواني دی؛ مګر چې دا صفتونه ولري...................... ٥
څنګه د دنیا تر ټولو خوشبخت انسان شم!؟ ......................... ۷
د ریښتینې بریا څلور اساسي ارکان................................ ۱۰
ولې دعوت پر هر مسلمان لازم دی؟................................. ۱۲
هره ورځ نوی فرصت دی ............................................ ۱۳
الله تعالی ته د رسېدو لار........................................ ۱٤
د خوشبخته او بریالي ژوند لپاره پنځه نبوي سپارښتنې ............. ۱٥
ناهیلی کېږه مه .................................................. ۲۲
په ژوند کې دې برکت نشته؟ ....................................... ۲۳
څومره غوره ژوند به وي............................................ ۲٥
لویه خوشبختي .................................................... ۲٦
مسلمان ته طلایي زیری ............................................ ۲٦
که په دنیا او آخرت کې بریا غواړې ................................ ۳۰
دا مبارک حدیث د خپل ژوند لپاره قانون وټاکه...................... ۳۱

دریم: دعا کول

څوک چې دعاء نه کوي الله پاک پرې غصه کیږي، الله پاک ستا پروا نه لري بلکې ته باید د الله پاک پروا ولرې. الله پاک فرمايلي:

﴿ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ﴾[228]

ژباړه: تاسې دعاء کوئ زه يې درته قبلوم.

## زیری درکوم

له خالق پرته بل هیڅ داسې څه نشته چې همېشه ثابت پاتې شي.

هر شی پای مومي.

تر هرې شپې وروسته روڼ سهار حتما راځي او تر هرې تیارې وروسته روښنايي وي.

په دې ډاډه اوسه چې ستا خپګان، ستونزې او اوسنی ناوړه حالت چې ته يې لرې، حتما پای ته رسيږي.

بس صبر کوه، ځکه له هرې سختۍ سره اساني شته!

---

۲۲۸: غافر، ٦٠ آیت

## درې مهم کارونه همېشه کوه

دا کارونه په دوامداره ډول خپل عادت کړه، هېڅکله یې مه پرېږده ورسره به له عذابونو بچ یې، نعمتونه به دې ډېر وي او همېشه به دې الله پاک هر ارمان او هر حاجت پوره کوي، ان شاء الله.

لومړی: شکر کول

هر نعمت چې الله پاک درکاوه شکر یې اداء کوه (شکر پرې وباسه). ټول نعمتونه چې په ژوند کې همدا اوس هم لرې له امله یې الله پاک شکر اداء کړه، د هر نعمت په لیدو او هر حالت کې الحمدلله وایه.

که داسې ونه کړې نعمتونه ښایي له لاسه ورکړې یاکم شي.

﴿لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ﴾[226]

ژباړه: که شکر کوونکي شئ زه به یې تاسې ته زیات کړم (نعمتونه).

دویم: استغفار ویل یا توبه کول

که استغفار و نه وایې او توبه و نه باسې، الله پاک به دې په بېلابېلو عذابونو یا تکلیفونو او مشکلاتو اخته کړي. الله پاک فرمایي:

﴿وَمَا كَانَ اللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ﴾[227]

ژباړه: او الله پاک دوی ته عذاب نه ورکوي (په داسې حال کې) کله چې دوی استغفار وايي (بخښنه غواړي).

استغفار ویلو سره مو په ژوند کې برکت راځي، الله پاک به مو له بیلابیلو مشکلاتو څخه لیرې کړي او الله پاک به ګڼ نعمتونه درکړي .

---

۲۲۶: ابراهیم، ۷ آیت

۲۲۷: الأنفال، ۳۳ آیت

﴿وَلِلَّهِ غَيْبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَإِلَيْهِ يُرْجَعُ ٱلْأَمْرُ كُلُّهُۥ فَٱعْبُدْهُ وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ ۚ وَمَا رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ﴾[٢٢٤]

ژباړه: د الله لپاره د اسمانونو او ځمکې غیب، هره چاره (هر څه) الله تعالی ته راجع کیږي (واک یې یوازې د رب عزوجل دی، نو ته اندېښنه پرېږده او یوازې) عبادت یې کوه او پر خپل خالق توکل کوه. الله تعالی ستاسي له کړنو ناخبره نه دی.

یوه قرآني قاعده در ښایم چې د هرې ستونزې څخه د وتلو حل لار ده! دا ایت ولیکه او په داسې ځای کې یې ولګوه چې هره ورځ دې پرې سترګې لګیږي او پام دې ورته راوړي.

﴿وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا ﴿٢﴾ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ۚ وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ ۚ إِنَّ اللَّهَ بَالِغُ أَمْرِهِ ۚ قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا﴾[٢٢٥]

ژباړه: څوک چې تقوا وکړي (هر ناروا کار د الله تعالی له وېرې پرېږدي) الله تعالی به ورته لار پرانیزي (هدایت به ورته وکړي، له ستونزو به د وتلو لار ورته برابره کړي). او هغه ته به په داسې ډول روزي ورکړي چې هغه لوري ته د هغه ګومان هم نه رسیږي. څوك چې په الله توکل وکړي هغه ورته کافي دی. الله د خپل کار پوره کوونکی دی. الله د هر شي لپاره یوه اندازه ټاکلې ده.

٢٢٤: هود، ١٢٣ آیت

٢٢٥: الطلاق، ٢-٣ آیت

﴿مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ﴾[222]

ژباړه: هر څوك چې ښه عمل وکړي، که هغه نارینه وي او که ښځه، په دې شرط چې مؤمن وي، پر هغه به مونږ په دنیا کې سپیڅلی ژوند تېر کړو او(په آخرت کې به) دغسې خلکو ته د هغو اجر له ډېرو ښه عملونو سره سم ورکړو.

ته ولې اندېښنه کوې، الله تعالی ستا لپاره حقونه ټاکلي. که دنیا له منځه ځي، الله تعالی ته تر دې آسانه ده چې خپله وعده دې پوره نه کړي. ټریلیونونه وارې ډاډه اوسه چې: ﴿إِنَّ اللَّهَ لاَ يُخْلِفُ الْمِيعَادَ﴾[223]

ژباړه: بې له شکه الله عزوجل وعده خلافي نه کوي.

په حدیث شریف کې راځي چې رسول الله ﷺ له معاذ رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه چې ما حقُّ العِبادِ على الله؟ یعنې په الله تعالی د بندګانو حق څه دی؟

پخپله رسول الله ﷺ ځواب ورکړ چې: پر الله تعالی د بندګانو حق دا دی چې کله یې دوی عبادت کوي، الله تعالی عذاب ورنه کړي.

له دې نه ښکاري چې له ایمان سره درد نشته، تشویش، اندېښنې او ځان ځپنه نشته، ناهیلي نشته.

ستا ټولې چارې د الله تعالی په واک کې دي، که ته پرې توکل وکړې او عبادت یې وکړې الله تعالی به دې چاره ساز شي.

۲۲۲: النحل، ۹۷ آیت

۲۲۳: آل عمران، ۹ آیت

ژباړه: او هغه کسان چې د خپل لمانځه ساتنه کوي، یا همېشه لمونځ کوي، دغه کسان به په عزت سره د جنت په باغونو کې وي.
غافل به وي هغه انسان چې د دې لوی نعمت ترلاسه کولو لپاره هره ورځ پنځه وخته لږ تر لږه څو دقیقې خپل خالق ته نه ځانګړې کوي!
که غواړې الله پاک د لمونځ کولو توفیق درکړي، همېشه د ابراهیم علیه السلام دا دعا په ژبه جاري ساته:
﴿رَبِّ اجْعَلْنِي مُقِيمَ الصَّلَاةِ وَمِن ذُرِّيَّتِي ۚ رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَاءِ﴾[۲۲۱]
ژباړه: پروردګاره ما د لمونځ قایموونکی وګرځوه او زما له اولاد څخه هم (داسې خلك راپورته کړه چې دغه عبادت ادا کړي) زموږ ربه! دعا مو قبوله کړه.

## په ځان ظالمه، ولې؟

مه وارخطا کېږه، اندېښنه مه کوه او ځان مه ځپه!
ولې دې ځان ته ژوند او حالات دومره پیچلي او سخت کړي؟
الله سبحانه و تعالی خو شته کنه!
ته چې څومره ستونزې لرې، هر حالت چې درباندې راغلی، که فشار درباندې زیات دی، که دې کاروبار خراب دی، روزي دې کمه ده، که بې وظیفې یې او بل هر حالت چې ته یې اندېښمن کړی یې، الله تعالی په دې ټولو برلاسی او د هر څه خالق دی!

---

۲۲۱: إبراهیم، ۴۰ آیت

## د لمونځ دنیوي او اخروي ګټې

هره ورځ د پنځه وخت لمونځ په ادا کولو به الله تعالی موږ ته دوه ډوله انعامونه راکړي: دنیوي او اخروي.

لومړی انعام په دنیا کې سکون، نېکمرغي، برکت، هوساینه، او قلبي ډاډ یا اطمئنان القلب.

دویم انعام په آخرت کې تر ټولو لوی نعمت، جنت الفردوس!

څومره لوی نعمت دی. الله تعالی درته دا سپارښتنه کړې:

﴿وَالَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَوَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ﴾[217]

ژباړه: او هغه کسان چې د خپلو لمونځونو ساتنه کوي (پابند وي).

﴿أُولَٰئِكَ هُمُ الْوَارِثُونَ﴾[218]

ژباړه: همدوی وارثان دي.

د څه شي وارثان دي؟

﴿الَّذِينَ يَرِثُونَ الْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ﴾[219]

ژباړه: هغوی چې په میراث کې جنت الفردوس مومي او په هغې کې به د تل لپاره استوګن وي.

په بل آیت کې رب عزوجل فرمایي:

﴿وَالَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ ﴿٣٤﴾ أُولَٰئِكَ فِي جَنَّاتٍ مُكْرَمُونَ﴾[220]

---

۲۱۷: المؤمنون، ۹ آیت

۲۱۸: المؤمنون، ۱۰ آیت

۲۱۹: المؤمنون، ۱۱ آیت

۲۲۰: المعارج، ۳۴-۳۵ آیتونه

هغه بلنه (دعا) منم، نو دوی ته هم ښايي چې زما بلنه ومني او پر ما ايمان راوړي (ته دا خبره دوی ته واوروه کېدای شي دوی ايمان راوړي). څومره مهربان رب، په دومره لويې پاچاهۍ او قدرت تا ته وايي چې زما بلنه ومنه، خو ته ترې بې پروا يې!؟

ته يوه ټيټ پوړي انسان ته چې له کبر او غرور ډک وي، څومره ټيټ او پاس کېږې، خو د خالق عز و جل، مهربان رب پر وړاندې دومره بې پروا يې؟!

زموږ رب وايي چې که اړتيا دې وه، ما ته غږ وکړه، زه ځواب درکوم او زه او ته سرگردان يوو خپله بقا په چاپلوسۍ او انسان ته په ټيټ او پاس کېدو کې لټوو؟

﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهِ نَفْسُهُ ۖ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ﴾[٢١٦]

ژباړه: په حقيقت کې موږ انسان پيدا کړی دی او د هغه په زړه کې په وسوسو پوهېږو او موږ د هغه له شاه رگ يا د ورمېږ له رگ نه هم ورته نږدې يوو.

---

٢١٦: ق، ١٦ آيت

## له الله تعالی سره اړیکه جوړول څومره آسان دي

د یوه هېواد ولسمشر یا هغه انسان چې پر تاسې ډېر ګران وي او لیدنه یې ستاسې ارمان وي او دغه انسان ډېر بوخت ژوند او تقسیم اوقات ولري، وخت اخیستل، مجلس کول یا اړیکه جوړول ورسره څومره سخت دي؟

که د کوم سیاسي چارواکي څنګ ته ورځې څومره نزاکتونه او پروټوکولونه به زغمې چې بلاخره دې ورسره ملاقات وشي یا دې کوم کار لپاره واسطه شي. خو یوه شي ته دې پام شوی دی؟

د پاچاهانو پاچا، مالک الملک، د آسمانونو او د ځمکې خالق، زما او ستا رب سره اړیکه جوړول څومره آسانه کار دی؟

دومره آسانه لکه د سترګو رپ، همدومره آسانه.

مهربانه رب ستا لپاره هره ورځ د ملاقات پنځه موقعې برابرې کړي.

رسول الله ﷺ فرمایي: لمونځ د انسان او د خالق تر منځ اړیکه ده.

یعنې ستا او د الله تعالی تر منځ ملاقات دی.

که غواړې ډاډه شې، د لمونځ ژباړه زده کړه، پوه به شې چې هره جمله یې څه معنا. مهربان رب په خپل سپیڅلي کتاب کې څه فرمایلي؟

﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ ۖ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ ۖ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ﴾[٢١٥]

ژباړه: (الله تعالی خپل حبیب ﷺ ته وایي) که زما بندګان له تا نه زما په اړه پوښتنه وکړي، نو ته ورته ووایه چې، زه دوی ته ډېر نږدې یم. بلونکی چې کله ما ور وبولي (دعا کوونکی چې کله دعا وکړي)، زه د

---

٢١٥: البقرة، ١٨٦ آیت

دا لوی غفلت دی چې انسان د دې لپاره عبادت پرېږدي چې تکلیف دی. پوهېږې، په سراسر دین کې، په عبادت کې او د دین په امر او نهی کې د انسان ګټه ده.
الله تعالی هېڅ شی حرام کړی نه دی، مګر دا چې زموږ پکې ګټه وي.
دا ټول نظام د انسان په ګټه څرخوي او اشرف المخلوقات یې ټاکلی.
الله پاک فرمایلي:
﴿مَا أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْآنَ لِتَشْقَىٰ﴾[213]
ژباړه: موږ دا قرآن په تا باندې د دې لپاره ندی نازل کړی چې ته په کړاو اخته شې.
ویې لوله، هېڅ داسې شی به پیدا نه کړې چې الله پاک حرام کړی وي او هغه کې دې د انسان لپاره تاوان نه وي.
کله چې انسان په دې یقین شي چې الله پاک هر څه زموږ د ګټې او مصلحت لپاره منع کړي، نه ترسره کول به یې ورته آسان شي.
خو که ځان دې په دې باور کړ چې په ګناه کې خوندونه دي، ګناه درته آسانه، ځان ساتل ترې سختېږي او عبادت در باندې بوج کیږي.
کله چې له ګناه سره مخامخېدې، یا عبادت درباندې بوج کېده، دا آیت ځان ته یادوه:
﴿مَا أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْآنَ لِتَشْقَىٰ﴾[214]

---

٢١٣: طه، ٢ آیت

٢١٤: طه، ٢ آیت

موږ ټول ولې لمونځ یا نور عبادتونه کوو؟ ځکه چې د رب رضایت او په بدل کې یې له خپل رب څخه جنت غواړو یا دا چې الله پاک موږ ته امر کړی او موږ د خپل رب لپاره دغه فریضه ادا کوو. همدا مو مطلب دی او د یوه مقصد لپاره دا کار کوو. قرآن کریم ورته د تجارت تشبیه کارولې. الله پاک فرمایي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ تِجَارَةٍ تُنْجِيكُمْ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ﴾[٢١١]

ژباړه: اې مؤمنانو، آیا زه وښایم تاسې ته هغه تجارت چې تاسې له دردناك عذاب نه وژغوري؟

دا تجارت څه شی دی؟

پر الله او د هغه پر پیغمبر ایمان راوړئ او د الله په لاره کې پخپلو مالونو او خپلو ځانونو سره جهاد وکړئ ، همدغه ستاسې له پاره بهتره ده که تاسې پوهیږئ.

په بل آیت مبارک کې راځي:

﴿إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ۚ﴾[٢١٢]

ژباړه: حقیقت دا دی چې الله تعالی له مؤمنانو څخه د هغوی نفسونه او د هغوی مالونه د جنت په بدله کې پېرلي دي.

د شیطان تر ټولو لویه دوکه چې موږ او تاسې ته یې راکوي دا ده چې وایي له الله پاک سره دې اړیکه په گټه نه ده، عبادت دې ستړی کوي او خوند پکې نشته او هسې ځان په تکلیفوې.

---

٢١١: الصف، ١٠ آیت

٢١٢: التوبه، ١١١ آیت

زموږ ټولو دا مسوولیت دی چې خپل پاک دین اصلي حالت ته وګرځوو، د ژوند تګلاره یې کړو هغسې چې الله تعالی موږ ته ښودلي او رسول الله ﷺ موږ ته بیان کړی.

## دین سراسر د انسان په ګټه دی

ځینې انسانان فکر کوي چې عبادت، یا د الله تعالی پر لار باندې تګ پر دوی بوج دی او که دا کار وکړي، په تکلیف کیږي.

پوهیږې همدا د شیطان یو چال دی چې انسان پرې دوکه کوي.

هغه کسان چې لمونځ نه کوي، شیطان یې څنګه تېر باسي؟

کله چې ورته د عبادت سپارښتنه کیږي یا یې عبادت ته شوق راځي، شیطان وسوسه زړه کې ور اچوي چې ستا خو ډېر لوی ګناهونه دي، پخوا دې هم لمونځ نه دی کړی، نو څنګه یې اوس شروع کوې.

یا دا وسوسه چې زه سر له سبا یا بلې ورځې به لمونځ پیل کړې.

ډېر نېک انسانان هره ورځ په دې تمه د خیر کار ځنډوي چې سبا یا بله ورځ به یې وکړم، خو کله نا کله په دوی هغه سبا نه راځي.

یا دا وسوسه چې کله دې ستونزه نه وه؛ نو عبادت به دې نه کاوه، اوس چې درته مشکلات پیدا شوي، خپل رب ته ستنیږې او عبادت یې کوې، یعنې یوازې د ګټې او مطلب لپاره عبادت کوې؟

یوې خبرې ته پام وکړه، دین سراسر د ګټې لپاره عملي کېږي.

هر کار باید د یوه مصلحت او همدا راز عبادت باید د مطلب لپاره وشي، بې مطلبه یو کار څه معنی؟

په الله تعالی باندې توکل وکړه او له شیطان نه پناه وغواړه.
ځکه د یوسف علیه السلام په زمانه کې قرآن کریم د مصر پاچا یادونه کوي: ﴿إِنِّي أَرَىٰ﴾.
دا مضارع فعل دی او په دې دلالت کوي چې دا فعل څو وارې تکرار شوی دی. که نه شاید آیت داسې وای چې اني رأيتُ، يعنې ما يو ځل خوب ولید او بس.
بشپړ آیت داسې دی:
﴿وَقَالَ الْمَلِكُ إِنِّي أَرَىٰ سَبْعَ بَقَرَاتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَسَبْعَ سُنْبُلَاتٍ خُضْرٍ وَأُخَرَ يَابِسَاتٍ ۖ يَا أَيُّهَا الْمَلَأُ أَفْتُونِي فِي رُؤْيَايَ إِنْ كُنْتُمْ لِلرُّؤْيَا تَعْبُرُونَ﴾[٢١٠]
ژباړه: يوه ورځ پاچا وويل" ما په خوب کې لیدلي دي چې اووه څربې غواوې دي چې اووه خوارې غواوې يې خوري...
او د غلې اووه شنه وږي دي او اووه نور وچ. اې درباريانو، ما ته د دې خوب تعبير ونښاياست که تاسې د خوبونو په تعبير پوهيږئ".

## موږ باید د دین جوهر خلکو ته ونښایو

نور بس دی چې د کلونو لپاره دغه ډول ستونزو د خلکو ژوند متاثره کړی او له ستونزو سره مخامخ کړي. راځئ د دین اصلي جوهر خلکو ته ونښایو چې د دینداري په واسطه نېکمرغي او سعادت ترلاسه کړو.

---

٢١٠: یوسف، ٤٣ آیت

د قرآن کریم هر ځای چې د خوب یا احلام خبره راغلې ورسره د اضغاث کلمه ذکر شوې. اضغاث بې معنا یا ګډوډ خوبونو ته ویل کیږي.

د بیلګې په ډول دا مبارک آیت:

﴿قَالُوا أَضْغَاثُ أَحْلَامٍ ۖ وَمَا نَحْنُ بِتَأْوِيلِ الْأَحْلَامِ بِعَالِمِينَ﴾[۲۰۹]

ژباړه: هغوی وویل دا خو ګډوډ خوبونه دي او مونږ د دغه شان خوبونو پر مطلب نه پوهیږو.

په سورت یوسف کې د دې موضوع وضاحت راغلی دی چې کله د مصر پاچا خوب ولید چې اووه څربې غواوې دي چې اووه خوارې غواوې یې خوري او د غلې اووه شنه وږي دي او نور اووه وچ. هغه له خپلو درباریانو پوښتنه وکړه چې د دغه خوب تعبیر څه دی؟

هغوی ځواب ورکړ چې دا هسې ګډوډ او بې معنا خوب دی چې موږ یې په تعبیر نه پوهیږو تر دې چې بیا ورته چا یوسف علیه السلام چې په زندان کې بندي و، وښود او هغه ورته دا خوب تعبیر کړ.

په قرآن کریم کې خوب یا حلم کلمه اووه ځله راغلې، هر ځل ورسره د اضغاث کلمه یاده شوې. اضغاث بې اساسه او هوایي شي ته ویل کیږي. هغه چې پیغمبرانو یې تعبیر کړی، هغه بیا رؤیا دی.

د احلام او رؤیا تر منځ ځینو علماوو توپیر کړی او وایي چې قرآن کریم یې توپیر کوي، خو موږ یې نه کوو: رؤیا هغه خوب دی چې تکراریږي یا یو څوک یې بیا بیا ویني.

خو که یو وار دې کومه شپه خوب ولید، دا عادي خوب دی تعبیر پسې یې ځان مه سرګردانه کوه.

---

۲۰۹: یوسف، ۴۴ آیت

یوه ورځ مې ورسره مجلس کاوه چې د کلي یو ځوان ورته راغی او له هغه سره یې یو خوب شریک کړ او ورته یې وویل چې ښېګاه مې خوب لیده چې زما غاښ وځي. هغه ورته سملاسي ځواب ورکړ چې د دې خوب تعبیر دا دی چې نږدې ورځو کې به په تجارت کې تاوان وکړې یا به درنه د تجارت شریک چې د هغه ورور و جدا شي.

ما ترې پوښتنه وکړه چې مولوي صاحب ددغه خوب تعبیر دې د څه په اساس وکړ؟

هغه له ما پوښتنه وکړه چې ولې ته د خوب په تعبیره باور نه لرې؟

ما ورته وویل، باور لرم، خو د پیغمبرانو خوب لیدل او تعبیر حق دی، د یوسف علیه السلام د خوب تعبیر مې ور یاد کړ او ورته ومې ویل چې له پیغمبرانو سره د وحیې ملاتړ و، له ځانه یې خوب نه تعبیراوه.

بلکې الله پاک ورته اصل کې تعبیر ښوده. نو دا چې د خوب تعبیر غیبي مسئله ده زه او ته د څه په اساس تعبیر کوو؟

اوږد بحث مو وکړ خو زه یې قانع نه کړم، خو ښکارېده چې هغه قانع و که څه هم موقف یې اجازه نه ورکوله چې په څرګنده اقرار وکړي.

ما ورته بیا ټینګار کاوه چې په اوسنۍ زمانه کې د خوب دغه ډول تعبیرول فتنې جوړوي او د خلکو ژوند له کړاونو سره مخامخ کوي.

بل دا چې دا ډول خوبونه خلکو ته وهم پیدا کوي، هر چا چې خوب لیده فکر به کوي چې هغه نو د الله پاک ولي دی ځکه خوبونهویني.

د نړۍ د معتبرو مفتیانو او علماوو اوسنۍ فتوا هم همدا ده چې په اوسنۍ زمانه کې د خوب تعبیر فتنه پیدا کوي، مه یې کوئ.

د دې وهمونو او ستونزو د حل یوازې دا دی چې په الله تعالی توکل وکړو او سهار او ماښام اذکار و وایو.
همېشه د قرآن کریم ایتونه، دعاګانې او ازکار وایه او ځان پرې له هر شر او ضرر څخه خوندي ساته.
د سهار او ماښام لپاره ځانګړي اذکار دي چې په حدیثو ثابت دي. هغه زده کړه او هر سهار او ماښام یې دوامداره وایه.
یوه حدیث کې راځي چې کله به رسول الله ﷺ د خوب بسترې ته تللو نو د اخلاص (قل هو الله أحد) معوذتین (قل اعوذ برب الفق او قل اعوذ برب الناس) سورتونه به یې تلاوت کول او بیا به یې په لاسونو چوف کول او ټول ځان به یې مسحه کاوه او دا کار به یې درې وارې تکراروه.
که غواړې چې همېشه له جادو او د سترګو له تاثیره ته او ستا کورنۍ خوندي وي، پخپله هم دغه نبوي طریقه عملي کوه او خپل اولاد هم همداسې پرې مسحه کوه. ان شاء الله له دې ستونزو به خوندي یې.
بل دا چې همېشه په اوداسه اوسه او ژبه د الله په ذکر او د قرآن کریم په تلاوت بوخته ساته، سحر یا جادو، سترګې او نورې شومې پدیدې درباندې تأثیر نه کوي ان شاء الله.
څلورمه پدیده: د خوب تعبیر
په اوسنۍ زمانه کې ډېره سخته ده چې څوک دې د خوب سل فیصده صحیح تعبیر وکړای شي.
زموږ په کلي کې یو تکړه عالم و چې کله به یې دیني مسایل تشریح کول، زما به ورته پام و چې مطالعه یې ژوره ده.

ژباړه: هغه کسان چې ایمان یې راوړی او زړونو ته یې د الله په یاد سره ډاډینه (اطمنان) ور په برخه کېږي. خبردار اوسئ! همدغه د الله یاد هغه شی دی چې په هغه سره زړونو ته اطمنان ور په برخه کېږي.

دریمه پدیده: د سترگو اغېز

د سترگو اغیز حق دی او په صحیحو حدیثونو سره ثابته ده چې سترگې تاثیر کوي، خو هره ستونزه په سترگو پورې نه شو تړلی، ځکه دا غیبي موضوع ده او سل سلنه دقیق تفسیر یې څوک نه شي کولای.

یوازې پیغمبرانو کوای شول چې الله پاک ورته وحیه کوله، یا د الله پاک په مرسته به هغوی د غیبي موضوعاتو تعبیر کاوه.

یوازې رسول الله ﷺ پوهېده چې د سترگو د اغېز تفسیر وکړي؛ ځکه د وحیې مرسته ورسره وه.

سترگې حق دي او اغېز کوي، خو دا چې موضوع غیبي ده؛ موږ پرې نه پوهیږو.

نه زه، نه ته او نه هم هغه څوک چې ستا غاړې ته تعویز در اچوي.

هېڅ یو نه پوهېږو چې دغه حالت چې ته ترې کړیږې د سترگو د تأثیر له کبله دی یا که کوم بل څه دي؟

ځینې خلک د مکروبونو له امله ناروغي هم په سحر او سترگو ور اچوي. د معدې په تکلیف اخته وي، یا مکروب یې معده زخمي کړې وي، خو خلک به ورته وایي چې چا درباندې سحر کړی یا نظر شوی یې.

د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامو د خلافت په ټول تاریخ کې د سترگو اغېز یوازې دوه ځایه یاد شوی دی. خو زموږ په چم گاونډ کې د ورځې څو ځله دا خلکو ته ویل کیږي چې سترگو درباندې تاثیر کړی؟

سحر شته او په انسان تاثير کوي، له دې انکار نه شي کېدای، اما زما هدف دا چې هر ناخواله له سحر سره نشو تړلی ځکه په دې ډاډه نه يوو چې دغه زموږ حالت د سحر په واسطه دی او که طبي مشکل لرو.
په دې برخه کې د خلکو شکايتونو او ګيلو ته چې پام وکړې داسې احساسيږي لکه د ټولو خلکو چې بل کار نه وي او ټوله ورځ ناست وي په خلکو جادو کوي.
زموږ ډېری وخت زړه تنګوالی او ورته ذهني ناکرارۍ له دې امله وي چې موږ له خپل خالق سره فاصله ډېره کړې او له خپل رب نه لرې شوي يوو.
د انسان په بدن کې روح دی، دا روح الله پاک داسې جوړ کړی چې له هغه سره له اړيکې پرته يې تنده په بل شي نه خړوبيږي.
کله چې موږ د خپل روح له خالق سره اړيکه ونه پالو او ترې بې پروا شو، روح مو په عذاب وي او غواړي چې ته يې تنده د خپل رب په مينه ورخړوبه کړې. ځکه د الله پاک عبادت او ذکر د روح غذا ده، ته چې روح ته دغه غذا نه ورکوې، په دې معنی چې وږی وي او بايد موږ شي. الله پاک دا روح داسې پيدا کړی چې د هغه له عبادت او ذکر پرته په بل هيڅ شي نه کراريږي. ځکه خو الله پاک فرمايي:
﴿الَّذِينَ آمَنُوا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُمْ بِذِكْرِ اللَّهِ ۗ أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ﴾[208]

۲۰۸: الرعد، ۲۸ آيت

زما لومړی پوښتنه ترې دا وي: څنګه پوهېږې چې په تا سحر شوی.
وايي ولا ملګري راته وايي، يا فلاني کس راته وويل چې ته داسې ښکارې لکه سحر چې درباندې شوی وي، يا وايي چې زه يې پخپله علامې ګورم او احساس کوم.

زه ترې وپوښتم چې علامې يې څه دي؟

ځواب يې دا وي چې سر مې ډېری وخت درد کوي، زړه مې تنګ وي، کار او ژوند خوند نه راکوي او کسل يم يا ورته نور.

دا طبيعي ده چې سحر په انسان تأثير کوي، خو زموږ هر حالت په دې دلالت نه کوي چې حتماً به سحر شوی وي.

الله پاک په قرآن کريم کې د سحر په اړه فرمايي:

﴿قَالَ أَلْقُوا ۖ فَلَمَّا أَلْقَوْا سَحَرُوا أَعْيُنَ النَّاسِ وَاسْتَرْهَبُوهُمْ وَجَاءُوا بِسِحْرٍ عَظِيمٍ﴾[٢٠٧]

ژباړه: (موسى عليه السلام ساحرانو ته) وويل: "تاسې يې وغورځوئ" هغوی چې د خپلو منترونو په ويلو خپل پړي او همساګانې وغورځولې، نو سترګې يې مسحورې او زړونه يې په وېره کې واچول او ډېرې غټې کودې يې وکړې.

د آيت معنی ته ژور پام وکړئ، د خلکو سترګو باندې يې جادو کاوه.

موږ دقيق نه پوهيږو چې دغه حالت چې موږ يې لرو آيا د سحر له کبله دی او که کوم بله ستونزه ده؟

---

٢٠٧: الأعراف، ١١٦ آيت

﴿وَقَالَ الشَّيْطَانُ لَمَّا قُضِيَ الْأَمْرُ إِنَّ اللَّهَ وَعَدَكُمْ وَعْدَ الْحَقِّ وَوَعَدْتُكُمْ فَأَخْلَفْتُكُمْ ۖ وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيْكُمْ مِنْ سُلْطَانٍ إِلَّا أَنْ دَعَوْتُكُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ لِي ۖ فَلَا تَلُومُونِي وَلُومُوا أَنْفُسَكُمْ ۖ مَا أَنَا بِمُصْرِخِكُمْ وَمَا أَنْتُمْ بِمُصْرِخِيَّ ۖ إِنِّي كَفَرْتُ بِمَا أَشْرَكْتُمُونِ مِنْ قَبْلُ ۗ إِنَّ الظَّالِمِينَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾[٢٠٦]

ژباړه: او کله چې فیصله وکړای شي نو شیطان به ووایي" حقیقت دا دی، الله تعالی چې له تاسې سره کومې وعدې کړې وې، هغه ټولې ریښتنې وې او ما چې له تاسې سره څومره وعدې وکړې له هغو نه مې یوه هم درسره پوره نه کړه، زما پر تاسې څه زور نه ؤ، ما له دې پرته نور څه نه دي کړي، چې د خپلې لارې پر لوري مې تاسې ته بلنه درکړه او تاسې زما بلنه ومنله. اوس پر ما پړه مه اچوئ، خپل ځانونه پړ وګڼئ. دلته نه زه ستاسې فریاد ته رسېدای شم او نه تاسې زما فریاد ته. له دې نه مخکې چې تاسې زه په خدایۍ کې شریك ګرځولی وم زه له هغې نه بری الذمه یم، د داسې ظالمانو له پاره خو په یقیني ډول دردناکه سزا ده".

اوس پوښتنه دا ده چې انسان پیاوړی دی که شیطان یا پېریان؟

طبیعي ده چې هغه انسانان چې د الله پاک په لار مستقیم روان وي، مؤمن وي او عبادتونه او تقوا کوي شیطان پرې برلاسه کېدای نه شي.

دویمه پدیده:سحر یا جادو

ما ته په ټولنیزو شبکو یا خواله رسنیو کې ګڼ ځوانان پیغامونه پرېږدي چې پر ما سحر شوی او ژوند یې ډېر را تریخ کړی.

---

٢٠٦: ابراهیم، ٢٢ آیت

که څوک عصبي تکلیف ولري او له چا سره مشوره وکړي، لومړۍ سلا يې ورته دا وي چې ته فلاني تعويذگر ته ورشه شايد پېريان دربانديې ناست وي.
هغوی چې وايي پېريان کولای شي د انسان د بدن واک ترلاسه کړي او هغوی چې د دې نظر مخالف دي، د دواړو نظرونه مې لوستي. خو سخته ده چې انسان په اسانۍ قانع شي چې پېريان دې وکولای شي د مؤمن بشپړ کنټرول ترلاسه کړي.
د قرآن کريم دا مبارک آيتونه يې ښه دليل دی.
﴿فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ﴾[٢٠٣]
ژباړه: کله چې ته په قرآن لوستلو پيل وکړې نو په الله پاک له رټل شوي شيطان څخه پناه وغواړه.
﴿إِنَّهُ لَيْسَ لَهُ سُلْطَانٌ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ﴾[٢٠٤]
ژباړه: د هغه (شيطان) پر هغو خلکو تسلط نه وي چې ايمان يې راوړی وي او پر خپل رب توکل کوي.
﴿إِنَّمَا سُلْطَانُهُ عَلَى الَّذِينَ يَتَوَلَّوْنَهُ وَالَّذِينَ هُمْ بِهِ مُشْرِكُونَ﴾[٢٠٥]
ژباړه: د هغه (شيطان) زور خو پر همغو خلکو رسيږي چې هغه خپل سرپرست گرځوي او د هغه په لمسونه شرك کوي.
په قيامت کې د دې هر څه پړه شيطان پخپله پر انسان ور اچوي، ابليس به د دوزخ خاوندانو ته وايي:

---

٢٠٣: النحل، ٩٨ آيت

٢٠٤: النحل، ٩٩ آيت

٢٠٥: النحل، ١٠٠ آيت

ژونده بېزاره ګڼي او د هرې ستونزې لپاره بهانه ورته پيدا کيږي. دوی په ژوند کې له ګټې وټې ووځي او له اساسي فعاليت ځان بې برخې کړي، د توليد، د پرمختګ، د کمال او له لاسته راوړنو څخه ځان محروم کړي.

د کويټ تکړه عالم دوکتور طارق السويدان د دې لپاره څلور عمده ستونزې په ګوته کړې، چې د مسلمانانو ژوند يې اغېزمن کړی.

لومړۍ پديده: پېريان (جنيات)

يو شمېر انسانان شته چې د هرې ناکامۍ او ستونزې پړه په پېريانو ور اچوي. ځينې وايي په ما خو پېريان ناست دي، په ما جادو شوی، زه د خلکو سترګو خراب کړی يم.

له دې لارې يې ځان او نورو ته ګڼې ستونزې جوړې کړې وي او د هرې ستونزې او ناکامۍ دليل همدا ګڼي.

د دوی انکار بيا هغه وخت لا پسې تود شي او دنيا په بله کوي چې کله ورته کوم تعويذګر ووايي چې ته په رښتيا هم جادو، پېريانو يا سترګو اغېزمن کړی يې. په هر کلي کې دا کيسې شته او خلک ترې خلاص نه دي.

په دې کې علماء اختلاف لري چې آيا پېريان کولای شي چې د انسان بشپړ واک ترلاسه کړي لکه څنګه چې زموږ په ټولنو کې پېښيږي. يو شمېر يې پلويان دي چې داسې کيږي، خو ځينې بيا دا نه مني چې شيطان يا پېريان دې د انسان بشپړ کنټرول په لاس کې واخلي.

که هر ډول وي، خو دا طبيعي ده چې زموږ په ټولنو کې ډېری داسې شيان چې هيڅ له پېريانو سره اړيکه نه لري، په پېريانو اچول کيږي.

خو په هر حالت کې آخرت پر دنیا لومړی کوه څکه هغه ژوند دايمي او د دنیا ژوند یې په مقابل کې له بحر څخه د یوه څاڅکي راخیستلو په شان دي.

## د مسلمانانو د ناکامۍ څلوریزه

له بده مرغه په اسلامي اُمت کې ځینې پدیدې خپرې شوې او پخوانۍ ریښې لري چې د دې اُمت د شاتګ او د ناکامېدو لامل شوې دي.
د نورو ترڅنګ څلور عمده لاملونه دي چې اسلامي اُمت یې له اصلي پرمختګ شاته کړی.
د ځینو علماوو په نظر موږ د اټکل له مخې څلور سوه کاله ته اړتیا لرو چې له نړۍ سره په عصري برخه کې د سیالي په کتار کې ځان ودروو.
د وروسته پاتې کېدو اصلي لاملونه زموږ باور، پر موږ د وهم اغېز او څو نورې پدیدې دي چې لاندې یې یادونه شوې.
دا پدیدې بیا د ځوانانو ترمنځ ډېرې دي چې د هرې ستونزې او د هرې ناکامۍ پړه پر همدې اچوي. په ډېر تأسف سره چې دې هر څه ته دیني جنبه ورکول کیږي او د دین په نوم یې پر خلکو سیوری غوړولی.
زموږ د اسلامي اُمت د علماوو دا دنده ده چې د دغو پدیدو په اړه د خلکو وهمونو کچه راکمه کړي، خو له بده مرغه ځینې کسان د عالم یا دین پوه په نوم په خپله د دې لامل کیږي چې دا شومې پدیدې د خلکو تر منځ لا پسې پراخې شي او وده وکړي.
عام خلک چې کله د دغه ډول کسانو له خولې اوري چې دا وهمونه حقیقي ستونزې دي، یقین پرې کوي، ځان مجبور، عاجز، ناکام او له

دویمه قاعده: د ځان لپاره الګو وټاکه

د خپل عقل د روزلو لپاره د خپل تخصص په برخه کې لږ تر لږه څو ژوندي علماء یا په کار پوه خلک د ځان لپاره د الګو په توګه وټاکه. د دوی کړنې، درسونه او فعالیتونه همېشه څاره.

ځینې عالمان او په کارپوه خلک دي چې یوه ویډیو یا علمي اثر یې له ما څخه نه پاتې کیږي. هر ځای چې دوی فعالیت لري زه یې څارم او هره نوې ویډیو یا علمي لیکنه چې یې خپریږي، زه یې ګورم او لولم. دې کار ما ته په علمي برخه کې ډېره ګټه کړې.

## د قارون له مال څخه زیات خو حلال مال وګټه

په دنیا کې څومره چې کوای شې واك او قدرت ترلاسه کړه، خو دا ټول په خپل لاس کې واخله چې حق ورباندې تقویه کړې.

د الله پاک په لار کې ترې استفاده وکړه. هم به دې دنیا ګټلې وي او هم به دې د رب په رضا کولو سره آخرت ګټلی وي.

په خپل حال د خلکو ژوند هوسا کړه او د خیر او علم خپرولو کې د خلکو ملاتړ کوه. هغوی چې بیا بېخي له دنیا لاس اخلي او کمزوری اقتصادي وضعیت لري او د خپل ژوند د بډایه کولو هڅې نه کوي او ګوښه نشینه وي، دا بیا رهبانیت دی چې رسول الله ﷺ له دغه ګوښه پاتې کېدو څخه منع کړې ده. الله پاک په قرآن کریم کې فرمایي چې د دنیا برخه دې مه هېروه.

## د عقل د پیاوړي کولو لپاره دوه مهمې قاعدې

بریالی دی هغه انسان چې تر نورو یې عقل پیاوړی وي.

په پیاوړي عقل سره هم په دنیا کې بریالي کېدای شو او که سم یې وکاروو، آخرت هم پرې ګټلی شو.

لاندې قواعد درسره د عقل په پیاوړي کولو کې مرسته کوي:

لومړۍ قاعده: مطالعه ډېره کوه

د پوهنتون په سطحه د محصلینو لپاره میاشتنی معیار چې مطالعه باید وکړي، په میاشت کې دوه کتابونه دي چې هر کتاب باید شاوخوا ۲۰۰ پاڼې وي یا په میاشت کې څلور سوه پاڼې.

دې کې د ښوونځي یا پوهنتون اساسي مضامین شامل نه دي، بلکې د هغې ترڅنګ افاقي مطالعه ده چې دوی یې باید وکړي.

که له دې کم ولولي لاسته راوړنه به یې کمه وي.

پنځوس سلنه مطالعه مو باید د اصلي زده کړو او پاتې په متفاوتو برخو کې وي.

مثلاً یو څوک دعوتګر دی، هغه باید پنځوس یا شپېته سلنه مطالعه په دین کې وکړي، پاتې څلوېښت سلنه په نورو برخو تقسیم کړي. یا یو کس په رسنیو کې کار کوي، دی باید پنځوس سلنه مطالعه د رسنیو په برخه کې وکړي او پاتې په نورو بېلابېلو برخو کې وي.

د مطالعې لپاره د ښه او مناسب کتاب ټاکل هنر دی. په اوسني وخت کې هر کتاب مه لوله؛ بلکې د کتاب د ټاکلو هنر زده کړه، ځکه که مهم کتاب ونه ټاکې یو خو به دې وخت ضایع شي، بل دا چې د مطالعې پر شوق دې اغېز کوي.

ناهیلي کیږئ. په یقیني ډول الله تعالی ټول گناهونه بخښي، هغه ښه بخښونکی او مهربان دی.

په بل آیت شریف کې درته الله تعالی سپارښتنه کوي:

﴿وَلَا تَيْأَسُوا مِن رَّوْحِ اللَّهِ ۖ إِنَّهُ لَا يَيْأَسُ مِن رَّوْحِ اللَّهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْكَافِرُونَ﴾[۲۰۲]

ژباړه: د الله تعالی له رحمته ناهیلي مه اوسئ، بېشکه د هغه له رحمته نه ناهیلي کیږي، مگر کافران.

نو په تا څه شوي اې تر ټولو غوره مخلوقه چې خپل خالق ته نه ورستنیږې؟

ولې دې ځان په غفلت کې اچولی؟

ولې د شیطان دوکه خورې؟

ولې په لوی لاس ځان تباه کوې؟

خو ستون شه هغه خالق ته چې پر هر څه واکمن دی.

یوازې رجوع وکړه او ورته ووایه چې مهربان ربه، زما د ستونزو هېڅ حل نشته، مگر، دا چې ته یې راته حل کړې. زما ستونزې حل کړه.

که دې دا کار وکړ، بیا نو ډاډه اوسه، ځکه که الله درسره مل وي، د دنیا لښکرې دې پر وړاندې په گونډو دي.

خو که په الله تکیه نه لرې رحمان بابا درته څومره ښه ویلي:

که الله درسره مل نه وي رحمانه
که لښکرې در سره وي یک تنها یې

---

۲۰۲: یوسف، ۸۷ آیت

دا سم کار دی چې د عبادت ظاهري حرکات دې سم وي خو عبادت هغه وخت په سم ډول ادا کیږي چې په پوره پام او اخلاص ترسره شي. تقوا او خشوع له زړه سرچینه اخلي، ځکه له زړه یوازې الله تعالی خبر وي. دا به څه ګټه وکړي چې انسان په لمونځ کې خپل حرکات کنټرول کړي خو زړه یې پرې سکون ترلاسه نه کړي.

د زړه مخامخ اړیکه له الله پاک سره ده. که زړه پاک وساتو، په قیامت کې به د الله تعالی په مقابل کې له سپیڅلي زړه سره دریږو په هغه ورځ چې نه مال او نه اولاد ګټه کوي، مګر دا چې څوک له پاک زړه سره خپل رب ته ورستون شي.

په آخرت کې د بریالي کېدو لپاره دا څلور قاعدې ډېرې مهمې دي. له دې لارې کولای شې جنت او پکې ابدي ژوند وګټې ان شاء الله.

## ولې ناهیلی یې؟

نا امیده شوی یې، له ژونده دې زړه تور شوی، حالاتو ستړی کړی یې، له خلکو بېزاره یې، سرګرداني دې زیاته او له دې ستونزو د وتلو لار در څخه ورکه ده؟ د الله تعالی دا قول دې نه دی اوریدلی؟

﴿قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا ۚ إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ﴾[۲۰۱]

ژباړه: اې پیغمبر ﷺ، زما هغو بندګانو ته ووایه چې له ځان سره یې زیاتی کړی (ګناه یې کړې او ناهیلي دي)، د الله له رحمت څخه مه

۲۰۱: الزمر، ۵۳ آیت

په دې څېړنه کې پوښتنه شوې چې یو رهبر باید کومې ځانګړنې ولري؟ یا کومې ځانګړتیاوې دي چې خلک یې په رهبر کې غواړي؟

په دې څېړنه کې دا پوښتنه په شپږو لویو وچو یعنې نږدې ټولو هېوادونو کې د ۲۵ کلونو په اوږدو کې له یونیم میلیون کسانو شوې.

هر کال په هر ځای کې د دې پوښتنې لپاره یوازینی ځواب چې نه دی بدل شوی دا دی چې په رهبر کې صداقت او امانت داري غوره صفتونه دي. یعنې رهبر باید صادق او امانت کار وي.

همدا هغه صفتونه دي چې په رسول الله ﷺ کې وو او کافران او مسلمانان په دې یقیني وو چې په خیر البشر ﷺ کې دا ځانګړنې شته.

د رسول الله ﷺ یو تر ټولو لوی صفت چې الله تعالی هم ستایلی، رحمت دی. نه یوازې پر انسانانو بلکې پر حیواناتو هم رحم کوونکی و.

په حدیث شریف کې راځي چې په قیامت کې به انسان له هغه چا سره حشر کېږي چې مینه یې ورسره وه.

«المَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ»[۲۰۰]

ژباړه: په قیامت کې به انسان له هغه چا سره وي چې مینه ورسره لري.

جنت کې د لوړې درجې د ترلاسه کولو لپاره باید رسول الله ﷺ په تمامه معنی وپېژنې او کله چې یې وپېژنې؛ ډاډه اوسه چې ریښتینې مینه به دې ورسره پیدا شي او چې له رسول الله ﷺ سره دې مینه وي، د پورتني حدیث مصداق به شې ان شاء الله.

څلورمه قاعده: د زړه له تله عبادت کوه

حقیقي عبادت هغه دی چې د زړه له تله وشي.

---

۲۰۰: روی البخاري (٦١٦٩) ، ومسلم (٢٦٤٠)

هر څومره چې الله تعالی په ژوره توګه وپېژنو، همدومره به مو ورسره مینه زیاته شي او چې څومره مو له الله تعالی سره محبت زیاتیږي، په همغه اندازه په دنیا او آخرت کې ورسره سعادت زیاتیږي.

علي رضي الله عنه ته یو قول راجع دی چې وایي:

که په قیامت کې زما حساب کتاب مې مور او پلار ته وسپارل شي، هېڅکله به پرې راضي نه شم تر هغې چې الله تعالی په خپله زما حساب او کتاب وکړي، ځکه الله تعالی تر مور او پلار ډېر مهربان دی.

درېیمه قاعده: د رسول الله ﷺ سیرت زده کړه

د شلمې پېړۍ پیاوړی عالم ابو الحسن الندوي وایي: په ژوند کې هیڅ شي دومره ګټه راته نه ده کړې څومره چې په ماشومتوب کې د انا (نیا) کیسو ګټه راته کړې.

هغه وایي زه د اووه او لسو کلونو ترمنځ وم چې نیا به مې راته د سیرت النبي ﷺ کیسې کولې.

کله چې د رسول الله ﷺ په اړه کتابونه لولې، یوازې د غزاګانو په برخه کې مه تمېږه یا یې یوازې د تاریخ په توګه مه لوله، ځکه په سیرت کې ډېر عالي انساني اړخونه هم شته چې د رسول الله ﷺ ژوند په اړه دي.

په سیرت کې اداري، د رهبرۍ، له مېرمنو سره د تعامل، له خلکو سره د چلند او نورو ټولنیزو فعالیتونو په اړه عالي بېلګې شته چې خپل ژوند کې یې عملي کولی او ګټه ترې اخیستلی شو.

د قیادت یا رهبري د علم په اړه تر ټولو لویه څېړنه د کوزېس امپوزنر ده چې په خپل کتاب د رهبرۍ ننګوني (The leadership challenge) کې یې خپره کړې ده.

ځومره ژوند به وکړې، سل کاله؟ بلاخره به مو مرگ له ستوني ونيسي او د بلې دنيا پر لور به ورځو.

هغه نړۍ چې هېڅ پای نه لري او د تل لپاره به ژوندي يوو.

د داسې تلپاتې ژوند په وړاندې به د دنيا ژوند څه ارزښت ولري؟!

د دې لپاره چې په آخرت کې بريالي شوو، بايد څلور قاعدې پلې کړو.

لومړۍ قاعده: د نيت پاکوالی

د حديثو د معتبر کتاب صحيح البخاري لومړی حديث چې دغه مبارک کتاب پرې پيل شوی، د نيت د پاکوالي په اړه دی.

«إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ»[۱۹۹]

ژباړه: هر عمل (د عمل بدله) نيت پورې تړلې.

که يو انسان په گيلاس کې شراب ووينې او د اوبو گومان پرې وکړي او ويې څکي، نه گناهگاريږي. ځکه نيت يې د اوبو د څښلو و.

خو برعکس که اوبه د شرابو په نيت وڅښي گناهگار دی، ځکه هر عمل ترسره کول نيت پورې تړلی چې په کوم هدف ترسره کيږي.

که موږ کتابونه ليکو، که دار الايتامونه، خيريه بنسټونه او روغتونونه جوړوو، خو تر شا يې زموږ نيت پاک نه وي، په آخرت کې هېڅ گټه نه کوي. د هرې ريښتينې بريا بنسټ پاک نيت دی.

دويمه قاعده: الله تعالی ښه وپېژنه

هر مسلمان الله تعالی پېژني، خو په تمامه معنی او سم ډول يې کم کسان پېژني.

۱۹۹: البخاري

تر ټولو ډېر پښېمانه کېدونکی هغه عالم دی چې د علم په واسطه یې خلک جنت ته لاړ شي، خو دی پخپله پوهه دوزخ ته. ځکه په خپل علم یې عمل نه وي کړی.

بل تر ټولو ډېر پښېمانه کېدونکی هغه مالداره یا غني دی چې په مال یې ورثه یا اولادونه او نور خلک جنت ته ځي. خو دی پخپله د خپل مال له امله دوزخ ته. ځکه دی بخیل وي، صدقه نه کوي، د خیر او ښېګڼې په لار کې یې نه کاروي، یا مال یې حرام وي، خو کارکوونکي او اولاد یې د هغه مال صدقه کوي او د خیر ګټه ترې اخلي.

نو مخکې له دې چې پښېمانه شې، په همدې دنیا کې له خپلو شته وو ګټه واخله او ځان ته پرې جنت وګټه.

## په آخرت کې د بریالي کېدو لپاره مهمې قاعدې

که دنیا کې هرڅومره بریالی یې او لاسته راوړنې لرې، خو که الله مه کړه په قیامت کې دې ځای د دوزخ کنده وي، د دې لاسته راوړنو ګټه به څه وي؟

که موږ په دنیا کې هر څه کوو، هدف مو باید ترې په آخرت کې بریالي کېدل وي؛ ځکه آخرت تر دنیا بې حسابه وارې غوره دی!

﴿وَلَلْآخِرَةُ خَيْرٌ لَكَ مِنَ الْأُولَىٰ﴾[198]

ژباړه: او هرومرو ستا لپاره وروستی دور (قیامت) تر لومړي دور (دنیا) څخه ډېر ښه دی.

---

۱۹۸: الضحی، ۴ آیت

د هغه دا خبره مشهوره ده چې ویلي يې دي، ما ته ۲٦٠ لارې معلومې دي چې برق چالان نه کړای شئ.

کله چې یو هدف ته ځان رسول غواړې، هره لار ورته تجربه کړه، که په پیل کې ناکام شوې خیر دی بیا هڅه وکړه تر دې چې بریالی شې.

کوښښ او بیا بیا هڅه د بریا راز دی. هدف ته رسېدل زحمت غواړي، خو ورته ناهیلی کېږه مه.

کله چې ستاسې لومړۍ تجربه ناکامه شي، لازمه ده چې دویمه تجربه تر لومړۍ مختلفه وکړې.

ورته لار او کار بیاځلي مه تجربه کوه چې پکې ناکام شوې. که دویمه لار ناکامه شوه درېیمه باید بېله وي او همداسې نورې. د اډېسن هره تجربه تر بلې مختلفه وه. که دا څلور قاعدې عملي کړې، ان شاء الله بریالی، ټولنې ته ګټور او هدف درلودونکی انسان به شې.

## تر ټولو لویه پښېماني

شپه که هر څومره اوږده وي، خو سهار حتماً راتلونکی دی.

عمر چې څومره اوږد شي، یوه ورځ ختمېدونکی دی.

کله چې جنازه قبر ته لېږدوې، په یاد ساته چې ته به هم یوه ورځ د خلکو پر اوږو بار قبر ته لېږدول کیږې.

نو ځکه پام کوه چې هلته د ورتللو په وخت کې له دې ډلې انسانانو نه شې چې په اړه يې ویل کېږي:

درېیمه قاعده: ځان ته پلان جوړ کړه
له عمل پرته پلان یا هدف یوازې هیله وي او همداسې پاتې کېږي.
هر انسان هدفونه لري خو یوازې هغوی هدف ته رسیدلی شي چې عملي ګامونه اخلي.
داسې ځوانان به مو کېدای شي لیدلي وي چې وایي، غواړم فلسطین آزاد کړم، یا ورته لوی ارمانونه لري، خو د سهار لمونځ ترې قضا وي، کوچنی کار په ډېرې لټۍ کوي، نو فلسطین دا ډول آزادېدلی شي!؟
ته خپل اصلي فرض او یو آسانه کار نه شې کولای، نو دومره لوی هدف ولې ځان ته ټاکې؟
لوی هدفونو ته د رسېدو لپاره باید خپل مهارتونه، علم، شخصیت، او نور پیاوړي کړو. یوازې په خوبونو او هیلو هېڅ نه شې ترسره کوای.
د برېښنا مخترع توماس اډېسن وایي: اختراع یو په سلو کې ارمان او ۹۹ په سلو کې زحمت دی. یعنې کله چې انسان یوه هیله لري چې یو کار وکړي یو سلنه یې هیله ده او ۹۹ سلنه زحمت ته اړتیا لري چې دغه خوب په واقعیت بدل شي، خو کله چې موږ د خپلو خوبونو لپاره تګلاره او پلان چمتو کړو، په آسانۍ کولای شو خپلو هیلو او هدفونو ته ورسېږو. یوازې د هیلو په نړۍ کې ژوند مه کوه.
څلورمه قاعده: څو وارې هڅه وکړه
توماس اډېسن چې کله برق اختراع کاوه؛ ۲٦۱ تجربې یې وکړې، ۲٦۰ تجربې یې ناکمه شوې خو، ده له ناکمیو سره سره پرلپسې هڅې جاري ساتلې تر دې چې بالاخره بریالی شو او برېښنا یې رامنځ ته کړه.

په اوسني وخت کې د ځوانانو لپاره تر ټولو مهمه دا ده چې خپل پام پر یوه شي ورټول کړي او په نورو برخو کې چې لېوالتیا لري، د خپل وسې په اندازه تمرکز وکړي.

دویمه قاعده: خپل هدفونه وټاکه

ځان ته دا ولیکه چې راتلونکو ۱۲ میاشتو کې څه غواړې؟

یا په راتلونکو ۲۰ کلونو کې کومې لویې پروژې پلي کول یا د کومو لویو هدفونو لاسته راوړل غواړې؟

مثلا غواړم تر راتلونکو څو کلونو لس کتابونه په بېلابېلو برخو کې ولیکم یا تر پنځه کلونو به یو کوچنی شرکت بریالی کړم چې زما او د کورنۍ لپاره د ګټې سرچینه وي.

تر راتلونکو دوو کلونو لوی خیریه روغتون یا بنسټ جوړوم چې پکې د یتیمانو او غریبو خلکو وړیا درملنه وشي.

پوهېږې ولې زموږ ځینې ځوانان په حاشیوي شیانو کې بند پاتې دي او کوچنیو کوچنیو شیانو پورې ژوند تړي او کله چې یې ژوند پای ته ورسیږي له کومې لاسته راوړنې پرته دنیا پرېږدي؟

ځکه چې دوی د ځان لپاره هدفونه نه ټاکي.

مثلاً ځینې کسان به دې لیدلي وي چې ټوله ورځ په خواله رسنیو کې په خلکو پسې د بد او رد په لیکلو او ویډیوګانو په خپرولو تېروي او په پای کې هېڅ لاسته راوړنه نه لري. داسې ځوانان به هم پیژنې چې نن شپه د فلاني او بله شپه د بیستاني په کور کې د سهار تر آذانه په بې ګټو مجلسونو او قطعه بازیو یا ګیمونو وخت ضایع کوي او د ژوند ټول هدف یې یوازې ساعت تیری وي.

دا ګټه رسول نه دي چې ته ووايې زه فلانۍ دنده کوم او خلکو ته پکې خير رسوم يا ورته نور کارونه چې عام خلک يې کوي.

د بېلګې په ډول عادي زدکړې اکثريت خلک کوي، خو که تا په کومه برخه کې تر تخصص زده کړې کړې وي، تا په حقيقت کې ټولنې ته يو څه کړي.

هر سړی اولادونه لري او په شتون يې وياړي، خو که تا داسې اولاد روزلی وي چې تر دوکتورا زدکړې يې کړي وي، بيا نو تا ټولنې ته ګټه رسولې ده.

اصلي ګټه دا ده چې متفاوت ګټور کار بايد وکړې، هغه چې ستا شاخوا کسانو نه وي کړی.

## څلور قاعدې دي چې انسان پرې بريالی کېدای شي

لومړۍ قاعده: د ګټې رسولو برخه بايد محدوده کړې:

هر څوک چې غواړي بريالی او تر نورو پرمختللی و اوسي، بايد ځان ته يوه برخه غوره کړي او خپل ټول فکر او تمرکز پر همغې وکړي.

هغوی چې غواړي هر څه وکړي، هېڅ نه شي کوای.

ښايي يو څوک ووايي چې زما د دوه برخو يا مسلکونو سره لېوالتيا ده او په دواړو پام کوم. که غواړې دواړه پر مخ يوسې، يوه اصلي برخه کړه او بلې ته دويم لومړيتوب ورکړه. انرژي او وخت دې د لومړيتوب په بنسټ ورته تقسيم کړه.

نن ورځ جدي اړتيا ده چې د يوې برخې په جزياتو کې تخصص وکړې.

پاتې ۹۳ سلنه ژوند يې اخلاقو، د ژوند اصولو، دعوت، عبادت او نورو نېکو عملونو ته ځانګړی و.

خو موږ يې همغه يو اړخ ته پام کړی نه ټول ژوند ته.

هېڅکله دا مه وايه چې د رسول الله ﷺ سيرت له جګړې ډک دی.

اللهم صلی علی محمد و علی آل محمد!

بېرته خپلې موضوع ته راستنېږم، دروغجن ته احترام مه کوه او له دوکه باز سره اړيکه مه پاله، ځکه اړيکه هغه وخت برياليۍ کېږي چې د الله تعالی د خوښې وړ بندګانو يا پرهېزګارانو سره ملګرتيا وپالې، هغوی چې تواضع لري، د خلکو احترام کوي، له الله تعالی سره يې اړيکه لومړيتوب وي.

خلاصه دا چې د اړيکو الف با اخلاق دي.

که په اړيکه کې دا نه وي؛ پيکه ده او وخت پرې مه ضايع کوه.

## بريا خلکو ته په ګټه رسولو کې ده

تل هڅه کوئ چې په دنيا کې ګټور اوسئ. له ځانه دا پوښتنه وکړئ چې اسلامي اُمت، خپل هېواد، خپلې ټولنې، خپلې کورنۍ او ځان ته مو څه کړي؟

د شلمې پېړۍ مصري اديب مصطفی صادق الرافعي يو جالب قول دی چې وايي: "ان لم تَزِد شيئاُ على الدنيا، كنتَ انتّ زائداً على الدنيا".

ژباړه: که ته دنيا ته څه ګټه ونه رسوې يا څه ورزيات نه کړې، ته په دنيا کې اضافي يا په دنيا بوج يې.

بې ځایه غصه کنټرولوه او ځان په دې مه ستایه چې زه غصه ناک یم.
که دې احساسات کنټرول ساتل، د هر کار پایله به دې ګټوره وي.
څلورمه قاعده: نېک اخلاق او پاک نیت ولره
د هرې اړیکې بنسټ نیت دی. که مو نیت پاک وي او اخلاق مو ښه وي، اړیکه مو بریالۍ ده. که نه برعکس کوږ بار تر منزله نه رسېږي.
لسګونه حدیثونه شته چې د اخلاقو بې حده ستاینه پکې شوې.
د بېلګې په توګه که دې حدیث ته ځیر شو د ټول دین د راتګ یو لامل اخلاق ښودل شوي! رسول الله ﷺ فرمایي:
«إنما بُعِثْتُ لأُتَمِّمَ مكارمَ و في روايةٍ ( صالحَ ) الأخلاقِ».[197]
ژباړه: زه مبعوث شوی یم چې د اخلاقو مکارم (ښه والي او ځانګړنې) پوره کړم.
ځینې خلک په دې باور دي چې اسلام د جګړې دین دی او اسلام د تورې په زور په نړۍ کې خپور شوی.
زه د رسول الله ﷺ یو لاروی یم. له رسول الله ﷺ پرته اوس او بیا هیڅ رهبر نه لرم. زما رهبر زما لارښود رسول الله ﷺ دی.
زه د سیرت یو زده کوونکی یم، په ډاډ یې درته وایم تاسې د خیر البشر له بعثت څخه د مبارک ژوند تر پایه یې دقیق ډول مطالعه کړئ، لکه څنګه چې یوه مصري څېړونکي ویلي یوازې شاوخوا ۷ سلنه عمر یې په غزواتو کې تېر شوی، هغه غزوې چې ترې ډېره پرې تحمیل شوې وې یعنې پیل یې رسول الله ﷺ نه و کړی، بلکې د مشرکینو پر وړاندې یې د خپلو خلکو او د الله تعالی د دین دفاع کوله.

۱۹۷: أخرجه أحمد (۸۹۳۹)، السلسلة الصحيحة الصفحة أو الرقم: ۴۵

دویمه قاعده :هر مسؤلیت په خپل وخت اداء کوه

مور، هر یو د الله سبحانه و تعالی پر وړاندې شرعي مسؤلیت لرو چې باید پر خپل وخت ادا شي. که پکې پاتې راغلو، مسؤلیت مو په سمه توګه نه دی ادا کړی. د مور او پلار پر وړاندې مسؤلیت لرو. دا همدا راز شرعي مسؤلیت او اړیکه ده. همداسې د مېرمنې یا مېړه، اولادونو او نورو پر وړاندې مسؤلیت او له دوی سره اړیکه لرو. دا له ملګرو یا خپلوانو سره تر اړیکو مهمې او متفاوتې اړیکې دي او لومړیتوب لري. تر ټولو مهمه او لومړنۍ اړیکه چې باید ویې پالې، له الله تعالی سره ده. که په دې بریالی شوې، باقي اړیکې به دې د الله تعالی په توفیق په خپله بریالۍ وي.

دویمه مهمه اړیکه له مور او پلار سره ده، دریيمه له مېرمنې او ماشومانو سره او همداسې نوره کورنۍ او خپلوان او بیا ملګري.

ځینې ځوانان د دې معادلې برعکس روان دي.

ډېر وخت یې له ملګرو سره په شب نشینیو او بنډارونو تېریږي. لږ وخت له خپلوانو سره تېروي، خو مېرمنې او اولادونو او مور او پلار ته ډېر کم وخت ورکوي.

د الله تعالی د عبادت او حق ادا کولو کې خو بې پروا وي.

که له خپلو ملګرو سره یوه ورځ تېره نه کړې، په دې کار نه ګناهګارېږې، خو که مو مور او پلار، مېرمنې او اولادونو ته وخت ور نه کړې، مسؤل یې او پرې ګنهګارېږې.

دریيمه قاعده: په خپلو کړنو واک او حاکمیت پیدا کړه

خلکو ته سپکې سپورې مه وایه او د بل چا سپکاوی هم مه منه.

ناسمه خبره ده. علم ثابته کړې چې دا ناوړه صفات ارثي نه بلکې اکتسابي دي، تا په خپله ځان ته دغه عادت غوره کړی.

یوه خبره په یاد ساته، ستا سلوک یا چلند ستا په شاوخوا خلکو اثر کوي.

هېڅ داسې ماشوم به ونه مومې چې آواز لوړوي، مګر دا چې کورنۍ به یې هم همدغسې وي. ستا چلند ستا پر کورنۍ په ځانګړې توګه پر ماشومانو مو مخامخ اغېز کوي.

## اړیکې زموږ حیاتي اړتیا

یو هغه شی چې زموږ په ژوند کې حیاتي ارزښت لري، اړیکې دي. همدا اړیکې دي چې په مټ یې موږ د بریا لوړو څوکو ته رسېدلی شو. د هر ډول بریالیو اړیکو لپاره څلور مهمې قاعدې دي چې په بنسټ یې کوای شې خپلې اړیکې تنظیم کړې.

لومړۍ قاعده: خپل مسوولیتونه معلوم کړه

ته د الله تعالی بنده یې ترڅنګ یې د یو چا پلار، زوی یا ورور یې. یا د یو چا ګاونډی یې، د ټولنې یو غړی یې یا د یوې ادارې مشر یا یې کار کوونکی یې، یا د یو چا ملګری یې او بلاخره له یوه یو اړخ څخه مسؤلیت او اړیکه لرې. تر ټولو مهمه دا چې د اسلامي امت پر وړاندې مسؤل یې. دا ټول هغه مسوولیتونه دي چې په هر چا کې تر یوه حده توپیر کوي. اړیکې هغه وخت بریالۍ کېږي چې انسان کېني او خپل مسؤلیتونه ځان ته وټاکي او ویې پېژني.

یو بل شی چې په انسان کې اراده پیاوړې کوي، له بریالیو انسانانو سره ملګرتیا او اړیکې پالل دي. یا له بریالیو خلکو سره وخت تیروه یا د نامتو بریالیو خلکو په اړه مطالعه کوه او د هغوی ژوند لوله.

خو برعکس که ستا ملګري ناکام، بې ارادې او لټان وي، په ژوند کې د بریا تمه مه کوه. دوی ستا اراده کمزورې کوي.

څلورمه قاعده: په غبرګونونو ژوند مه کوه

که ته په هر څه کې غبرګون ښکاره کوې، د بریا چانس دې کموي. هېڅوک باید دا وړتیا ونه لري چې تا احساساتي یا غصه کړي او غلط فکر کولو ته دې وهڅوي. دا تر ډېره د انسان خپله پرېکړه ده.

که زه وغواړم چې غصه نه شم، څوک نه شي کولای ما احساساتي کړي؟ که زه خپل احساسات کنټرول کړم، ولې باید د خلکو په چلند ناراحت شم؟

شاید د غصې او چیغو پر مهال ووایې چې فلاني زه احساساتي کړم ځکه مې غږ لوړ شو، خو د غږ لوړولو او احساساتي کېدو پرېکړه ته په خپله کوې.

په یاد ساته چې د یو کار او د هغې د غبرګون ترمنځ څو ثانیې فاصله ده چې موږ پکې پرېکړه کولای شو چې غبرګون وښایو که نه.

ځینې کسان به دې لیدلي وي چې کله ډېر قهرجن شي خپل سر له دېواله سره جنګوي یا بل ډول غبرګون ښیي چې ځان ته زیان اړوي.

داسې خلک د بریا تمه نه شي کولای، ځکه بریا په تواضع او حوصله کې نغښتې.

یو شمېر خلک وایي، غصه کېدنه یا دا ډول صفتونه ارثي دي.

که ته په خپلو عیبونو پوهېږې، باید په دې وویاړې، ځکه په آسانۍ کوای شې چې اصلاح یې کړې. خو که په خپلو عیبونو نه پوهېږې، دا بیا کار لا پسې سختوي ځکه چې خپل عیب ونه پېژنې، څنګه یې لرې کوې؟

د بریا یوه اساسي برخه د خپلو منفي صفتونو پېژندنه ده.

درېیمه قاعده: د ارادې خاوند اوسه

پیل کې اجازه راکړئ یوه خبره ښکاره وکړم. هر څه چې تاسې یې له ما یا نورو اورئ، هېڅ ګټه نه کوي او هېڅ ارزښت نه لري تر هغې چې تاسې یوه پیاوړې اراده ونه لرئ.

له بده مرغه زه یا بل څوک نه شو کوای تاسې ته اراده درکړو، ځکه تاسې باید په خپله ځان ته اراده پیدا کړئ.

نه استاد، نه پلار او نه مور ستاسې اراده پیاوړې کوای شي.

اراده داخلي پرېکړه ده چې باید ویې کړئ. له الله پاک د پیاوړې ارادې توفیق وغواړئ.

ځینې انسانان له بریا سره هېڅ لېوالتیا نه لري، ته دوی څنګه بریالي کوای شې؟

اراده په هر څه کې اصل دی. یو شی چې ستا اراده پیاوړې کوای شي هدف ټاکل دي. که ته ځان لپاره یو مشخص هدف وټاکې اراده دې ورسره پیاوړې کیدای شي. چې اراده دې وکړه ورپسې مهم کار عملي ګام اخیستل دي.

دویمه قاعده: له ځان سره ریښتینی او مخلص اوسه
دا قاعده په لیکلې بڼه آسانه ښکاري، خو پلي کول يې سخت کار دی.
بریالي انسانان معمولاً د ځان لپاره په هر څه کې د خپلې وسې مطابق محدودیتونه ټاکي، له ځان نه پوښتي چې څه غواړي؟
خپل د کمزورتیا ټکي او عیبونه لټوي او د اصلاح لپاره يې کوټلي ګامونه اخلي.
ځیني انسانان به مو لیدلي وي چې درته وايي به زه د مال پروا نه لرم یا د فلاني شي پروا راسره نشته، خو چې په عمل کې يې وګورې تر ټولو ډېر پام به يې پر همغه څه وي چې دوی ترې ځان بې پروا بولي.
داسې خلک له ځان سره ریښتیني نه دي، له ځان نه پوښتنه کوئ چې له ژونده څه ترلاسه کول غواړئ؟ د هر کار پایله کې څه غواړئ؟
انسان له اخلاص پرته نه په خپله بریالی کېدای شي او نه خپل اُمت لپاره څه کوای شي. هغه انسانان ټولنه نه شي ښېرازه کوای چې هم او غم يې یوازې دنیا او مادیات ګڼل وي، بلکې یوازې مخلص او هغوی چې د دنیا او اخرت ترمنځ توازن ساتي کوای شي چې اسلامي ټولنه د نېکمرغۍ لور ته مخکې یوسي.
یو ځل یوازې کېنه، داسې یوازې چې بل هېڅوک دې څنګ کې نه وي، موبایل درسره نه وي او آرامه فضا وي. له ځانه پوښتنه وکړه چې څه غواړې؟
ستا عیبونه او مخته دې خنډونه څه دي چې هدف ته له رسېدو يې پاتې کړې يې؟

یوه لویه ستونزه چې ځینې خلک یې لري دا ده چې د ناکامۍ لپاره بهانې لټوي. داسې خلک د هر کار لپاره چې یې وګومارې، له پیل څخه یې د ناکامي په اړه فکر کوي چې د دې پایله خو منفي ده او د ناکامۍ لپاره له وړاندې عذرونه وړاندې کوي.
تاسې ووایئ، دا ډول انسان څنګه په ژوند کې بریالي کېدای شي؟
دا اسلوب همدغه انسان پخپله په ژوند کې ناکامۍ سره مخامخ کوي.
له داسې انسانانو ځان ساتئ، مه ورسره ملګرتیا کوئ او مه ترې په کارونو کې مشوره غواړئ. د منفي فکر خاوندان تل جوړ کار خرابوي، خو هغوی چې مثبت فکر کوي، د ستونزو لپاره ورسره حل لارې وي.
که د منفي فکر خاوندانو دربادنې یو وار سیوری وغوړاوه، تاسې به هم په خپل حال کړي.
ښه پام وکړه، په ژوند کې یوازې دوه غوراوي دي، دربیم نشته؛ په دوی کې به یو غوره کوې. یا به ستونزو ته تسلیمېږې او ناکامي به منې، یا به هڅې کوې او ځان به بریا ته رسوې.
وایي انسان هغه وخت ناکامیږي چې هڅه بس کړي.
چې لوېدې، راپورته کېږه. پرېکړه ستاسې په لاس کې ده.
ډېری انسان به مو لیدلي وي چې لټان وي، کار نه کوي، مطالعه نه کوي، د ژوند ښه کولو لپاره هلې ځلې نه کوي، یوازې خوري او ویده کېږي. خو چې پوښتنه ترې وکړې ولې ناکام یې؟ شل بهانې به کوي.
د بریا اساس دا دی چې انسان په خپلې ناکامۍ اعتراف وکړي او وپوهېږي چې دی ناکام دی او خپله ناکامي وپېژني.
ناکامي لکه ناروغي چې کله یې تشخیص وشي علاج یې اسان دی.

بریا ولې دومره مهمه ده چې هر انسان ورته د رسېدو هیله لري؟
بریا په حقیقت کې د عقل، روح، عاطفې او جسد ترمنځ توازن ساتلو ته ویل کېږي.
یعنې حقیقي بریا هغه وخت ترلاسه کېدای شي چې انسان په عقل، روح، عاطفه او جسد کې بریالی وي. دا بشپړه بریا ده چې له دې هاخوا نور څه ته پکې اړتیا نه شته.
پیل د تولید یا لاسته راوړنې له څلوریزې کوم:
د لاسته راوړنې یا تولید لومړۍ قاعده د انسان په ذات کې کامیابي ده.
لومړۍ قاعده: ته د خپلې بریا او ناکامۍ مسؤل یې
که ته بریالی کېږې یا که ته یو ناکام انسان یې، دا هر څه ستا له امله پېښ شوي او لومړی مسؤل یې ته یې.
که یو انسان په ژوند کې ناکام دی، دا د هغه خپله پرېکړه ده چې ناکام دې وي او هغه چې بریالی دی دا هم د هغه خپله پرېکړه ده چې یو بریالی انسان وي، دواړه د خپل حال مسؤلین دي.
ځینې کسان مو ښایي لیدلي وي چې کله یې د کورنۍ یو غړی بریالی نه وي، ملامتي یې په ښوونکي ور اچوي یا په حکومت او یا په هېواد.
همدا به وایي یره په افغانستان کې حالت خراب دی.
نو ځکه مې زوی، لور یا زه خپله ناکام انسان یم.
خو دې ته نه ګوري چې دا د ناکام شوي انسان خپله پرېکړه ده.
داسې ډېر انسانان شته چې د خپلو ملامتیو پړه پر نورو اچوي، دا ډول خلک هېڅکله بریالي کېدای نه شي، ځکه دا ډول منفي بافي، تنبلي او دا فکر هر څه ویجاړوي.

په الله تعالی د نېک ګومان بدله جنت دی.
له ستونزو مه ډارېږه، ستونزې دي چې تا خپل خالق ته ستنوي، که نه، نو بې لارې کېدې او دوزخ به دې ځای و. خوښ شه او په هر حالت کې چې یې خپل خالق ته ووایه چې الحمد لله علی کل حال!
په هر حال مې شکر دی اې زما مهربان ربه!

## د بریا څلوریزه

هر انسان په ژوند کې دا هیله حتما لري چې یو بریالی او کامیاب انسان وي.
په دې برخه کې لسګونه زره ان ښایي میلیونونه مقالې او کتابونه لیکل شوي دي او لا هم لیکل کیږي.
خو زه درته د بریالي کېدو لپاره د ګڼو مقالو او کتابونو د مطالبو نچوړ وایم، باوري یم چې په ژوند او فکر کې مو لوی بدلونونه راوستل شي او د بریالي ژوند په لور به مو ګامونه چټک شي.
که دا ټکي عملي کړئ، ډاډه اوسئ بریالي به یاست. ان شاء الله!
دا موضوع مې د کویټ تکړه عالم طارق السویدان څخه راخیستې او ځینې شیان مې ورزیات یا کم کړي. نوموړی د ځوانانو په روزلو کې کافي تجربه لري او تر اوسه یې لسګونه زره خلک د رهبریت، مدیریت او نورو برخو کې روزلي دي.
د بریا دغه قواعد په څلورو برخو کې بیانوم، د انسان په ذات، په اړیکو، مال او کمال کې.
په دې هره برخه کې بیا څلور نور قواعد دي.

رب تکیه وکړه چې په هر حالت کې به دې مرسته کوي او یوازې به دې نه پرېږدي. نو له همدې امله د خپلو ستونزو حل، د ناکراریو څخه د وتلو او د بریالي کېدو مرسته یوازې له خپل خالقه غواړه.

ځکه ته یې کمزوری او ځان ته محتاج پیدا کړی یې چې سوال ترې وکړې او هغه درسره مرسته وکړي. بل چاته مه ورځه، یوازې الله تعالی کفایت کوي.

﴿مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً ۖ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾[196]

ژباړه: هر څوك چې ښه عمل وکړي، که هغه نارینه وي او که ښځه، په دې شرط چې مؤمن وي، پر هغه به موږ په دنیا کې سپیڅلی ژوند تېر کړو او (په آخرت کې به) دغسې خلکو ته د هغو اجر له ډېرو ښو عملونو سره سم ورکړو.

ستا د ایمان یوه نښه دا ده چې په سختیو او خوښیو او په هر حال کې له الله تعالی راضي اوسې.

یوه عربي وینا ده چې: «اذا کان الله علیک فمن معک، و اذا کان معک فمن علیک»

ژباړه: که الله تعالی دې مل نه وي، نو څوک به ستا مرسته وکړي، خو که د الله تعالی مرسته درسره وه؛ هېڅ شی تا ته ضرر نه شي رسولی.

د رحمان بابا شعر هم همدا مفهوم لري چې وایي:

چې الله در سره مل نه وي رحمانه
که لښکرې درسره وي یک تنها یې

١٩٦: النحل، ٩٧ آیت

## له ستونزو د وتلو آسانه طریقه

الله تعالی په قرآن کریم کې فرمايي:
﴿يُرِيدُ اللَّهُ أَن يُخَفِّفَ عَنكُمْ ۚ وَخُلِقَ الْإِنسَانُ ضَعِيفًا﴾[۱۹۵]
ژباړه: الله تعالی پر تاسې آسانول غواړي (ځکه چې) انسان ضعیف هست کړای شوی دی.

دا د الله پاک کرم او مهرباني ده چې انسان یې کمزوری پیدا کړی. ځکه که انسان قوي پیدا کړل شوی وای، دی به له خپل ربه بې پروا وای او هر کار کې به يې پر خپل قوت تکیه کولای، چې په پایله کې بې لارې کېده او په خپله یې پر ځان دوزخ لازمي کاوه.

نو ځکه الله تعالی په انسان لوی احسان کړی چې ضعیف یې پیدا کړی چې خپل خالق ته محتاج وي، کله چې الله تعالی ته احتیاج شي، په همدې کمزورتیا بریالی کیږي او بالاخره جنت ګټي.

انسان کمزوری دی، له ناروغۍ، له دښمن، له فقر، له ظالم او نورو ډاربږي، همدا ډار یې اړ کوي چې الله تعالی ته رجوع وکړي او مرسته ترې وغواړي. کله چې انسان الله تعالی ته سر ټیټ کړي او هر هغه سپارښتنه چې الله تعالی انسان ته کړې عملي کړي، بدله یې دا ده چې په دنیا او آخرت کې به بریالی شي. په دنیا کې به سپیڅلی ژوند تېر کړي او په آخرت کې به یې تر ټولو لوی نعمت یا جنت نصیب شي.

کله چې ته په دې باور شې چې د هر څه ورکوونکی او اخیستونکی الله تعالی دی، لوړوونکی او ټیټوونکی، عزت ورکوونکی او ذلیله کوونکی او روزي ورکوونکی او اخیستونکی یوازې الله تعالی دی؛ تا پر خپل

---

۱۹۵: النساء، ۲۸ آیت

﴿وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ فِيهِمْ ۚ وَمَا كَانَ اللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ﴾[١٩٤]

ژباړه: په هغه وخت کې خو الله تعالی پر هغوی د عذاب نازلوونکی نه ؤ چې ته د هغو په منځ کې موجود وې. او نه د الله دا عادت دی چې خلك بخښنه غوښتونکي وي او هغه ورته سزا ورکړي.

یوه ډېره دقیقه خبره ده، پام ورته وکړئ:

معاذ رضي الله عنه له رسول الله ﷺ سره روان و، پوښتنه یې ترې وکړه: «یا مُعاذ ما حقُّ اللهِ علی عبادِهِ».

ژباړه:اې معاذه پر انسان د الله تعالی حق څه دی؟

هغه ویل: الله تعالی او د هغه رسول ښه پوهیږي، دوه ځلې بیا یې همدا پوښتنه وکړه او هغه ورته ځواب ورکړ.

رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: پر بنده ګانو د الله تعالی حق دا دی چې بندګي یې وکړي او شریک ورسره ونه نیسي.

رسول الله ﷺ بیا له معاذ نه پوښتنه وکړه، کله چې بنده ګان د الله تعالی عبادت وکړي، نو پر الله تعالی د دوی حق څه دی؟

جلیل القدر صحابي ورته ځواب ورکړ، چې الله تعالی او د هغه رسول ښه پوهیږي. نو رسول الله ﷺ ورته وویل: هغه بنده ګان چې د الله تعالی عبادت کوي، پر الله تعالی د دوی حق دا دی چې له عذاب نه یې وساتي، په عذاب یې اخته نه کړي.

که مو د ژوند په هره برخه کې د رسول الله ﷺ پر سنتو عمل کاوه، هېڅکله به په عذاب اخته نه شئ.

١٩٤: الأنفال، ٣٣ آیت

د شتمنو کسانو لپاره صدقه تر ټولو ښه نفلي عبادت دی. مال ستاسې لپاره امتحان دی، الله تعالی يې در څخه بېرته اخيستی هم شي، خو که د مسکينانو حق ترې وباسئ، مال به مو برکتي او ژوند او اولاد به مو بختور وي. رسول الله ﷺ په يوه حديث کې په قسم سره ويلي چې صدقه د انسان مال نه کموي. د قرآن کريم ګڼ آيتونه هم ټينګار کوي چې صدقه مال څو چنده زياتوي.

## دوه کارونه مو د الله تعالی له عذابه ساتي

استغفار ويل او د خپل ژوند په هره برخه کې د رسول الله ﷺ سنت عملي کول.

له الله پاک بخښنه غوښتل يا استغفار د انسان ژوند له بېلابېلو کړاوونو بچ کوي. په دې اړه د دې کتاب نورو برخو کې تفصيلي خبرې شوي.

دويم هغه شی چې موږ او تاسې د الله تعالی له عذابه بچ کوي، د رسول الله ﷺ سنت عملي کول دي.

تر هغه چې موږ د خپل ژوند په هره برخه کې د رسول الله ﷺ سنت عملي کوو، په خپلو کورونو کې يې تطبيقوو، په خپلو عملونو کې ورته پام کوو، د مال ګټلو پر وخت، د صدقې ورکولو پر وخت، په سفر کې، د خپګان پر وخت، د خوښيو پر وخت او په بله هره برخه کې د خير البشر سنت عملي کوو، نو د الله تعالی له عذابه به په امان يوو.

خو د روزي لپاره شرط دا دی چې ته به زحمت باسې کاروبار به کوې بیا به په الله تعالی د نتیجې لپاره توکل کوې.

## یوازې په مال جنت نه ګټل کیږي

عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه د عشره مبشره یا د هغو لسو صحابه وو رضي الله عنهم له ډلې دی، چې رسول الله ﷺ پرې په دنیا کې د جنت زیری کړی و. عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه سوداګر و، خو یوازې په مال یې جنت نه دی ګټلی؛ بلکې یو ښه دعوت ګر هم و. مال یې په زړه کې نه و، په لاسونو کې یې و یعنې صدقه به یې کوله او خپل مال یې د دین د خدمت لپاره کاراوه.

صدقه د الله تعالی غضب په رحمت بدلوي. هره ګناه که در څخه کېده، ورپسې توبه کوه او صدقه ورکوه، ځکه الله پاک فرمایلي:

﴿إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ۚ﴾[193]

ژباړه: بېشکه نېک عملونه ګناهونه له منځه وړي.

ژمو ږ په ګران هېواد کې ډېرې بېوزله کورنۍ شته چې د سهار او ماښام لپاره څه نه لري. کونډې یتیمان د ژوند له کړاوونو ځوریږي. که ته صدقه ورکړې او که نه، پر دوی دغه حالت حتماً تېرېږي، خو ته به د الله تعالی پر وړاندې مسؤل یې.

یو څو شېبې فکر وکړه چې ته فقیر یې او د خپلو اولادونو خوراک او څښاک د برابرولو وس نه لرې، له خلکو به دې تمه څه وي؟ همدغه تمه له تا هم کیږي.

۱۹۳: هود، ۱۱۴ آیت

## د عثمان رضي الله عنه ژړا

روایتونو کې راغلي چې عثمان رضي الله عنه به کله چې د قبر ترڅنګ تیریدو یا به ولاړ و، سخت به یې ژړل. خو کله چې ورته د آخرت خبره کېده، چندان اغیز به یې پرې نه کاوه. دې عادت یې خلک پوښتنې ته اړ کړل چې څنګه د قیامت په اړه درته هر څه ویل کېږي دومره پروا یې نه کوې، خو چې قبر ووینې ژاړې.

عثمان رضي الله عنه وویل: قبر د قیامت لومړی منزل دی چې که په دې ځای کې انسان بریالی شي تر آخره بریالی دی، خو که په دې ځای کې انسان مخ توری شو، تر ابده به تباه او برباد وي.

## د دوه شیانو په اړه اندېښنه کوې، خو بې ځایه

انسانان معمولا د دوو شیانو په اړه اندېښنه کوي او ترې ډارېږي:

یو ژوند چې مړ نه شي او دویم روزي چې غریب نه شي.

د دې دواړو نعمتونو په اړه اندېښنه بې ځایه او بې معنا ده.

ځکه دا دواړه د الله تعالی په واک کې دي.

الله تعالی انسان ته ژوند او روزي ورکوي او بېرته یې ترې اخلي.

له انسانانو مه ډارېږئ چې ستاسې روزي او ژوند به واخلي.

هېڅ نه شي کولای، مګر دا چې الله تعالی غوښتي وي.

کله چې دا خبره مو زړه ته لار وکړي او په زړه کې مو ځای پر ځای شي، له الله تعالی پرته له هېڅ شي به ونه ډارېږئ او سر به له خپل خالق پرته بل چاته ټیټ نه کړئ!

## د قتل امر يې وشو خو پاچا ورته په ګونډو شو

په روايتونو کې راځي چې حجاج بن يوسف د پياوړي عالم حسن البصري د وژلو امر وکړ. حجاج ناست دی، يو کس شمشېر په لاس امر ته ولاړ دی. حسن بصري راوستل شو. کله چې حسن بصري د حجاج دربار ته ننويستل شو، حجاج يې په ليدو ودرېد، په خپل ځای کې يې کېناوه له ډېر احترام وروسته يې بيرته رخصت کړ.

د دربار خلک ورته حيران شول.

يوه درباري کس له حسن بصري نه پوښتنه وکړه چې ته يې راوستی يې وې چې ودې وژني، خو برعکس ستا درناوی يې وکړ او رخصت يې کړې. کله چې راوستل کېدې له ځان سره دې څه ويل، رښتيا راته ووايه تا څه ويل؟

حسن بصري ځواب ورکړ: خپل رب ته مې وويل،اې هغه ربه چې په سخت وخت کې مې مرسته کوې. اې هغه خالقه چې د وحشت پر وخت مې ساتنه کوې. د دې سړي سزا ما ته داسې کړه لکه څنګه چې دې ابراهيم عليه السلام ته اور په سلامتي بدل کړ.

چې الله تعالی درسره مرسته وکړي، نو څوک به درته ضرر ورسولی شي؟

خو که الله تعالی در څخه بېزاره شي او تا يوازې پرېږدي، څوک به درته ګټه ورسوي او څوک به دې مل شي؟

دا قاعده زده کړه او په سختو حالتونو کې پرې زړه ډاډه کوه:

چا چې الله تعالی ياد کړ، هر څه ورته تسليم شول، خو چا چې الله تعالی ياد نه کړ، له هر څه به ډارېږي.

په سختيو کې د زړه ډاډ يوازې الله تعالی دی او بس.

همېشه د سورت الشعراء دا ايتونه لوله او غور پرې کوه:
﴿رَبِّ هَبْ لِي حُكْمًا وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ﴾
اې زما ربه! ماته حکم را وښايه او ما له صالحانو سره يو ځای کړه.
﴿وَاجْعَلْ لِي لِسَانَ صِدْقٍ فِي الْآخِرِينَ﴾
او په وروسته نسلونو کې رېښتيانی نومياليتوب راپه برخه کړه.
﴿وَاجْعَلْنِي مِنْ وَرَثَةِ جَنَّةِ النَّعِيمِ﴾
او ماله نعمتونو ځخه د مالامال جنت له وارثانو ځخه وګرځوه.
﴿وَاغْفِرْ لِأَبِي إِنَّهُ كَانَ مِنَ الضَّالِّينَ﴾
او زما پلارته بخښنه وکړه چې بېشکه هغه له ګمراهانو ځخه دی.
﴿وَلَا تُخْزِنِي يَوْمَ يُبْعَثُونَ﴾
او ما په هغه ورځ مه رسوا کوه چې کله ټول خلك ژوندي را پاځول شي.
﴿يَوْمَ لَا يَنْفَعُ مَالٌ وَلَا بَنُونَ﴾
کله چې نه مال ځه ګټه ورسوي نه اولاد.
﴿إِلَّا مَنْ أَتَى اللَّهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ﴾
مګر دا چې څوك له روغ سپيڅلي زړه سره د الله حضور ته ورغلی وي.
﴿وَأُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ﴾
( په هغه ورځ به ) جنت پرهيزګارانو ته نږدې راوستل شي.
﴿وَبُرِّزَتِ الْجَحِيمُ لِلْغَاوِينَ﴾
او دوزخ به د ګمراه شويو خلکو لپاره پرانستل شي.

ژباړه: کله چې الله تعالی ته یو بنده ګران شي، جبرئیل علیه السلام ته وايي فلانی ما ته ګران دی، نو ته هم ورسره مینه وکړه. جبرئیل ورسره مینه کوي، جبرئیل په آسمان کې غږ کوي چې: اې د آسمان اهله الله تعالی له فلاني سره مینه کوي، نو تاسې هم ورسره مینه وکړئ. د آسمان ټول اهل له ده سره مینه کوي، نو دی په ځمکه کې د مینې او احترام وړ شي. خو که د (الله پاک) یو انسان نه خوښیږي، جبرئیل ته وايي چې زه له فلاني بنده څخه کرکه کوم ته هم ترې کرکه وکړه، بیا ورسره جبرئیل هم کرکه کوي او په آسمان کې غږ کوي چې اې د آسمان خلکو الله پاک له فلاني انسان څخه کرکه کوي تاسې هم ترې کرکه وکړئ بیا په دنیا کې هم د انسانانو زړونه کې ورته کرکه پیدا شي.

چې کله پر الله تعالی ګران شې، د آسمان اهل درته درناوی کوي او د ځمکې خلک در سره مینه کوي، نو له دې هاخوا څه غواړې؟

ښه شاید پوښتنه دې دا وي چې د الله تعالی مینه څنګه ترلاسه کېږي؟

د فرضو، واجبو او سنتو عبادتونو ترڅنګ نفلي عبادتونه ډېر کوه. علماء وايي مسلمان په نفلي عبادتونو خپل رب ته ډېر نژدې کیدای شي، ځکه فرضي او واجب عبادتونه خو ستا مسؤلیت او پر تا لازمي دي.

باید یې ترسره کړې، خو چې کله نفلي عبادتونه کوې اړیکې دې له خپل رب سره لا پیاوړې کیږي.

پر دې سربیره کله چې زړه دې له کینې، غیبت، کرکې او خیانت پاک وي او په هر کار کې پاک نیت او غوره اخلاق ولرې...

او ځان د سورت الشعراء له ۸۳ څخه تر ۹۲ آیتونو مصداق کړې، په دې هم د الله پاک محبت ترلاسه کوای شې، ان شاء الله.

که غواړئ له امتحانونو او فتنو څخه په امان شئ، د هرې جمعې په ورځ د کهف سورت تلاوت کول خپل تلپاتې عادت کړئ.

## د مرستې لپاره اصلي مرستندوی ته مخ کړه

که دې څه له لاسه ورکړل، مه خپه کېږه، بلکې خپل رب ته ودرېږه او ووایه: ربه! په بدل کې یې تر دې غوره راکړه!
په دې سره ته د الله تعالی په آزموینه کې بریالی کېږې او الله سبحانه و تعالی به له خپلې خزانې بې حسابه اجر او مال یا د هغه څه بدله درکړي چې له لاسه دې ورکړي.
د الله پاک داسې ډکې خزانې دي چې هېڅ ترې نه کمېږي.

## د الله تعالی مینه څنگه ترلاسه کړم؟

ځینې انسانان د شهرت، مال او مقام ډېر لېوال وي. پوهېږئ د خلکو لپاره هغه وخت د احترام وړ کېږې چې د الله تعالی مینه ترلاسه کړې.
په قدسي حدیث مبارک کې راځي: «إنَّ اللَّهَ إذا أحَبَّ عَبْدًا دَعا جِبْرِيلَ فقالَ: إنِّي أُحِبُّ فُلانًا فأحِبَّهُ، قالَ: فيُحِبُّهُ جِبْرِيلُ، ثُمَّ يُنادِي في السَّماءِ فيَقولُ: إنَّ اللَّهَ يُحِبُّ فُلانًا فأحِبُّوهُ، فيُحِبُّهُ أهْلُ السَّماءِ، قالَ ثُمَّ يُوضَعُ له القَبُولُ في الأرْضِ، وإذا أبْغَضَ عَبْدًا دَعا جِبْرِيلَ فيَقولُ: إنِّي أُبْغِضُ فُلانًا فأبْغِضْهُ، قالَ فيُبْغِضُهُ جِبْرِيلُ، ثُمَّ يُنادِي في أهْلِ السَّماءِ إنَّ اللَّهَ يُبْغِضُ فُلانًا فأبْغِضُوهُ، قالَ: فيُبْغِضُونَهُ، ثُمَّ تُوضَعُ له البَغْضاءُ في الأرْضِ»[١٩٢]

[١٩٢]: صحیح مسلم٢٦٣٧

یهودو عالمانو وویل: له هغه نه اوله پوښتنه د هغو ځوانانو په اړه وکړئ چې په تېره زمانه کې د خپل ښار نه ووتل (اصحاب کهف)، دویمه پوښتنهترې د هغه سړي وکړئ چا چې د دنیا د مشرق او مغرب سفر وکړ (ذوالقرنین) او درېیمه پوښتنه ترې د روح په اړه وکړئ چې روح څه شی دی.

دواړه قریشیان بېرته مکې ته راغلل او خپلو خلکو ته یې د یهودو عالمانو ټوله کیسه وکړه. قریش له همدې درې سوالونو سره د نبي کریم ﷺ په مقابل کې حاضر شول او دا درې پوښتنې یې ترې وکړلې.

نبي کریم ﷺ ورته وویل چې زه به تاسو ته د دې سوالونو ځوابونه سبا induced — وایم، خلک لاړل او هغه مبارک د وحیې په انتظار و، تر څو د دې سوالونو ځوابونه ورته د وحې له لارې وویل شي. وعده پوره شوه خو وحیه نازل نه شوه او نه هم جبرئیل امین راغی، د مکې قریشو په رسول الله ﷺ باندې ملنډې پیل کړې، هغه مبارک په دې کار سخت غمجن او پرېشانه شو. پینځلس ورځې وروسته جبرئیل امین د سورت کهف له وحیې سره یوځای نازل شو.

د وحیې د ځنډېدو علت دا و چې پیغمبر ﷺ د وعدې ورکولو په پای وخت کې ان شاء الله نه و ویلي.

په دې سورت کې دا موضوع هم یاده شوې الله تعالی خپل رسول ﷺ ته وایي: کله چې له چا سره وعده کوې، نو ضرور ان شاء الله وایه.

د دې ترڅنګ په دې سورت کې الله تعالی د قریشو سوالونو ته ځوابونه وایي او دا ثابتوي چې محمد ﷺ برحقه نبي او رسول دی.

له دې لوی امتحان او د دجال له فتنې څخه د خلاصون په اړه پیغمبر ﷺ موږ ته ډېره واضح ښودانه کړې، که موږ پرې عمل وکړو، ان شاء الله چې په ډېرې آسانۍ به له دې لوی امتحان او لویې فتنې څخه خلاصون ومومو.

ابو سعید رضي الله عنه روایت کوي، پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: «هر څوک چې کهف سورت داسې تلاوت کړي لکه څنګه چې نازل شوی (په تجوید، خشوع او په حوصله) او بیا هغه له دجال سره مخ شي، الله تعالی به د دې شخص حفاظت وکړي او د دجال قدرت او فتنه به پرې هېڅ تأثیر ونه کړي».[191]

**د کهف سبب نزول**

ابن جریر طبري له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت کړی، کله چې په مکه مکرمه کې د نبي کریم ﷺ د نبوت آوازه خپره شوه او د مکې قریش په دې خبر ډېر خپه شول، نو یې نضربن حارث او عقبه بن ابي معیط د مدینې منورې په لور د یهودو عالمانو څخه د پوښتنې لپاره واستول چې هغوی د تورات او انجیل عالمان وو. دوی دغه عالمان وپوښتل چې د دې نوي پیغمبر په اړه څه وایي؟

یهودو عالمانو دوی ته وویل چې له دې پیغمبر نه د درې شیانو پوښتنه وکړئ، که یې د دې پوښتنو سم ځوابونه وویل، نو پوه شئ چې دغه د الله تعالي نبي او رسول دی او که یې سم ځوابونه و نه ویل، نو پوه شئ چې دا نبي او رسول نه دی.

[191]: المستدرک للحاکم

دا قوت به الله تعالی ورکړی وي چې په داسې سختو شرایطو کې خپل مخلص او مؤمن بنده ګان امتحان کړي.
په داسې سختو حالاتو کې چې خوراک او څښاک په خلکو بند شي، نو دوی چاته رجوع کوي، الله تعالی ته چې حقیقي مالک او هر څه د هغه په قدرت کې دي او که دجال ته چې مؤقت قدرت ورکړل شوی؟ دجال به دغه ډول کارونه ترسره کړي تر څو د کمزوري ایمان خاوندان وغولوي او خلکو ته به وایي چې زه خدای یم، نعوذ بالله.
هغه خلک چې د دجال د امر اطاعت وکړي او په نوموړي ایمان راوړي، دوی به پرمختګ کوي او هر څه به ترلاسه کړي، او څوک چې د نوموړي اطاعت نه کوي، په دوی به خوراک او څښاک بند کړي او ځمکه به پرې وچه شي، چې همدا د الله تعالی امتحان دی. په دې اړه الله تعالی مؤمنانو ته ډاډ ورکوي چې: ﴿وَ إِنَّا لَجاعِلُونَ ما عَلَيْها صَعِيداً جُرُزاً﴾[190]
ژباړه: هغه زه یم چې په دې ځمکه هر څه پیدا کوم او وچوم یې او بیا ترې سپېره ډاګ جوړوم.
الله تعالی په کهف سورت کې خپلو بندګانو ته وایي چې که غواړئ رزق ترلاسه کړئ، زما لوري ته راشئ، نه د دجال طرف ته.
د ځمکې د وچولو او سپېره کولو واک یوازې له الله تعالی سره دی نه له دجال سره، خو ځینې خلک به غولېږي او د دجال د فتنې ښکار او د الله تعالی په امتحان کې به ناکامه کېږي.

[190]: الکهف، ۸ آیت

د دې ستونزې د حل لپاره د کیسې په پای کې الله تعالی بیا وایي چې دا دنیا د لنډې مودې لپاره ده، یوازې الله تعالی د مال ورکوونکی دی او شته هر څه به یوه ورځ د ټولو له لاسه وځي.

۳: د موسی او خضر علیهم السلام کیسه:

په دې کیسه کې الله تعالی موږ ته د کم یا ناوړه علم فتنه په نښه کوي، یعنې کله چې علم انسان تواضع او عاجزي ته ونه رسوي یا علم انسان متواضع نه کړي، دا بیا فتنه ده چې انسان یې له امله متکبره او مغروره کېږي.

۴: څلورمه او آخري کیسه د کهف په سورت کې د ذوالقرنین ده:

په دې برخه کې د ځواک او قدرت فتنه بیانیږي. په دې کیسه کې الله متعال خپلو بندګانو ته وایي چې الله تعالی ذوالقرنین امتحان کړل، خو هغوی څنګه او په څه ډول له دې امتحان څخه ووتل.

**د دجال له فتنې سره د کهف سورت تړاو**

د انسانانو په ژوند کې د دجال له فتنې څخه بله لویه او ناوړه فتنه نشته، په دې اړه پیغمبر ﷺ فرمایي: له هغه وخت نه چې الله تعالی آدم علیه السلام پیدا کړی تر قیامت پورې د دجال له فتنې څخه بل لوی امتحان په انسانانو نه شته.

د دجال فتنه داسې یو امتحان دی چې د نوموړي په راتګ سره به ډېرو خلکو ته تاوان ورسیږي، خلک به ووژل شي، وینې به توی شي او بالاخره دجال به راشي او د خدایۍ دعوه به وکړي.

دجال ته به الله تعالی موقتي توان ورکړی او له امله به یې هغه د خلکو د خوراک او څښاک کنټرول ترلاسه کړي.

کهف له کیسو ډک سورت دی او په هره کیسه کې د الله تعالی یو لوی امتحان دی چې خپل بندګان پکې امتحانوي.

په دې سورت کې د نورو کیسو تر څنګ ځلور عمومي کیسې دي:

١. د ځوانانو کیسه (د دین په مقابل کې فتنه)
٢. د پیسو یا مال د فتنې کیسه.
٣. د خضر او موسی علیهم السلام کیسه (د علم فتنه)
۴. د ذوالقرنین کیسه ( د قدرت یا ځواک فتنه).

١: د ځوانانو کیسه:

یوه ډله ځوانان چې د ظلم په مقابله کې را ولاړیږي او الله تعالی یې په کهف (غار) کې ساتي.

په دې کیسه کې الله تعالی موږ د دین په اړه له امتحانه خبروي او وایي، یوه ډله ځوانان وو چې په الله سبحانه و تعالی باندې یې ایمان درلود. هر هغه چا چې به ایمان درلود نو خلکو او پاچا به هغوی وژل. پاچا غوښتل دغه ډله ځوانان چې په الله تعالی یې ایمان درلود له منځه یوسي، خو هغوی د دې ظلم په مقابل کې په کهف (غره په منځ کې سمڅه) کې الله تعالی ته پناه یوړه او الله تعالی د هغوی سوال قبول او هغوی ته یې پناه ورکړه او اوږده موده یې هلته په اوږده خوب ویده کړل.

٢: د مال یا پیسو د فتنې کیسه:

په دې کیسه کې الله متعال موږ ته ښودنه کوي، کله چې پیسې یا دنیوي مال د انسان هر څه شي یا د انسان ټول هدف پیسې شي بیا څه پیښیږي؟ د پیسو په مقابل کې انسان مغروره او متکبره کېږي.

هغه وايي: کله چې به ما تلاوت بس کړ، دغه رڼا به پاس آسمان لور ته لوړېدله او کله چې به مې تلاوت بيا پيل کړ، رڼا به بېرته راکوزېدله.
براء پيغمبر ﷺ ته لاړ او دا خبره يې ورسره شريکه کړه، هغه مبارک ورته په ځواب کې وفرمايل: «تلک السکينة نزلت».
ابن حجر رحمه الله وايي: له سکينة څخه مراد ملايکې دي؛ ځکه کوم ځای ته چې ملايکې ځي، هلته سکون يا آرامښت احساسېږي.
نو د براء رضي الله عنه د تلاوت اورېدو ته هم ملايکې راغلې وې.
تيرو پاڼو کې مو هغه حديث هم بيان کړ چې رسول الله ﷺ فرمايلي و څوک چې د کهف سورت لس لومړني ايتونه حفظ کړي د دجال له فتنې به خوندي شي. بل حديث مبارک کې روايت شوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي: «من قرأ سورةَ ( الکهفِ ) في يومِ الجمعةِ أضاء له من النورِ ما بين الجمُعَتَين»[١٨٩]
ژباړه: څوک چې د جمعې په ورځ د کهف سورت تلاوت کړي، له دې جمعې څخه به تر بلې جمعې پورې د تلاوت کوونکي له مخ څخه يو نور روښانه وي او ځلېږي به.
په يوه بل حديث کې بيا راغلي چې څوک د جمعې په شپه د کهف سورت ولولي تر بلې جمعې به د هغه له مخه تر اسمانه نور ځليږي.

**د کهف سورت موضوع:**

د کهف سورت اصلي موضوع دا ده چې د دې سورت په تلاوت کولو سره الله متعال انسان له هر ډول امتحان او آزميښت څخه ساتي.

[١٨٩]: صحيح الترغيب (٧٣٦)، د حديث حکم: صحيح

## د هر چا هره خبره مه منه

زموږ او ستاسې ډېری ستونزې له دې امله دي چې د هر چا په خبره پرته له دې چې په اړه يې دقيق معلومات وکړو باور کوو او سملاسي غبرګون ښکاره کوو. خو الله تعالی څه سپارښتنه کوي؟

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَىٰ مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ﴾[188]

ژباړه: اې مؤمنانو! که کوم فاسق تاسې ته له کوم خبر سره راشي، نو تاسې (د هغه د خبر په اړه) پلټنه او تحقيق وکړئ، هسې نه چې کومې ډلې ته په ناپوهۍ سره ضرر ورسوئ او بيا پخپلو کړو پښېمان شئ.

## د دجال له فتنې څنګه په امان شو؟

اکثره خلک د هرې جمعې په ورځ د کهف مبارک سورت لولي چې د دجال له لويې فتنې په امان شي. دا هغه مبارک سورت دی چې رسول الله ﷺ يې په اړه سپارښتنه کړې چې هره جمعه يې ولولو، ځکه د انسان په ژوند کې تر ټولو لويې فتنې د دجال له فتنې مو ژغوري.

کهف سورت د قرآن کريم په پنځلسمه سپاره کې ۱۸ام سورت دی چې په مکه مکرمه کې نازل شوی دی. ۱۱۰ آيتونه او ۱۲ رکوع ګانې لري.

**د سورة الکهف فضيلت**

په صحيح بخاري کې يو حديث روايت شوی چې يو ځل براء بن عازم (رضي الله عنه) کهف سورت لوستلو، د هغه پام شو چې آس يې لړزېږي او ډېر نا آرام دی او د آس څخه پاس يوه رڼا رانښکته شوې وه.

---

۱۸۸: الحجرات، ٦ آيت

ژباړه: ایا هغه ایتونه مو ندي کتلي چې د هغې په شان پخوا هېڅ نه دي نازل شوي: ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ﴿١﴾ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ﴾.

څوک چې سورت اخلاص (قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ...) او معوذتین د شپې درې ځله ولولي؛ له شر او بلا څخه به وساتل شي او د هر څه پر وړاندې یې بسنه کوي. که حسودې سترګې وي، که جادو وي او که بل هر شر وي.

د صحیح بخاري د یوه حدیث کې روایت شوي:

«كانَ صَلَّى اللهُ عليهِ وسَلَّمَ إذا أَوَى إلى فِرَاشِهِ كُلَّ ليلَةٍ جَمَعَ كَفَّيْهِ، ثمَّ نَفَثَ فيهِمَا فَقَرَأَ فيهِمَا: ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ﴾، و ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ﴾، و﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ﴾، ثُمَّ يَمْسَحُ بهِمَا ما اسْتَطَاعَ مِنْ جَسَدِهِ، يَبْدَأُ بهِمَا على رَأْسِهِ ووَجْهِهِ وما أَقْبَلَ مِنْ جَسَدِهِ، يَفْعَلُ ذلكَ ثَلاثَ مَرَّاتٍ»[١٨٧]

ژباړه: رسول الله ﷺ چې به هره شپه کله د خوب بسترې ته تللو لاسونه به یې لپه کړل، ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ﴾، و﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ﴾، و﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ﴾ سورتونه به یې ولوستل او په لاسونو کې به یې چوف کړل بیا به یې پرې خپل ټول بدن مسح کاوه تر کومه ځایه چې یې لاس رسیده او له سر څخه به یې پیل کاوه او د بدن لوري ته تللو. دا کار به یې درې واري تکراروه.

مور د خپل رسول ﷺ په وعده پوره ایمان لرو چې د هغه خبرې له ځانه نه دي مګر د وحیې په بنسټ. په دې معنی چې دا د الله تعالی له لوري انسانانو ته د خوندیتوب ډالۍ ده!

---

١٨٧: صحیح البخاري

﴿إِذْ أَوَى الْفِتْيَةُ إِلَى الْكَهْفِ فَقَالُوا رَبَّنَا آتِنَا مِنْ لَدُنْكَ رَحْمَةً وَهَيِّئْ لَنَا مِنْ أَمْرِنَا رَشَدًا﴾

ژباړه: کله چې ځو تنو ځلمیانو سمڅې ته پناه ور وړه او ویې ویل: اې پروردګاره! موږ په خپل ځانګړي رحمت سره سر لوړي کړه او زموږ چاره سمه کړه.

د انسان لپاره تر ټولو لویه فتنه یا امتحان همدا د دجال فتنه ده.

دغه پورتني لس ایتونه حفظ کړئ او همېشه یې لولئ، له دې سره به تر ټولو لویې فتنې څخه بچ شئ.

اوومه خزانه: سورت اخلاص او معوذتین

د قرآن کریم دوه وروستي سورتونه (قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ او قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ) له هر ډول شر یا ضرر څخه ځان د خوندي پاتې کېدو لپاره بهترین آیتونه او سورتونه دي.

هر انسان دغو دوو سورتونو دوامداره لوستلو ته لکه د خوراک او څښاک په شان اړتیا لري او باید په دوامداره ډول خصوصا سهار او ماښام دغه سورتونه ولولي.

دا مبارک سورتونه د سحر یا جادو، د سترګو نظر او نور شر څخه د انسان خوندي ساتلو کې ډېر تاثیر لري.

رسول الله ﷺ فرمایلي:

«أَلَمْ تَرَ آيَاتٍ أُنْزِلَتِ اللَّيْلَةَ لَمْ يُرَ مِثْلُهُنَّ قَطُّ: ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ﴿١﴾ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ﴾»[١٨٦]

١٨٦: صحیح مسلم

﴿مَاكِثِينَ فِيهِ أَبَدًا﴾

ژباړه: چې په هغه کې به هغوی د تل له پاره اوسېږي.

﴿وَيُنْذِرَ الَّذِينَ قَالُوا اتَّخَذَ اللَّهُ وَلَدًا﴾

ژباړه: او هغه خلك و وېروي چې وايي الله څوك په زوی ولی نیولی.

﴿مَا لَهُمْ بِهِ مِنْ عِلْمٍ وَلَا لِآبَائِهِمْ ۚ كَبُرَتْ كَلِمَةً تَخْرُجُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ ۚ إِنْ يَقُولُونَ إِلَّا كَذِبًا﴾

ژباړه: د دې خبرې څخه نه هغوی څه علم لري او نه د هغوی پلار او نیکه درلود، ستره خبره ده چې د دوی له خولې څخه راووځي، هغوی محض دروغ وايي.

﴿فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَفْسَكَ عَلَىٰ آثَارِهِمْ إِنْ لَمْ يُؤْمِنُوا بِهَٰذَا الْحَدِيثِ أَسَفًا﴾

ژباړه: ښه نو (اې محمده ﷺ) ښايي ته په هغو پسې له غم خوړلو نه خپل ځان بايلې که دوی پر دغه ښوونه ايمان را نه وړي.

﴿إِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى الْأَرْضِ زِينَةً لَهَا لِنَبْلُوَهُمْ أَيُّهُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا﴾

ژباړه: حقيقت دا دی دا څه وسايل چې د ځمکې پر مخ دي، هغه مونږ د ځمکې ښکلا ګرځولي دي. تر څو چې دوی و آزمايو چې په دوی کې څوك ښه عمل کوونکی دی.

﴿وَإِنَّا لَجَاعِلُونَ مَا عَلَيْهَا صَعِيدًا جُرُزًا﴾

ژباړه: په پای کې له دغو ټولو نه چې د هغې پر مخ دي؛ موږ يو هوار ډګر جوړوونکي يوو.

﴿أَمْ حَسِبْتَ أَنَّ أَصْحَابَ الْكَهْفِ وَالرَّقِيمِ كَانُوا مِنْ آيَاتِنَا عَجَبًا﴾

ژباړه: آيا ته انګېرې چې د سمڅې او لوحې خاوندان زموږ له کومو ډېرو حيرانوونکو نښانو څخه وو؟

سیوری یې جوړ کړی وي (الله پاک ته د خپل لوستونکی د سخت لمر له تودوخې یا د قیامت له سختۍ د بچ کېدو شفاعت کوي). د خپلو ملګرو (لوستونکو) دفاع کوي. دوامداره تلاوت یې برکت دی او پرېښوده یې پښېماني ده. ساحران یې پر لوستونکي برلاسه کېدای نه شي (ځوک چې دا مبارک سورتونه لولي له سحر څخه به خوندي وي).

شپږمه خزانه: د کهف سورت لس لومړي آیتونه

د کهف سورت د لسو لومړیو آیتونو حفظ او زده کولو سره مسلمان د دجال له فتنې څخه بچ کيږي.

رسول الله صلی علیه وسلم فرمایلي: «مَنْ حَفِظَ عَشْرَ آيَاتٍ مِنْ أَوَّلِ سُورَةِ الْكَهْفِ عُصِمَ مِنَ الدَّجَّالِ»[١٨٥]

ژباړه: چا چې د کهف سورت لس لومړي آیتونه حفظ کړل؛ له دجال څخه بچ شو.

د کهف سورت لس لومړني لس ایتونه دا دي:

﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَىٰ عَبْدِهِ الْكِتَابَ وَلَمْ يَجْعَلْ لَهُ عِوَجًا ۜ﴾

ژباړه: ثنا ستاینه الله ته ده چې هغه پر خپل بنده دغه کتاب نازل کړ او په هغه کې یې کوم کوږوالی پرې نښود.

﴿قَيِّمًا لِيُنْذِرَ بَأْسًا شَدِيدًا مِنْ لَدُنْهُ وَيُبَشِّرَ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا حَسَنًا﴾

ژباړه: د سمو سیخو خبرو ویونکی کتاب، تر څو چې خلکو ته د الله د سخت عذاب اخطار ورکړي او ایمان راوړونکو او نیك عملو ته د دې زیری ورکړي چې د هغو لپاره غوره اجر دی.

---

[١٨٥]: صحيح مسلم. صحح الألباني

پنځمه خزانه: د بقرې او آل عمران سورتونه

د قرآن کريم لوستل سراسر برکتونه او اجرونه دي. دا کتاب د انسان د زړه ډاډ او خوشحالوونکی، د تشويشونو حل، بهترين لارښود، د عقل او ذهن رڼا، له دوزخه بچ کوونکی او جنت ته د تللو بهترينه وسيله. سورت بقرة او آل عمران د قرآن کريم نورو سورتونو په شان له برکتونو او اجرونو ډک دي.

رسول الله ﷺ يې په دوامداره لوستلو ټينګار کړی دی.

«اقْرَؤُوا القرآن فإنَّه يَأْتي يَومَ القِيامَةِ شَفِيعًا لأَصْحابِهِ، اقْرَؤُوا الزَّهْراوَيْنِ البَقَرَةَ، وسُورَةَ آلِ عِمْرانَ، فإنَّهُما تَأْتِيانِ يَومَ القِيامَةِ كَأنَّهُما غَمامَتانِ، أوْ كَأنَّهُما غَيايَتانِ، أوْ كَأنَّهُما فِرْقانِ مِن طَيْرٍ صَوافَّ، تُحاجَّانِ عن أصْحابِهِما، اقْرَؤُوا سُورَةَ البَقَرَةِ، فإنَّ أخْذَها بَرَكَةٌ، وتَرْكَها حَسْرَةٌ، ولا تَسْتَطِيعُها البَطَلَةُ. قالَ مُعاوِيَةُ: بَلَغَنِي أنَّ البَطَلَةَ: السَّحَرَةُ.

[وفي رواية]: غيرَ أنَّه قالَ: وكَأنَّهُما في كِلَيْهِما، ولَمْ يَذْكُرْ قَوْلَ مُعاوِيَةَ بَلَغَنِي.» [١٨٤]

ژباړه: قرآن لولئ بې له شکه دغه کتاب د قيامت په ورځ د خپلو لوستونکو لپاره شفاعت کوي. زهراوين لولئ: سورة البقرة او سورة آل عمران. بې له شکه دغه دوه سورتونه په قيامت کې داسې راځي لکه وريځې (خپل لوستونکی پر سر د سخت لمر د ګرمي پرمهال سيوری غوړوي) يا د سر سيوري په شان (لکه په سر چې يو څه نيول کيږي چې لمر نه بچ شي) يا د هغو الوتونکو مرغيو په شان چې ځنګ په ځنګ رواني وي او سيوری کوي (د ځمکې په هغه برخه چې الوتنه کوي

١٨٤: صحيح مسلم (٨٠۴).

ژباړه: پیغمبر ﷺ پر هغه هدایت ایمان راوړی دی چې د هغه د رب لخوا پر هغه نازل شوی دی او څوك چې د دې پېغمبر منونکي دي، هغوی هم دا هدایت د زړه په مينه منلی دی. دوی ټولو الله، د هغه پرښتې، د هغه کتابونه او د هغه پیغمبران (علیهم السلام) منلي دي او د هغو وینا دا ده چې :"موږ د الله په پیغمبرانو کې د یو له بل سره توپیر نه کوو، مونږ حکم واورېده او اطاعت مو ومانه. زمونږ څښتنه! ستا څخه د گناه د بخښني غوښتنونکي یوو او همدا ستا لوري ته زموږ درتگ دی. الله پاک هېڅ نفس ته د هغه له وسې پورته مسئوولیت نه متوجه کوي. چا چې څه ښه کړي دي د هغو میوه د هماغه ده او چا چې څه بدي کړې ده د هغې گناه پر هماغه ده. زموږ ربه! که له موږ نه څه هېر او خطا را څخه وشي، موږ پرې مه نیسه. څښتنه! پر موږ هغه پېټی مه ږده چې له مونږ نه پر مخکینیو خلکو دې ایښی و. زموږ څښتنه! د کوم پیټي پورته کولو چې په موږ کې وس نشته، هغه پر موږ مه ږده، له موږ سره آساني وکړه، زموږ (له گناهونو) څخه تېر شه، پر موږ رحم وکړه، ته زموږ کار جوړوونکی یې، د کافرانو په مقابل کې زموږ مرسته وکړه.
په دې ایتونو کې عجیبې دعاگانې دي که په ټول ژوند دې یوازې همدغه دعاگانې قبولې شي، بس دي.

د دې آیتونو مانا ته چې پام وکړئ، ښيي چې د تشویشونو، اندېښنو، ذهني او عصبي ناروغيو علاج هم پکې شته، ځکه دا ناروغۍ له طاقت نه لوړو څېزونو په کولو او په اړه یې د تشویش کولو څخه پیدا کېږي.

څلورمه خزانه: د بقرې سورت آخري آیتونه

دا لویه خزانه ده چې انسانان یې په اړه بې پروا دي! د بقرې سورت دوه وروستي آیتونه دي. دا هغه آیتونه دي چې د هر ډول ناروغیو علاج پکې شته، خصوصاً د هغو ناروغیو چې له سحر، جادو او پېریانو سره تړاو لري.

او دا مبارک آیتونه له کور څخه ضرر رسوونکي مخلوق لکه پېریان او شیطانان شړي.

رسول الله ﷺ فرمايي: «منْ قَرَأَ بالآيَتيْنِ مِنْ آخِرِ سُورةِ البقَرةِ فِي لَيْلَةٍ كَفَتَاهُ»[۱۸۲]

ژباړه: چا چې د بقرې سورت دوه آخري آیتونه د شپې لخوا ولوستل، همدغه ورته کفایت کوي.

هغه دا ایتونه دي:

﴿آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ ۚ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ رُسُلِهِ ۚ وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ۖ غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ ﴿٢٨٥﴾ لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ۚ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ ۗ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا إِنْ نَسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِ ۖ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا ۚ أَنْتَ مَوْلَانَا فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ﴾[۱۸۳]

---

۱۸۲: متفق علیه

۱۸۳: البقرة، ۲۸۵ او ۲۸۶ آیتونه

يعنې کله چې فرض لمونځ خلاص کړې او ورپسې دغه عظيم ايت ولولې ستا او د جنت ترمنځ يوازې مرگ دی چې کله تر بل فرض لمونځ پورې وفات شې مخامخ به جنت ځې ان شاء الله.

نو له هر فرض لمونځ څخه وروسته دا عظيم ايت لوله:

﴿اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ ۚ لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ ۚ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۗ مَنْ ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ ۚ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا شَاءَ ۚ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ ۖ وَلَا يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا ۚ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ﴾[۱۸۱]

ژباړه: له الله پرته بل خدای نشته، مگر يوازې همدغه يو رب دی چې همېشه ژوندی دی او ټول کائنات يې تنظيم کړي دي، هغه نه ويده کېږي او نه پرکالي پرې راځي، په اسمانونو او ځمکه کې چې هر څه دي د هغه دي، څوك دی چې د هغه په وړاندې د هغه له اجازې پرته سپارښت وکړای شي؟ څه چې د بندگانو په وړاندې دي پر هغو هم خبر دی او څه چې له هغو نه پټ دي پر هغو هم خبر دی او د هغه له معلوماتو نه هيڅ شی د هغوې په ادراك کې نشې ايساريدای مگر دا چې د کوم شي علم ورکول هغه په خپله وغواړي، د هغه حکومت پر اسمانونو او ځمکه خپور شوی دی او د هغو ساتنه د هغه له پاره کوم ستومانوونکی کار نه دی يوازې هماغه يو لوی او لوړ رب دی.

۱۸۱: البقره، ۲۵۵ آيت

هغه وويل: له دې سورت سره مې مينه ده. رسول الله ﷺ په ځواب کې وويل: "د دې سورت مينه به تا جنت ته داخل کړي".

سبحان الله! څومره لويه نېکمرغي په دومره اسانه کار!

سورة الأخلاص له معنی سره زده کړه او همېشه يې تلاوت کوه:

﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ﴾

ووايه هغه الله دی، يوازې يو.

﴿اللَّهُ الصَّمَدُ﴾

الله هېچاته اړ نه دی او ټول هغه ته اړ دي.

﴿لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ﴾

نه هغه څوك زېږولی دی او نه هغه زېږول شوی دی.

﴿وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ﴾[۱۷۹]

او نشته هغه لره هېڅوک سيال

درېيمه خزانه: آيت الكرسي

د ايت الکرسي په اړه رسول الله ﷺ فرمايلي:

«مَن قرأَ آيةَ الكرسيِّ دبُرَ كلِّ صلاةٍ مَكْتوبةٍ ، لم يمنَعهُ مِن دخولِ الجنَّةِ ، إلَّا الموتُ»[۱۸۰]

ژباړه: چا چې ايت الکرسي د هر فرض لمونځ څخه وروسته ولوست، جنت ته بې له مرگ پرته بل هېڅ شی مخه ونه نيسي.

۱۷۹: الاخلاص، ۱-۴ آيتونه

۱۸۰: بلوغ المرام، ۹۷ پاڼه. د حديث حکم: صحيح

په یوه مبارک حدیث کې راځي:
«كانَ رَجُلٌ مِنَ الأنْصارِ يَؤُمُّهُمْ في مَسْجِدِ قُباءٍ، وكانَ كُلَّما افْتَتَحَ سُورَةً يَقْرَأُ بها لهمْ في الصَّلاَةِ ممَّا يَقْرَأُ به افْتَتَحَ: بقُلْ هو اللَّهُ أحَدٌ حتَّى يَفْرُغَ مِنْها، ثُمَّ يَقْرَأُ سُورَةً أُخْرَى معها، وكانَ يَصْنَعُ ذلكَ في كُلِّ رَكْعَةٍ، فَكَلَّمَهُ أصْحابُهُ، فقالوا: إنَّكَ تَفْتَتِحُ بهذِه السُّورَةِ، ثُمَّ لاَ تَرَى أنَّها تُجْزِئُكَ حتَّى تَقْرَأَ بأُخْرَى، فَإِمَّا تَقْرَأُ بها وإمَّا أنْ تَدَعَها، وتَقْرَأَ بأُخْرَى فقالَ:
ما أنا بتارِكِها، إنْ أحْبَبْتُمْ أنْ أؤُمَّكُمْ بذلكَ فَعَلْتُ، وإنْ كَرِهْتُمْ تَرَكْتُكُمْ، وكانُوا يَرَوْنَ أنَّه مِن أفْضَلِهِمْ، وكَرِهُوا أنْ يَؤُمَّهُمْ غَيْرُهُ، فَلَمَّا أتاهُمُ النبيُّ صَلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ أخْبَرُوهُ الخَبَرَ، فقالَ: «يا فُلاَنُ، ما يَمْنَعُكَ أنْ تَفْعَلَ ما يَأْمُرُكَ به أصْحابُكَ، وما يَحْمِلُكَ علَى لُزُومِ هذِه السُّورَةِ في كُلِّ رَكْعَةٍ» فقالَ: إنِّي أُحِبُّها، فقالَ: «حُبُّكَ إيَّاها أدْخَلَكَ الجَنَّةَ»[۱۷۸]
ژباړه: د انصارو یو سړی و، چې په مسجد قباء کې یې د خلکو امامت کاوه چې د هر رکعت پر مهال به یې لومړی قل هو الله أحد سورت لوسته، بیا به یې وروسته بل سورت تلاوت کاوه، خلکو ورته ترې غوښتنه وکړه چې متفاوت سورتونه ولولي خو هغه ځواب ورکړ چې دا کار نه پرېږدم، که غواړئ ستاسې امامت وکړم په همدې طریقه مخکې ځم که نه امامت نه کوم، خلکو د ده امامت خوښاوه او تر نورو یې غوره باله، رسول الله ﷺ ته یې خبره ورسوله، هغه له امام څخه پوښتنه وکړه چې" اې فلانیه! ولې هغه څه نه ترسره کوې چې ستا ملګري یې غوښتنه کوي او څه شي اړ کړی یې چې هر رکعت کې دغه سورت لولې؟"

۱۷۸: صحیح البخاري (۷۷۴)

مِن جَسَدِهِ، يَبْدَأُ بهما علَى رَأْسِهِ ووَجْهِهِ وما أقْبَلَ مِن جَسَدِهِ، يَفْعَلُ ذلكَ ثَلاثَ مَرَّاتٍ.»[١٧٦]

کله چې به رسول الله ﷺ هره شپه د خوب بسترې ته تللو، نو لاسونه به یې لپه کول او بیا به یې پکې چوف کول په دغو لپه شویو لاسونو کې به یې اخلاص سورت ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ﴾، الفلق سورت ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ﴾ او الناس سورت ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ﴾ لوستل بیا (لاسونو کې چوف کول) او تر هغې وروسته به یې ټول بدن پرې تر کومه ځایه چې کېدای شو مسح کاوه.

د بدن مسح کول به یې له سر او مخ څخه پیلول او د بدن لوري ته به تللو او دا کار به یې درې وارې ترسره کاوه.

په یوه بل حدیث کې رسول الله ﷺ فرمایلي:

« من قرأ قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ عشرَ مراتٍ بنى اللهُ له بيتًا في الجنَّةِ»[١٧٧]

ژباړه: چا چې یوولس وارې قل هو الله (سورت اخلاص) ولوست؛ الله پاک ورته په جنت کې کور جوړ کړ.

عمر رضي الله عنه پوښتنه وکړه چې که ډېر یې ولولو یا رسول الله؟ هغه مبارک ورته وویل چې څومره یې لوستی شئ الله تعالی د پراخۍ او پاکۍ خاوند دی.

په دنیا کې د یو کور ترلاسه کولو لپاره څومره زیار ګالو؟

بیا د جنت کور په اړه مو څه نظر دی؟

---

١٧٦: صحيح البخاري (٥٠١٧)

١٧٧: الراوي : معاذ بن أنس | المحدث : الألباني | المصدر : صحيح الجامع | الصفحة أو الرقم : ٦٤٧٢ | خلاصة حكم المحدث : صحيح

﴿مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ﴾
د جزا (قيامت) د ورځې مالك دی.
﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴾
مونږ يوازې همدا ستا عبادت کوو او همدا له تا څخه مرسته غواړو.
﴿اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ﴾
(زموږ ربه) مونږ ته سمه لاره وښايه.
﴿صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ﴾[١٧٥]
د هغو کسانو لاره چې تا پرې پېرزوينه کړې ده، نه د هغو کسانو لاره چې غضب ورباندې شوی او نه د هغو کسانو لاره چې لار ورکي دي.
دويمه خزانه: سورة الاخلاص
د قرآن کريم له اخري خوا درېيم سورت دی.
رسول الله ﷺدا مبارک سورة ثلث القرآن بللی دی، ياني په درېيو کې د قرآن کريم يوه برخه ده. په دې معنی چې که درې وار ولوستل شي، لکه مکمل قرآنکريم چې لوستل شوی وي.
په صحيح البخاري کې له بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روايت شوی چې فرمايي:
«أنَّ النَّبيَّ صلَّى اللهُ عليه وسلَّم كانَ إذا أَوَى إلى فِراشِهِ كُلَّ لَيْلَةٍ جَمَع كَفَّيْهِ، ثُمَّ نَفَثَ فِيهِما، فَقَرَأَ فِيهِما: ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ﴾، و ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ﴾، و ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ﴾، ثُمَّ يَمْسَحُ بهما ما اسْتَطاعَ

١٧٥: الفاتحة

لومړۍ خزانه: سورة الفاتحه

د قرآن کريم لومړی سورت (سورة الفاتحة).

د دې مبارک سورت لوستل د بدني او نفسي ناروغيو درملنه کوي.

امام بخاري له أبو سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت کړی چې ويلي يې دي: د رسول الله ﷺ د صحابه وو يوه ډله د عربو په يوه کلي باندې تېرېده خو د کلي هغو خلکو يې ميلمه پالنه ونه کړه، وروسته د کلي مشر کوم شي وچيچلو. صحابه وو ته يې وويل تاسې سره کومه دوا شته؟

هغوی ويل هو شته خو تاسې موږ ته د خوراک لپاره څه رانکړل نو موږ ستاسې د مشر درملنه تر هغې نه کوو چې اجوره را نه کړئ. هغوی ورته د پسونو يوه رمه ورکړه او صحابه وو رضي الله عنهم هغه قومي مشر په سورة الفاتحه دم کړ.[١٧٤]

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيطَانِ الرَّجِيمِ: پناه غواړم په الله پاک له رټل شوي شيطان څخه.

﴿بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ﴾

(پيل کوم) د الله په نوم چې ډېر مهربان او زيات رحم لرونکی دی.

﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾

ټوله ثنا ستاينه يوازې الله لره ده چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی.

﴿الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ﴾

ډېر مهربان زيات رحم لرونکی دی.

١٧٤: رواه البخاري، في صحيح البخاري، عن أبي سعيد الخدري، الصفحة أو الرقم: ٥٧٣٦، صحيح.

## آیا ژوند مو له کړاوونو ډک دی؟

آیا له سحر، جادو، کوډو، د سترګو اغېز، پېریانو، زړه تنګوالي او نورو ستونزو په عذاب یاست او ژوند یې درته تریخ او بې خونده کړی؟

پوهېږئ لامل یې موږ او تاسې خپله یو او ملامت هم همدا موږ یوو.

شاید پوښتنه مو دا وي چې ولې؟

الله تعالی او د هغه رسول ﷺ مبارکو حدیثونو کې د دې کړاونو ښه علاج راښودلی خو موږ ترې په بې پروایي تېرېږو او غور پرې نه کوو.

قرآن کریم په خپله شفاء دی. ځینې سورتونه در ښایم که هره ورځ سهار او ماښام مو لوستل الله پاک به مو له دغو ستونزو خوندي ساتي، ان شاء الله.

رسول الله ﷺ فرمایلي: د دې سورتونو تر شا خزانې دي.

دا خزانې را وسپړئ، ګټه ترې واخلئ او ځان پرې له ستونزو خوندي ساتئ.

دا په دې معنی نه ده چې موږ د ناروغیو د درملنې لپاره له طبي درملو یا ډاکټر ته له تللو بې پروا شو، نه بلکې د مسلمانانو په توګه موږ دا باور لرو چې د ناروغۍ د علاج لپاره باید ډاکټر ته لاړ شو او دوا هم وخورو. خو ترڅنګ یې د الله پاک د کلام په مرسته هم له بېلابیلو بلاوو ځان خوندي وساتو.

ځکه الله تعالی انسانان پیدا کړي او تر هر چا ښه پوهیږي چې د ناروغیو دوا یې څه ده، د انسان وجود څه ډول کار کوي او څنګه روغیږي.

دا نړۍ او پکې له حرامو لارو روزي په دې ارزې چې خپل آخرت خراب کړو؟ حال دا چې ښه پوهېږو له دې دنیا د کوچېدو پر وخت موږ له ځان سره څه وړلای شو؟ یوازې یو کفن او بس!

درېیم درس: په ټولنه کې فعاله ونډه ولرئ، له خلکو سره مرسته وکړئ، د بېوزلو او یتیمانو لاس نیوی وکړئ او د فعال مسلمان رول ولوبوئ. همدا په قیامت او قبر کې په کارېږي!

## د ژوند مهمه قاعده

عبدالله بن عباس رضي الله عنه تنکی ځوان و. یوه ورځ له رسول الله ﷺ وسلم سره پر اوښ ناست و. رسول الله ﷺ ورته وویل: "اې ځوانه زه درته څو خبرې در زده کوم: الله تعالی په یاد ساته چې هغه تا په یاد وساتي. کله چې دې مرسته غوښته، له الله تعالی یې غواړه او پوه شه چې که ټوله دنیا تا ته د ګټې رسولو لپاره راټوله شي، هېڅ به درته ونه کړي مګر هغه چې الله تعالی درته لیکلي وي، خو که ټول خلک راټول شي چې تا ته ضرر ورسوي، هېڅکله به درته ضرر و نه شي رسولی مګر هغه چې الله تعالی درته لیکلي وي. پوه شه چې نصر یا مرسته له صبر سره ده. له هر زړه تنګوالي وروسته راحت یا هوساینه ده او پوه شه چې له هرې سختۍ وروسته آساني ده، لکه څنګه چې الله تبارک و تعالی فرمايي: ﴿ إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا﴾[172][173]

۱۷۲: الشرح، ٦ آیت

۱۷۳: دا حدیث ترمذي روآیت کړی او حسن صحیح یې بللی

د علي بنات په مرګ ګڼ شمېر مسلمانان او نامسلمانان خفه شول، یو عیسوي پر خپل یوټیوب د علي مړینې ته په غبرګون کې وایي:

"زموږ د ورور علي بنات یو سپېڅلی روح و، دی د هغو خلکو له ډلې دی چې موږ ورته اړتیا لرو، دا هغه کسان دي چې خپل مثبت اړخ له خلکو سره شریکوي، چې یو څه وکړي، یوازې د دې لپاره چې له خلکو سره یې مرسته کړې وي."

**د علي بنات په ژوند او مرګ کې زموږ لپاره درسونه څه دي؟**

لومړی درس: علي بنات ته ډاکترانو اووه میاشتې وخت ورکړی و، خو هغه په داسې حال کې چې سرطان یې درلود، شاوخوا درې کاله ژوند وکړ او په هغه نبته مړ شو چې الله پاک ورته ټاکلې وه. الله تعالی په هر څه ښه پوهیږي، خو ښکاري چې الله پاک هغه ته د نېکې ارادې او ښه کارونو د ترسره کولو لپاره کافي موقع ورکړه چې د آخرت لپاره ځان ته توښه برابره کړي.

راځئ له ځانه وپوښتو چې موږ څومره وخت لرو؟ د خیر کارونو او ځان بدلولو لپاره؟

آیا دا یقین لرئ چې تر سبا به ژوندي یاست؟

د دې دنیا فاني ژوند موږ ته دا زمزمه کړې چې تل به ژوندي یو! حال دا چې ښه پوهېږو چې غولوي مو. دا دنیا بل هېڅ نه ده مګر د آزموینې ځای دی.

دویم درس: موږ په دنیا کې هر څه ترلاسه کوو لکه ښکلي کورونه، قېمتي ګاډي، له حرامو او حلالو لارو پانګه او ګڼ نور...

خو آیا د قیامت لپاره مو د دې نیم چند خواري کړې؟

ته به جنت ته ځې، دوی به ویل وروره! تا د ټولنې او اُمت لپاره ډېر څه وکړل، سبحان الله، دا د یو کوچني او ساده نعمت ارزښت نه لري چې الله تعالی موږ ته د دې وړتیا راکړې چې سهار له خوبه راپاڅېږو او تر حمامه په خپلو پښو لاړ شو. دا هغه څه دي چې ورو، ورو ما له لاسه ورکړل، الحمدلله ډېر کم کسان د ژوند په وروستیو کې داسې چانس ترلاسه کوي چې وپوهېږي څه وخت مړه کېږي.

ځینې کسان بیا ناڅاپه خپل ژوند له لاسه ورکوي، تاسو لیدلي چې یو شمېر کسان د شپې په نڅا خونو یا نایټ کلبونو کې ناڅاپه راوغورځېږي او مړه شي، نور بیا په بېلا بېلو ځایونو کې خپل ژوند له لاسه ورکوي. هڅه وکړئ چې په خپل ژوند کې یو هدف ولرئ، پلان جوړ کړئ او پروژې پلی کړئ، یو څه وکړئ، په الله قسم د قیامت په ورځ به درسره یوازې همدا مرسته وکړي، هغو خویندو او ورونو ته چې لا هم ژوندي دي، زما نصیحت دا دی چې د ژوند بڼه ډېر ژر ژر بدلېږي. موږ تر دې چې ډېر د اسلام ښودنې ومنو؛ په خپلو خواهشانو کې غرق یوو. زه د ډېرو خلکو لیدو ته ورغلی یم؛ خو چې کله ناروغ وم له دوبۍ، برېتانیا او نورو ځایونو خلک یوازې زما پوښتنې ته راتلل، همدا د الله تعالی لپاره مینه ده. هغوی چې ناروغ دي؛ خفه دي او یا ځورېږي، دوی ته وایم چې اندېښنه مه کوئ؛ ځکه الله تعالی به تاسو ته داسې کسان در ولېږي چې تاسو یې تمه نه درلوده، پر الله تعالی توکل وکړئ. تاسو ټولو ته مې بل پیغام دا دی چې که یو، دوه یا درېیو کسانو سره مرسته وکړئ یا مو دوی متأثره کړل چې یو څه وکړي، په یاد ولرئ چې په قبر کې به درسره همدا مرسته وکړي او د هر څه بدله به درکړل شي."

علي ناځاپه د دنیا خوندونه پرېښودل او د فاني نړۍ په اړه یې سترګې پرانیستې. هغه په مرکه کې وایي چې د ګاډي ارزښت یې ٦ لکه ډالره و، خو وروسته له دې چې بدل شو د ګاډي په اړه یې وویل:

"د دغه ګاډي قیمت د حمام هغو څپلیو ته نه رسي چې افریقایي غریب ماشوم ته مې ډالۍ کړې، په الله تعالی قسم ما ته د هغه افریقایي ماشوم خندا د دې ګاډي په اندازه ارزښت لري."

علي خپل ټول شته د فقیرانو په خدمت کې کړل، افریقا ته له تګ وروسته یې «د مسلم اروند د ورلډ» په نوم خیریه بنسټ جوړ کړ، له دې لارې به یې غریبو هېوادو کې جوماتونه او مدرسې جوړولې.

که څه هم ډاکترانو علي ته د ژوند اووه میاشتې وخت ښودلی و، خو الله تعالی ورته د شاوخوا درې کالو ژوند کولو موقع ورکړه.

په دې موده کې نوموړي ګڼ نېک کارونه وکړل، خو بالاخره یې ژوند پای ته ورسېده او علي بنات د ۲۰۱۸ کال د مې میاشت په ۲۹مه نېټه د اسټرالیا په سیډني ښار کې له دې نړۍ سترګې پټې کړې. میلیاردر علي بنات د خپل ژوند په وروستیو کې د پند اخیستو لپاره له خپلې مړینې مخکې خلکو ته یو ویډیویي پیغام ثبت کړی و چې دده له وفات وروسته په خواله رسنیو کې خپور شو.

نوموړي په دې ویډیو کې دا څرګندونې کړې دي:

"لکه څرنګه چې تاسو پوهېږئ، الحمدلله زه نور له دې دنیا لاړم، زه خویندو او ورونو ته یو پیغام لرم، تاسو وکتل چې ما په دې دنیا هر څه درلودل. ګاډي، پیسې او نور... د ناروغۍ پر وخت به ما ته خلکو پیغامونه را استول چې وروره تا ځان ته جنت یقیني کړی دی.

علي بنات یې په ځواب کې وایي: "د ژوند په دې پړاو کې الله پاک ما ته ډالۍ راکړه، الحمدلله زه یې په ټول بدن کې د سرطان په ډالۍ و نازولم، له دې وروسته مې پرېکړه وکړه چې خپل ژوند بدل کړم او ټول ژوند غریبانو سره مرستې کولو ته وقف کړم."

پوښتنه: "ولې سرطان ناروغي ډالۍ ګڼې؟"

علي بنات: "الحمدلله! ډالۍ ځکه ده چې الله تعالی موقع راکړه چې ځان بدل کړم."

پوښتنه: "سرطان دې سترګې د څه په اړه پرانیستې؟"

علي بنات: "سبحان الله، په ژوند کې هر څه ته، آن ډېرو عادي شیانو لکه د پاکې هوا تنفس کولو ته مې سترګې پرانیستل شوې."

علي بنات ته ډاکترانو ویلي وو چې یوازې اووه میاشتې به ژوندی وي. د دې خبر په اورېدو نوموړي خپل بریالی تجارت پرېښود او ژوند ته یې بیا کتنه وکړه، هر څه ورته بدلېدونکي ښکارېدل.

هغه چې کله په خپلې ناروغۍ خبر کړای شو، په غبرګون کې یې له خپل قېمتي ګاډي نه لاس واخیست. ښکلي او قیمتي ساعتونه او آن جامې یې بېوزله هېوادونو ته یوړې او پر خلکو باندې یې ووېشلې. هغه په مرکه کې وایي: "الحمدلله ما غوښتل دا دنیا په داسې حالت کې پرېږدم چې هېڅ شی را څخه پاتې نه وي."

نوموړي له عیش او عشرت څخه ډک ژوند درلود، له الماسو جوړ لاس بند یې ۶۰ زره ډالر ارزښت درلود. لاسي ګړۍ یې د ۱۳۰۰ ډالرو وه او یوازې د حمام څپلۍ یې په ۷۰۰ ډالرو اخیستې وې.

﴿وَابْتَغِ فِيمَا آتَاكَ اللَّهُ الدَّارَ الْآخِرَةَ ۖ وَلَا تَنْسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا ۖ وَأَحْسِنْ كَمَا أَحْسَنَ اللَّهُ إِلَيْكَ ۖ وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ فِي الْأَرْضِ ۖ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ﴾[۱۷۱]

ژباړه: هغه څه (کوم امکانات) چې الله تا ته درکړي دي، په هغې سره د آخرت د کور جوړولو فکر وکړه او له دنیا نه هم خپله برخه مه هېروه. احسان وکړه لکه څنګه چې الله له تا سره احسان کړی او په ځمکه کې د فساد هڅه مه کوه، الله عزوجل فساد کوونکي نه خوښوي.

د دنیا او آخرت ترمنځ باید منځلاري و اوسو، خو آخرت باید پر دنیا لومړی کړو او په هر کار کې مو پام آخرت ته وي چې سرمایه ورته برابره کړو.

د یو استرالیایي میلیاردر ځوان د ژوند کیسه کې لوی درس پروت دی. د دې ځوان په اړه ګڼې ویډیوګانې په یوټیوب کې شته چې د ده د نوم (علي بنات یا Ali Banat) په لټولو یې موندلی شئ. ما یې هم په اړه یوه ویډیو کړې وه چې لنډ وخت کې ګڼو لکه کسانو کتلې وه.

د هغه د ژوند کیسه داسې ده:

دا ځوان علي بنات نومېږي. له مالي اړخه د علي بنات ژوند بریالی و، د دنیا تر ډېرو خلکو یې هوسا ژوند درلود خو د ژوند په وروستیو کې په سرطان ناروغۍ اخته شو.

په یوه ویډیویي مرکه کې یو کس له ده پوښتنه کوي:

"اوس د ژوند کوم پړاو ته رسېدلی یې او څه درسره شوي؟"

---

[۱۷۱]: القصص، ۷۷ آیت

## د دنيا اصلي حيثيت

د دنيا په ژوند کې هر څه پای لري. د روغتيا خاتمه ناروغي ده، د مالدارۍ خاتمه فقر او په ټوله کې د ژوند پای بيا مرگ دی. تاسو لسگونه کلونه ژوند کړی خو اوس پوهېږئ چې تېر ژوند څه ډول و؟ حتما به دا وايې چې د سترگو رپ په شان.

رسول الله ﷺ د دنيا ډېر ښه تعريف کړی:

يوه ورځ خير البشر ﷺ ويده و، کله چې راپاڅېد د هغه څه نښه يې پر مخ مبارک پاتې وه چې پرې ويده و. يو صحابي رضي الله عنه ورته وړانديز وکړ چې کاش موږ درته داسې بستره يا تخت جوړ کړو چې ته پرې آرامه خوب وکړې.

رسول الله ﷺ وفرمايل:

« ما لي وما للدُّنيا، ما أنا في الدُّنيا إلَّا كراكبٍ استَظلَّ تحتَ شجرةٍ ثمَّ راحَ وترَكَها» [١٧٠]

ژباړه: ما ته يې د دنيا څه؟ زه په دنيا کې داسې يم لکه يو مسافر چې د يوې ونې لاندې دمه وکړي، راحت شي بيا پاڅېږي او ترې لاړ شي.

د دنيا حيثيت همدا دی! دا دنيا فاني ده او هيڅ حيثيت نه لري چې انسان دې پرې آخرت له لاسه ورکړي. مسلمان مؤمن بايد په دنيا کې هم خپله برخه ولري او آخرت هم بايد هېر نه کړي.

---

[١٧٠]: أخرجه الترمذي (٢٣٧٧) واللفظ له، وابن ماجه (٤١٠٩)، وأحمد (٣٧٠٩)

چې ماشوم وي له جوماته يې شړو، خو چې لوی شي بيا په زور او زاريو هم جومات ته نه راځي.
ولې د اولاد په تربيه کې له رسول الله ﷺ زدکړه نه کوو؟
په يوه روايت کې راځي چې رسول الله به لمونځ کاوه، حسن او حسين رضي الله عنهما به يې په ولو ښکته او پورته کېدل.
څومره توپير دی زموږ او رسول الله ﷺ د عملونو ترمنځ!

## په روزي کې مو ولې برکت نشته؟

څومره مسلمانان مو ليدلي چې په خپله پراخه روزۍ کې د برکت له نشتوالي شکايت کوي.
اصلي لامل يې دا دی چې زموږ له ډلې ډېری ملګري د سهار لمونځ له لمر خاته وروسته قضايي کوي يا يې له سره نه کوي.
هغوی چې سهار لمونځ نه کوي روزي يې بې برکته وي او که څومره پراخه روزي يې وي، خوند به ترې نه اخلي.
الله پاک هر انسان ته که مسلمان وي او که کافر روزي ورکوي، خو برکت د هغه چا په روزي کې وي چې د الله پاک پر لار روان وي او ورته تسليم وي.
د برکت روزي که لږه وي ډېره ده خو بې برکته روزي که ميليونونه وي هېڅ په شان ده.

## رسول الله ﷺ داسې پلار و

له عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې وایي:

«کله چې به د رسول الله ﷺ لور فاطمة رضي الله عنها د خپل پلار کوټې ته ننوتله، رسول الله ﷺ به پورته شو، هغه به یې ښکل کړه، ښه راغلاست به یې ورته ووایه، لاس څخه به یې ونیوله او خپل څنګ ته یې کېنوله. رسول الله ﷺ هغه پلار و چې خپل اولاد ته یې احترام کاوه».[169]

له عمر رضي الله عنه روایت شوی چې حسن او حسین رضي الله عنهما یې ولیدل چې د رسول الله ﷺ پر اوږو ناست وو.

حسن رضي الله عنه په ښي ولي او حسین رضي الله عنه په چپ.

رسول الله ﷺ به خپلو لمسیانو سره لوبې او ټوکې ټکالې هم کولې.

خو موږ، د خپل اولاد پر وړاندې د دیکتاتوري پالیسي غوره کړې، په لور باندې شرمېږو.

موږ له اولاده احترام غواړو خو پخپله هغوی ته درناوی نه کوو.

بیا دعوه هم کوو چې رسول الله ﷺ زموږ قائد او لارښود دی او موږ یې لارویان یوو.

یوه ورځ زما وړوکی وراره راسره جومات ته لاړ، په دویم صف کې زما تر څنګ ودرید، له لومړي کتار نه پرې یو سپین ږیري په ډېر غوسه ناک انداز غږ وکړ چې له کتاره ووځه او شا ته یوازې ودرېږه.

وراره ته مې وکتل چې روحیه یې بایللې وه او خپه و.

---

۱٦٩: دا حدیث د سبیل الهدی والرشاد في سیرة خیر العباد کتاب کې له ابو داود او ترمذي څخه نقل شوی دی.

څلورمه پښېماني: ډېری انسانان چې کله د ژوند فرصت له لاسه ورکوي او د مرګ شېبې يې نيږدې کيږي، په دې ډېر پښېمانه وي چې اې کاش مې خپل قيمتي وخت له خپلې کورنۍ، لکه مور او پلار، مېرمن، اولاد او ربښتينو ملګرو سره تېر کړی وای.

هغه کسان به مو ليدلي وي چې خپل وخت په کار، د پيسو په ګټلو، په لهو لعب کې تېروي، دغه ډول انسانان ضرور په دې پښېمانه کيږي چې کاش مو خپل وخت په سم ډول تنظيم کړی وای او له وخته مو ګټه پورته کړې وای.

يا دا افسوس کوي چې کاش په خپل ژوند مې د مور او پلار خدمت کړی وای او خپل وخت مې د اولاد په سمه روزنه تېر کړی وای.

خو دا هر څه د دې ډول کسانو لپاره افسوس پاتې کيږي او بس!

مخکې له دې چې ژوند در څخه موقع واخلي؛ ګټه ترې پورته کړه، دومره ګټه چې بيا په ورستيو شېبو کې پرې پښېمان نه يې.

مخکې له دې چې مور او پلار له لاسه ورکړې، خدمت يې وکړه.

پينځمه پښېماني: براني وير وايي، د مرګ پر وخت ډېری انسانان په دې پښېمانه وي چې اې کاش مو د خپلو خوبونو د ربښتيا کولو لپاره هلې ځلې کړې وای او دا مو نه وای ويلي چې ژوند اوږد دی.

په دې مانا چې هره ورځ مو يو نوی فرصت ګڼلی وای او د خپلو هيلو او خوبونو د پوره کولو لپاره مو زحمت ګاللی او هڅې مو کړې وای.

تاسې به ډېری داسې ملګري ليدلي وي چې وايي، ژوند اوږد دی، هر څه به سم شي، خو يوه ورځ پرې ژوند لنډ او ارماني له دنيا وکوچيږي!

دا هغه ناسم عادت دی چې پایلې یې منفي وي. که ټول عمر د یو انسان د راضي ساتلو هڅه وکړې، یوه ورځ نه یوه ورځ به دغه کس له تا ناراضه کیږي او بیا به دې د ټول عمر خواري چې د ده خیال دې ساتلی، په یوه ورځ په سیند لاهو کړي. تر دې مخکې چې داسې درسره وشي، د خلکو د خوښې ساتلو لپاره خپل احساسات مه وژنه.

هر هغه کار کوه چې تا ته ښه ښکاري او په اصولو برابر وي.

د چا پروا مه کوه، ځکه د انسان خوشحاله ساتل هغه هدف دی چې هېڅکله نه ترلاسه کیږي. دا هغه څه دي چې ډېری کسان د ژوند په وروستیو کې پرې پښېمانه کیږي او د افسوس نارې یې له خولې وځي.

درېیمه پښېماني: ډېری انسانان له دنیا غافله ځي او په دې ځان نه پوهوي چې خوشحال ژوند جوړول او یا نېکمرغي اکتسابي یا د انسان په خپلو هڅو پورې تړلې ده.

هر انسان که ځان په دې ونه پوهوي، د مرګ په وخت په دې ډېر پښېمان وي چې ولې د خوشحالي راتګ ته په تمه شوم او ولې مې نېکمرغۍ ته د رسېدو هڅه ونه کړه او ژوند مې له خوښیو ډک نه کړ!؟

همدا اوس هم وخت شته.

د خپل ژوند اړخونه بدل کړه، چې نېکمرغي دې نصیب شي او د خوښیو اصلي لار ومومې.

ژوند لنډ خو له رازونو ډکه ټولګه ده، ویې سپړه.

زموږ او تاسې شاوخوا هم ګڼ داسې کسان شته، تل دې ته یې تشویش وي چې خلک یې په اړه څه وایي. د خلکو د راضي ساتلو لپاره ژوند کوي. په ځان یې ژوند تریخ کړی وي خو د خلکو د خوشحالولو په لټه کې وي.

د رسول الله ﷺ ژوند ته که وګورو، هغه مبارک د خپل تره، تربور یا قوم غوښتنې ونه منلې، هر هغه څه یې وکړل چې الله تعالی ورته ویلي وو او ده ته ښه ښکارېدل.

که څه هم قوم یې ورته د مال او مقام په ورکولو ډېر وړاندیزونه وکړل چې له دعوت نه لاس واخلي، خو ده مبارک هېڅکله دنیوي څېزونو ته غاړه کېنښوده او نه یې د خپلو خپلوانو یا د کورنۍ د غړو د خوشحاله ساتلو لپاره حق لار پرېښوده. بلکې حق لپاره یې ټول قوم پرېښود او هر ډول مادي امتیازات یې رد کړل.

کوم کتاب کې مې لوستي و چې معاویه رضي الله عنه واک ته تر رسېدو وروسته بي بي عائشې رضي الله عنها ته یې یو لیک استولی و چې ما ته نصیحت وکړه.

هغې ورته په ځواب کې لیکلي وو چې که غواړې چې خلک خوشحال کړې، ټول خلک هېڅکله نه خوشحالیږي.

لومړی الله پاک راضي کړه، خلک پخپله خوشحالیږي.

دویمه پښېماني: د خلکو د خوشحالولو لپاره چپ پاتې کېدل.

ځینې انسانان دا عادت لري چې د خلکو خوشحالولو لپاره د حق له وینا چپ پاتې کیږي. هغه څه چې باید وویل شي د خلکو د خپګان لپاره یې له ویلو ډډه کوي او حق وینا ناویلې پاتې کیږي.

## د مرګ پر وخت د هر انسان پنځه لويې پښېمانۍ

يوه استرالیایۍ نرسه يا روغتياپاله چې د مرګ په بستر د پرتو ناروغانو خدمت به يې کاوه، په روغتون کې له څو کلونو خدمت وروسته د ( Top five regrets of the dying) په نوم يو کتاب ليکلی.

د براني وير په نوم دغې روغتيا پالې د خپل کار په موده کې ډېر داسې کسان ليدلي چې د هغې د سترګو په وړاندې يې خپل ژوند له لاسه ورکړی او نوموړې هر هغه څه اورېدلي چې وفات کېدونکو خلکو د ژوند په وروستۍ مرحله کې ويلي دي.

هغې د ټولو پښېمانيو له ډلې پنځه مهمې راټولې کړي او په همدې نوم يې کتاب ليکلی.

د مېرمن وير په وينا، ډېر کم داسې کسان يې ولېدل چې د مرګ په حالت کې د مال په تاوان، د چا په مرګ يا په نورو مادياتو يې پښېماني ښودلې وي.

ما لومړی د هغې له قوله د پېښمانيو عنوانونه راخيستي بيا مې پرې خپله تبصره ليکلې.

د براني وير په وينا د خپل کار په موده کې يې وموندل چې ډېر خلک په پنځوو شيانو ډېر افسوس کوي:

لومړی: د ځان په اړه د خلکو په څرګندونو اندېښمنېدل او يا د نورو په خوښه ژوند کول.

براني وير وايي، "ډېری کسان په دې پښېمانه وو او افسوس به يې کاوه چې اې کاش مو د نورو لپاره ژوند نه کولی او اې کاش هغه ژوند مو کړی وای چې خپله مو غوښت".

خان ورته وايي چې شل کروړه درکوم، ما ته تر ماښام وخت راکړه.
ساه اخيستونکې پرښته ورته بيا وايي چې نه داسې نه شي کېدای، ولې خپل وخت ضايع کوې، ستا وخت تمام دی.
مالداره سړی ورته وايي، زما ټول دولت واخله، خو ما ته د يو ساعت اضافي ژوند لپاره وخت راکړه.
هغه ورته وايي چې نه، زما وخت مه ضايع کوه، ځه چې ځو.
خان صيب ورته وايي، ښه نو بيا ما ته د يو خط ليکلو موقع راکړه.
پرښته ورته وايي سمه ده. ژر ژر دې خط وليکه.
خان په خط کې وليکل چې اې زما گرانو ملگرو، موږ ټول ژوند د پيسو، دولت په گټلو لگيا يوو، ښه وخت نه تېروو، دا هېروو چې وخت بايد خپلو کورنيو، خپلوانو او ملگرو ته ورکړو او هغوی سره ښې شيبې ولرو. خو چې کله د ژوند پای راشي، څومره چې انسان مالداره وي، څومره پيسې چې مو ټول عمر گټلې وي هغه په خپل ځای همغسې ټولې شوې پاتې کيږي، د کروړونو پيسو لگولو باندې موږ يوازې يوه ساه نه شو اخيستی. په دغه وخت کې بيا دولت هېڅ گټه نه درته کوي.
نو ځکه زما گرانو ملگرو، تر هغې چې ژوند وي، ښه ژوند وکړئ، په خوشحالۍ ژوند تېر کړئ، د ځان لپاره ژوند وکړئ، د کورنۍ لپاره وخت ورکړئ، په خپلو ملگرو مهرباني وکړئ، ځکه معلومه نه ده چې سبا به وي که نه؟"

د دې سرې پیغام کېدای شي خیالي وي، خو یو لوی حقیقت او درس پکې نغښتی چې کولای شي ژوند په اړه زموږ فکر بدل کړي او ځینې کسان ورسره له غفلت څخه راویښ شي.

د ده خبرې راته ځکه مهمې ښکاره شوې چې د یو مشهور او مالداره انسان په توګه یې ښایي هر ممکن خوند په دنیا کې اخیستی وي، خو په پای کې یې حقیقت پر وړاندې سترګې پرانیستل شوي دي.

دا د هغه د خبرو ژباړه ده چې وایي:

"یو انسان ټول عمر زحمت ګالي یا محنت کوي، خپل ژوند ته نه رسیږي، بس پیسې ګټي او پښې یې پسې لوڅې کړې وي. وایي دا هر څه د کورنۍ لپاره کوم، د راتلونکې لپاره کار کوي، کار کوي او پیسې راټولوي. کروړ پتي کیږي، لیکن یو ورځ دی ویده وي، ناڅاپه یو څوک ترې کمپله لرې کړي او هغه په خپلو سترګو ویني چې مخامخ ورته د مرګ پرښته ولاړه ده، نو خان صیب ورته وایي وایه زه څه خدمت کولای شم؟

هغه پرښته ورته وایي چې ستا وخت ختم دی، زه دې روح اخیستو لپاره راغلې یم.

هغه انسان له خپل ځایه پورته کیږي او پوښتنه کوي چې څه وایې؟

هغه ورته بیا وایي، ستا وخت ختم دی، زه ستا د روح اخیستو پسې راغلې یم، دنیا نه به ځې.

نو خان صیب ورته وایي چې ګوره، ماسره ډېر مال او دولت دی، زه تا ته لس کروړه روپۍ درکوم، ما ته یوه ورځ د ژوند کولو موقع راکړه.

هغه ورته وایي چې نه، ستا وخت نږدې شوی او تګ وخت راغلی دی.

## مسلمانانو ته د هندي فلمونو لوبغاړي مهم پيغام

د دنيا مينه لويه ناروغي ده چې کله انسان پرې اخته شي ژوند يې سر تر پايه په مادياتو پورې وتړل شي او د مادياتو غلام شي.
معنويات يې له ژوند کډه وکړي او د ژوند اصلي فلسفه ترې هېره شي.
داسې انسانان چې يوازې هدف يې دنيا او له اخرته بې پروا شي، برخليک يې پښېماني او په اخرت کې ناکامي ده.
انسان چې کله د دنيا په مينه ککړ شي، په عيش او عشرت کې ډوب شي او معنويات هېر کړي، مرگ ناڅاپه ترې هر څه واخلي او دی يوازې په ميدان پرېږدي.
خو بريالي انسانان هغه دي چې د مادياتو ترڅنگ پر معنوي اړخ ډېر پام کوي. د ژوند هدف يې يوازې خپل عيش او عشرت نه وي؛ بلکې په ټوله کې د خپلې ټولنې او خلکو د خير او نېکمرغۍ نيت ورسره وي.
کله يوازې يوه جمله، يوه ويډيو يا عکس د انسان ژوند بدلولی شي.
د هندي فلمونو مشهور لوبغاړی او کوميډين شکتي کپور چې په ډېرو فلمونو کې يې کار کړی او شاوخوا پنځوس ميليونه ډالره سرمايه لري او ټول ژوند يې د هند د سينما په خدمت کې تير کړی.
دی شهرت هم لري او شتمني هم نو ډاډه يم چې د خپلې خوشحالۍ لپاره به يې له ډېرو کارونو نه وي کړی، خو ما يې يوه ويډيو وکتله چې پکې نوموړی له يوه حقيقت څخه پرده پورته کوي او موږ ته د ژوند له تجربو يوه ښه مشوره راکوي.

## ځومره ګناهونه دې کړي دي؟

آيا ګناه دې کړې؟

آيا حرام دې خوړلي دي؟

آيا لمونځ دې قضاء کړی دی؟

آيا د مور او پلار نافرماني دې کړې ده؟

آيا په امانت کې دې خيانت کړی دی؟

آيا چا ته دې ښکنځل کړي يا دې څوک ازار کړی دی؟

وخت دې بې ځايه ضايع کړی دی؟

يا دا چې د الله جل جلاله په عبادت کې دې غفلت کړی دی؟

دا ټول او تر دې هم ستر ګناهونه د الله جل جلاله له رحمت څخه لوی نه دي.

د الله جل جلاله رحمت د هغه تر غضبه ډېر پراخ دی.

الله تعالی دا ټول ګناهونه بخښي.

يوازې يوې صادقانه او مخلصانه توبې ته اړتيا ده.

توبې ته تيار شه چې الله دې وبخښي.

ايا تا نه دي اورېدلي چې الله جل جلاله فرمايي:

﴿قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَالْغَفُورُالرَّحِيمُ﴾[168]

ژباړه: ووايه اې زما هغه بندګانو چې په ځان مو تيرى کړی دی، د الله تعالی له رحمت څخه مه ناهيلي کيږئ، الله جل جلاله ټول ګناهونه بخښي او هغه په رينښتيني ډول بخښونکی او مهربان دی.

---

۱۶۸: الزمر، ۵۳ آيت

ژباړه: موږ تاسي له هغه عذابه ویرولي یاست چې نږدې راتلونکی دی. په هغه ورځ به هر انسان خپل کړه وړه ویني، د دوی په منځ کې کافر به په افسوس ووایي، کاشکې زه خاورې وای. (یعنې هېڅ حساب کتاب راسره نه وای شوی).

مخکې له دې چې خدای مه کړه په قیامت کې د الله تعالی پر وړاندې ذلیل او پښېمانه ودرېږو، ولې په دنیا کې له دې کارونو ځان نه ساتو؟ دنیا د امتحان ځای دی، هغوی چې پکې ناکام شول، د مچ په شان به مخ په لاسونو وهي چې کاش کې مې ښه کارونه کړي وای او د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ سپارښتنې مې عملي کړې وای او کاشکې مې د شیطان او بېلارې ملګرو لار نه وای تعقیب کړې.

مخکې له دې چې بیا پښېمانه شې همدا اوس خپل ژوند ته بیا کتنه وکړه.

ډېر داسې ملګري به لرئ چې پر تاسې يې اغېز ډېر وي، که دوی بې لارې وي، ځان ترې وساتئ او که د الله تعالی په لار روان وي، ملګرتيا ورسره لا ټينګه کړئ. د داسې ملګرو له درلودو ډډه وکړئ چې دوزخ ته مو د تلو لامل کېږي.

د دوزخيانو بله هيله:

﴿يَقُولُ يَا لَيْتَنِي قَدَّمْتُ لِحَيَاتِي﴾[١٦٤]

ژباړه: کاشکې مې ژوند لپاره له مخکې څه توښه يا نېک عملونه برابر کړي وای.

بل ارمان چې مجرمان به يې کوي:

﴿وَ أَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتابَهُ بِشِمالِهِ فَيَقُولُ يا لَيْتَنِي لَمْ أُوتَ كِتابِيَهْ﴾[١٦٥]

ژباړه: د چا عمل پاڼه چې په چپ لاس کې ورکړل شي، هغه به ووايي: کاش کې دا عملنامه بېخي نه وای راکړل شوې.

د مجرمانو بله هيله دا ده چې دوی وايي:

﴿يَٰلَيْتَهَا كَانَتِ ٱلْقَاضِيَةَ﴾[١٦٦]

ژباړه: کاشکې د دنيا مرګ د هر څه ختمونکی وای. يعنې له مرګ سره هر څه پای ته رسېدای.

دوزخيان به ارمان کوي چې کاشکې موږ خاورې ايرې وای.

﴿إِنَّا أَنذَرْنَاكُمْ عَذَابًا قَرِيبًا يَوْمَ يَنظُرُ الْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ وَيَقُولُ الْكَافِرُ يَا لَيْتَنِى كُنتُ تُرَاباً﴾[١٦٧]

---

١٦٤: الفجر، ۲۴ آيت

١٦٥: الحاقه، ۲۵ آيت

١٦٦: الحاقه، ۲۷ آيت

١٦٧: النبأ، ۴۰ آيت

ژباړه: په کومه ورځ چې د دوی (دوزخيانو) مخونه په اور واړول را واړول شي، دوی به ووايي: اې کاش مو د الله تعالی او د رسول الله ﷺ اطاعت کړی وای. يعنې د دوی خبره مو منلې وای.

په دوزخ کې به دويمه هيله د ظالمانو وي:

﴿وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ عَلَىٰ يَدَيْهِ يَقُولُ يَا لَيْتَنِي اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُولِ سَبِيلًا﴾[١٦٢]

ژباړه: او هغه ورځ چې ظالمان به خپل لاسونه چيچي او وايي به: کاشکې مې د رسول الله ﷺ لار نيولې وای. يا د رسول الله ﷺ خبره مې منلې وای.

په ګڼو حديثونو کې رسول الله ﷺ ظالمانو ته خبرداری ورکوي چې ظلم مه کوئ او د ظلم پايله تياره ده.

ظلم که لوی وي که کوچنی بالاخره ظلم دی. که د چا غيبت کوې ظلم دی، په ناحقه که د چا مال خورې ظلم دی. که په چا تهمت کوې ظلم دی. که د موټر چلولو پر وخت خلک ځوروې ظلم دی. خلک وژل ظلم دی. ماشومانو او مېرمنو سره زور زياتی ظلم دی. او د انسان او الله تعالی په حقونو تيری کول ظلم دی.

د دوزخيانو درېيم ارمان؛ هر ځوان دې دې ته جدي پام وکړي.

هغه کسان چې دنيا کې بې لارې ملګري پالي، دوزخ کې به څه وايي؟

﴿يَا وَيْلَتَىٰ لَيْتَنِي لَمْ أَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيلًا﴾[١٦٣]

ژباړه: اې زما بده بخته! کاش کې مې فلاني سره ملګرتيا نه وای کړې.

---

١٦٢: فرقان، ٢٧ آيت

١٦٣: فرقان، ٢٦ آيت

د عدالت د اهمیت په اړه الله تعالی فرمايي:
﴿لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ﴾[160]
ژباړه: موږ خپل پېغمبران له روښانو او ښکاره دلیلونو او هدایاتو سره ولېږل او له هغوی سره مو کتاب او تله نازل کړله چې د خلکو ترمنځ عدالت ټینګ کړي.

## د دوزخيانو ارمانونه

کله چې ګنهګاران او مجرمين په قيامت کې وګوري چې په دنیا کې د الله تعالی ورکړې وعدې ټولې رښتيا کېږي، دوی نارې سورې وهي او سخت پښېمان وي چې کاش کې مو نېک کارونه کړي وای.
پام وکړئ، مخکې له دې چې په قيامت کې په خپلو کړو وړو پښېمانه شئ، د دنیا د اصليت په اړه ژور فکر وکړئ چې دوزخيان په څه شي پښېمانه کېږي او هلته به بیا د څه ارمان کوي؟
مخکې له دې چې موږ او تاسې هم په قيامت کې خدای مکړه دغه ارمانونه وکړو، راځئ په دنیا هغه کارونه وکړو چې په آخرت کې مو له دغو ارمانونو ژغوري.
لومړی ارمان چې دوزخيان به يې کوي:
﴿يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ يَقُولُونَ يَا لَيْتَنَا أَطَعْنَا اللَّهَ وَأَطَعْنَا الرَّسُولاَ﴾[161]

---

١٦٠: الحديد، ٢٥ آيت

١٦١: الأحزاب، ٦٦ آيت

## په اسلام کې عدالت او صداقت هم شته

موږ تر ډېره په اسلامي احکامو او ارکانو ترکیز کوو او خلک پرې ډاروو، خو د صداقت، عدالت، معاملاتو او نورو ټولنیزو چارو باندې بحث او ترکیز نه کوو، په داسې حال کې چې الله تعالی وايي:
﴿قَالَ اللَّهُ هَٰذَا يَوْمُ يَنْفَعُ الصَّادِقِينَ صِدْقُهُمْ ۚ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۚ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ۚ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ﴾[159]

ژباړه: هلته (د قیامت په ورځ) به الله تعالی وفرمايي: دا هغه ورځ ده چې په هغې کې رېښتینو خلکو ته د هغوی رېښتینولي ګټه رسوي، د هغو لپاره داسې باغونه دي چې تر هغو لاندې ویالې بهېږي. هلته به هغوی د تل لپاره اوسېږي، الله تعالی له هغو نه راضي شو او هغوی له الله نه خوښ شول، همدا ستر بریالیتوب دی.

موږ عدل، د ظلم نه کول، صداقت کول یا دوکه نه کول او داسې نورو ټولنیزو مطالبو په اړه غږېدل او وعظ داسې هېر کړي لکه هېڅ چې په دین کې نه وي. په داسې حال کې چې لومړیتوب د همدې عملونو لپاره دی، ځکه په دې سره حقوق العباد تأمینېږي او حقوق العباد په حقوق الله باندې مخکې بلل شوي دي. ځکه الله پاک خپل حق بخښي خو د بنده حق نه بخښي (الا ما شاء الله).

١٥٩: المائده، ١١٩ آیت

ماشوم وويل، نن مې په مزمل سورت کې ولوستل چې الله تعالی فرمايي:﴿ يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ قُمِ اللَّيْلَ إِلَّا قَلِيلاً﴾[156]
ژباړه: اې (په کمپله کې) ځان غښتونکيه يا ويده کېدونکيه! د شپې لږه برخه په لمانځه تېره کړه.
ماشوم پلار ته وويل: پلاره ته خو، ما يوه شپه هم نه يې ليدلی چې دا کار دې کړی وي؟
پلار ورته په ځواب کې وويل، زويه! دا خو الله تعالی پيغمبر ﷺ مخاطب کړی او هغه ته يې ويلي، موږ خو د رسول الله په شان کېدلای نه شو.
ماشوم ومنله او له کوټې بهر شو. وروسته بيا راغی او پلار ته يې کړل: هغه خو پيغمبر ﷺ ته خطاب و، دلته خو بيا الله تعالی په همدې سورة کې وايي :﴿وَطَائِفَةٌ مِنَ الَّذِينَ مَعَكَ﴾[157]
ستا سره نور ملګري هم (د شپې عبادت کوي)
پلار ورته وويل، له دې نه مطلب صحابه رضی الله عنهم دي.
زوی وويل: (لاخير فيمن لايقتدي برسول الله و لا بأصحابه)، يعنې په هغه چا کې هيڅ خير نه شته چې نه د رسول الله ﷺ او نه يې د صحابه وو رضي الله عنهم لار تعقيبوي.
پلار حيران شو او په ژور فکر کې ډوب شو[158].

---

۱۵۶: المزمل، ۱-۲ آيتونه

۱۵۷: المزمل، ۲۰ آيت

۱۵۸: دا کيسه مې له يوې ويب پاڼې راخيستې وه، د اصلي مرجع لټه مې وکړه خو ومې نه مونده. دا چې ګټوره او هڅوونکې کيسه ده نو ځکه مې دلته نقل کړې.

ژباړه: اې مؤمنانو! له ډېرو گومانونو کولو څخه ډډه وکړئ چې ځينې گومانونه گناه وي، د چا پټ عيبونه مه لټوئ او له تاسې نه دې څوك د چا غيبت نه کوي. آيا په تاسې کې داسې څوك شته چې د خپل مړ شوي ورور غوښې خوړل ورته ښه برېښي؟ وگورئ، تاسې پخپله له دې څخه کرکه کوئ. له الله تعالی څخه ووېرېږئ، الله ډېر ښه توبه قبلوونکی او خورا مهربان دی. د دې ترڅنگ چې غيبت کول د مردارې غوښې خوراک دی، د مسلمان ورور په تکليفول هم دي، يعنې کله چې څوک خپل غيبت په اړه خبر شي، زړه يې خپه او د غيبت کوونکي لپاره پکې د کينې او حسد چينه په خوټېدو شي.

د دا ډول کړنې لپاره بيا داسې سزا ده:

﴿وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوا فَقَدِ احْتَمَلُوا بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُبِينًا﴾[١٥٥]

ژباړه: کوم کسان چې مؤمنو نارينه او ښځو ته په ناحقه تکليف رسوي، هغوی د يوغټ بهتان او ښکاره گناه پېټی پر خپلو اوږو اخېستی دی.

آيا له دې وروسته بيا هم غيبت کوې؟؟؟

که غيبت پرېږدې، قلباً او روحاً به د ايمان په خوند پوه شې.

## ماشوم پلار حيران کړ

يو ماشوم و چې د قرآن کريم په زده کړه بوخت و. کله چې يې درس د مزمل سورت ته ورسېد، کور ته له راستنېدو وروسته په ژور فکر کې ډوب و. پلار يې ترې پوښتنه وکړه چې د څه په اړه فکر کوې؟

١٥٥: الأحزاب، ٥٨ آيت

## مور ریښتیني نه یوو

که مو رییس یا بل د امر خاوند درته ووایي، که فلانی کار دې و نه کړ، له دندې به ګوښه شې.

په داسې حال کې چې تاسو دغې دندې ته جدي اړتیا هم ولرئ، فکر وکړئ، څومره په چټکۍ به یې ترسره کړئ؟

خو الله تعالی چې زموږ پیدا کونکی دی، هر څه د هغه په وس کې دي، امر کوي چې پر ما ایمان راوړئ، نیک کارونه وکړئ، لمونځ ادا کړئ او همداسې نور. په پای کې خبرداری راکوي چې که مو دا کارونه ترسره نه کړل دوزخ به مو ځای وي.

خو مونږ بې پروا یو، دې ته هېڅ پام نه کوو چې الله متعال موږ ته څه وایي، د څه لپاره یې پیدا کړي یوو او له موږ څه غواړي.

## غیبت لکه مرداره غوښه

مخکې له دې چې د چا په اړه غیبت پیل کړې، سترګې پټې کړه او داسې فکر وکړه چې ته د یو مړ شوي انسان مرداره غوښه خورې په داسې حال کې چې له خولې دې بد بوی هم محسوس وي.

غیبت کول هم همدا ډول کړنه ده، الله تعالی فرمایي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِّنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَّحِيمٌ﴾[١٥٤]

١٥٤: الحجرات، ١١٢ آیت

د هر خبر د کره والي لپاره باید جدي پلټنې ترسره شي، بیا وروسته پرې حکم وشي چې رښتیا دی او که نه، ځکه هر خبر د رښتیا او دروغو قوي احتمال لري، نو ځکه باید تر منلو څخه مخکې یې حکم ونه شي، که داسې کوې، حتماً لویه پښېماني لري.

الله تعالی موږ ته همدا سپارښتنه لري چې که تاسو ته کوم فاسق انسان په کومه موضوع خبر درکوي، باید په هغې کې ډېر فکر وکړئ، حق او باطل یا رښتیا او دروغ یې معلوم کړئ، وروسته پرې باور او حکم وکړئ.

د دې دقت علت دا دی چې ځینې وخت خبر انسان احساساتي کوي، کله چې په احساساتو کې پرېکړه وشي، پښېماني لري او بیا د ځینو پښېمانیو جبرانول سخت وي.

په دې اړه رب عزوجل فرمایي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَىٰ مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ﴾[۱۵۳]

اې مؤمنانو! که کوم فاسق تاسې ته له کوم خبر سره راشي، نو تاسې تحقیق وکړئ، داسې نه چې کومې ډلې ته په ناپوهۍ سره ضرر ورسوئ او بیا په دغه کار پښېمانه شئ.

۱۵۳: الحجرات، ٦ آیت

**د ظلم په اړه د خوږ پیغمبر ﷺ خبرداري:**

د ظالم په حق کې د مظلوم ښېرا ډېر ژر قبلیږي:

«ان رسولَ اللَّهِ صلَّى اللَّهُ علَيهِ وسلَّمَ بعَثَ معاذَ بنَ جَبلٍ إلى اليمَنِ، فقالَ اتَّقِ دَعوةَ المظلومِ؛ فإنَّهُ ليسَ بينَها وبينَ اللَّهِ حجابٌ»[151]

ژباړه: رسول الله ﷺ چې کله معاذ بن جبل رضي الله عنه یمن ته استوه؛ ورته یې وویل: د مظلوم له ښیرا نه ځان ساته، ځکه چې بېشکه د مظلوم او د الله تعالی ترمنځ پرده نشته (دعا یې ژر قبلیږي).

ظالمان به د وعدې له مخې د دوزخ په اور کې لمبیږي: «إن رجالاً يَتَخَوَّضُون في مال الله بغير حق، فلهم النار يوم القيامة»[152]

ژباړه: بېشکه ځینې کسان د الله تعالی مال په ناحقه خوري (په باطل ډول د مسلمانانو، د یتیمانو، وقف او نور مالونه په ناحقه خوري) د دوی لپاره په قیامت کې اور دی (دوزخ ته به داخلیږي).

## فاسق خبر

په ټولنه کې ډېری ستونزې، شخړې یا جګړې، کینې او تربګنۍ د دروغو یا ناسم پوهاوي له کبله پېښیږي.

د دې ستونزو علت له دروغو ډک خبرونه دي چې فاسق انسانان یې د خلکو تر منځ خپروي او له یوه انسانه یې بل ته لیږدوي.

زموږ په ټولنه کې د ځینو خلکو دا عادت دی چې کوم خبر واوري، سمدلاسه پرې حکم کوي، خو بیا وروسته سخت پښېمانه وي.

---

۱۵۱: رواه البخاري

۱۵۲: رواه البخاري

د ظلم له امله بلاء او عذابونه ډېرېږي:

﴿فَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ فَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَى عُرُوشِهَا وَبِئْرٍ مُّعَطَّلَةٍ وَقَصْرٍ مَّشِيدٍ﴾[١٤٧]

ژباړه: څومره کلي دي چې مونږ هغه تباه کړي دي او نن هغه په خپلو چتونو باندې نسکور پراته دي، څومره څاگانې شړې او څومره ماڼۍ کنډوالې شوي دي.

﴿وَكَذَلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَا أَخَذَ الْقُرَى وَهِيَ ظَالِمَةٌ إِنَّ أَخْذَهُ أَلِيمٌ شَدِيدٌ﴾[١٤٨]

ژباړه: او ستا رب چې کله کومې ظالمې سیمې نیسي؛ نو بیا د هغه نیول همداسې وي، په واقیعت کې د هغه نیونه ډېره سخته او دردناکه وي.

﴿وَتِلْكَ الْقُرَى أَهْلَكْنَاهُمْ لَمَّا ظَلَمُوا﴾[١٤٩]

ژباړه: دا په عذاب اخته شوي کلي ستاسې تر نظر لاندې موجود دي دوی چې کله ظلم وکړ نو مونږ دوی هلاك کړل، او د دوی هر یوه د هلاکت له پاره مونږ نېټه ټاکلې وه.

د ظلم له امله له ځمکې څخه امن او سوله لوړېږي:

﴿الَّذِينَ آمَنُواْ وَلَمْ يَلْبِسُواْ إِيمَانَهُم بِظُلْمٍ أُوْلَـئِكَ لَهُمُ الأَمْنُ وَهُم مُّهْتَدُونَ﴾[١٥٠]

ژباړه: په حقیقت کې خو امنیت د هماغو کسانو له پاره دی او پر سمه لاره برابر هماغه کسان دي چې ایمان یې راوړی او خپل ایمان یې پر ظلم نه دی ملوث (ککړ) کړی.

---

١٤٧: الحج، ۴۵ آیت

١٤٨: هود، ١٠٢ آیت

١٤٩: الکهف، ۵۹ آیت

١٥٠: الأنعام، ٨٢ آیت

ژباړه: په دې کې شك نشته چې الله ظالمان له خپل هدايت څخه بې برخې کوي.

ظالمان به هېڅکله بريا ترلاسه نه کړي:

﴿وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِآيَاتِهِ ۗ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ﴾[144]

ژباړه: او له هغه چا نه به غټ ظالم څوك وي چې پر الله د دروغو بهتان ووايي، يا د الله نښانې دروغ وګڼي؟ دا يقيني ده داسې ظالمان هېڅکله برى نه شي موندلاى.

پر ظالمانو الله تعالى لعنت ويلى:

﴿يَوْمَ لا يَنفَعُ الظَّالِمِينَ مَعْذِرَتُهُمْ وَلَهُمُ اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوءُ الدَّارِ﴾[145]

ژباړه: په هغه ورځ چې ظالمانو ته د هغوى معذرت هېڅ ګټه و نه رسوي او پر هغوى لعنت وي او د هغوى په برخه ډېر بد استوګنځى ورسېږي.

ظالمان له شفاعت څخه بې برخې دى:

﴿وَأَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْآزِفَةِ إِذِ الْقُلُوبُ لَدَى الْحَنَاجِرِ كَاظِمِينَ ۚ مَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ حَمِيمٍ وَلَا شَفِيعٍ يُطَاعُ﴾[146]

ژباړه: (اې پېغمبره ﷺ) دوى له هغې ورځې وډار کړه چې رانږدې شوې ده، کله چې زړونه خولې ته راغلي وي او خلك غلي ولاړ غم ګوټوي. د ظالمانو به نه کوم خواخوږى دوست وي او نه کوم سپارښتګر چې خبره يې ومنل شي.

---

١٤٤: الأنعام، ٢١ آيت

١٤٥: غافر، ٥٢ آيت

١٤٦: غافر، ١٨ آيت

## ظالمان غافلان دي؛ له جدي خبرداریو

هغوی چې ظلم کوي، په دې غافل دي چې الله تعالی ظالمانو ته ځومره سخته سزا چمتو کړې او په سخت عذاب به یې عذابوي.

ځینې وخت له انسان څخه ظلم ترسره کیږي خو کم یې ګڼي او بې پروایي پرې غالبه شي، په همدې اساس د ظالمانو لپاره د قرآن کریم لاندې خبرداري ډېر جدي دي.

الله پاک ظالمان نه خوښوي:

﴿وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ﴾[141]

ژباړه: الله پاک ظالمان نه خوښوي.

الله تعالی د ظالمانو کړنې څاري او د هغوی لپاره به سخته سزا وي:

﴿وَلاَ تَحْسَبَنَّ اللّهَ غَافِلاً عَمَّا يَعْمَلُ الظَّالِمُونَ إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ الأَبْصَارُ﴾[142]

ژباړه: اوس چې دغه ظالمان څه کوي ته الله له دوی نه غافل مه ګڼه. الله خو دوی د هغې ورځې له پاره ځنډوي چې کله داسې حالت وي چې سترګې ټیغې رډې پاتې وي.

ظالمانو ته الله تعالی هدایت نه کوي او له خپلې نیغې لارې څخه یې بې لارې کوي:

﴿إِنَّ اللّهَ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ﴾[143]

---

۱۴۱: آل عمران، ۵۷ آیت

۱۴۲: ابراهیم، ۴۲ آیت

۱۴۳: المائده، ۵۱ آیت

الله تعالی پر موږ له ټولو څخه زيات مهربان دی، هر ځل موقع راکوي چې توبه وکړو او ځانونه اصلاح کړو، خو موږ ورځ تر بلې په خپلو ناوړه کړنو کې پورته روان يوو.

ابن تيميه رحمه الله ويلي: نظام له کفر سره بقا مومي، خو له ظلم سره دوام نه کوي.

کله چې په ټولنه کې ظلم خپور شي، الله تعالی له داسې ټولنې مخ اړوي، په پايله کې يې ټولنه ذليله او بالاخره او بربادېږي.

زموږ د ستونزو لامل دا نه دی چې ډوډۍ نه لرو، برېښنا نه لرو، اوبه نه لرو او داسې نور. بلکې زموږ د ستونزو تر ټولو لوی لاملونه دين څخه مخ اړول، پر عوامو ظلم، ناحقه وينه تويول، فساد، غلا او نورې ستونزې دي چې په ځينو اسلامي هېوادونو کې عامې دي.

په اسلامي ټولنو کې ډېری خلک تر خپلې وسې ظالمان دي، داسې ظلم کوي چې د انسانيت له چوکاټه بهر دی. موږ ظلم ترسره کوو، خو دا مو هېر وي چې څومره لويه ګناه کوو!؟ همدا لامل دی چې ټولنه مو ورځ تر بلې د زوال لوري ته درومي.

درې داسې شيان دي چې ټولنه له تباهي او زوال سره مخامخ کوي: ظلم، دروغ او خيانت يا دوکه.

دا درې ناوړه صفات ټولنه له منځه وړي، خو له بده مرغه چې همدا قبيح صفات زموږ په ټولنو کې زيات دي.

زمونږ د هر يو دنده دا ده چې په ټولنه کې د دې پديدو په اړه د خلکو ذهنونه روښانه او د دې ناوړه خويونو د نابودۍ لپاره جدي کار وکړو.

## په داسې حالت کې به څه وکړې؟!

په خپل ذهن کې د تصور يوه نړۍ جوړه کړه چې که دې موبايل ته پيغام راشي او پکې ليکلې وي:

"السلام عليکم، زه محمد د الله تعالی پيغمبر يم، غواړم راتلونکې اونۍ دې د څو ورځو لپاره مېلمه شم."

د هغه ﷺ د راتګ لپاره به د ژوند له کومې برخې بدلون پيل کړې؟

کله چې له کوره بهر ووځې او پيغمبر ﷺ هم درسره وي، کوم ملګري به ورته ور وپېژنې چې ته پرې وياړې او د کوم ملګرو له معرفي کولو به ډډه وکړې؟

په ورځني ژوند کې به کوم عادتونه بدل، د کومو عملونو په ښوولو غواړې چې هغه ( ﷺ) خوښ او د کومو عملونو په نه ترسره کولو کې به کوښښ وکړې؟

له ځان سره اوږد فکر وکړه، بيا دې پوښتنو ته سم پلان جوړ او په عملي بڼه ځواب او په ژوند کې د تل لپاره عملي کړه، ځکه د الله تعالی ملائکې او ستا خپل وجود به ستا د ټولو کړنو راپور په کره ډول الله تعالی ته وړاندې کړي.

## د ټولنې د کمزورې کېدو اسباب

زموږ په ټولنو کې له ټولو ستونزو سره سره بيا هم زموږ دا اوسنی حالت د الله پاک لوی رحمت او لورينه ده، که نه موږ تر دې د خراب حالت مستحق يوو.

﴿وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ﴾[139]
بې زړه او اندېښمن کېږئ مه، همدا تاسو برلاسي یاست که تاسو مؤمنان اوسئ.

۴: که مؤمنان شو، هېڅ دښمن به پر موږ غالب نه شي، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي:

﴿وَلَنْ يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلاً﴾[140]
ژباړه: الله تعالی د کافرانو له پاره پر مسلمانانو د برلاسي هېڅ کومه لاره نه ده جوړه کړې.

زموږ ټولې کړنې دې ته ورته دي چې له الله تعالی څخه غواړو چې پوهنتون ته مو بریالي کړي، په داسې حال کې چې د دوولسم ټولګي سند نه لرو یا مو ښوونځی نه وي لوستی، آیا داسې امکان لري؟

موږ دعاګانې کوو، خو اسباب نه برابروو بیا وایو چې زموږ حالت ولې نه بدلیږي. زموږ حالت هغه وخت بدلیږي چې اول د ځان بیا د ټولنې د بدلون هڅه وکړو، چې کله موږ حرکت وکړو، الله پاک به برکت وکړي.

## د وروسته پاتې هېوادونو یوه نښه

د وروسته پاتې هېوادونو تر ټولو ستره کامیابي دا ده چې توانیدلي خپل ملتونه قانع کړي چې د لوبو نړیوال جام ته لاره پیدا کول یوه لویه لاسته راوړنه ده او د تعلیم او روغتیایي سیستم نړېدل عادي خبره ده. کله چې قدمونه له عقلونو څخه زیات ارزښت ولري دا د وروسته پاتې ټولنو لپاره لویه لاسته راوړنه وي.

---

۱۳۹: آل عمران، ۱۳۹ آیت

۱٤۰: النساء، ۱۴۱ آیت

الله تعالی په خپل پاک کلام کې ځو ځایه دې ته اشاره کړې:

۱: که موږ مؤمنان شوو، په دې اُمت کې به هېڅ ستونزه پاتې نه شي او الله تعالی به مونږ هېڅکله په دې حال پرېنږدي، لکه څنګه چې الله تعالی په خپله وعده کوي:

﴿مَا كَانَ اللَّهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِينَ عَلَىٰ مَا أَنْتُمْ عَلَيْهِ حَتَّىٰ يَمِيزَ الْخَبِيثَ مِنَ الطَّيِّبِ﴾[۱۳۷]

ژباړه: الله پاک به مؤمنان په دې حالت کې هېڅکله پرېنږدي چې تاسې اوس په کې یاست هغه به سپېڅلي خلك له نا پاکو خلکو څخه بېل کړي.

۲: که موږ مؤمنان شو، الله تعالی به موږ سره مرسته وکړي ځکه الله تعالی د دې وعده کړې:

﴿وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ رُسُلًا إِلَىٰ قَوْمِهِمْ فَجَاءُوهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ فَانْتَقَمْنَا مِنَ الَّذِينَ أَجْرَمُوا ۖ وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ﴾[۱۳۸]

ژباړه: او موږ له تا څخه مخکې پیغمبران د هغو قوم ته ولېږل او هغوی له روښانه نښانو سره هغو ته راغلل، بیا چې چا جرم وکړ، له هغو نه موږ غچ واخیست او پر موږ یې دا حق و چې له مؤمنانو سره مرسته وکړو.

۳: که موږ مؤمنان شو، دغه غمجن حالت، خپګان او نور ناوړه حالت چې اُمت یې ضعیفه کړی، له منځه لاړ او یو قوي اُمت به جوړ شي. لکه څنګه چې الله تعالی دا شرط کړی:

۱۳۷: ال عمران، ۱۷۹ آیت

۱۳۸: الروم، ۴۷ آیت

## ولې الله تعالی د مسلمانانو حال نه بدلوي؟

نن ورځ په ټوله نړۍ کې مسلمانان په ډول ډول کړاوونو اخته دي؛ ولې د دوی حالت نه بدلیږي؟

همدا او ورته پوښتنې له ګڼو خلکو سره شته.ځینې عوامل یې قرآن کریم واضح کړي:

ځینې علماوو ویلي، یو اساسي علت زموږ د حال د نه بدلېدو دا دی چې موږ یوازې مسلمانان یوو، نه مؤمنان، یعنې د اسلام دعوه کوو خو عملونه مو د اسلام خلاف دي.

د دوی په باور مؤمن هغه چا ته ویل کېږي چې په زړه کې پوره ایمان ولري او پر ظاهر یې د ایمان نښې ښکاره شي (اعمال یې د اسلام سره یو شان وي) یا مؤمن هغه چا ته ویل کیږي چې په قول او عمل کې یو شان وي.

موږ ټول هغه ناروا کارونه ترسره کوو چې الله پاک منع کړي، خو کله چې سختي راشي بیا ګیلې او شکایتونه کوو چې ولې مو حالت نه بدلیږي.

که موږ  په رښتیا پر الله تعالی ایمان راوړو او ریښتیني مؤمنان شو، الله تعالی به موږ له دې ټولو ستونزو او کړاوونو څخه خلاص کړي، ځکه قرآن کریم کې الله پاک فرمایلي چې که کوم مصیبت په تاسې راځي ستاسې له خپله لاسه دی.

بیا مې ورته کیسه وکړه، هغه راته وویل: زه هم درته داسې یو حدیث وایم چې ما له پیغمبر ﷺ څخه اوریدلی دی او هغه دا حدیث دی:
زما مینه د هغه چا لپاره لیکل شوې، څوک چې په خپلو منځونو کې خاص زما لپاره مینه کوي.

دې ته ورته موضوع په اړه په قرآنکریم کې هم الله تعالی فرمايي:
﴿لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ ۚ أُولَٰئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الْإِيمَانَ وَأَيَّدَهُمْ بِرُوحٍ مِنْهُ ۖ وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ۚ أُولَٰئِكَ حِزْبُ اللَّهِ ۚ أَلَا إِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾[١٣٦]

ژباړه: هېڅکله به دا ونه مومې کوم خلك چې پر الله او آخرت باندې ایمان لرونکي دي چې هغوی له هغو خلکو سره مینه کوونکي و اوسي چې د الله او د هغه رسول مخالفت یې کړی دی. که څه هم د هغوی پلرونه وي یا د هغوی زامن وي، یا د هغوی وروڼه وي، یا د هغوی ټبر او کورنۍ وي. دا هغه کسان دي چې الله د دوی په زړونو کې ایمان د ننه کړی دی او له خپل لوري د یو روح په ورکولو سره یې دوی تقویه کړي دي. هغه به دوی داسې جنتونو ته د ننه کړي چې تر هغو لاندې به ویالې بهیږي، په هغو کې به دوی د تل لپاره اوسیږي، الله له دوی نه راضي شو او دوی له الله نه راضي شول، دوی د الله د ګوند خلك دي. خبر دار اوسئ، همدا د الله د ګوند کسان فلاح یا ښیرازي موندونکي دي.

---

١٣٦: المجادلة، ٢٢ آیت

کله چې معاذ رضي الله عنه لمونځ پای ته ورساوه، ور نږدې شوم او له سلام وروسته مې ورته وویل، زه په الله قسم خورم چې زه له تا سره د الله تعالی په خاطر ډېره مینه لرم.

معاذ رضي الله عنه له ما پوښتنه وکړه: څه دې وویل؟ ما خپله خبره بیا تکرار کړه. هغه  وویل: د الله په خاطر؟ ما ورته وویل، هو، خاص د الله تعالی په خاطر او دا کار درې ځله تکرار شو.

نوموړي ځان ته کش کړم او راته یې وویل: خوښ او خوشاله شه، ځکه ما له پیغمبر ﷺ څخه اوریدلي چې ویل یې الله پاک فرمایلي: «لْمُتَحَابُّون فِي جَلاَلِي، لَهُم مَنَابِرُ مِن نُورٍ يَغْبِطُهُم النَبِيُّونَ والشُهَدَاء»[١٣٥]

ژباړه: هر څوک چې په خپلو منځونو کې زما د جلال په خاطر مینه کوي، دوی لره د نور منبرونه دي چې په لیدو به یې پیغمبران او شهیدان حیران وي.

یعنې د قیامت په ورځ داسې خلک چې په خپلو منځونو کې خاص د الله تعالی د رضا په خاطر مینه کوي، دوی لره به له نور څخه جوړ شوي منبرونه وي چې دوی به پرې ناست وي او پیغمبران او شهیدان به ورته تعجب کوي.

ابو ادریس الخویلاني وايي: کله چې ما دا خبره واوریده، ډېر زیات خوشال شوم، له جومات څخه د وتلو په وخت مې عباده بن صامت رضي الله عنه ولید او ورته مې وویل: آیا هغه څه درته ونه وایم چې له معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه مې همدا اوس واورېدل؟

١٣٥: [صحيح] - [رواه الترمذي وأحمد]

## هغه کسان چې جنت کې به د نور پر منبرونو ناست وي

ابو ادریس الخویلاني رحمه الله چې د تابعینو له جیدو علماو څخه دی وایي: د سوریې د پلازمینې دمشق یو جومات ته ننوتم چې پکې له دیرشو زیات صحابه په دایروي شکل ناست وو او په خپلو منځونو کې یې خبرې کولې. د دوی په منځ کې یو ځوان خاموش ناست و، ځینې صحابه رضي الله عنهم چې هلته وو، هغه ځوان ته په ډېر احترام قائل وو. کله چې به دوی په خپل منځ کې اختلاف درلود، نو همغه ځوان ته به ورتلل او هغه به چې هر څه ورته ویل، دوی به منل او اختلاف به یې له منځه لرې شو.

کله چې ما هغه ولید، په زړه کې مې د هغه لپاره سخته مینه پیدا شوه. پوښتنه مې وکړه چې د صحابه وو په منځ کې ناست ځوان څوک دی؟ راته وویل شول: دا د پیغمبر ﷺ مشهوره صحابي معاذ بن جبل رضي الله عنه دی.

پریکړه مې وکړه چې سبا سهار تر ټولو څخه مخکې جومات ته راځم چې معاذ رضي الله عنه یوازې ووینم او ورسره خبرې وکړم. سهار وختي چې تیاره هم وه، جومات ته حاضر شوم او په دې فکر وم چې شاید تر ټولو څخه مخکې راغلی یم، کله چې جومات ته داخل شوم، ګورم چې معاذ بن جبل له ما څخه مخکې شوی او په مسجد کې حاضر دی او په تهجد لمونځ بوخت دی.

ما هم دوه رکعته لمونځ ادا کړ او نوموړي ته مې انتظار کولو چې لمونځ پای ته ورسوي.

د ايمېل ځواب يې راغی چې له دې کار نه د خلاصون لپاره ضرور ده چې د مړ شوي کس د ايمېل پاسورډ تاسو سره وي.
ملګري يې وايي چې د ډېرو کوښښونو نتيجه منفي وه.
اوس فکر وکړه، د هغه ځوان به څه حال وي؟
ځکه الله تعالی فرمايي:
﴿إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴾[۱۳٤]
ژباړه: هغه کسان چې د مؤمنانو په منځ کې د فحشاء خپرول غواړي، ددوی لپاره په دنيا او آخرت کې دردناک عذاب دی، او الله تعالی پوهيږي او تاسو نه پوهېږئ.
دا کيسه مې د عرب عالم شيخ محمد العريفي له خولې ليکلې چې هغه دا يوه واقعي کيسه بللې ده.

## عمر ډېر لنډ دی

په دنيا کې هېڅ مادي شی د دې ارزښت نه لري چې له امله يې خپلوانو او مسلمانو ورونو سره اړيکې غوڅې کړو. عمر ډېر لنډ او د دې لپاره هېڅ نه دی چې په کينه او بد نيتۍ دې ضايع شي. ژوند ډېر چټک دی ځکه بايد ترې ښه استفاده وکړو. مرګ د هر انسان انتظار کوي. يوه شېبه هم ځان غمجن مه پرېږدئ، د الله تعالی عبادت او ذکر مه قطع کوئ. خوشحاله ژوند وکړئ او د الله تعالی له نعمتونو ګټه واخلئ. که داسې ونه کړئ په هره ضايع کړې ثانيه به پښېمانه کېږئ.

۱۳٤: النور، ۱۹ آيت

## د هغه ځوان به څه حال وي؟

يو ځوان بې روزګاره و، يوه ورځ په انټرنېټ کې په سايټونو ګرځېدو چې د لوڅو فلمونو سايټ باندې يې سترګې ولګېدې. پکې ښکته پورته شو، ځان يې د برېښناليک له لارې د څو روپيو په بدل کې په دې سايټ کې راجسټر کړ، په اونۍ کې به ورته ايمېل راغی او د لسګونو فلمونو لينکونه به يې ترلاسه کول، دا کار د ځوان عادت وګرځېد او پرې روږدی شو.

بله ورځ يې خپلو ملګرو ته کيسه وکړه چې هره اونۍ مې برېښناليک ته د لسګونو لوڅو فلمونو لېنکونه راځي او د بلې اونۍ تر پايه د همدغو فلمونو په ليدلو بوخت يم.

ملګرو يې ترې غوښتنه وکړه چې موږ ته يې هم چل را وښايه.

هغه ځوان له خپلو ملګرو ايمېلونه ټول کړل او داسې سيستم يې جوړ کړ چې کله به ده ته ايمېل راغی، په اتومات ډول به يې ملګرو ته هم ور رسيده. موده وورسته دغه ځوان مړ شو.

له مرګ وروسته يې يو ملګری ګوري چې د مړ شوي ملګري له ايمېل نه ورته د لوڅو فلمونو لېنک راغلی، هلک هک پک شو چې هغه خو مړ شوی څنګه يې له ايمېل څخه ما ته پيغامونه راځي؟

ملګري يې د ايمېل اصلي کمپنۍ اړوند کسانو ته پيغام واستاوه او له دې يې خبر کړل چې هغه ځوان مړ شوی خو لا يې هم برېښناليک ته ستاسې لخوا ايمېلونه راځي او بيا موږ ته فارورډېږي. غوښتنه يې ترې وکړه چې که دا سيستم بند کړل شي.

٣- «اللّهـمَّ أَنْتَ رَبِّـي لا إلهَ إلاّ أَنْتَ ، خَلَقْتَنـي وَأَنا عَبْـدُك ، وَأَنا عَلـى عَهْـدِكَ وَوَعْـدِكَ ما اسْتَـطَعْـت ، أَعـوذُبِكَ مِنْ شَـرِّ ما صَنَـعْت ، أَبـوءُ لَـكَ بِنِعْـمَتِـكَ عَلَـيَّ وَأَبـوءُ بِذَنْـبي فَاغْفِـرْ لي فَإِنَّـهُ لا يَغْـفِرُ الذُّنـوبَ إِلاّ أَنْتَ» (درې ځله).

٤- «اللّهُـمَّ عافِـني في بَدَنـي ، اللّهُـمَّ عافِـني في سَمْـعي ، اللّهُـمَّ عافِـني في بَصَـري ، لا إلهَ إلاّ أَنْـتَ، اللّهُـمَّ إِنّـي أَعـوذُبِكَ مِنَ الْكُـفر ، وَالفَـقْر ، وَأَعـوذُبِكَ مِنْ عَذابِ القَـبْر ، لا إلهَ إلاّ أَنْـتَ» (درې ځله).

٥- «أَعـوذُبِكَلِمـاتِ اللّهِ التّـامّـاتِ مِنْ شَـرِّ ما خَلَـق» (درې ځله).

٦- «بِسـمِ اللهِ الذي لا يَضُـرُّ مَعَ اسمِـهِ شَيءٌ في الأرْضِ وَلا في السّمـاءِ وَهـوَ السّمـيعُ العَلـيم» (درې ځله).

٧- «اللّهُـمَّ إِنِّـي أسْأَلُـكَ العَـفْوَ وَالعـافِـيةَ في الدُّنْـيا وَالآخِـرَة، اللّهُـمَّ إِنِّـي أسْأَلُـكَ العَـفْوَ وَالعـافِـيةَ في ديني وَدُنْـيايَ وَأهْـلي وَمالـي، اللّهُـمَّ اسْتُـرْ عـوْراتي وَآمِـنْ رَوْعاتـي، اللّهُـمَّ احْفَظْـني مِن بَـينِ يَدَيَّ وَمِن خَلْفـي وَعَن يَمـيني وَعَن شِمـالي، وَمِن فَوْقـي، وَأَعـوذُ بِعَظَمَـتِكَ أَن أُغْـتالَ مِن تَحْتـي» (يو ځل ولوستل شي).

دا دعاګانې مې د بیلګې په توګه د دعاګانو له یوه معتبر کتاب څخه راخیستي. که تاسې د لا زیاتو دعاګانو لوستلو حوصله لرئ، په ګوګل کې ولیکئ: (اذکار الصباح والمساء) ان شاء الله ګڼې نورې هم موندلی شئ.

د دې ترځنګ باید خپلو اخلاقو ته ډېر پام وکړو او خلکو سره همېشه نېکي او ښه چلند وکړو. نفلي عبادتونو کې غښتلي شو. نفلي عبادتونو کې یو بهترین عبادت د قرآن کریم تلاوت دی چې باید خپل زیاتره وخت ورته بیل یا ځانګړی کړو او په معنی یې ځان پوه کړو.

ګڼې داسې دعاګانې هم شته چې په برکت یې الله تعالی موږ د مرضونو ترځنګ له هر ډول آفت څخه ژغوري.

دا باید خپل عادت کړو چې هر سهار له لمونځ نه وروسته حد اقل یوه پاڼه قرآن کریم تلاوت کړو. ورپسې لاندې دعاګانې ولولو.

لاندې دعاګانې له نبي کریم ﷺ څخه روایت شوې دي، مونږ یې باید حفظ کړو او هر سهار یې په ژبه جاري کړو تر څو مو الله تعالی له هرډول مرض څخه وساتي.

د دعا پیل باید په الحمد لله او پر پیغمبر ﷺ د درود ویلو وشي.

دعاګانې:

١- «أَصْبَحْنا وَأَصْبَحَ المُـلْكُ لله وَالحَمدُ لله ، لا إلهَ إلاّ اللّهُ وَحدَهُ لا شَريكَ لهُ، لهُ المُلكُ ولهُ الحَمْد، وهُوَ على كلّ شَيءٍ قدير ، رَبِّ أسْأَلُكَ خَيرَ ما في هـذا اليوم وَخَيرَ ما بَعْدَه ، وَأَعوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ هـذا اليوم وَشَرِّ ما بَعْدَه، رَبِّ أَعوذُبِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَسوءِ الْكِبَر ، رَبِّ أَعوذُبِكَ مِنْ عَذابٍ في النّارِ وَعَذابٍ في القَبْر» (درې ځلې باید ولوستل شي).

٢- «اللّهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنا وَبِكَ أَمْسَينا ، وَبِكَ نَحْيا وَبِكَ نَمُوتُ وَإِلَيْكَ النُّشُور » (درې ځلې باید ولوستل شي).

په بل آیت کې الله متعال فرمايي:
﴿وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى﴾[133]

څوك چې زما له ذکر (عبادت) څخه مخ واړوي، د هغه لپاره به په دنیا کې تنګ (له مرضونو او آفتونو ډک) ژوند وي او د قیامت په ورځ به هغه ړوند راپاڅوو.

هر انسان چې د الله جل جلاله له عبادت نه غافل او یوازې د دې فاني دنیا ژوند یې خپل مقصد او قبله ګرځولې وي، د هغه زړه به سخت او تنګ کړای شي، په ډول ډول ذهني ناروغیو به اخته شي او خوښي به یې له ژونده ورکه شي، اګر که ظاهراً د ډېر مال، دولت، عیش او عشرت څښتن ښکاري، مګر څرنګه چې زړه یې له قناعت او توکل څخه خالي وي، د دنیا د زیات حرص او ترقۍ په فکر کې تل ورك او نارامه وي او د لوږې او د سختیو له لاسه چې کله په تنګ شي، نو مرګ ته په خپل ژوند ترجیح ورکوي.

داسې خلک به قیامت کې په سترګو ړانده وي، د محشر په لور به یې بیایي او په زړه به هم ړانده وي چې هیڅ یو دلیل ته به لاره نه مومي. وروسته به یې سترګې خلاصېږي چې د دوزخ هیبت ناك عذاب وګوري.

د دې لپاره چې خپل ژوند د الله تعالی په عبادت تېر او له هر ډول مرضونو په امن شو؛ باید تر هر څه لومړی خپل پنځه وخته لمونځ په سمه توګه ترسره کړو، فرضي روژې بشپړې ونیسو، د خپلو مالونو زکات ورکړو او که وس مو وي حج وکړو.

---

۱۳۳: طه، ۱۲۴ آیت

او په پای کې به یې د آسانۍ او راحت مقام ته رسوو چې د هغه نوم جنت دی.

﴿وَأَمَّا مَنْ بَخِلَ وَاسْتَغْنَىٰ ﴿٨﴾ وَكَذَّبَ بِالْحُسْنَىٰ ﴿٩﴾ فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرَىٰ﴾[١٣١]

ژباړه: او چا چې بخیلي وکړه (له خپل ربه یې) بې پروایي وکړه، او نېکي یې دروغ وګڼله، هغه ته به موږ سخت ځای ته د ورتګ لار آسانه کړو.

یعنې چا چې د الله جل جلاله په لاره کې خرڅ او مصرف و نه کړ، د آخرت د ثواب پروا یې ونه کړه، د اسلام خبرې او د الله جل جلاله وعدې یې درواغ وبللې، ژوند به یې له مرضونو او آفتونو ډک وي، زړه به یې ورځ تر بلې تنګ، ضیق، تیاره او کلك شي او د نېکۍ توفیق ورڅخه سلبیږي او په پای کې ورو ورو د عذاب سختي ور رسیږي.

له مرضونو د خالي ژوند وعده الله تعالی له هغه وخته موږ ته کړې چې کله یې زموږ نیکه آدم علیه السلام ځمکې ته راولېږو او ورته یې وویل:

﴿قَالَ اهْبِطَا مِنْهَا جَمِيعًا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدًى فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقَىٰ﴾[١٣٢]

ژباړه: (الله تعالی وفرمایل) تاسو دواړه ډلې (انسان او شیطان) له دې ځایه ښکته شئ، تاسو به یو د بل دښمنان یاست، اوس که زما له لوري تاسو ته کوم هدایت ورسېږي، نو څوك چې زما د هدایت پیروي وکړي هغه به نه ګمراه شي نه به په بد بختۍ اخته شي.

---

١٣١: اللیل، ٨-١٠ آیتونه

١٣٢: طه، ١٢٣ آیت

ځواب خپله الله تعالی وايي: څوک چې نېک اعمال ترسره کړي، الله تعالی به هغوی ته ښایسته ژوند ورکړي هم په دې دنیا او هم په آخرت کې.

﴿ إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِي نَعِيمٍ ﴿١٣﴾ وَإِنَّ الْفُجَّارَ لَفِي جَحِيمٍ ﴿١٤﴾ يَصْلَوْنَهَا يَوْمَ الدِّينِ ﴾[١٢٩]

ژباړه: ضرور به نېکان په زیاتو خوندونو کې وي او شك نشته چې بد کاران به په دوزخ کې اوسېږي او د جزا په ورځ به هغوي دوزخ ته حتماً ور دننه کيږي.

په دې آيت کې نعيم د نعمت جمعه کلمه ده چې هر نعمت لکه د روغتيا، ثروت، خوشحالۍ او هر بل نعمت پکې شامليږي.

په يو بل آيت شريف کې الله تعالی فرمايي:

﴿فَأَمَّا مَنْ أَعْطَىٰ وَاتَّقَىٰ ﴿٥﴾ وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَىٰ ﴿٦﴾ فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرَىٰ﴾[١٣٠]

چا چې (د الله تعالی په لار کې شتمني ورکړه)، او تقوا يې وکړه (د الله تعالی له نافرمانۍ نه يې ځان وساتو) او نيکي يې رېښتينې کړه، هغه ته به موږ د آسانۍ لپاره لار آسانه کړو.

يعنې څوک چې په نېکه لاره مال مصرفوي او په زړه کې له الله جل جلاله څخه ويرېږي، ديني خبرې رښتيا ګڼي، پر رباني بشاراتو باندې باور لري او صحيح يې ګڼي، د هغه لپاره به موږ د نېکيو لارې آسانوو

١٢٩: الإنفطار، ١٣-١٥ آيتونه

١٣٠: الليل، ٥-٧ آيتونه

خو که موږ دغه غوښتنې ونه منو؛ په ډېرو داسې ذهني مرضونو او ناکراریو به اخته شو چې له امله به يې زموږ ژوند تريخ او بې خونده شي، له معنوي اړخه به مو نابود او د حقيقي ژوند ښکلا به په سیند لاهو کړي.

هغه انسان چې د الله تعالی عبادت په سمه توګه کوي، دوی ته الله تعالی حقيقي او له سکون نه ډک ژوند ورکوي، خو هغه څوک چې د الله تعالی له عبادت څخه غافل شي، په بېلابېلو مرضونو او کړاونو اخته کېږي.

هغوی چې د الله تعالی له عبادت څخه غافل دي، مثال يې داسې دی لکه په تیاره کې چې ولاړ وي او هېڅ لاره ورته نه ښکاري، چې هره خوا ځي تیاره وي او رڼا نه شي موندلای چې په مرسته يې خپل ژوند له دې کړاوونو بچ کړي او د سکون نه ډک ژوند ولري.

حقيقي ژوند ته لاره الله تعالی په خپله موږ ته ښودلې:

﴿مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً ۖ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾[۱۲۸]

څوك چې ښه عمل وکړي، که هغه نارينه وي او که ښځه، په دې شرط چې مؤمن وي، پر هغه به موږ په دنيا کې سپيڅلی ژوند تېر کړو او (په آخرت کې به) دغسې خلکو ته د هغوی د ښوو عملونو په بدل کې ډېر ښه اجر ورکړو.

په دې مبارک آیت کې زموږ دا پوښتنه ښه ځواب شوې، چې څنګه له خوښيو ډک ژوند وکړو او له ذهني ناکراريو څخه ځان وساتو؟

---

۱۲۸: النحل، ۹۷ آیت

کله چې زړه مطمئن شي، د انسان ګڼې رواني او فزيکي ناروغۍ ورسره کميږي او انسان د ارامش احساس کوي.

په بل مبارک آيت کې الله تعالی فرمايي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اسْتَجِيبُواْ لِلّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُم لِمَا يُحْيِيكُمْ وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ﴾[١٢٧]

ژباړه: اې هغه کسانو چې ايمان مو راوړی د الله تعالی او د هغه د پيغمبر ﷺ بلنې ته لبيك ووايئ، کله چې پيغمبر ﷺ تاسو ته د هغه شي په لور بلنه درکړي چې تاسو ته ژوند بخښي او وپوهيږئ چې الله تعالی د انسان او د هغه د زړه تر منځ حايل دی او د همغه لوري ته به تاسو ټول ورغونډ کړای شئ.

په دې آيت کې الله تعالی خپلو بندګانو ته وايي چې زما او د رسول ﷺ غوښتنو ته مثبت ځواب ووايئ، تر څو بيا ژوند دروبخښم.

په دې آيت کې هغه چا ته غږ شوی چې په ځمکه ګرځي، خوراک او څښاک کوي خو په معنوي توګه مړه دي.

ځينې علماء وايي: له دعاکم (غږ) نه مراد قرآن کريم دی خو نور بيا وايي چې له دې څخه مراد اسلام دی.

د دې مبارک آيت په رڼا کې دا جوته ده چې که موږ د الله تعالی او د هغه د رسول ﷺ غوښتنو ته مثبت ځواب ووايو او عمل پرې وکړو، موږ ته حقيقي ژوند رابخښي او دا واضحه ده چې په شرعي ژوند کې تشويش او رواني او ګڼې ستونزې ډيرې کمې وي.

---

١٢٧: الأنفال ، ٢٥ آيت

## د قرآن کریم په رڼا کې د ډیپریشن (ژور خپګان) درملنه

خوشحالي له کومه ترلاسه کړو؟

څنګه له اندېښنو او غمونو په امان شو؟

د دې ستونزو علاج د دین په مرسته څنګه کولای شوو؟

دا هغه پوښتنې دي چې زموږ په ټولنه کې یې هر انسان له ځان یا له بل نه پوښتي.

الله سبحانه و تعالی خپل کتاب د دې لپاره نازل کړی چې ترې انسانان ګټه پورته کړي او تر څنګ یې د دغه شریف کتاب له برکته د هر مرض علاج وشي.

﴿ وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ ۙ وَلَا يَزِيدُ الظَّالِمِينَ إِلَّا خَسَارًا﴾[١٢٥]

ژباړه: موږ د دغه قرآن کریم نازلولو په لړ کې هغه څه نازلوو چې د مؤمنانو لپاره شفاء او رحمت دی، مګر د ظالمانو لپاره له زیان نه پرته بل څه نه زیاتوي.

د نورو امراضو تر څنګ د ډیپریشن (ژور خپګان) یا اضطراب مرض علاج هم قرآن کریم په واضحه توګه په ګوته کړی.

﴿أَلاَ بِذِكْرِ اللّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ﴾[١٢٦]

ژباړه: پوه شئ چې یوازې د الله تعالی په ذکر زړونه مطمئن کیږي (سکون ترلاسه کوي).

١٢٥: الاسراء، ٨٢ آیت.

١٢٦: الرعد، ٢٨ آیت

د دې خبرې په اورېدو نجلۍ موسکۍ شوه او ځواب یې راکړ چې مه په تشویش کېږه، زه هم له ډېرې مودې راهیسې ایډز لرم!
ځوان وایي، د دې خبرې په اورېدو مې له خولې غیر ارادي غږ رابهر شو چې الحمد لله!
دا کسیه شیخ محمد العریفي د سعودي تکړه عالم په خپل یوه ویډیویي بیان کې کړې ده او وایي چې دغه ځوان یې په کوم پروګرام کې راپورته شو او دا کیسه یې وکړه.
څوک چې د الله تعالی له ډاره ناروا کار ته شا کړي، الله تعالی به یې په دې او هغې دنیا بدله ضرور ورکوي.
پیغمبر ﷺ وایي: الله تعالی به اووه ډله کسانو ته د قیامت په ورځ د خپل د عرش تر سیورې لاندې ځای ورکړي. په هغه ورځ چې له همدغې سیورې پرته به بل سیوری نه وي، له دې ډلې یو هغه څوک دی چې ښکلې مېرمن ترې د ناروا کار غوښتنه وکړي...
او دی ځواب ورکړي چې "اني اخاف الله" یعنې زه له خپل ربه ډارېږم، لکه په پورتنۍ کیسه کې چې مو ولوستل.

## منطقي ځواب

یو کس خپل ملګري ته وویل: فلانی سړی مې هېڅ نه خوښېږي، ملګري یې ورته وویل: چې زما هم نه خوښېږي، مګر څه پوهېږې، کیدای شي الله تعالی د دواړو زړونه فاسد کړي وي او له همدې کبله به مو نیك خلك نه خوښېږي.

## زه هم له ډېرې مودې راهیسې ایډز لرم

د خلکو له منځه یو ځوان ودرېد او راته یې وویل، سوال نه لرم خوغواړم یوه کیسه وکړم تر څوخلکو ته پند شي.

ځوان کیسه داسې پیل کړه چې یوه ورځ له ملګرو سره بهرني هېواد ته د تفریح په موخه لاړم، په هوټل کې هر ملګري ځان ته ځانګړې کوټه نیولې وه، ما په خپل اطاق کې ستوماني ایستله، دروازه وټکېده، چې خلاصه مې کړه یوه پیغله نجلۍ ولاړه وه او راته یې کړه چې داخل ته درتلی شم؟ ما ترې وپوښتل چې څه کار مو دی؟

نجلۍ ځواب راکړه چې زه ستا په برخه یم، حیران شوم!

ملګرو ته مې اواز وکړ چې څه کیسه ده، دوی په خندا ځواب راکړه چې دا مو تاته راوستې ده.

ما مې له ملګرو بخښنه وغوښته چې زه زنا نه شم کولی، ملګري مې راټول شول او شور یې جوړ کړ، چا راته ویل ته نر نه یې، چا یو او چا بل څه ویل، خو زما ځواب دا و چې هر څه وي زه دا حرام کار نه کوم.

بالاخره ملګرو په زوره نجلۍ زما اطاق ته راتیله او له شا څخه یې دروازه بنده کړه، ډېرې نارې مې وکړې، خو دروازه یې خلاصه نه کړه او دا یې ویل چې موږ دا کار کوو، ته یې هم باید وکړې.

ځوان وایي کله چې په ګناه کې له ډوبېدو وډارېدم، نو مې د درواغو په بنه نجلۍ ته وویل: ګوره، زه له یو کال راهیسې ایډز لرم، که رانېږدې شوې تا به هم ونیسي.

الله تعالی په دومره لويي او دومره عظمت تاته د توبې ويستلو څومره فرصتونه برابر کړي، خو ته؟!

بس يو ځل ووايه يا الله زه پښېمان يم، بخښنه راته وکړه، بس يوازې پر خپلې گناه پښېمان شه، الله تعالی دې بخښي ان شاء الله!

که يو وار نه، بلکې څو وارې هم در څخه گناه کېدله، دوه کارونه مه کوه: يو دا چې د وخت په تېرېدو گناه درته کوچنۍ ښکاره شي يا يې روا وبولې، ځکه د حرامو حلالول انسان کفر ته بيايي.

دويمه دا چې بايد له استغفار يا توبې ويستلو غافل نه شې.

که ته په ريښتيا يا په صداقت ووايې چې استغفرالله العظيم و اتوب اليه (زه له عظيم رب څخه بخښنه غواړم او توبه ورته کوم) ان شاء الله، توبه دې قبليږي. کله چې ټول ويده شي، د شپې په دريمه برخه کې راپاڅېږه او توبه وباسه او د الله تعالی په حضور کې سجده وکړه او ورته ووايه چې زما ربه ستا د کمزوري بنده قدمونه وښويېدل او گناه ترې وشوه، ستا له امر د سرغړونې لپاره مې گناه نه ده کړې، بلکې نفس مې کمزورى شو او پښه مې وښويېده، ته مې لاسنيوى وکړه او بخښنه راته وکړه.

## د ځان اصلاح

له يو حکيم څخه پوښتنه وشوه، په څه شي باندې انسان له خپل دښمن څخه انتقام اخيستلاى شي؟

هغه ورته وويل: د خپل ځان په اصلاح کولو سره.

## دواړو تېروتنه وکړه، يو پيغمبر او بل د الله دښمن شو

آدم عليه السلام او ابليس عليه اللعنة دواړو د الله تعالی له امر څخه سرغړونه وکړه. ابليس انسان ته په سجده نه شو او آدم عليه السلام منع شوی کار وکړ. په حقيقت کې دواړو تېروتنه وکړه.

آدم عليه السلام له خپلې تېروتنې وروسته توبه وکړه او د الله تعالی پر وړاندې زارۍ پيل کړې او پر خپله ګناه يې اعتراف وکړ او الله تعالی يې توبه قبوله کړه. خو ابليس پر خپلې تېروتنې ودرېد او ځان ورته لوی ښکاره شو او تکبر يې وکړ، له همدې امله الله تعالی ورټلو او تر ابده بدبخته شو.

رسول الله ﷺ فرمايي: د انسان په ښي ولي کې د نېکۍ ليکونکې ملايکه او په چپ اړخ کې د بديو ليکونکې ملايکه ده، چې دواړه د انسان نېک او بد عملونه ليکي. خو الله تعالی د بديو ليکونکې ملايکه د ښي ولي د ملايکې تابع کړې، کله چې انسان ګناه وکړي د بدۍ ملايکه د ښي اړخ ملايکې ته وايي: آيا دا ګناه يې وليکم؟ هغه ورته وايي نه، صبر وکړه او وخت ورکړه، کېدای شي توبه وباسي او له الله تعالی بخښنه وغواړي. کله چې شپه راشي، د بدۍ ملايکه بيا پوښتنه کوي چې ګناه يې وليکم؟ د نېکۍ ليکونکې ملايکه بيا ورته همدا وايي چې وخت ورکړه، کېدای شي بخښنه وغواړي.

خو کله چې انسان ويده شي او توبه ونه باسي، الله تعالی فرمايي زما بنده څومره بې حيا و، ويده شو او توبه يې ونه کړه.

بيا الله تعالی فرمايي، زما دې پر خپل عزت او جلال قسم وي، که يې بخښنه غوښتې وای، ما يې توبه قبلوله.

د اسلام دښمنان غواړي چې د مسلمان ځوان نسل فسق، فجور، فحشاء، بد اخلاقي، جهل او بې لارېتوب ته سوق کړي چې په دغو بدمرغيو د اخته کولو لپاره له بېلابېلو اسبابو او وسايلو څخه کار اخلي.
په اوسني دور کې د اسلام دښمنان د مسلمان ځوانانو د انحراف لپاره ډېر وسايل او امکانات لري چې له هغو په استفادې سره کولای شي د دين له معنويت، حقانيت، وسعت او لوړو اخلاقي، ادبي، علمي او انساني ارزښتونو بې خبره ځوانان منحرف او بې لارې کړي.
مسلمان ځوان بايد هوښيار وي او د خپل ژوند په اصلي هدف ځان پوه کړي او خپل ځان هر ډول شيطاني دام کې له غورځېدو وساتي.

## شکلاني عبادت

په اوس وخت کې د ځينو مسلمانانو ستونزه دا ده چې يوازې شعائري عبادتونو ته پام کوي، لکه: (لمونځ، روژه، زکات، حج...) خو تعاملي عبادتونه يې پريښي دي لکه: (اخلاق، صداقت، په ژمنه وفا، له ګاونډي سره ښه سلوک، امانت نه خيانتول...). په داسې حال کې چې د دغه دواړو ډولونو عبادتونو له ډلې يوازې يو يې انسان په آخرت کې بريالی کولای نه شي، الا ماشاء الله.
په قرآن کريم کې هرځای چې د ايمان راوړلو خبره شوې، ورسره د نېکو عملونو خبره هم شوې. مسلمان بايد اسلام بشپړ په ځان عملي کړي. عبادتونو ته هم ډېر پام ولري او اخلاق هم هېر نه کړي.
د اسلام مبارک دين درې برخې لري، عقيده، احکام او اخلاق.

مسلمان ځوانان د اسلامي اُمت د ملا تیر دي، نه یوازې د پیغمبر ﷺ د دعوت او د الله جل جلاله د دین طرف ته د بلنې اصلي او اولني ملګري ځوانان وو، بلکې د هر وخت او د هر زمان په اوږدو کې چې الله جل جلاله د بشریت د هدایت او لارښوونې لپاره خپل رسولان او پیغمبران علیهم السلام رالیږلي او د بشریت د ژغورنې لپاره هغوی د الله جل جلاله د دین لور ته د دعوت پیل کړی، ځوانان وو.

همدغه ځوانان وو، چې د الله جل جلاله د پیغمبرانو تر څنګ دریدلي او اسلام مبارک دین یې تر ولسونو رسولی او په دې لار کې یې له هیڅ ډول قربانۍ او فداکارۍ څخه ځان نه دی سپمولی، د حق بیرغ یې اوچت کړی، د ظلم، جهل، فساد، بد اخلاقۍ، کفر او استبداد په خلاف یې نه ستړې کېدونکې مبارزې کړې دي او د الله جل جلاله د رضا د حصول لپاره یې خپله وینه نذرانه او تل یې د باطل او کفر پر خلاف د حق سنګر د خپلو وینو په تویولو ګرم ساتلی دی.

همدغو په الله مینو ځوانانو له اسلام، حق او عدالت څخه په لومړۍ کرښه کې دفاع کړې او همدا وجه ده چې د اسلام دښمنان له همدغو په ایمان او اسلام مینو او مجهزو ځوانانو څخه وېره او خوف لري او کوښښ کوي چې د اسلامي اُمت ځوان نسل په خپلو شیطاني او طاغوتي لومو کې راګیر کړي. دوی د مسلمان ځوانانو انحراف لپاره له ټولو هغو وسایلو څخه استفاده کوي چې په اختیار کې یې لري.

د توحید او د الله جل جلاله لار یې خپله کړه او په هغه چاپېریال او ټولنه کې د اوسېدو پر ځای چې په هغه کې مؤمنان، موحدین او د الله جل جلاله ریښتوني بنده ګان ځورېدل، په زندانونو کې اچول کېدل او د بنده، بنده ګۍ ته مجبور کېدل او داسې نور.

د یو لوړ غره پر سر، له ښار او کلیو څخه لرې په یو غار کې یې د الله جل جلاله په امر پناه واخیسته، چې دغه ځوانان په قرآنکریم کې د اصحاب کهف په نوم یاد شوي دي.

د اصحاب کهف کیسه په قرآن کریم کې د دې لپاره ذکر شوې چې دغه کیسه هر ځوان ته د یو انقلابي ژوند درس ورکوي.

هغه داسې چې سر یې باید له الله څخه پرته بل چا ته ټیټ نه شي، د بنده ګانو د غلامۍ زنځیر په غاړه کې وانه چوي، خپل هغه استقلال یا آزادي چې الله جل جلاله ورکړې، د وخت واکمن ته د تقرب په خاطر ونه پلوري. د الله جل جلاله په مرسته او ملاتړ پوره باور ولري او د حق د پاڅون په خاطر د مظلومانو د نجات لپاره او د الله جل جلاله د دین د حاکمیت لپاره باید د مبارزې په جریان کې لویو لویو آزمایښتونو او ستونزو د زغم کلک عزم او اراده ولري.

د ایثار، فداکارۍ او قربانۍ جذبه یې هېڅکله متزلزله نه شي، د مادیاتو په مقابل کې د اسلامي جهاد او اسلامي دعوت لاره پرې نه ږدي، که هغه په سنګر کې وي، که په دفتر کې وي، که په هجرت کې وي او که د ژوند په هره برخه او پړاو کې وي.

آیا کله چې ته د یو مسلمان ورور یوه ستونزه حل کړې، په شونډو یې موسکا خپره کړې، یا ترې یو تشویش لرې کړې، یا یې یو حاجت ور پوره کړې، د خوشحالۍ او راحت احساس کوې؟

نو بیا دې مبارک شه، ته د حدیث مصداق او مؤمن یې ان شاء الله!

که دې ځواب منفي وي یا فکر کوې چې داسې نه یې، بیا نو په خپل ایمان وویرېږه!

هغه مسلمان چې د خلکو په خوښیو خوشحالیږي؛ مؤمن دی.

## اصلي میېراته

دا میراته نه ده چې پخپل زوی باندې د محمد نوم کېږدې، بلکې میراته دا ده چې د محمد ﷺ په اخلاقو یې تربیه کړې.

## په ځوانانو کې د بې لارۍ لاملونه

د ټولو لوړو او اوچتو اخلاقي، علمي، سیاسي، ټولنیزو او انساني ارزښتونو د لاس ته راوړلو لپاره الله سبحانه و تعالی د اسلام مبارک دین په چوکاټ کې غوره اصول ټاکلي، چې انسانان د دغو اصولو په عملي کولو سره د انساني خلقت د هدف پر لور سوق شي او هغه څه چې الله تعالی په دنیا او آخرت کې د انسانانو د نېکمرغۍ په خاطر په پام کې نیولي؛ ترلاسه کړي.

الله جل جلاله په قرآن کریم کې د هغو څو ځوانانو یادونه کوي چې هغوی له کفر، شرک، بت پرستۍ، بد اخلاقۍ، فحشاء او ګناه څخه د خوندي پاتې کېدو په خاطر د کفر او بت پرستۍ له طاغوت صفته واکمنانو بغاوت اعلان کړ.

«لا يُؤمِنُ احدُکُم حتي يُحِب لأخِيهِ ما يُحبُّ لنفسه»[124]
ژباړه: هېڅوک کامل مؤمن يا ايمان راوړونکی کېدای نه شي، تر هغې چې هر هغه څه چې د ځان لپاره خوښوي، د خپل مسلمان ورور لپاره يې هم خوښ کړي.
څومره آسانه تله ده چې خپل ايمان پرې وتلو!؟
ته د ځان لپاره څه خوښوې؟
آيا نه غواړې خلک دې غيبت وکړي؟ نو ته هم د نورو غيبت مه کوه؟
که ته نه غواړې چې خلک دې پټ عيبونه يا رازونه ولټوي او رسوا دې کړي، ته هم د خلکو په اړه تجسس مه کوه.
دا د يوې قاعدې په توګه ځان ته وټاکه او تل يې په ياد ساته.
ايمان د دې لپاره نه دی راغلی چې تر جوماتونو او مدرسو يې ځانګړی کړو او هلته دې بندي وي. اسلام د دې لپاره راغلی چې زموږ ټولنه منظمه کړي، زموږ اخلاق او چلند پاک کړي، مسلکي، اصولي او نېک يې کړي او په مرسته يې موږ سپيڅلی ژوند وکړو چې له مرګ وروسته ژوند مو هم سپيڅلی او بختور وي!
دين موږ ته وايي: تر هغې دې ايمان نه پوره کېږي چې له خلکو سره داسې رفتار وکړې کوم چې د ځان لپاره خوښوې.
د ښه مسلمان اوسېدو لپاره دا قاعده ځان ته وټاکه، هر کار چې کوې، له ځان سره دا فکر وکړه چې دا کار د ځان لپاره څه ډول غواړې، بيا يې همغسې وکړه.

١٢٤: متفق عليه

زما او ستا ټولنه له بده مرغه له منفي فکره کسانو ډکه ده. ملګرتیا یې پرېږده او ځان ته ښه ملګري وټاکه. داسې ملګري چې په پوهې او په ناپامۍ تا ته انرژي دربخښي.

درېیمه: د ځان لپاره چاپېریال بدل کړه، که دې دنده یا کاروبار سترې کوونکی وي، داسې وي چې زړه دې نه ورځي خو قدمونه دې کش کاږي، که امکان لري بدل یې کړه.

ځان ته داسې چاپېریال جوړ کړه چې زړه او قدمونه دې یو ځای ورځي.

اوسنی هر حالت چې ته یې لرې ترې راووځه، ځان سره یوه شېبه فکر وکړه، کوم هغه شی دی چې تا ځوروي؟ ستا حالت یې بد کړی.

د بدلون جدي اقدام یې وکړه.

## اندېښنه مه کوه

ډاډه اوسه د الله پاک له طرفه چې کومه دروازه درته خلاصه شوې وي، هېڅوك یې نه شي بندولی، یوازې د صبر امتحان کې ځان کامیاب کړه.

## د ایمان تله؛ څنګه خپل ایمان اندازه کړم؟

د ایمان د اندازه کولو معیار څه دی؟ څنګه کولای شم پوره ایمان ولرم یا کامل مؤمن شم؟ آیا ایمان مې قوي دی که ضعیف؟

رسول الله ﷺ د ایمان د اندازه کولو یوه ښه تله موږ ته راښودلې. راځئ په دې تله خپل ایمان وتلو:

ځواب تر لمر روښان دی: الله تعالی! ښه نو ستا ماغزه، معده، زړه او د بدن نظام چا فعال ساتلی او د چا په امر فعالیت کوي؟

ځواب: د الله سبحانه و تعالی.

کله چې الله تعالی لمر، سپوږمۍ، ټول کاینات او ستا وجود هر څه کنټرولوي او په ښه ډول یې تدبیر د کایناتو خالق پخپله نیسي، نو بیا ولې ځان په دې نه پوهوې چې ستا غیر اختیاري چارې هم د الله تعالی په واک کې دي؟

ستونزه دا ده چې موږ په خپل قاصر عقل یقین نه کوو او خپلې چارې مو الله تعالی ته پوره نه دي سپارلې.

هغه وخت ته راحت او آرام ژوند کولای شې چې په دې یقین وکړې چې په تقدیر کې لیکل شوي هر څه حتماً ترسره کیږي، ځکه باید ټول خپلې چارې الله تعالی ته وسپارو. که دا کار وکړې، ارام او له سعادت ډک ژوند به ولرې.

ته باید د توکل اسباب برابر کړې او باقي پر الله پاک توکل وکړې، که داسې وکړې ژوند به دې ورسره هوسا شي.

دویمه: چار چاپېر وګوره، کوم ملګري دې منفي فکره دي؟

آیا داسې ملګري لرې چې تل دې په غوږ کې له ناهیلۍ ډکې خبرې زمزمه کوي؟ تل درته وایي دا کار نه کېږي، ولا سخت دی، ته یې نه شې کولای، ته دا ستونزه لرې.

داسې ملګري بدل کړه، له دوی سره مه کښنه او هغه چا سره ملګرتیا کوه چې تا ته مثبته انرژي دربخښي.

عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ ، قَالَ: "كُنْتُ خَلْفَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا، فَقَالَ: «يَا غُلَامُ إِنِّي أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ، احْفَظِ اللَّهَ يَحْفَظْكَ، احْفَظِ اللَّهَ تَجِدْهُ تُجَاهَكَ، إِذَا سَأَلْتَ فَاسْأَلِ اللَّهَ، وَإِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللَّهِ، وَاعْلَمْ أَنَّ الأُمَّةَ لَوْ اجْتَمَعَتْ عَلَى أَنْ يَنْفَعُوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَنْفَعُوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللَّهُ لَكَ، وَلَوْ اجْتَمَعُوا عَلَى أَنْ يَضُرُّوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَضُرُّوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللَّهُ عَلَيْكَ، رُفِعَتِ الأَقْلَامُ وَجَفَّتْ الصُّحُفُ»[١٢٣]

ژباړه: له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چې ویلي یې دي، یوه ورځ په رسول الله ﷺ پسې روان وم نو یې راته وویل: اې ځوانه، څو کلیمې در زده کوم: الله پاک په یاد ساته هغه دې نه هېروي، الله پاک مه هېروه هر ځای به درسره وي، که څه غواړې یوازې یې له الله پاک نه غواړه او که مرستې ته دې اړتیا وه، یوازې یې له الله پاک څخه غواړه. او پوه شه چې که ټول اُمت راټول شي چې تا ته ګټه ورسوي، هېڅ ګټه به درته ونه شي رسولای؛ مګر دا چې د الله پاک خوښه وي یا یې درته دغه مرسته په تقدیر کې لیکلې وي او که ټول خلک راټول شي چې تاته تاوان واړوي، نه یې شي کولای؛ مګر دا چې الله پاک ستا لپاره تقدیر ټاکلی وي. قلمونه پورته شول او رنګونه وچ شول، یعنې دا هر څه چې شوي او کیږي تر قیامته لیکل شوي او هېڅ شی د الله له پریکړې وتلای نه شي.

دا کاینات، لمر، ځمکه، نورې سیارې، سمندرونه او نور مخلوق څوک کنټرولوي؟ او واک یې د چا په لاس کې دی؟

١٢٣: رواه الترمذي (٢٥١٦)، قال الترمذي رحمه الله : "هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ

## په ناپوهۍ د اسلام ضد دعوت

ځينې اسلامي دعوتگران نه پوهېږي چې دوی په ناپامۍ يا غير ارادي ډول د اسلام په ضد دعوت کوي.

خصوصاً د سخت مزاج او خشن اسلوب لرونکي دعوتگران چې ځان ورته په حقه او نور بې لارې ښکاري او خلکو ته سپک نظر کوي.

په متکبرانه ډول خلکو ته د هغوی د گناهونو پېغورونه ورکوي او په داسې انداز خبرې کوي لکه دی چې تر ټولو نېک انسان وي خو ټول خلک بيلارې او گنهگاران وي.

دا ډول چلند ددې پرځای چې خلک دين ته رانږدې کړي، فاصله پيدا کوي او له دينداري سره يې شوق کمېږي.

الله پاک موږ ته امر کړی چې په ښکلو خبرو او په حکمت خلک دين ته راوبولو. آن خپل پيغمبر ﷺ ته يې قران کې خطاب کړی چې که ته تند خويه او سخت زړی وای، صحابه به ستا له شاوخوا تللي وو.

## د سعادت، خوشحالۍ ترلاسه کولو عملي لار

په اوسني وخت کې له ډېرو کسانو په ځانگړې توگه له ځوانانو سعادت، خوشحالي، سکون يا آرامښت ورک شوي، ډېری انسانان د ژوند په هر امکان هڅه کوي چې دا نعمتونه بيا مومي، خو نه شي کېدای.

خو د دغه نعمتونو د موندلو لارې دا دي:

لومړی: په دې يقين ولرئ، هر هغه شی چې تاسې ته مقدر دی يعنې تقدير کې درته ټاکل شوی، هغه حتماً کيږي، که ته ځومره کوشش هم وکړې. نو يقين ولره چې ځينې کارونه تقديري وي.

الله پاک موسی علیه السلام ته وفرمایل، اې موسی! آیا ما ته دا مناسبه ده، چې د هغه دعا رد کړم په داسې حال کې چې دی زما څخه په ډېره عاجزۍ زما د صفاتو په یادولو د بخښنې غوښتنه کوي او رنې اوښکې تویوي. اې موسی! زه په خپل عزت قسم کوم! که دې ځوان د نړۍ د ټولو وګړو لپاره بخښنه غوښتې وای؛ ما به د دې ځوان د تواضع په خاطر دا ټول خلک بخښلي وو!

اې موسی! زه د غریب او بې وسه خلکو مرستندوی، دوست، طبیب، او پر داسې خلکو ډېر مهربان یم.

هغه ګناهګار ځوان، چې بې له ګناه څخه یې بل کار نه و زده، له هغه نه الله تعالی ولي جوړوي، هغه هم یوازې په یو وار توبه!؟

زموږ خالق ډېر مهربان او پوره رحم لرونکی دی، مګر موږ د دعا د غوښتلو په طریقه نه پوهېږو، که موږ په سمه توګه د الله تعالی څخه دعا وغواړو، هغه به راته ټول ګناهونه معاف کړي! یا الله سبحانه و تعالی مونږ ټول ستا ډېر ګناهګار بندګان یو، موږ ته هم بخښنه وکړه!

یادونه: که څه هم دا کیسه په کوم صحیح حدیث نه ده روایت شوې، خو محتوا یې تر یوه حده د ځینو مبارکو حدیثونو مصداق ده چې پر انسان د الله تعالی پراخه رحمت ښيي.

کله چې موسی علیه السلام دا اعلان وکړ، بې شمېره خلک له خپلو کورونو را ښکاره او د جنازې په ځای کې را غونډ شول، خلکو د مړي له مخ نه د پردې په لرې کولو مړی و پېژانده او موسی علیه السلام ته يې عرض وکړ چې اې د الله نبي دا خو هغه فاسق دی چې مونږ له کلي شړلی و، د دې خبرې په اورېدو موسی علیه السلام په تعجب شو، موسی علیه السلام چې کله مړي ته وکتل حیران شو او وې ویل چې دا خو رېښتیا همغه ګنهګار ځوان دی چې بې له ګناه څخه به يې ژوند نه شو کولای. آیا د ده په اړه الله تعالی ماته وحیه کړې؟ الله تعالی موسی علیه السلام ته بیا وفرمایل چې دا خلک رښتیا وایي!

کله چې خلکو دا ځوان له ښار څخه وشړلو، موده وروسته د یخوالي له امله دا ځوان ناروغ شو، نو يي ښي او کیڼ خوا ته په کتلو نه ملګری، نه کوم خپل او خپلوان تر نظر شول، د یوازېتوب، غربت او ذلت احساس يې وکړ او بیا يې وویل: "الهي! زه ستا له بندګانو څخه یو بنده یم، له ښار څخه شړل شوی یم، څوک مې په ښار کې د ژوند کولو لپاره نه پرېږدي. یا الله! که زه په دې پوهېدای چې هغه عذاب چې ته يې ما ته راکوې، ستا په ملکیت کې زیاتوالی رامنځ ته کوي یا هغه بخښنه چې ته يې ما بخښې، ستا په پادشاهي کې څه کمی راولي، نو ما به هېڅکله له تا د بخښنې غوښتنه نه وای کړې، خو زما ساتونکی او بخښونکی پرته له تا بل څوک نه دی، ځکه تا په خپله ویلي چې زه تر ټولو ډېر لوی بخښونکی او مهربان یم! بیا نو هیله کوم چې زما زړه مه را ماتوه!"

الله سبحانه و تعالی د انفال په سورت کې فرمايي:
﴿وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ﴾[122]
ژباړه: د خپلو دښمنانو پر وړاندې په ځواک او قوت سره تیاری ونیسئ.
انسان باید د ژوند په هر پړاو کې او د پېښو په هر بهیر کې ځواکمن او غښتلی وي. د اسلام غوښتنه دا ده چې اُمت یې تر ټولو زیات پیاوړی، عزتمن او سرلوړی وي.

## آیا ما ګنهګار به الله وبښي؟

په روایتونو کې راځي چې د موسی علیه السلام په زمانه کې یو ځوان و، ډېر زیات بدکار، ګنهګار او پر خپل ځان ظالم و.
د کلي خلکو نوموړی په ډېرې بې احترامۍ له ښاره په دې دلیل وشړلو چې هغه ځوان ډېر ګنهګار و او داسې نه چې د هغه له امله الله تعالی پر هغوی قهر نازل کړي.
هغه ځوان له هغه وروسته په یوه کنډواله کې ژوند پیل کړ. په دې ځای کې د هغه لپاره د خوراک او څښاک هېڅ نه و او نه یې کوم خپلوان و، بس یوازې یې ژوند کاوه.
یوه ورځ الله تعالی موسی علیه السلام ته وحیه وکړه چې زما له ولیانو څخه یو ولي وفات شوی دی؛ هلته لاړ شه، هغه ته غسل ورکړه، د جنازې لمونځ یې وکړه او په کلي کې اعلان وکړه چې که د هر چا ګناه ډېره زیاته وي او په دې جنازه کې ګډون وکړي؛ الله تعالی به یې ګناهونه ورته وبخښي.

---

۱۲۲: الأنفال، ٦٠ آیت

خوشبخت دی هغه انسان چې په دغه ډله کسانو کې وي. باور وکړئ سخته ده چې ارزښت يې بيان کړای شم. خلاصه دا چې سکون يا د زړه ډاډ د ژوند يو له مهمو نعمتونو څخه دی.

دا لوی نعمت څنګه ترلاسه کيدای شي؟

الله تعالی فرمايي:

﴿الَّذِينَ ءَامَنُوا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكْرِ اللَّهِ ۗ أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ﴾[120]

ژباړه: همدغه (د الله لوري ته ګرځېدونکي) خلك هغه کسان دي چې ايمان يې راوړی او د هغو زړونو ته د الله په ياد سره ډاډينه يا سکون ور په برخه کېږي. خبردار اوسئ! همدغه د الله ياد هغه شی دی چې زړونو ته ډاډ ور په برخه کوي.

## له ځوانانو د اسلام غوښتنه څه ده؟

اسلام په ښکاره ډول له ځوانانو غواړي چې غښتلي و اوسي. پياوړتيا او غښتلتيا په شخصيت جوړونه او د ژوند د سمون په برخو کې مهم ټکي دي او ځوانان بايد دغه مهم اصلونه په ځان کې پياوړي کړي.

خيرالبشر ﷺ فرمايي: «المؤمن القوی خير وأحب الی الله من المؤمن الضعيف»[121]

ژباړه: غښتلی مؤمن له کمزوري او کم وسه مؤمن څخه بهتر او د الله تعالی ډېر خوښ دی.

۱۲۰: الرعد، ۲۸ آيت

۱۲۱: رواه مسلم

مسلمان ځوان باید په ټولنه کې د مطالعې د کچې د لوړاوي او ددغه کلتور عامولو ته د خپلو پلانونو په لومړیتوبونو کې ځای ورکړي.
هم باید خپله په ورځني ډول د مطالعې لپاره یو ځانګړی وخت ولري او هم دې دغه زمینه نورو ته په ځانګړي ډول ښځو ته هم برابره کړي.
مورږ که غواړو په نړیواله کچه کلک دریځ او پېژندل شوی موقف او نړیوالو په کتار کې ځانګړی ځای ولرو، باید تر نورو امتونو ډېره زدکړه او مطالعه وکړو.
ځکه د سیالۍ په اوسني ډګر کې کمزوری انسان ځای نه لري او هغه څوک چې پیاوړی فکر او د هویت ځانګړنه لري د یو بشپړ او سم پلان له لارې یې هدف ته د رسېدو لاره هم لنډه ده.
په ټولنه کې ډېر داسې کسان پیدا کېږي چې په فلسفه، تاریخ، ساینس او نورو معاصرو علومو کې تخصص لري خو له بده مرغه چې له دین څخه ژوره پوهه نه لري. برعکس داسې کسان هم شته چې په ډېرو ابتدایي دیني زدکړو بسنه کوي او له ساینسي زدکړو سره مخالفت کوي، چې دا پخپله د ټولنې د کمزوري کولو عمده لامل کېږي.

## د الله تعالی نظام عجیب دی

مال، جمال، قوت او نور ډېر نعمتونه هر انسان ته ورکوي، خو فکري سکون او قلبي اطمینان یا ډاډ بیا په خپلو مؤمنو بنده ګانو لوروي.
دا د سکون یا زړه ډاډ په جدي اهمیت دلالت کوي او ښیي چې سکون د الله تعالی تر ټولو لویه لورینه ده.

او د اسلام صحيح فهم ته د رسېدو لپاره هم بايد له علمي لاسته راوړنو او د نورو علماوو له فکرونو خبر واوسو.
که په ټولنه کې په پوهه سمبال، مستعد، مصلح او له دين څخه صحيح فهم لرونکي کسان رامخته نه شي او مخکښ رول ونه لوبوي، ځای به يې ناپوهه خلکو خپل کړی وي.
هغوی چې لوست کوي او هغوی چې يې نه کوي، د ځمکې او آسمان فرق لري.
الله تعالی فرمايي:
﴿ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لاَ يَعْلَمُونَ﴾[۱۱۸]
ژباړه: آيا برابر دي هغه کسان چې پوهېږي او هغه کسان چې نه پوهېږي؟
په دغه حکم کې هغو کسانو ته هم اشاره ده چې د عبادت په پلمه يې د مطالعې او زده کړې لاره پرېښې او فکر کوي چې د ثواب يوازينۍ لاره عبادت دی او بس.
خو حضرت محمد ﷺ فرمايي: «د عالم لوړوالی پر عابد دومره دی لکه زما لوړوالی ستاسو تر ټولو پر کمزوري باندې»[۱۱۹]
د مطالعې نه کول د دې لامل هم کېږي چې مسلمانان تر ټولو وروسته پاتې او د دښمنانو په دام کې گير شي.
په دې ډول شرايطو کې مسلمان ځوانان بايد دغه گواښ او له امله يې پېښېدونکي زيانونه درک کړي او ويې پېژني.

۱۱۸: الزمر، ۹ آيت
۱۱۹: رواه الترمذي

دا ټولې هڅې د اسلامي اُمت د ویښتابه او په نړۍ کې د دوی د هویت د څرګندېدو لپاره کېږي.

خو زه او ته باید له ځانه وپوښتو چې موږ څه کړي؟

ځکه د څو کسانو زیار او هڅې کفایت نه کوي، باید هر مسلمان د خپل دین د خپرولو او ملاتړ لپاره نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړي او ځان مسؤل وګڼي.

که د اسلامي اُمت ځوان نسل له لوست او مطالعې نه لرې پاتې شي، دا ټولې هڅې بې ځایه ځي او دا طبیعي خبره ده چې پردی کلتور او باطل نظام پر اسلامي ټولنې واکمنیږي.

د کمې مطالعې ستونزه یوازې په ځوانانو او څو مسلمانو هېوادونو پورې نه ده محدوده، بلکې که عمومي کچه باندې پام ورته وشي، د مسلمانانو د مطالعې اوسط له غیر مسلمانو څو برابره ټیټ دی.

هغه دین چې پیل یې په لوست او مطالعې کېږي او ویاړ یې هم په همدې کې نغښتی دی، د پیروانو حالت یې اوس دې پولې ته رسېدلی دی چې د لوست په وروستۍ لیکه کې ولاړ دي او په خپل میراث او نړیوالو علمي لاسته راوړنو کې ځانګړې ونډه نه لري.

زموږ په ژوند کې لوست او مطالعه حیاتي اصلونه دي. پر دې باید پوه شو چې هر انسان که په هره علمي کچه (نبوغ، فوق الاستعداد، با استعداد...) کې اوسي، لوست او مطالعې ته اړتیا لري. د نویو علمي لاسته راوړنو لپاره کوښښونه او پر هغو پوهېدنه په اوسني وخت کې د ناپوهۍ له منځه تللو یوازینۍ لاره ده.

## زموږ د بدمرغيو اصلي لامل څه دی؟

له بده مرغه چې اسلامي اُمت خپل پخوانی برم او هيبت له دې کبله له لاسه ورکړی چې ليک او لوست ته يې شا کړې او د خپلو پخوانيو مخکښو علماوو لاسته راوړنې يې هېرې کړي.

تر دې چې د لوست او مطالعې د نه کولو له امله يې په نړۍ کې موقف کمزوری او له پامه غورځول شوی. د نننيو مسلمانانو د مطالعې کچه د دوی د رسالت او خپل اصلي حيثيت ترلاسه کولو لپاره بسنه نه کوي.

هغه څوک چې غواړي په نړۍ د ويلو لپاره څه ولري او د اسلامي رسالت درونډ پېټی پورته کړي؛ بايد په علمي او فکري ډګرونو کې تر نورو مخکې وي او تر هر چا ډېره مطالعه وکړي.

بايد په اسلامي او عصري علومو او ټکنالوژۍ برخه کې تر نورو امتونو پرمختګ وکړي او غښتلي وي. که داسې نه وي؛ نو له نورو ايډيالوژيو او فکرونو سره د سيالۍ او مقابلې ډګر کې به د اوس په شان همېشه وروسته پاتې او ناکام وي.

نننۍ نړۍ د ډول ډول ايډيالوژيو له کبله ځانګړې ده.

د کفر او باطلو عقيدو لپاره شپه او ورځ کار کيږي تر څو باطل پرسته پر نړۍ حاکم او واکمن وي. خو د دوی په مقابل کې مسلمانان هغسې هڅې او کار نه کوي چې له دوی يې تمه کيږي.

همدا لامل دی چې په ننی عصر کې باطل په ظاهرا برلاسی ښکاري.

الحمدلله ګڼ مسلمان علماء او مفکرين له اسلام څخه د غوره دفاع په خاطر بوخت دي او په نړيواله کچه هڅې کوي.

۷: هغه کس چې په يوازيتوب کې الله ياد کړي او له سترګو يې اوښکې وبهيږي.
الله تعالی دې موږ او تاسې د دغو اووه کسانو په ډله کې شامل کړي.

## شتمني يا بېوزلي د الله تعالی د محبت نښه نه ده

الله پاک قارون ته ډېر مال ورکړی و، خو دښمن يې و.
جليل القدر صحابي عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه ته يې پراخ مال ورکړی او د الله تعالی دوست و.
فرعون لوی مقام او ګڼ امکانات درلودل، خو د الله تعالی دښمن و.
سيلمان عليه السلام هم د ځمکې واکمن او د امکاناتو خاوند و خو د الله تعالی بنده او پيغمبر و.
دنيا او مالداري د الله تعالی د مينې يا د کرکې نښه نه ده.
رسول الله ﷺ فرمايلي: «لَوْ كَانَت الدُّنْيَا تَعْدِلُ عِنْدَ اللَّه جَنَاحَ بَعُوضَةٍ مَا سَقَى كَافِرًا مِنْها شَرْبَةَ مَاءٍ»[117]
ژباړه: که دنيا د الله تعالی پر وړاندې د مياشي د وزر په اندازه ارزښت لرلای؛ کافر به ترې څکه نه وه کړې.
يعنې که دنيا ارزښت لرلای، کافر به ترې د اوبو د يوه غوړپ په اندازه هم برخه نه وه ترلاسه کړې. ځکه کافر د الله پاک دښمن دی، نو دښمن خو له نعمته محروم وي. همدا د دنيا رېښتينی ارزښت دی.

117: رواه الترمذي، وَقالَ: حديثٌ حسنٌ صحيحٌ

## اووه ډله کسان به د عرش تر سیوري لاندې وي

ابو هريرة رضي الله عنه له خيرالبشر ﷺ نه روايت کړی:

«سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللَّهُ يَومَ القِيَامَةِ في ظِلِّهِ، يَومَ لا ظِلَّ إلَّا ظِلُّهُ: إمَامٌ عَادِلٌ، وَشَابٌّ نَشَأَ في عِبَادَةِ اللَّهِ، وَرَجُلٌ ذَكَرَ اللَّهَ في خَلَاءٍ فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ، وَرَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ في المَسْجِدِ، وَرَجُلَانِ تَحَابَّا في اللَّهِ، وَرَجُلٌ دَعَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ مَنْصِبٍ وَجَمَالٍ إلى نَفْسِهَا، قالَ: إنِّي أَخَافُ اللَّهَ، وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ فأخْفَاهَا حتَّى لا تَعْلَمَ شِمَالُهُ ما صَنَعَتْ يَمِينُهُ»[116]

ژباړه: د قيامت په ورځ به الله تعالی په اووه کسانو په داسې حال خپل سیوری وغوړوي په کومه ورځ چې به د هغه له سیوري څخه پرته بل هیڅ سیوری نه وي.

۱: عادل مشر

۲: هغه ځوان چې د الله په عبادت کې را لوی شوی وي.

۳: هغه سړی چې زړه یې له جوماتونو سره تړلی وي.

۴: هغه دوه کسان چې یوازې د الله پاک لپاره مینه کوي، د الله تعالی لپاره یو ځای کیږي او د الله عزوجل لپاره جدا کیږي.

۵: هغه کس چې یوه ښایسته او شتمنه مېرمن یې بد اخلاقۍ ته ور وبولي او هغه ترې انکار وکړي یا ورته ووایي چې زه له الله تعالی وېرېږم.

۶: هغه څوک چې صدقه او خیرات په ښي لاس ورکړي، خو چپ لاس یې پرې خبر نه شي.

۱۱۶: متفق عليه

## تر ټولو لویه بدبختي څه ده؟

د انسان لپاره تر تولو لویه بدبختي دا ده چې دی مړ شي خو ګناهونه یې ژوندي وي .

ښه بېلګه یې هغوی دي چې په ټولنیزو شبکو کې غیر اخلاقي او ناروا ویډیوګانې او انځورونه خپروي. دوی له دنیا لاړ شي، خو د دوی په لاسونو خپاره شوي شیان نور کسان لاس په لاس کوي او عذاب یې د دوی ترڅنګ اصلي خپروونکي ته هم رسیږي؟ همغوی ته چې نشر کړي یې دي یا هغوی ته چې لاس په لاس کوي یې او ټول پکې له ګناه خپله برخه ترلاسه کوي.

الله تعالی داسې خلکو ته سخت ګواښ کړی .

﴿إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ۚ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴾[115]

ژباړه: کوم کسان چې د مؤمنانو په منځ کې فحشاء خپرول خوښوي، دوی لره په دنیا او آخرت کې دردناك عذاب دی. الله پوهېږي او تاسې نه پوهېږئ.

والله دا لوی ناورین دی.ځینې خلک دا کارونه د دې لپاره کوي چې نور خوشحاله کړي یا یې ساعت تېر شي.

خو له دې غافل دي چې دا څو لایکونه کمنټونه به څه ګټه وکړي؟ که یې په دې نیت کوي چې د خلکو ساعت تېر شي، د خلکو به ساعت تېر شي خو د هغه ګټه پکې څه ده؟

دا ددې ارزښت لري چې ځان د دردناک عذاب مستحق کړې؟

---

۱۱۵: النور، ۱۹ آیت

۴ -علمي پیاوړتیا

مسلمان ځوانان د ژوند په نورو برخو کې د پیاوړتیا تر څنګ د علم په ډګر کې هم باید تر نورو مخکښ، خلاق او نوښتګر وي.

۵ - دعوت او سیاسي برخه کې پیاوړتیا

د مسلمانانو اوسنیو بدمرغیو او ځینو فاسدو نظامونو ته په پام سره د ځوانانو مسوولیت دی څو د اسلام په خپرولو او پلي کولو کې کوټلي ګامونه واخلي. د ټولنې، ملت او هېواد ستونزې درک کړي او د حل لارې ورته ولټوي او په دې برخه کې خپله وجیبه اداء کړي.

٦ -جسمي پیاوړتیا

اسلام لکه څنګه چې په معنوي برخه کې د مسلمانانو پر پیاوړتیا ټینګار کوي همدارنګه پر جسمي پیاوړتیا او روغتیا هم ټینګار کوي.

اسلام سست او ناتوانه انسان ته اړتیا نه لري او که مسلمان ځوان خپلې بدنې روزنې ته پاملرنه ونه کړي خپل دین ته ګټه نه شي رسولی. دې ته په کتو د ځوانانو وجیبه او مسوولیت دی چې د خپل دین خدمت وکړي، پرې وویاړي، ګټې یې په پام کې ونیسي، خپلې معنوي او جسمي پیاوړتیا ته په کلکه پام وکړي، په ځان کې کمزوري ټکي له منځه یوسي او له وخت څخه سالمه ګټه پورته کړي.

ځکه الله پاک له انسان څخه د ځوانۍ د پړاو پوښتنه کوي، چې ځواني یې څنګه او په څه ډول تېره کړه او د الله پاک حساب په رښتیا ډېره سخته ده.

۱ - د ایمان پیاوړتیا

کله چې د انسان ایمان کمزوری وي، په دې معنی چې هرڅه یې کمزوري دي، ځکه د ټولو چارو سرچینه ایمان دی. کله چې سرچینه کمزورې وي، باقي چارې څنګه پیاوړې کېدای شي؟

۲ - په دین ویاړ

مسلمان ځوان باید پر خپل دین باندې وویاړي او د خپل دین د ویاړونو په اډانه کې پیاوړی وي. لکه څرنګه چې جعفر بن أبي طالب رضي الله عنه د حبشې له پاچا سره په خبرو کې په خپل دین ویاړ کړی و.

لکه څرنګه چې ربعي بن عامر د وخت د لوی طاغوت (رستم فارسي) په مخکې درېدلی و او په ډېر جرأت سره یې د الله پاک د دین ارزښت ورښودلی و.

همداسې عز بن عبدالسلام چې د مصر د پاچا (ایوب) په مخکې خپل سر نه ټیټوي او حق وینا ورته کوي.

په نننۍ عصر کې هم موږ ځیني ځوان پیاوړي علماء لرو چې د لویو قدرتونو پر وړاندې په ډېره څرګنده خپله خبره کوي او له الله تعالی پرته له بل چا ویره نه لري.

۳ - اخلاقي پیاوړتیا

مسلمان ځوان باید د خپل عزت، عفت او امانت په ساتلو کې غښتلی او ربښتینی وي، د خپلو مسلمانانو ورونو پر وړاندې ډېر نرم او د دین د دښمنانو په مقابل کې سخت وي.

له خپلو مسلمانو ورونو سره باید مرسته کوونکی، رحم کوونکی او له تیروتنو تیرېدونکی وي.

رښتینې اتلولي دا ده چې په آزموینه کې بریالي شوو.
الله تعالی فرمايي: ﴿وَإِنْ كُنَّا لَمُبْتَلِينَ﴾[114]
ژباړه: او هرو مرو موږ تاسې آزمايوو.
ابتلا يا امتحان زموږ د پیداکولو لامل دی. که آزمایښت نه وای؛ ملایکې او نور مخلوقات بس وو چې د الله پاک عبادت وکړي.
اتلولي دا نه ده چې له امتحان څخه بچ شې، بلکې پکې بریالی شې.
الله تعالی موږ د مال په راکولو یا د مال په اخیستلو امتحانوي.
مېړه له ښځې او مېرمن له مېړه سره په اړیکه او چلند کې د ناخوالو له امله ازمویل کیږي چې صبر کوي او که نه. که ښه ژوند ولري هم امتحانیږي چې ایا د الله پاک شکر ادا کوي او که نه.
په ښه اولادونو یا په بدو، سخت یا خوشاله ژوند، ښه مقام یا ټیټ منصب، په قوت او ضعف، په فقر او شتمني او بل هر حالت کې انسان ازمویل کیږي.
باید په دې آزموینو کې بریالي شوو چې په دنیا او آخرت کې هم بریا ترلاسه کړو. باید د الله تعالی په امتحان کې ځانونه بریالي کړو.

## څنګه پیاوړي کېدای شو؟

زموږ ځوانان باید د اسلامي اُمت د تېرو شوو صالحو علماوو پر پل، قدم کېږدي او له هغو دې زده کړي چې د ژوند په کومو اړخونو کې څومره پیاوړي وو؟
له هغو څخه لاندې ټکي د بېلګې په توګه یادوم:

---

۱۱٤: المؤمنون، ۳۰ آیت

الله تعالی فرمايلي:
﴿الشَّيْطَانُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُم بِالْفَحْشَاءِ ۖ وَاللَّهُ يَعِدُكُم مَّغْفِرَةً مِّنْهُ وَفَضْلًا ۗ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ﴾[۱۱۳]

ژباړه: شيطان تاسې له بېوزلۍ نه وېروي او شرمناك چلن غوره کولو ته مو هڅوي، خو الله خپل بخشش او پېرزوينې ته تاسې هيله من کوي، الله د ډېر پراخ لاس خاوند او پوه دی.

د الله تعالی او د هغه د بندګانو تر ټولو لوی دښمن شيطان دی.

قسم يې کړی چې تر قيامته به انسانان بې لارې کوي او خپله دښمني به ورسره پالي. دا هغه شوم مخلوق او نامرده دښمن دی، چې انسان د تباهۍ کندې ته ورټېل وهي، بيا ورته وايي چې زه له تا بېزاره يم. د دې لپاره چې موږ تاسې ددغه مکار او کمزوري دښمن په لومه کې ګير نه شو، بايد پورته صفاتو ښخه ځان وساتو تر څو د شيطان ملګرتيا مو په ناپامۍ نه وي کړې.

## په دنيا کې هر شی ختمېدونکی دی

يوه پاچا خپل وزير ته وويل داسې يوه خبره راته وکړه چې زما خوشحالي په خپګان او خپګان په خوشحالي بدل کړي.

هغه ورته وويل: هر حالت ختمېدونکی دی!

يعنې هېڅ شی دوام نه کوي، که خپګان وي، که خوشحالي وي، که مال وي، که قوت وي او که بل هر هغه څه وي چې موږ تاسې پرې تکيه کړې.

---

۱۱۳: البقرة، ۲٦۸ آيت

ژباړه: د منافقانو او کافرانو) مثال د هغه شیطان دی چې هغه لومړی انسان ته وایي کافر شه، کله چې کافر شي بیا ورته وایي چې زه له تا بېزاره یم، زه له الله تعالی ډارېږم چې پالونکی د عالمیانو دی.

په بل مبارک آیت کې الله تعالی فرمايي:

﴿وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا رَبَّنَآ أَرِنَا الَّذَيْنِ أَضَلَّانَا مِنَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ نَجْعَلْهُمَا تَحْتَ أَقْدَامِنَا لِيَكُونَا مِنَ الْأَسْفَلِينَ﴾[111]

ژباړه: کافران به ووايي: اې زموږ ربه! وښایه موږ ته هغه پیري او انسانان چې موږ یې بې لارې کړو، چې موږ دوی تر خپلو پښو لاندې کړو چې د دوزخ د کندې خاوندان شي.

څلورمه ډله: د شیطان د ملګرو څلورمه ډله مبذرین دي.

مبذرین هغوی دي چې خپل مال بې ځایه لګوي یا فضول خرچې کوي او خپل مال له ګناه په ډکو کارونو لګوي یا په دې برخه کې پانګونه کوي. دوی په حقیقت کې د شیطان ورونه دي.

الله تعالی یې په اړه فرمايي:

﴿إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوٓا إِخْوَٰنَ الشَّيَٰطِينِ ۖ وَكَانَ الشَّيْطَٰنُ لِرَبِّهِۦ كَفُورًا﴾[112]

ژباړه: بې ځایه لګښت کوونکي د شیطانانو ورونه دي او شیطان د خپل رب ناشکره یا کافر دی.

دې آیت ته پوره پام وکړئ، هغوی چې په بې ځایه او له ګناه ډکو کارونو باندې پانګونه کوي یا پرې لګښت کوي، د دوی پایله فقر دی. انجام کې به دوی بېوزله شي. که څه هم لنډه موده دوی مالداره وي.

۱۱۱: فصلت، ۲۹ آیت

۱۱۲: الإسراء، ۲۷ آیت

د شیطان د ملګرو دویمه ډله: دا هغه خلک دي چې له علم پرته د الله تعالی په اړه له خلکو سره شخړه کوي. یا بې علمه د الله تعالی په اړه بحثونه یا جدل کوي. جدل د عادي خبرو برعکس شخړې ته وايي.
ډېرى داسې کسان به مو لیدلي وي چې کافي علم یا پوهه نه لري خو داسې بحثونه کوي لکه مفتیان ان ځینې خو له ځانه فتوا هم ورکوي.
د دوی په اړه الله تعالی فرمايي:
﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُجَادِلُ فِي اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّبِعُ كُلَّ شَيْطَانٍ مَرِيدٍ﴾[١٠٨]
ژباړه: ځینې خلک بې علمه د الله تعالی په اړه جدل یا بحثونه کوي او دوی د هر سرکښ شیطان پیروي کوي.
په بل مبارک آیت کې خالق عزوجل فرمايي:
﴿وَإِنَّ الشَّيٰطِينَ لَيُوحُونَ إِلىٰٓ أَوْلِيَآئِهِمْ لِيُجٰدِلُوكُمْ ۖ﴾[١٠٩]
ژباړه: شیطانان د خپلو ملګرو په زړونو کې شکونه او وسوسه اچوي چې له تاسې سره شخړه وکړي.
دریيمه ډله: د شیطان د ملګرو دریيمه او تر ټولو مشهوره ډله کافران یا منافقان دي.
د دوی په اړه الله تعالی فرمايي:
﴿كَمَثَلِ الشَّيْطٰنِ إِذْ قَالَ لِلْإِنسٰنِ اكْفُرْ فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ إِنِّى بَرِىٓءٌ مِّنكَ إِنِّىٓ أَخَافُ اللَّهَ رَبَّ الْعٰلَمِينَ﴾[١١٠]

---

١٠٨: حج، ٣ آیت
١٠٩: الأنعام، ١٢١ آیت
١١٠: الحشر، ١٦ آیت

څوک چې په الله تعالی توکل وکړي، الله سبحانه و تعالی ورته بس دی؛ نو د خلکو دروازې مه ټکوئ، د الله تعالی دروازه وټکوئ؛ ځکه چې هغه خلک هم الله تعالی پیداکړي او تاسو هم، خو ځان الله تعالی ته نږدې کړئ چې مستقیم له الله تعالی هر څه غواړئ.

## د شیطان ملګري

ملګرتیا هغه وخت ګټوره وي چې دواړه اړخونه ترې ګټه واخلي او د ښېرازۍ لامل شي. خو د انسان او شیطان ترمنځ په ملګرتیا کې یوازینی تاوان انسان کوي. شیطان نه یوازې دا چې تاوان نه کوي بلکې هغه هدف ته رسیږي چې د انسان د بیلاري کولو لپاره یې لري.
له شیطان سره ملګرتیا څه ده؟
﴿وَمَنْ يَكُنِ الشَّيْطَانُ لَهُ قَرِينًا فَسَاءَ قَرِينًا﴾[١٠٦]
ژباړه: د چا چې شیطان ملګری شي، د هغه بده ملګرتیا په برخه شوه.
د شیطان ملګري، لارویان یا اتباع الشیطان څوک دي؟
د شیطان د ملګرو لومړۍ ډله: په دې ډله کې هغه کسان دي چې د الله تعالی له کتاب یا عبادت څخه غافل وي.
د دوی په اړه الله تعالی فرمایي:
﴿وَ مَنْ يَعْشُ عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمٰنِ نُقَيِّضْ لَهُ شَيْطَاناً فَهُوَ لَهُ قَرِينٌ ﴾[١٠٧]
ژباړه: څوک چې د رحمن پروردګار له عبادت یا ذکر څخه ځان غافل کړي؛ موږ پر هغه شیطان برلاسی کوو او هغه یې ملګری کیږي.

---

١٠٦: النساء، ٣٨ آیت

١٠٧: زخرف، ٣٦ آیت

یوه خبره په یاد ولره او په ذهن کې یې ساته، کومه خوله چې د روزي د خوړلو لپاره الله تعالی هر انسان ته ورکړې، روزي یې هم الله تعالی ورکوي.

له انسانانو مه ډارېږه او ډاډه اوسه، ځکه الله تعالی لرو.

﴿فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ فَارِقُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ وَأَشْهِدُوا ذَوَيْ عَدْلٍ مِنْكُمْ وَأَقِيمُوا الشَّهَادَةَ لِلَّهِ ۚ ذَٰلِكُمْ يُوعَظُ بِهِ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۚ وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا ﴿٢﴾ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ۚ وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ ۚ إِنَّ اللَّهَ بَالِغُ أَمْرِهِ ۚ قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا﴾[١٠٥]

ژباړه: بیا چې کله د هغو د (عدت) موده پای ته ورسیږي نو هغوی په ښه توګه (خپله نکاح کې) وساتئ، یا په ښه توګه ترې جدا شئ. او دوه داسې کسان شاهدان ونیسئ چې له تاسې نه د عدل خاوندان وي او (اې شاهدانو) شاهدي سمه صحیح د الله لپاره ادا کړئ، دغه خبرې دي چې د هغو تاسو ته نصیحت کېږي او هر هغه چا ته چې په الله او د آخرت په ورځ ایمان ولري. څوك چې له الله څخه یره ولري، الله به هغه لپاره له ستونزو د وتلو کومه لاره پیدا کړي او هغه ته به له داسې لارې روزي ورکړي چې هغه لوري ته د هغه ګومان هم نه رسیږي. څوك چې پر الله توکل وکړي، د هغه لپاره هغه کافي دی. الله د خپل کار پوره کوونکی دی. الله د هر شي لپاره یوه اندازه ټاکلې ده.

١٠٥: الطلاق، ٢ او ٣ آیتونه

یوه ورځ دی له خپلو وزیرانو او نورو خلکو سره ناست و چې یو کس ورته غږ وکړ چې اې ایوبه! خلک وارخطا او حیران شول چې دا څوک دی چې پاچا په دومره سپک نوم یادوي؟

کله چې هغه کس راغی، د وخت عالم عز بن عبدالسلام و. ده ایوب ته ویل چې اې ایوبه؟ ته څنګه په داسې ځای کې ناست یې او شان او شوکت دې جوړ کړی، خو په فلاني ځای کې خلک شراب څښي؟

پاچا په ډېر احترام ځواب ورکړ چې زه دا ستونزه حلوم ته اندېښنه مه کوه. څو شېبې وروسته عالم بېرته په خپله مخه لاړ او یو کس ورپسې لاړ. په لار کې یې ترې پوښتنه وکړه چې په الله تعالی تا ته قسم درکوم څنګه د پاچا په مقابل کې په داسې جرأت باندې ودرېدې او داسې دې ورته وویل؟ په داسې حال کې چې هلته خلک پاچا ته ډېر احترام کوي او دی لوی شان او شوکت لري.

عالم ورته وویل چې اې زویه والله د الله تعالی لویي مې په پام کې وه او دی راته خس غوندې هم ښکاره نه شو.

څوک چې د الله تعالی لویي پام کې ونیسي، له هېڅ شي نه ډارېږي. له خلکو سره ښه چلند او احترام یوې خوا ته. هر څوک په خپل زړه کې پوهېږي چې یو کس ته احترام کوي که چاپلوسي؟

پیغمبر ﷺ چې کله د روم مشر هرقل ته لیک ولېږه نو ورته ویې ولیکل: "الی هرقل عظیم الروم".

نو احترام، متقابل عمل او نېک چلند ټول په یوه ځای کې بېلې خبرې دي، خو چاپلوسي او له خلکو نه ډار بېله مسئله ده.

د قرآن کریم تګلاره دا ده چې کله د الله تعالی یو صفت یادوي، سم لاسي یو بل صفت هم یادوي.
کله چې الله تعالی غالب او برلاسی یادوي ورپسې یې حکیم یادوي.
ځکه الله تعالی خپل غالب والی او قوت په ډېر حکمت کاروي.
موږ هره ورځ د پنځه وخته لمونځ په هر رکعت کې څو وارې الله اکبر وایو، خو کله دې فکر کړی چې الله اکبر څه معنی؟
الله اکبر: یعنې الله تعالی تر هر چا او هر څه لوی دی، تر هر هغه څه چې په ځمکه او آسمانونو کې دي.
نو بیا ولې دغه خبره ستا زړه ته لار نه کوي؟
موږ او تاسې ډېر داسې کسان وینو چې الله اکبر وایي، خو عملونه یې ښیي چې یقین پرې نه لري.
کله چې موږ وایو الله پر هر څه لوی دی خو باید یقین پرې وکړو.
تاسې به داسې انسانان کتلي وي چې ټوله تمه یې له انسانانو وي.
د دفتر او کار مشرانو، وزیر، والي او نورو چارواکو ته به داسې ټېټ او پاس کېږي ته به وایې روزي همدوی ورکوي! داسې نه ده، د دوی ټولو په سر باندې قدرتمن الله پاک دی.
انسان د بل انسان په ګټه هېڅ نه شي کولای، الا ما شاءالله. که مو په خپل زړه او نفس کې دا خبره ځای کړه چې الله پاک تر هر چا او هر څه لوی دی او په دې مو پوره یقین وکړ، په پایله کې به ډاډ، عزت او شجاعت او د الله تعالی مرسته ترلاسه کړئ.
په یوه کیسه کې راځي چې د ایوبي دولت خلکو به پاچا صالح ایوب په ګڼو القابو لکه جلالت مآب، فضیلت مآب او نورو یادولو.

## د ویرې او کمزورۍ علاج

آیا په ژوند کې له خلکو، ستونزو، کړاوونو او نورو حالاتو ډارېږئ؟
که ځواب مو هو وي حل لاره يې آسانه ده.

هر هغه څوک چې د الله تعالی په اسماء الحسنی کاملاً یقین او باور ولري، دی به له هېڅ شي ونه ډارېږي. ولې باید وډار شي؟ الله تعالی ځان ته داسې سپیڅلي صفات ټاکلي دي چې ستونزې مشکلات او هر څه په دې دنیا کې چاپېروي.

کله چې وېره، وهم او نورې ستونزې پر انسان برلاسې شي او انسان چاپېر کړي او دغه انسان له ځان سره ووايي چې زه الله پاک لرم هغه په هر څه قادر دی، په دنیا او آسمانونو کې هر څه د هغه تر حکم لاندې دي، وېرې او اندېښنه او ستونزې انسان پرېږدي.

ځکه دغه وېرې ستونزې هر څه چې دي، د الله تعالی په مقابل کې هېڅ دي، نو بیا ولې وېره؟

د الله پاک د صفاتو په یادولو باندې زړونه ډاډه کېږي او انسان قوت او شجاعت تر لاسه کوي.

هغه څه چې ما له ایمان او اسلامي عقیدې زده کړي دي او هغه ایمان چې ما په خپل زړه او نفس کې کرلی دی دا ډاډ راکوي چې...

زه له الله تعالی پرته له بل هېچا څخه نه ډارېږم بلکې یوازې له الله تعالی څخه ډارېږم، ځکه الله تعالی په هر څه غالب دی او دا ټولې ستونزې الله سبحانه و تعالی پیدا کړي او هغه يې لرې کوای او کمولای شي.

## تر هر څه مخکې الله تعالی راضي کړه

تر هر څه مخکې د الله تعالی او د هغه د رسول ﷺ د راضي کولو هڅه کوه. د حساب په ورځ که میلیاردونه او تر دې ډېر انسانان ستا پلوي او دفاع وکړي؛ د نخود قدرې ګټه هم درته نه شي رسولی. الله تعالی تر هر څه مستحق دی چې راضي کړای شي. که انسانان له تاسې راضي کېږي او که خفه کېږي، که مو ښوک ستاینه کوي او که مو بد یادوي، دا هر څه باید د الله تعالی په راضي ساتلو کې ستاسې د پرمختګ مخنیوی ونه کړي.

تل ځان ته دا مبارک آیت یادوئ :

﴿وَاللَّهُ وَرَسُولُهُ أَحَقُّ أَنْ يُرْضُوهُ إِنْ كَانُوا مُؤْمِنِينَ﴾[١٠٣]

ژباړه: الله تعالی او د هغه رسول د دې زیات وړ دي چې راضي کړل شي که چېرته دوی ایمان راوړی وي.

په حدیث شریف کې راځي:

«من التَمَسَ رِضا اللهِ بِسَخَطِ النَّاسِ کفاهُ الله مُؤنَةَ الناسِ، و من التَمَسَ رِضا الناسِ بسخطِ اللهِ وَکلَهُ اللهُ الی الناسِ»[١٠٤]

زپاړه: څا چې د الله تعالی د راضي ساتلو لپاره د خلکو د غوسې پروا ونه کړه، الله تعالی به یې د خلکو له شر او ضرر څخه وساتي او څا چې د خلکو د غوسې له ډاره د الله تعالی د ناراضه کېدو پروا ونه کړه الله تعالی به یې خلکو ته وسپاري.

---

١٠٣: التوبه، ٦٢ آیت

١٠٤: رواه الترمذي

آیا تاسې له قرآن سره ورځنۍ اشنایي لرئ؟ هره ورځ لوستل مو يې عادت دی؟ دا تجربه وکړئ ژوند به مو بختور شي.

هره ورځ سهار کمه اندازه قرآنکریم لوستلو باندې ځان عادت کړئ ان شاء الله چې د ژوند ډېرې ناخوالې به مو ورکې او ژوند به مو بدل شي.

دا هر څه به د سر په سترګو ووینئ.

دا کتاب تر هر هغه څه چې تاسې فکر کوئ، ډېر برکتي او ځواکمن دی ځکه دا د الله تعالی کلام دی، له برکتونو ډک او نېکمرغیو.

که لوستل يې درباندې بوج وي، پوه شئ، شیطان او ستاسې ګناهونو درباندې د دې عظیم کتاب لوستل درانه کړي، خو آسانه ده چې دا خنډ مات کړئ، په ټینګه هوډ وکړئ چې هره ورځ به يې لولم، حتماً يې لولم، په څو ورځو کې به مو زړه له سختۍ موم غوندې نرم شي او په دنیا او آخرت کې به مو دا کتاب مل وي.

د انسان غوږونه تر قرآن کریم هاخوا ښکلې کلمې نه شي اورېدلي.

د نابغه قاریانو لکه برکت الله سلیم، عبدالباسط عبدالصمد، صدیق المنشاوي، مصطفی اسماعیل، محمد رعد الکردي، عبدالله الموسی، خالد الجلیل، بندر بلیلة، هزاع البلوشي او ګڼو نورو قاریانو په جادويي غږونو همېشه تلاوت اورئ، ژوند به مو ورسره خوندور وي.

ورسره به مو زړه له سکونه ډک شي، هغه سکون چې په میلیاردونو پیسو نه شي ترلاسه کېدای، یوازې دا سکون د الله تعالی کتاب په لوستو او اورېدلو ترلاسه کېدای شي! یوازې د الله تعالی په کتاب!

## د ملګرتيا او ورورلۍ معيارونه

ډېر خلک د ورورۍ دعوه کوي، درته وايي د الله تعالی لپاره مې له تا سره وروري ده، خو پوهېږئ د الله تعالی لپاره د ملګرتيا معيار څه دی؟

هغه دا چې د خپل ملګري په ليدو تا ته الله تعالی در ياد شي.

يعنې هغه ديندار وي او چې کله ورسره ملاقات کوې مجلس مو ټول د خير او دين په اړه وي نه ده د غيبت او بې ځايه خبرو په اړه.

او چې کله يې له ملاقاته ستنيږې، ستا په پوهه او معلوماتو کې زياتوالی راغلی وي.

چې کله هغه په تا کې کوم عيب ويني، نصيحت درته کوي او مرسته دې کوي او که تېروتنه دې ويني، رسوا کوي دې نه او پرده درباندې اچوي.

چې کله دې په کوم نېک کار ويني لاسنيوی او مرسته دې وکړي.

او په سختيو کې ترڅنګ ولاړ وي او حوصله درکړي.

## دا عادت به دې په رښتيا ژوند بدل کړي

هغه کتاب چې الله تعالی د دنيا د بدلون لپاره نازل کړی، د محمد ﷺ اوسنيو اُمتيانو له ډلې ګڼو ترې مخ اړولی او د دنيا پخاطر يې هېر کړی دی. دوی يې پر مړو لولي چې په آسانۍ ترې ساه وځي.

چې قرآن يې په ژوند نه وي تلاوت کړی، څنګه به د مړينې پر وخت ورسره مرسته وکړي؟

هغه ژوند کې چې قرآن کريم ځای ونه لري، ژوند يې هم عبث دی او مړينه يې هم.

ژباړه: او ما په هغه ورځ مه رسوا کوه چې کله ټول خلك ژوندي پاڅول شي.

﴿يَوْمَ لَا يَنْفَعُ مَالٌ وَلَا بَنُونَ﴾

ژباړه: کله چې نه مال څه ګټه ورسوي او نه اولاد.

﴿إِلَّا مَنْ أَتَى اللَّهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ﴾[101]

مګر دا چې څوك له سالم (سپېڅلي) زړه سره الله پاک ته ورغلی وي!

دويمه د فرعون د مېرمنې دعا ده:

د فرعون مېرمنې آسيې چې کومه دعا کړې، په قرآن کريم کې يې يادونه په دې دلالت کوي چې الله تعالی دا خوښوي او قبلوي يې.

په دنيا کې يو ښکلی کور درلودل د هرې کورنۍ ارمان وي، خو په آخرت او جنت کې د ماڼۍ جوړولو فکر له کمو خلکو سره وي.

راځئ د دنيا تر څنګ د آخرت لپاره هم پانګونه وکړو او په وړيا توګه پکې کور جوړ کړو. يوازې د دې دعا په ويلو:

﴿رَبِّ ابْنِ لِي عِنْدَكَ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ وَنَجِّنِي مِنْ فِرْعَوْنَ وَعَمَلِهِ وَنَجِّنِي مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ﴾[102]

ژباړه: اې زما ربه! زما لپاره په جنت کې يو کور جوړ کړه او ما د فرعون او د هغه له عمل نه وژغوره او له ظالم قوم نه ما بچ کړه.

---

۱۰۱: الشعراء، له ۸۳ تر ۸۹ آيتونه

۱۰۲: التحريم ۱۱ آيت

هغه کسان چې خلکو (منافقینو) ورته وویل: ستاسې پر خلاف لویې لښکرې راغونډې شوې دي نو له هغوی څخه وویرېږئ، د دې په اورېدو (د مسلمانانو) ایمان نور هم پیاوړی شو او ځواب یې ورکړ (منافقانو ته) چې زموږ لپاره الله کافي دی او همغه ډېر ښه کار جوړوونکی دی. په پای کې هغوی د الله تعالی له نعمت او لورینې سره بیرته ستانه شول او هېڅ ډول زیان هم ورته ونه رسېدو او د الله تعالی له خوښې سره سم یې د تګ کولو مرته هم وموندله، الله ډېر ستر لوروونکی دی.

نو ته هم چې کله ډارېدې، له ضرر یا کومې ستونزې سره مخامخ وې، همدغه دعاګانې بار بار تکراروه تر هغې چې زړه دې ډاډه شي.

د دنیایي دعاګانو ترڅنګ دوه قراني دعاګانې دي چې د آخرت یا جنت ګټلو لپاره یې باید وکړو.

لومړی دعا دابراهیم علیه السلام او دویمه د فرعون د مېرمنې ده.

لومړی هغه د الشعراء په څو ایتونو کې الله پاک ذکر کړې:

﴿رَبِّ هَبْ لِي حُكْمًا وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ﴾

ژباړه: پروردګاره! ما ته حکم را وښایه او ما له نېکانو سره یو ځای کړه.

﴿وَاجْعَلْ لِي لِسَانَ صِدْقٍ فِي الْآخِرِينَ﴾

ژباړه: او په وروستیو نسلونو کې ریښتیانی نومیالیتوب را په برخه کړه.

﴿وَاجْعَلْنِي مِنْ وَرَثَةِ جَنَّةِ النَّعِيمِ﴾

ژباړه: او ما له نعمتونو څخه د ډک جنت نعیم له وارثانو څخه وګرځوه.

﴿وَلَا تُخْزِنِي يَوْمَ يُبْعَثُونَ﴾

صحیح بخاري کې امام بخاري له ابن عباس رضي الله عنهما روایت کړی، کله چې د ابراهیم علیه السلام قوم هغه اور ته غورځاوه، نو ابراهیم علیه السلام دا دعا ویلې وه: "حَسْبِيَ اللَّهُ وَ نِعمَ الوَكِيل"[٩٨]
ورته دعا قرآن کریم کې الله پاک د رسول الله ﷺ او صحابه وو په اړه هم ذکر کړې.
کله چې له احد غزا نه وروسته رسول الله ﷺ او صحابه وو رضي الله عنهم د حمراء الأسد عزا ته چمتوالی نیوه، نو ځینې منافقینو د دوی په زړونو کې ویره اچوله چې مشرکینو په مکه کې یو لوی لښکر جوړ کړی چې ماتول یې ناشوني دي، خو په ځواب کې د مسلمانانو ایمان او جذبه لا پیاوړې شوه او همدا یې ویل: ﴿حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ﴾[٩٩]
الله پاک په دې اړه فرمايي:
﴿الَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِلَّهِ وَالرَّسُولِ مِنْ بَعْدِ مَا أَصَابَهُمُ الْقَرْحُ ۚ لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا مِنْهُمْ وَاتَّقَوْا أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿١٧٢﴾ الَّذِينَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَانًا وَقَالُوا حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ ﴿١٧٣﴾ فَانْقَلَبُوا بِنِعْمَةٍ مِنَ اللَّهِ وَفَضْلٍ لَمْ يَمْسَسْهُمْ سُوءٌ وَاتَّبَعُوا رِضْوَانَ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَظِيمٍ﴾[١٠٠]
ژباړه: کومو کسانو چې (په احد غزا کې) له ټپي کېدو وروسته هم د الله او د پیغمبر ﷺ بلنې ته لبیک ووایه، په هغو کې چې کوم نېکو کاران دي، د هغوی لپاره ستر اجر دی.

٩٨: صحیح البخاري (٤٥٦٤)
٩٩: آل عمران، ١٧٣ آیت
١٠٠: آل عمران، ١٧٢، ١٧٣ او ١٧٤ آیتونه

۷: په ټولنه کې د ځانګړي مقام د ترلاسه کولو دعا:
که غواړئ چې د خلکو تر منځ قدر، ځانګړی مقام او واک ولرې، تل دا دعا کوه:
﴿أَمَّنْ يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوءَ﴾[۹۵]
ژباړه: هغه څوك دی چې د سخت محتاج (بې کس او بې وس) دعا اوري کله چې هغه دعا وکړي او څوك د هغه کړاو لرې کوي؟
الله پاک په بل ایت مبارک کې فرمایي:
﴿وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَاءَ الْأَرْضِ ۗ﴾[۹۶]
ژباړه: او تاسې د ځمکې خلفاء ګرځوي.
یعنې کله چې الله جل جلاله اراده وکړي؛ نو د بې کسانو او ناقرارو او بې وزلو دعاګانې او غوښتنې اوري، سختې او ربړونه ترې لرې کوي او پر ځمکه یې واکمن ګرځوي.
۸: له هر ډول ضرر او ستونزو څخه د خوندي پاتې کېدو دعا:
که غواړې چې همېشه له ستونزو، ضررونو یا تکلیفو خوندي اوسې یا که کوم وخت له داسې حالاتو سره مخامخ کېدې، همېشه دا دعا وایه الله تعالی به دې هر کار کې مرستندوی وي او د هر کار پایله به ستا په ګټه وي ان شاء الله: ﴿حَسْبُنَا اللَّهُ سَيُؤْتِينَا اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ﴾[۹۷]
ژباړه: الله (سبحانه و تعالی) زموږ له پاره کافي دی، هغه به په خپل فضل سره موږ ته نور ډېر څه راکړي.

۹۵: النمل، ٦٢ آیت

۹٦: النمل، ٦٢ آیت

۹۷: التوبه، ۵۹ آیت

٦: د بې اولادۍ د علاج دعا:

هغه ورونه او خویندې چې اولاد نه لري، دوی ته سپارښتنه دا ده چې د زکریا علیه السلام دا دعا دې تل په ژبه جاري ساتي: رَبِّ لَا تَذَرْنِي فَرْدًا وَأَنْتَ خَيْرُ الْوَارِثِينَ.

الله پاک په دې اړه فرمايي:

﴿وَزَكَرِيَّا إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُ رَبِّ لَا تَذَرْنِي فَرْدًا وَأَنْتَ خَيْرُ الْوَارِثِينَ﴾[٩٣]

ژباړه: او زکریا در یاد کړه، کله چې هغه خپل رب ته غږ وکړ چې پروردګاره! ما یوازې (د یوه فرد په توګه) مه پرېږده او ډېر غوره وارث خو همدا ته يې.

یعنې داسې اولاد راکړې چې وروسته له ما د قوم دیني خدمت وکړای شي او زما د دغو تعلیماتو د خپرولو له بوج څخه ووتلی شي.

الله تعالی زکریا علیه السلام ته په زوړ عمر کې زوی ورکړ او دعا یې قبوله شوه.

﴿فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَوَهَبْنَا لَهُ يَحْيَىٰ وَأَصْلَحْنَا لَهُ زَوْجَهُ ۚ﴾[٩٤]

ژباړه: د هغه دعا مو قبوله کړه او هغه ته مو یحیی ورکړ او د هغه مېرمن مو د هغه له پاره جوړه (له شنډوالي جوړه) کړه.

یعنې الله جل جلاله د حضرت زکریا علیه السلام شنډه ښځه په خپل فضل او کرم سره د ولادت وړ وګرځوله.

٩٣: الأنبیا، ٨٩ آیت

٩٤: الأنبیاء، ٩٠ آیت

ځنګه اندیښمنې یئ؟ هغوی وویل موږ خپلو څارویو ته اوبه نه شو ورکولی، تر څو چې دغه شپانه خپلو څارویو ته اوبه بشپړې نه کړي او زمونږ پلار ډېر سپین ږیری سړی دی.

سره له دې چې موسیٰ علیه السلام په دغه وخت کې ستړی ستومان، وږی او تږی و، خو بیا هم ورته دغه ننګ او غیرت ودرېد چې زما له موجودیت سره سره ولې دغه مېرمنې له همدردۍ او اعانت څخه محرومې پاتې شوې دي، نو پاڅېد او خلك یې یوې خواته کړل، بیا یې له کوهي اوبه راوویستې او د هغو نجونو څارویو ته یې ورکړې.

موسی علیه السلام الله تعالی ته دعا وکړه:

﴿رَبِّ إِنيِّ لِمَا أَنْزَلْتَ إِليَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيرٌ﴾[92]

ژباړه: اې ربه! زه د خپل هېڅ عمل بدله له مخلوقه نه غواړم. هو که ستا له طرفه کومه ښېګڼه را ورسېږي زه هغې ته تل محتاج یم.

هغه نجونې کور ته لاړې او خپل پلار ته یې کیسه وکړه، پلار یې موسی علیه السلام خپل کور ته دعوت کړ او بلاخره یې خپله یوه لور ده ته نکاح کړه او موسی علیه السلام له همدغې کورنۍ سره پاتې شو.

نو هغه ځوانان او پیغلې چې غواړي الله تعالی ورته نېکه جوړه نصیب کړي، همدا د موسی علیه السلام دعا دې وایي چې ځینو علماوو په دې برخه کې ګټوره بللې:

﴿رَبِّ إِنيِّ لِمَا أَنْزَلْتَ إِليَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيرٌ﴾

۹۲: القصص، ۲۴ آیت

۵: د واده د آسانه کېدو دعا:

ځيني ځوانان يا پېغلې به مو ليدلې وي چې خپل ژوندی يې په دې تريخ کړی وي چې ولې زما بخت تړل شوی، ولې مې حالت نه بدلېږي يا ولې مې واده وځنډيد؟ او ورته نور تشويشونه.

له ما نه ډېر خلک پوښتنه کوي چې بخت څنګه خلاصيږي؟

الله پاک له موسی عليه السلام سره د خپلې ښېګنې په اړه فرمايي:

﴿وَلَمَّا تَوَجَّهَ تِلْقَاءَ مَدْيَنَ قَالَ عَسَىٰ رَبِّي أَنْ يَهْدِيَنِي سَوَاءَ السَّبِيلِ﴾[۹۱]

ژباړه: (له مصر څخه د وتلو په حال کې) کله چې موسی (عليه السلام) د مدين لوري ته مخه کړه، نو يې وويل: هيله ده چې زما رب ما پر سمه لاره برابر کړي.

تفسير: موسیٰ عليه السلام له مصر نه د هجرت په قصد روان شو، مګر هېڅ يوه لاره او طرف ورته نه و معلوم، نو له الله جل جلاله څخه يې سوال وکړ چې په سمه لاره مې برابر کړه...

نو رب تعالی د (مدين) په لويه لاره برابر کړ او په خير او سلامتۍ سره يې هلته ورساوه او په مدين کې يې داسې د امن او اطمئنان ژوند ور په برخه کړ چې پکې ښه مانوس او متأهل شو، يوازې همدغومره نه، بلکې تر ډېرو لرې ځايونو يې نورې لارښوونې هم ورته وکړې او په سمه لاره يې رهي کړ.

کله چې هغه د مدين ښاه ته ورسېد، ډېر خلك يې وليدل چې خپل څارويو ته اوبه برابروي او د هغوی بلې خوا ته دوه نجونې خپل څاروي ايساروي، موسی عليه السلام له هغو نجونو څخه پوښتنه وکړه:

---

۹۱: القصص، ۲۲ آيت

﴿أَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ﴾ همدا چې ده د خپل رب په دربار کې دا سوال کړی الله پاک يې دعا قبوله کړې او په اړه يې فرمايي:

﴿فَاسْتَجَبْنَا لَهُ فَكَشَفْنَا مَا بِهِ مِنْ ضُرٍّ ۖ وَآتَيْنَاهُ أَهْلَهُ وَمِثْلَهُمْ مَعَهُمْ رَحْمَةً مِنْ عِنْدِنَا وَذِكْرَىٰ لِلْعَابِدِينَ﴾[۹۰]

ژباړه: موږ د هغه دعا قبوله کړه او له هغه ځخه مو د هغه تکليف ايسته کړ او يوازې د هغه د کورنۍ غړي مو هغه ته ورنه کړل؛ بلکې پر هغو سربېره مو هماغومره نور هم ورکړل، د خپل ځانګړي رحمت په ډول او د دې له پاره چې دا د عبادت کوونکو له پاره يو درس وي.

﴿وَذِكْرَى لِلْعَابِدِينَ﴾.

يعنې دا نصيحت د عبادت کوونکو لپاره دی (هرڅوك چې صبرکوي همداسې پايله به هم مومي).

په ايوب عليه السلام د دغې مهربانۍ په اثر ټولو انسانانو ته لوی پند او نصيحت او يو مهم يادګار پاتې شو.

چې هر کله په کوم يو نيك بنده په دنيا کې کومه تنګسه يا مصيبت راشي بايد د ايوب عليه السلام په شان صبر، استقامت، ثبات او استقلال ولري او د اسبابو د کارولو ترڅنګ خپل پروردګار ته دعا او زارۍ وکړي.

۹۰: الأنبياء، ۸۴ آيت

د آیت وروستۍ برخې ته مو پام شو؟ ﴿ وَكَذَٰلِكَ نُنْجِي الْمُؤْمِنِينَ﴾ یعنې که هر مؤمن په هر سخت حالت کې دا دعا وکړي، الله تعالی یې د یونس علیه السلام په شان له غمه ژغوري.

کله چې غمجن او پرېشان وې، له الله تعالی په همدغې دعا مرسته غواړه. ځکه غم له الله تعالی پرته بل څوک در څخه نه شي لرې کولای او دا هغه دعا ده چې ژر تر ژره قبلیږي ان شاء الله.

۴: له ناروغۍ د بچ کېدو دعا:

د الله پاک پیغمبر ایوب علیه السلام چې کله په مرض اخته و دا دعا یې ویله: ﴿أَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنْتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ﴾.

الله پاک یې په اړه فرمایي:

﴿وَأَيُّوبَ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُ أَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنْتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ﴾[۸۹]

ژباړه: او ایوب (علیه السلام) چې کله هغه له خپل رب نه غوښتنه وکړه چې اې ربه زه ناروغ یم او ته تر ټولو مهربان یې.

ایوب علیه السلام همغسې چې په نعمت کې د پاك الله جل جلاله شکر کوونکی بنده و په زحمت او ابتلاء کې هم صابر پاتې شوی و.

کله چې د ده تکلیف او اذیت او د دښمنانو شماتت له حده تېر شو بلکې دوستانو هم په داسې ویناوو باندې شروع وکړه چې یقیناً ایوب علیه السلام د کومې داسې سختې گناه مرتکب شوی دی چې د هغې له اثره په داسې سخته بلا اخته دی؛ نو دلته حضرت ایوب علیه السلام لاس په دعا شو او دا عا یې ویله:

۸۹: الأنبیاء، ۸۳ آیت

ژباړه: په حقیقت کې دا شیطان دی چې (تاسې له) خپل دوستان وېروي (په زړونو کې یې ویره ور اچوي). نو تاسې له هغوی (د شیطان له ملګرو یا کافرانو) څخه مه وېرېږئ، له ما نه ووېرېږئ که تاسې په ریښتینې توګه د ایمان خاوندان یئ.

که په رښتیا مو ایمان راوړی وي؛ له شیطان او شیطان صفته انسانانو مه ډارېږئ؛ بلکې الله تعالی ته پناه یوسئ چې له هر شر نه مو وساتي.

۳: د غم، اندېښنو او ذهني فشارونو له منځه وړونکې دعا:

غم هغه حالت دی چې کله نا کله انسان یې له چاپېرولو یا کنټرول عاجزه کېږي او یوازې الله تعالی یې درنه لرې کوای شي.

الله پاک موږ ته په قرآن کریم کې د یونس علیه السلام دعا راښودلې چې کله هغه د لوی ماهي (حوت) په خېټه کې و، له الله تعالی یې په دې دعا مرسته وغوښته:

﴿لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ﴾[۸۷]

ژباړه: نشته بل رب مګر ته یې (یا الله)، پاکي تا لره ده، بېشکه زه (په ځان) له ظالمانو څخه وم.

الله پاک د هغه دغه دعا قبوله کړه او په اړه یې فرمایي:

﴿فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَنَجَّيْنَاهُ مِنَ الْغَمِّ ۚ وَكَذَٰلِكَ نُنْجِي الْمُؤْمِنِينَ﴾[۸۸]

ژباړه: هله نو د هغه دعا مو قبوله کړه او له غم نه مو هغه وژغوره او په دغه شان مؤمنان هم ژغورو.

۸۷: الأنبیاء، ۸۷ آیت

۸۸: الأنبیاء، ۸۸ آیت

﴿الَّذِينَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَانًا وَقَالُوا حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ﴾[٨٤]

ژباړه: هغه کسان چې خلکو (منافقانو) ورته وویل: "ستاسې پر خلاف لویې لښکرې راغونډې شوې دي، له هغو ووېرېږئ" د دې په اورېدو د دوی ایمان نور هم پیاوړی شو او (منافقینو ته) ځواب یې ورکړ چې زموږ لپاره الله پاک کافي دی او همغه ډېر ښه کار جوړوونکی دی.

کله چې دوی دا دعا وکړه، الله تعالی یې دعا قبوله کړه:

﴿فَانْقَلَبُوا بِنِعْمَةٍ مِنَ اللَّهِ وَفَضْلٍ لَمْ يَمْسَسْهُمْ سُوءٌ وَاتَّبَعُوا رِضْوَانَ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَظِيمٍ﴾[٨٥]

ژباړه: په پای کې هغوی د الله تعالی له نعمت او لورینې سره بېرته ستانه شول، هغو ته هېڅ راز زیان هم و نه رسېد او د الله له خوښې سره یې سم تګ کولو، مرتبه یې هم موندله، الله ستر لوروونکی دی.

تاسې هم چې کله له داسې حالت سره مخامخ کېږئ چې څوک درته ضرر رسوي، زیاتی درسره کوي او ډاروي مو یا له یو شي ډارېږئ، همدا دعا په ژبه جاري ساتئ: ﴿حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ﴾

په دغو آیتونو پسې بل آیت کې الله تعالی د ویرې اصلي سرچینه موږ ته ښيي:

﴿إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ الشَّيْطَانُ يُخَوِّفُ أَوْلِيَاءَهُ فَلَا تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ﴾[٨٦]

---

٨٤: ال عمران، ١٧٣ آیت

٨٥: آل عمران، ١٧۴ آیت.

٨٦: آل عمران، ١٧٥ آیت

﴿فَوَقَاهُ اللَّهُ سَيِّئَاتِ مَا مَكَرُوا ۖ وَحَاقَ بِآلِ فِرْعَوْنَ سُوءُ الْعَذَابِ﴾[۸۲]

ژباړه: په پای کې هغو کسانو چې ډېرې ناوړه دسیسې یې د هغه مؤمن پر ضد په کار واچولې، الله له هغو ټولو څخه هغه وساته او د فرعون ملګري پخپله په ډېر بد عذاب کې راګېر شول.

علماء وایي په دې مبارک آیت او نورو دعاوو اړوند ایتونو کې (ف) استئنافي ده، یعنې الله تعالی ژر ځواب ورکړ هغه مؤمن ته چې خپلې چارې یې الله تعالی ته وسپارلې. که داسې نه وای؛ آیت ښایي داسې وای چې سوف یا ثم.

فوقاه الله یعنې همدا چې دعا یې کړې، الله پاک قبوله کړې. که موږ تاسې هم دغه دعا وکړو،ان شاء الله ژر تر ژره قبلېږي خو په دې شرط چې زموږ پکې خیر وي.

۲: د خلکو له زیان، شر او ضرر نه د بچ کېدو دعا:

﴿حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ﴾[۸۳]

ژباړه: زموږ لپاره الله کافي دی او همغه ډېر ښه کار جوړوونکی دی.

کله چې ویرې او ترهې د خپرولو لپاره د احد له غزا وروسته ابوسفیان د یوه کاروان په وسیله محمدي لښکرو ته خبر ورکړ چې د کافرانو لښکرې یوځل بیا پر مدینه برید کوي، سره له دې چې مسلمانان تازه له غزا فارغ شوي وو او ټپیان او ستړي وو، خو بیا یې هم د خپل قائد غږ ته لبیک ووایه او جګړې لپاره تیار شو. په دې اړه الله پاک فرمایي:

---

۸۲: الغافر، ۴۵ آیت

۸۳: ال عمران، ۱۷۳ آیت

دعا څخه وروسته فکر او په الله تعالی نېک ګومان وکړو چې زموږ دعا حتماً قبلیږي.

ځینې کسان وړاندې له دې چې دعا وکړي وایي دعا کوم، خو نه قبلیږي.

ته چې څنګه ګومان کوې، الله تعالی همغه شان کوي. په حدیث مبارک کې راځي چې الله تعالی فرمایي: «أنا عند ظنِّ عبدي بي».[80]

ژباړه: زه د خپل بنده په ګمان هغه سره مخکې ځم.

دا څو دعاګانې مې د ځینو تکړه علماوو له بیانونو راټولې کړي چې که زده یې کړو او همېشه یې وایو په ګڼې ستونزې مو حل کوای شي.

۱: د خلکو له دوکې یا مکر څخه د بچ کېدو دعا:

کله چې دې احساس وکړ چې څوک دې پر وړاندې دسیسه جوړوي او غواړي تاوان در ورسوي، د فرعون په خلکو کې د هغه مؤمن سړي په دې دعا له الله پاک مرسته غواړه چې خپل ایمان یې پټ کړی و او خلک یې د موسی علیه السلام تابعداري ته بلل:

﴿وَأُفَوِّضُ أَمْرِي إِلَى اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ بَصِيرٌ بِالْعِبَادِ﴾[81]

ژباړه: او خپله معامله زه الله ته سپارم، الله تعالی د خپلو بندګانو لیدونکی دی.

الله پاک قرآن کریم کې د دغه ایت نه وروسته د دې دعا د قبلېدو یا ځواب ایت راوستی:

---

۸۰: أخرجه أحمد (١٦٠١٦)، الدارمي (٢٧٣١)، وابن حبان (٦٣٣)

۸۱: الغافر، ۴۴ آیت

ملګرو نه پوښتنه وکړه چې څوک یې اخلي؟ یوه صحابي ویل، زه یې په یو درهم اخلم، هغه مبارک ویل څوک یې پرې زیاتوي؟

دویم صحابي ویل زه یې په دوه درهمو اخلم او پر همغه وپلورل شو. رسول الله ﷺ هغه ځوان ته وویل چې په یو درهم د لرګیو د غوڅولو وسیله او په بله برخه یې پړی واخله، لاړ شه غره ته، لرګي راټول کړه او خرڅوه یې او دوه اونۍ وروسته زما څنګ ته راشه.

دوه اونۍ وروسته چې کله هغه ځوان راغی، منظم کالي یې اغوستي وو او له ځان سره یې باحکمته پیغمبر ته ډالۍ راوړې وه. هغه مبارک ﷺ ورته وویل، غوره خوراک هغه دی چې انسان یې پخپل لاس وګټي. بیا یې ورته وویل، د الله تعالی نبي داوود علیه السلام پښ یا اهنګر و[٧٨].

په یوه مبارک حدیث کې راځي: " الیدُ العُلیا خیرٌ من الیدِ السُّفلَی"[٧٩] پورته لاس تر ټیټ لاس غوره دی.

## قرآني دعاګانې چې ژر قبلېږي

کله چې په قرآن کریم کې دعاګانو ته پام وکړو، الله تعالی ځینې داسې دعاګانې موږ ته په دې عظیم کتاب کې ښودلي، چې سملاسي یې قبول کړي.

خو د دعا لپاره شرط دا دی چې موږ پر خپلو ژمنو ودرېږو، پوره ایمان راوړونکي شو، عجله ونه کړو او له بد ګومانه ځان وساتو داسې چې له

٧٨: ددې کیسې اړوند حدیثونه سنن أبي داوود (د حدیث شمېره: ١٦٤١) او سنن ابن ماجه (د حدیث شمېره: ٢١٩٨) کې روایت شوي.

٧٩: أخرجه البخاري و مسلم

أَوْ أَنْزَلْتَهُ فِي كِتَابِكَ، أَوْ عَلَّمْتَهُ أَحَداً مِنْ خَلْقِكَ،أَوِ اسْتَأْثَرْتَ بِهِ فِي عِلْمِ الْغَيْبِ عِنْدَكَ أَنْ تَجْعَلَ الْقُرْآنَ رَبِيعَ قَلْبِي، وَنُورَ صَدرِي، وَجلاَءَ حزنِي، وَذَهَابَ هَمِّي وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْءَانِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ۙ وَلَا يَزِيدُ الظَّٰلِمِينَ إِلَّا خَسَارًا». [۷۷]

ژباړه: يا الله زه بې له شکه ستا بنده، ستا د بنده زوی او ستا د بندګۍ (د خپلې مور) زوی يم. زما برخليک ستا په لاس کې دی. ستا امر په موږ پلی کېږي. زموږ په اړه ستا پرېکړې عادلانه دي. په هر هغه نوم چې تا ځانته ورکړی، په خپل کتاب کې دې نازل کړی، په دنيا کې دې کوم مخلوق ته ور زده کړی يا دې ځان سره د غيبو په علم کې ساتلی، ستا نه غواړم چې قرآن مې د زړه سپرلی، د سينې رڼا، د خپګان ليرې کوونکی او د پرېشانۍ ختمونکی وګرځوې.

د رسول الله ﷺ د حديث په بنسټ کله چې مسلمان دا دعا ووايي، سملاسي يې الله تعالی غم اندېښنې او زړه تنګوالی بدلوي او انسان د خوشحالۍ احساس پيدا کوي او د ژوند له ښېبو خوند اخلي.

## سوالګر سره د خير البشر چلند

زما د زړه سر او د الله تعالی محبوب خير البشر ته يو صحابي راغی او خيرات يې ترې وغوښت، رسول الله ﷺ چې ورته وکتل، ځوان و او ښه د کار وړ و. پوښتنه يې ترې وکړه چې په کور کې څه لرې؟ هغه ويل يو لمڅی لرم، ويل رايې وړه. کله چې يې راوړ، رسول الله ﷺ

---

۷۷: مسند امام أحمد، جلد ٦، صفحه ۲۴۷. دا حديث الحاکم او الطبراني هم روآيت کړی او ابن حبان او شيخ الالباني صحيح بللی دی.

هغه ویل نه، عمر رضي الله عنه ورته وویل: نو څه چې څوک دې خوښ وي مینه او چې دې نه وي خوښ کرکه ترې کوه.
که څوک له تا بې ځایه او ناحقه مخ اړوي، پروا یې مه ساته، شا ته مه پسې ګوره او مخ ته څه.
یوازې د الله تعالی پروا کوه، ته هغه وخت بدبخته کېږې چې د الله تعالی پام در څخه واوړي!

## د غم او خپګان لرې کولو دعا

په ټولنیزو شبکو کې راته ځینې ملګري پیغام راستوي او له ستړي ژونده ګیله من وي!
طبیعي ده چې دوی به ډېرې لارې لټولې وي چې خپلې ستونزې حل کړي، خو داسې ښکاري پایله یې نه ده ترلاسه کړې.
زه دوی ته اکثرا د رسول الله ﷺ دا دعا ور ښایم چې نه یوازې خپګان، اندېښنې، د زړه تنګوالی او نورې ذهني ناقرارۍ لرې کوي؛ بلکې په خوشحالۍ یې بدلوي.
موږ هر یو اړتیا لرو چې د ژوند له ستړیاوو الله تعالی ته پناه یوسو، چې د انسان زړه یې په واک کې دی او د خوشحالۍ سرچینه یوازې الله تعالی سره اړیکه پالل دي.
پیغمبر ﷺ فرمایي دا دعا غم په خوشحالۍ، د زړه تنګوالی په هوساینې بدلوي او اندېښنې له منځه وړي:
«اللَّهُمَّ إني عَبْدُكَ ابْنُ عَبْدِكَ ابْنُ أَمَتِكَ، نَاصِيَتِي بِيَدِكَ،مَاضٍ فِيَّ حُكْمُكَ، عَدْلٌ فِيَّ قَضَاؤُكَ، أَسْأَلُكَ بكُلِّ اسْمٍ هُوَ لَكَ، سَمَّيْتَ بِهِ نَفْسَكَ،

دا دښمني لويه وګڼئ او تل د شيطان د بريد پر وړاندې د ځان دفاع ته چمتو اوسئ. کله چې فکر کوئ شيطان بريد کوي يا د حملې لپاره چمتووالی نيسي، يوازې الله تعالی ته پناه يوسئ او دا جمله همېشه تکراروئ: اعوذ بالله من الشيطان الرجيم.

د الله تعالی دې سپارښتنې ته پام وکړه:

﴿يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ لَا يَفۡتِنَنَّكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ كَمَآ أَخۡرَجَ أَبَوَيۡكُم مِّنَ ٱلۡجَنَّةِ يَنزِعُ عَنۡهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوۡءَٰتِهِمَآ ۚ إِنَّهُۥ يَرَىٰكُمۡ هُوَ وَقَبِيلُهُۥ مِنۡ حَيۡثُ لَا تَرَوۡنَهُمۡ ۗ إِنَّا جَعَلۡنَا ٱلشَّيَٰطِينَ أَوۡلِيَآءَ لِلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ﴾[٧٦]

ژباړه: اې د آدم اولاده داسې دې نه وي چې شيطان تاسې بيا هماغه شان په فتنه کې اخته کړي، لکه څنګه چې هغه ستاسې مور او پلار له جنت څخه ايستلي وو، او له هغو څخه يې د هغوی جامې ايستلې وې، چې د هغوی شرم ځايونه يو د بل په وړاندې لوڅ شي. هغه (شيطان) او د هغه ملګري تاسې له يو داسې ځای نه ويني، چې له هغه ځايه تاسې هغوی نه شئ ليدلای. موږ دا شيطانان د هغو خلکو سر پرستان ګرځولي دي چې ايمان نه راوړي.

## هېڅ مې نه خوښېږې

يوه ورځ عمر رضي الله عنه ته يو کس وويل: "والله اني لا احبک" قسم په الله چې ته مې هېڅ نه خوښېږې.

عمر رضي الله عنه ورته وويل، آيا دا به له ما څه کم کړي؟ يعنې ستا دا خبره به زما شخصيت ته تاوان واړوي؟

---

٧٦: الأعراف، ٢٧ آيت

ژباړه: ما هغه (بلقیس) داسې وموندله چې هغې او د هغې قوم د الله په ځای د لمر په وړاندې سجده کوي، شیطان د هغوی عملونه د هغو لپاره ښایسته کړي او هغوی یې له لارې اړولي دي، له دې امله هغوی سمه لاره نه مومي.

نهمه تګلاره: ټمبلي، کسالت یا سستي چې قرآن کریم رجز بللې.

رجز هغه لار یا وسیله ده چې شیطان یې پر مټ انسان له هر څه بېزاره کوي او له هرډول ښېګڼې یې محروموي.

شیطان باید دا کار وکړي، ځکه زموږ ښکاره دښمن دی. څوک د دښمن لحاظ او ښېګڼه ورسره کوي؟

ټمبل یا لټ انسان ناکام وي.

الله تعالی چې کله پر پیغمبر ﷺ لومړی وحیه نازله کړه، هغه ﷺ ډارېدلی کور ته ستون شو؛ ورپسې د الله پاک امر ورته دا و چې: ﴿وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ﴾[۷۵]

له دې وروسته له تنبلۍ (ټمبلۍ) څخه ځان وساته.

رسول الله ﷺ فرمایي: کله چې څوک ویده شي، شیطان پرې درې غوټې وتړي. کله چې دی راویښېږي او الله تعالی یاد کړي، یوه غوټه خلاصه شي، کله چې اودس وکړي، دویمه یې پرانیستل کېږي او بیا چې لمونځ وکړي، دریمه یې هم خلاصه شي، له دې سره انسان تازه شي، روح یې سپېڅلی او پاک شي. خو که دا کار ونه شي، نفس یې خبیث شي، ټمبل او کسل به را ویښ شي چې ورځ به یې هم بې خونده او ګډه وډه او سرګردانه وي.

۷۵: المدثر، ۵ آیت

﴿أَفَمَن زُيِّنَ لَهُ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ فَرَءَاهُ حَسَنًا ۖ فَإِنَّ اللَّهَ يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهْدِى مَن يَشَآءُ ۖ فَلَا تَذْهَبْ نَفْسُكَ عَلَيْهِمْ حَسَرَٰتٍ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌۢ بِمَا يَصْنَعُونَ﴾[۷۳]

ژباړه: (ښه نو څه مقام دی د هغه چا د ګمراهۍ) چې د هغه لپاره خپل ناوړه عمل ښايسته کړای شوی وي او هغه يې ښه ګڼي؟ حقيقت دا دی، د الله چې چا ته خوښه شي په ګمراهۍ کې يې اچوي او چا ته يې چې خوښه شي سمه لاره ورښيي. نو (اې پيغمبره ﷺ) ته خپل ځان د دغو خلکو په خاطر په غم او افسوس کې مه اچوه. څه چې دوی کوي، الله پرې ښه پوهيږي.

رسول الله ﷺ فرمايي: د ګناه له کوچني ګڼلو ځان وساتئ، ځکه دغه وړې وړې ګناوې ډېريږي ، تر دې چې انسان هلاک کړي.

د ځينو مسلمانانو يوه ستونزه دا ده چې ته ورته وايې چې فلانی کار مه کوه ګنهګاريږې سملاسي درته وايي چې خلک قتل کوي، زنا کوي، شراب څښي، زه خو دا نه کوم او ما خو کوچنی کار کړی.

دوی سره دا وهم وي چې ګناوې پرتله کوي، غيبت کول، نامحرمو ته کتل، دروغ ويل،له خلکو سره بد چلند او نور ناوړه عملونه دوی ته بېخي کمه ګناه ښکاري.

الله تعالی په بل آيت مبارک کې فرمايي:

﴿وَجَدْتُهَا وَقَوْمَهَا يَسْجُدُونَ لِلشَّمْسِ مِنْ دُونِ اللَّهِ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيلِ فَهُمْ لَا يَهْتَدُونَ ﴾[۷٤]

۷۳: فاطر، ۸ آيت

۷٤: النمل، ۲۴ آيت

اوومه تګلاره: د حافظې کمزوري کول.
له دې لارې شیطان د انسان له ذهن، حافظې یا ذاکرې سره لوبېږي. په پایله کې یې انسان د هېرولو یا یاد فراموشي په ستونزه اخته کیږي. کله چې انسان په دې ستونزې اخته شي، منفي شیان یې په ذهن کې پاتې کیږي، خو مثبت او ګټور شیان یې له ذهن وځي او حافظه یې کمزورې کېږي. الله تعالی فرمايي:
﴿إِنَّ الَّذِينَ اتَّقَوْا إِذَا مَسَّهُمْ طَٰٓئِفٌ مِّنَ الشَّيْطَٰنِ تَذَكَّرُوا فَإِذَا هُم مُّبْصِرُونَ﴾[72]

ژباړه: پرهېزګاران داسې دي چې کله ناوړه مفکوره یا وسوسه ور پیدا شي، سملاسي یې پام کېږي اوويني چې د هغوی لپاره سمه کړنلار کومه ده.

اتمه تګلاره: د لويو ګناهونو کوچني ښوول (التزیین)
له دې لارې شیطان ډېری انسانان بې لارې کړي دي، په ځانګړي ډول مسلمانان. د تزیین له لارې شیطان انسان ته لوی ګناهونه کوچني ښيي او وسوسه ورته کوي چې کوچنۍ ګناه خو لا هېڅ په ګناه کې نه شمېرل کیږي.
پام دې وي، څومره چې ته ګناهونه کوچني ګڼې؛ هغه همدومره الله تعالی ته لوی دي، خو که تا ته ګناه لویه ښکاره شي، الله تعالی یې کوچنۍ حسابوي.
الله تعالی فرمايي:

72: الاعراف، ۲۰۱ آیت

پنځمه تګلاره: مس (برلاسي)
کله چې انسان له خپل خالق سره فاصله پیدا کړي، بې لارې شي او خپله اصلي لار پرېږدي، دومره کمزوری شي چې شیطان پرې برلاسی او د هغه په عصابو کنټرول پیدا کړي.
له دې لارې شیطان انسان نا قرارۍ، ناپوهۍ یا جهل، ګنګسیت او آن بېخودۍ حالت ته بیایي.
الله تعالی فرمایي:
﴿الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبٰوا لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ الَّذِى يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطٰنُ مِنَ الْمَسِّ﴾[٧٠]
ژباړه: کوم خلك چې سود خوري، (د قیامت په ورځ به) هغوی (له خپلو قبرونو څخه) نه راپورته کیږي مګر د هغه چا په شان چې شیطان په مس (لمس) کولو ذهنا ګډوډ کړی وي.
شپږمه تګلاره: وسوسه (په فکر کې وسوسه).
بل چل چې شیطان پرې انسان بیلارې او تباه کوي دا دی چې انسان ته وسوسه ور اچوي. د انسان هېڅ پام نه وي، شیطان یې ناڅاپه فکر وربدل کړي، په ناوړه او منفي فکرونو کې یې ډوب کړي. ښه کار نه ور ښیي، بلکې د بدو کارونو او فحشاء په اړه یې ذهن اړوي را اړوي.
الله تعالی فرمایي:
﴿وَإِنَّ الشَّيٰطِينَ لَيُوحُونَ إِلىٰ أَوْلِيَآئِهِمْ لِيُجٰدِلُوكُمْ﴾[٧١]
ژباړه: او بېشکه شیطانان خپلو ملګرو ته وسوسه وراچوي.

---

٧٠: البقرة، ٢٧٥ آیت

٧١: الانعام، ١٢١ آیت

﴿وَقُل رَّبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ هَمَزٰتِ الشَّيٰطِينِ﴾[68]

ژباړه: او ووایه پروردګاره زه د شیطانانو له هڅونو (وسوسو) څخه تا ته پناه دروړم.

څلورمه تګلاره: مداخله (حضور).

د انسان په بې لارې او تباه کولو کې د شیطان بل اسلوب دا دی چې ستا په پرېکړو کې مداخله کوي. همدې ته حضور وایي.

کله چې انسان د یو څه په اړه پرېکړه کوي، مخکې تر دې چې تصمیم یې وروستی شي، شیطان پکې خپل رذالت او ونډه ادا کوي. داسې پرېکړې ته دې اړ کوي چې پایله یې ناوړه وي. آخر دښمن دی نو. دښمن خو له هرې موقع ګټه اخلي چې په ګونډو دې کړي.

له دې لارې شیطان غواړي انسان له بېلو ستونزو او کړاوونو سره مخامخ کړي.

په دې اړه قرآن کریم فرمایي:

﴿وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَن يَحْضُرُونِ﴾[69]

ژباړه: اې زما ربه تا ته پناه در وړم له دې چې شیطان زما په هر څه کې حاضر وي.

کله چې د پرېکړو پر وخت په الله تعالی توکل وکړئ، شیطان نه شي کولای تاته زیان واړوي.

همېشه د هرې پرېکړې په وخت کې له شیطان څخه الله پاک ته پناه ور وړه او له خپل ربه مرسته غواړه. د پریکړو پایله به ستا په خیر وي.

۶۸: المؤمنون، ۹۷ آیت

۶۹: المؤمنون، ۹۸ آیت

د هغه د ښو پېرزوینه ده چې زه یې له زندان څخه را بهر کړم او تاسې یې له بېدیا څخه راوستلئ؛ زما سره یې یو ځای کړئ، وروسته له هغه چې شیطان زما او زما د وروڼو تر منځ فساد (بې اتفاقي) اچولې وه. بې له شکه الله پاک ډېر مهربان او له هر څه خبر دی، له شک پرته چې هغه د علم او حکمت څښتن دی.

په اصل کې شیطان د یوسف علیه السلام ورونو ته وسوسه اچولې وه چې خپل کوچنی ورور ووژني او له همدې امله یې کوهي ته وغورځاوه. د شیطان یو تر ټولو خطرناک او د هغه د خوښې کار دا دی چې د ښځې او مېړه ترمنځ اړیکه وشلوي.

آن تر دې چې د دواړو ترمنځ جدایي رامنځته کړي.

نو دا د شیطان لپاره تر ټولو بریالۍ پروژه ده چې پرې خوشحالیږي.

درېیمه تګلاره: همز

د شیطان بله وسوسه چې انسان پرې تباه کوي؛ همز ده.

همز دې ته وایي چې شیطان انسان ته د غوسې او احساساتي کېدو اسباب چمتو کوي. داسې چې په ډېرو کوچنیو مسئوولیتونو چې هېڅ د غوسه کېدو ارزښت نه لري، انسان ته وسوسه کوي چې اوهو، تا سره داسې کار، ته خو باید ډېر په دې خپه شې، دا کار د ستا شان سره نه ښایي او داسې نور... انسانان بیا په غبرګون کې دې ډول خلکو ته عصبي، لیونی، احساساتي او نور صفات کاروي.

قرآن کریم د همز په اړه څه وایي؟

شیطان تاسې ته راځي او وايي، دا شی چا پیدا کړی، فلانی شی چا پیدا کړی آن تر دې چې درته وايي ستا رب چا پیدا کړی؟

(نبي ﷺ فرمايي) که داسې وشو، نو ووايئ: "اعوذ بالله من الشیطن الرجیم"[٦٦]

دویمه تګلاره: د اړیکو خرابول

د انسان په بې لارې کولو کې د شیطان دویمه کړنلاره دا ده چې د انسانانو ترمنځ نږدې اړیکې خرابې کړي. د ښځې او مېړه، د پلار او زوی او د مور او زوی تر منځ اړیکې شلوي.

د تره د زامنو ترمنځ تربګنۍ اچوي او هر ډول نفاق چې د خلکو ترمنځ دښمنۍ او بدبختۍ ته لاره هواروي، شیطان يې په اړه کرار نه کيني.

قرآن کریم د یوسف علیه السلام له قوله په دې اړه څه حکایت کوي؟

﴿وَرَفَعَ أَبَوَيْهِ عَلَى الْعَرْشِ وَخَرُّوا لَهُ سُجَّدًا ۖ وَقَالَ يَٰأَبَتِ هَٰذَا تَأْوِيلُ رُءْيَٰيَ مِن قَبْلُ قَدْ جَعَلَهَا رَبِّي حَقًّا ۖ وَقَدْ أَحْسَنَ بِيَ إِذْ أَخْرَجَنِي مِنَ السِّجْنِ وَجَآءَ بِكُم مِّنَ الْبَدْوِ مِنۢ بَعْدِ أَن نَّزَغَ الشَّيْطَٰنُ بَيْنِي وَبَيْنَ إِخْوَتِيٓ ۚ إِنَّ رَبِّي لَطِيفٌ لِّمَا يَشَآءُ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ﴾[٦٧]

ژباړه: (ښار ته له ننوتلو وروسته) هغه خپل مور او پلار پاڅول او له ځانه سره يې پر تخت کښېنول او ټول د هغه په وړاندې بې واکه په سجده ټيټ شول. یوسف (علیه السلام) وويل: "پلاره! دا زما د هغه خوب تعبير دی، چې ما مخکې ليدلی و، زما رب هغه په حقيقت بدل کړ.

٦٦: متفق علیه

٦٧: یوسف، ۱۰۰ آیت

ژباړه: اې مؤمنانو! دشیطان پر نقش قدم مه ځئ (تابعداري يې مه کوئ)، ځوك چې په شیطان پسې لاړ شي؛ نو هغه ور ته د فحشاء او بدۍ امر کوي، که پر تاسې باندې د الله مهرباني، رحم او کرم نه وای نو له تاسې څخه هېڅ څوک پاک کېدای نه شوو، خو د الله چې چا ته خوښه شي تزکیه کوي يې، او الله اورېدونکی او پوهېدونکی دی.

په یوه بل مبارک ایت کې الله تعالی فرمایي:

﴿وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَٰتِ الشَّيْطَٰنِ ۚ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ﴾[٦٤]

ژباړه: د شیطان ملتیا مه کوئ، هغه ستاسې ښکاره دښمن دی.

څنګه دا مکار او نامرد دښمن انسان د تباهۍ کندې ته تېل وهي او بیا مو په نیمه لار کې پرېږدي، له کومو لارو ګټه اخلي او څنګه انسان بې لارې کوي؟

کله چې د قران کریم ایتونو ته تم شو، الله پاک پکې د شیطان ځینې طریقې یا تګلارې ښودلي.

لومړۍ تګلاره: نزغ

نزغ د شیطان خطرناکه وسوسه ده چې انسان ته په عقیده کې شک پیدا کوي.

﴿وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطَٰنِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ ۚ إِنَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ﴾[٦٥]

ژباړه: کله چې شیطان تاسې ته وسوسه پیدا کوي، الله تعالی ته ترې پناه وړئ. بې له شکه الله پاک اورېدونکی او پوه دی.

په دې اړه رسول الله ﷺ په یوه حدیث کې وضاحت کړی:

---

٦٤: الانعام، ۱۴۲ آیت

٦٥: الاعراف، ۲۰۰ آیت

د شيطان دښمني هم همداسې ده او قسم يې کړی چې په هره لار به انسان ته کمين نيسي او بريد به پرې کوي.

قرآن کريم يې په اړه فرمايي:

﴿قَالَ فَبِمَا أَغْوَيْتَنِي لَأَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيمَ ﴿١٦﴾ ثُمَّ لَآتِيَنَّهُمْ مِنْ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ أَيْمَانِهِمْ وَعَنْ شَمَائِلِهِمْ ۖ وَلَا تَجِدُ أَكْثَرَهُمْ شَاكِرِينَ﴾[٦٢]

ژباړه: (شيطان) وويل: "نو څنګه چې تا زه په ګمراهۍ کې اخته کړی يم زه به هم ستا د سمې لارې په سر باندې د غو انسانانو ته کښنم.

بيا له وړاندې او له شا نه، له ښي خوا، کيڼې خوا او هر لوري به يې را ايسار کړم او ته به د دوی زياتره شکر ويستونکي ونه مومې.

يعنې له دوی سره زما دښمني اعلان شوه، ستا له لارې به يې بې لارې کوم او د ځان په سرنوشت به يې اخته کوم، ځکه د همده له امله زه له خپل مقام نه وشړل شوم او په دې برخليک اخته شوم.

په يوه بل آيت مبارک کې الله تعالی د هغوی په اړه چې د شيطان د لارې ملتيا کوي فرمايي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ ۚ وَمَنْ يَتَّبِعْ خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ فَإِنَّهُ يَأْمُرُ بِالْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ ۚ وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ مَا زَكَىٰ مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ أَبَدًا وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يُزَكِّي مَنْ يَشَاءُ ۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ﴾[٦٣]

---

٦٢: الأعراف ، ١٦ او ١٧ آيتونه

٦٣: النور، ٢١ آيت

ژباړه: ويې فرمايل: نو حق دا دی او زه همدا حق وايم.
﴿لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنْكَ وَمِمَّنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ أَجْمَعِينَ﴾[٦٠]
ژباړه: چې زه به دوزخ له تا او هغو ټولو کسانو څخه ډك کړم چې ستا پيروي وکړي.

د دې مبارکو آيتونو په لوستلو دې څه فکر وکړ؟

په يوه حديث کې راځي چې رسول الله ﷺ فرمايلي: ابليس وويل اې ربه، زما دې ستا په عزت قسم وي تر هغې به ستا بندګان غولوم او په آرامه به نه کېنم، تر څو چې د دوی په جسدونو کې ساه وي.

الله پاک وفرمايل: زما دې پخپل عزت او جلال قسم وي تر هغې به خپلو بندګانو ته بخښنه کوم تر هغې چې له ما څخه بخښنه غواړي[٦١]

اوس راته ووايه، د شيطان د ګواښ پر وړاندې الله پاک ستا ننګه کړې، خو ته يې په مقابل کې څه ډول چلند کوې؟!

## د انسان په بې لارې کولو کې د شيطان تګلارې

له کومې ورځې چې الله تعالی ادم عليه السلام ته د درناوي نه کولو له امله شيطان له خپل مقام څخه شړلی او رټلی، له همغه راهيسې يې مور سره د ښکاره دښمنۍ اعلان کړی.

تاسې به ليدلي وي کله چې د انسانانو ترمنځ دښمني پيدا شي، تل په خپل کور او ځان پيره کوي، هره شېبه بيدار وي چې دښمن يې پرې بريد ونه کړي. کله چې لږ غافل شي، ماتې خوري.

---

٦٠: ص سورت، ٧٥- ٨٥ آيتونه

٦١: رواه أحمد بإسناد حسن

سره جوړ کړی دی؟ آیا ته تکبر کوې که د لویې د درجې له خاوندانو څخه یې؟

﴿قَالَ أَنَا خَيْرٌ مِنْهُ ۖ خَلَقْتَنِي مِنْ نَارٍ وَخَلَقْتَهُ مِنْ طِينٍ﴾

ژباړه: هغه (ابلیس) ځواب ورکړ: زه له هغه (انسان) څخه غوره یم، تا زه له اوره پیدا کړی یم او هغه دې له ختې څخه پیدا کړی دی.

﴿قَالَ فَاخْرُجْ مِنْهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٌ﴾

ژباړه: (الله پاک) ورته وفرمایل: له دې ځایه ووځه، ته رټل شوی یې.

﴿وَإِنَّ عَلَيْكَ لَعْنَتِي إِلَىٰ يَوْمِ الدِّينِ﴾

ژباړه: او پر تا باندې د جزا (قیامت) تر ورځې پورې زما لعنت دی.

﴿قَالَ رَبِّ فَأَنْظِرْنِي إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ﴾

ژباړه: (شیطان) وویل: اې زما ربه، ما ته تر هغه وخت پورې مهلت راکړه چې دوی دوهم ځل را ژوندي کړل شي.

﴿قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ الْمُنْظَرِينَ﴾

ژباړه: (الله پاک ورته) وفرمایل: تا ته تر هغې ورځې پورې مهلت دی.

﴿إِلَىٰ يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُومِ﴾

ژباړه: چې د هغې نېټه ما ته معلومه ده.

﴿قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ﴾

ژباړه: هغه (شیطان) وویل، ستا په عزت قسم چې زه به دوی ټول گمراه کړم.

﴿إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ﴾

ژباړه: پرته ستا له هغو بندگانو څخه چې مخلص دي.

﴿قَالَ فَالْحَقُّ وَالْحَقَّ أَقُولُ﴾

﴿وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِآيَاتِهِ ۗ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ﴾[58]

او تر هغه چا به غټ ظالم څوک وي چې په الله د دروغو بهتان ووايي یا د الله نښانې درواغ وګڼي. بې له شکه ظالمان بریا نه شي موندلی.

له هرچا دیني پوښتنه مه کوئ او ځان او هغوی په ګناه کې مه اچوئ. یوازې له هغو علماوو پوښتنه کوئ چې پوه او د اعتبار وړ وي.

## انسان ته د شیطان ګواښ

په قرآن کریم کې الله پاک انسان ته د شیطان د هغه ګواښ یادونه کړې چې په ښکاره د دښمنۍ اعلان دی.

کله چې الله پاک آدم علیه السلام خلق یا پیدا کړ، ټولو ملائکو او ابلیس ته یې امر وکړ چې هغه ته سجده وکړي. ټولو سجده وکړه، پرته له ابلیس څخه، ابلیس انکار وکړ او ورټل شو او له همدغه امله یې له انسان سره د دښمنۍ اعلان وکړ. دا موضوع د سورت "ص" په لاندې ایتونو کې تعقیبوو:

﴿قَالَ يَا إِبْلِيسُ مَا مَنَعَكَ أَنْ تَسْجُدَ لِمَا خَلَقْتُ بِيَدَيَّ ۖ أَسْتَكْبَرْتَ أَمْ كُنْتَ مِنَ الْعَالِينَ﴾[59]

ژباړه: (الله پاک) وفرمایل: اې ابلیسه، ته څه شي هغه چا ته له سجدې کولو نه منع کړې چې ما هغه پخپلو دواړو (بلا کیف) لاسونو

[58]: الأنعام، ۲۱ آیت

[59]: ص، ۷۵ آیت

الله تعالی پورې به دې داسې څه ويلي وي چې له شان سره يې نه ښايي، داسې څه به دې ورته ثابت کړي وي چې الله تعالی له ځانه نفيه کړې دي.

د علماوو له نظره د الله تعالی په اړه له علم پرته يو څه ويل، تر ټولو لويه حرام کړای شوې ګناه ده. په قرآن کريم کې هم تر ټولو خطرناکه شی همدا بلل شوی دی چې د الله تعالی په اړه بې له علمه څه ووايې.

امام احمد بن حنبل د خپل وخت تر ټولو پوه فقيه او عالِم و، ده ته له ډېر لرې ځايه يو پلاوی ورغی او له هغه يې ګڼې پوښتنې وکړې، خو امام ترې يو شمېر پوښتنې ځواب کړې او د پاتې په اړه يې وويل چې په ځواب يې نه پوهېږم. د ورغلي هيأت غړو ورته وويل، امام احمد بن حنبل نه پوهېږي؟

موږ تا ته له څومره لرې ځايه راغلو چې پوښتنه در څخه وکړو او ته وايې چې نه پوهېږم، له تا پرته به بل څوک ډېر پوه وي؟

هغه ورته وويل، قولوا لاهل المغرب، الامامُ احمدُ بنِ حنبل لا يَعلَم. يعنې د مغرب خلکو ته ووايئ چې امام احمد بن حنبل نه پوهېږي.

ځکه که يې داسې څه وويل چې پرې نه پوهېږي، لويه ګناه ده.

نو له ځانه او په ناپوهۍ فتواګانې مه ورکوئ. د فتوا او د يو څه په اړه په حکم کولو کې ډېر زيات احتياط وکړئ. هر څه راجع کوئ د الله تعالی کتاب او د هغه د رسول ﷺ سنتو او معتبرو علماوو او فقيهانو ته. دقت کوئ، څېړنه کوئ او پوره مطالعه کوئ بيا د يو څه په اړه نظر ورکوئ په داسې شکل چې واقعي مفهوم ترې واخلئ نه دا چې د خپل برداشت په بنسټ خلکو ته د حلالو او حرامو فتواوې ورکړئ.

ژباړه: (ای محمد ﷺ) دوی ته ووایه چې زما رب چې کوم شیان حرام کړي (هغه دا دي): د بې حیایۍ چارې، که ښکاره وي او که پټې، او گناه او د حق پر خلاف تیری او دا چې له الله سره تاسې داسې څوك شريك کړئ چې د هغه له پاره يې کوم سند نه دی نازل کړی او دا چې د الله په نوم داسې کومه خبره وکړئ چې د هغې په باب تاسې معلومات ونه لرئ چې هغه په حقيقت کې کړې ده.

ايت مبارک ته دې دقيق پام شو؟

د حرامو کارونو پيل يې په ښکاره او پټه بې حيايۍ وکړ، ورپسې يې گناه او ناحقه سرکشي يا تيری ياده کړه، بيا په الله پاک باندې شرک او تر هغې وروسته يې په الله پاک د دروغو تړلو خبره ياده کړه. داسې دروغ چې د الله په نوم داسې کومه خبره وشي چې د هغې په اړه معلومات ونه لري او حقيقت نه وي.

په ناپوهۍ سره د الله تعالی په اړه يو څه ويل، بې دليله د حرامو او حلالو حکم کول هم د همدې حکم لاندې راتلای شي.

دا تر ډېره هغو وروڼو ته متوجه ده چې په هېڅ نه پوهېږي، خو دا چې خلکو ته کم رانه شي، د حلالو او حرامو فتواگانې ورکوي، خو علم نه لري. دا ډول انسانان تر ټولو لويه گناه کوي.

يو بنده ته دا ويل چې زه نه پوهېږم څومره آسانه او ښه خبره ده، خو که د خلکو له شرمه ځان کم نه راولې او داسې گناه کوې چې تر قتل، زنا، شرک او نورو لويه وي، ځان تباه نه تباه کوې؟

کله چې د الله تعالی په اړه داسې څه وايې چې په اړه يې نه پوهېږې، ښايي حلال دې په ناپوهۍ حرام کړي او حرام دې حلال کړي وي.

دا د یونس علیه السلام دعا ده.
کله چې هغه له خپل قوم څخه ناهیلی شو او د الله تعالی له اجازې پرته یې خپل قوم پرېښود او په بحر کې لوی ماهي له ستوني تېر کړ.
د لوی کب په خېټه کې و او الله تعالی ته یې سوال وکړ چې له دې غمه یې خلاص کړي او همدا دعا یې وکړه.
الله تعالی ورته دعا قبوله کړه او هغه یې وژغوره.
الله سبحانه و تعالی په ورپسې ایت کې فرمایي چې د هغه دعا یې قبوله کړه، هغه یې وژغوره او همدغه شان مؤمنان هم ژغوري.
یعنې که مؤمن هم د غم او تکلیف په وخت کې په دغه ډول دعا له الله پاک مرسته وغواړي، د یونس علیه السلام په څېر یې له ستونزو او ناوړه حالت ژغوري.

## تر ټولو لویه ګناه

د فسق او فجور اصل، د شرک اصل، د کفر اصل او د هرې بلې لویې ګناه اصل؛ دا ګناه څه شی دی چې دومره لویه ده؟
قتل نه دی، زنا، شراب څښل، غلا نه دي، یوه لویه او تر ټولو لویه ګناه ده چې خلکو ته ډېره کوچنۍ ښکاري.
﴿قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَالْإِثْمَ وَالْبَغْيَ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَأَن تُشْرِكُوا بِاللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَانًا وَأَن تَقُولُوا عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ﴾[٥٧]

---

٥٧: الأعراف، ٣٣ آیت

شپږمه: ابن مسعود رضي الله عنه وایي: چا چې د الله تعالی په خاطر خپل مسلمان ورور ته خوراک ورکړ، الله تعالی به دی وږی پرینږدي.
اوومه: چا چې د الله تعالی په خاطر د چا تنده ماته کړه، الله تعالی به هغه تږی پرینږدي.
اتمه: چا چې د الله تعالی په خاطر بل ته بخښنه وکړه، الله تعالی به ده ته بخښنه وکړي. د الله تعالی تر بخښنې هاخوا بل لوی نعمت شته؟
خو که چا درسره زیاتی کاوه؛ مه خپه کېږه او یوازې موسکا ورته کوه، ځکه ستا کسات الله پاک اخلي او هغه ته د دې کار جزا ورکوي.
لنډه دا چې خلکو سره داسې چلند کوه، څنګه چې د ځان لپاره غواړې.

## په غم یا خپګان او تشویشونو اخته یې؟

د هغه چا حالت د حیرانۍ وړ دی چې په غم، تشویشونو او نورو ستونزو اخته وي خو له دې دعا نه غافل وي:
﴿لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ﴾[٥٥]
ژباړه: نشته بل رب مګر ته یې (یا الله)، پاکي ده تا لره، بېشکه زه د ظالمانو له ډلې وم.
الله تعالی دې ایت پسې بل ایت کې فرمایي:
﴿فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَنَجَّيْنَاهُ مِنَ الْغَمِّ وَكَذَلِكَ نُنجِي الْمُؤْمِنِينَ﴾[٥٦]
ژباړه: هله نو مونږ د هغه (یونس علیه السلام) دعا قبوله کړه او له غم نه مو هغه وژغوره او په دغه شان مونږ مؤمنان ژغورو.

---

٥٥: الانبیاء، ٨٧ آیت

٥٦: الانبیاء ٨٨ آیت

ژباړه: مګر هغه کسان چې ایمان یې راوړی، ښه عملونه کوي، او په خپلو کې یو بل ته د حق او د صبر نصیحت یا ښودانه کوي.

## د ژوند لپاره مهمې قاعدې

د الله تعالی له ښکلي دین څخه مې عجیبې قاعدې زده کړې چې ما د خپل ژوند لپاره د تګلارو په توګه ټاکلي. ته یې هم زده کړه او د هر عمل لپاره یې بنسټ وټاکه.

لومړۍ قاعده: هر څه چې کوې ویې کړه، خو دې ته پام ساته چې الله تعالی سره مخامخ کېدونکی یې او د هر عمل حساب حتماً ورکوې.

نو د هر کار له ترسره کولو وړاندې همدا ځان سره وایه چې د دې کار حساب به الله تعالی ته حتماً ورکوم. آیا د دې کار ځواب ویلی شم او که نه؟ که دې ځواب مثبت و، ترسره یې کړه، که نه پام کوه چې د الله تعالی حساب ډېر سخت دی.

دویمه: چا چې د یوه مسلمان تشویش لرې کړ، الله تعالی به د ده تشویش په دې دنیا او په آخرت کې لرې کړي.

دریمه: چا چې د مسلمان پرده وکړه، الله تعالی به په دنیا او آخرت کې دده پر کړنو پرده وغوړوي.

څلورمه: د ځمکې په خلکو رحم وکړئ چې د آسمان خاوند پر تاسې رحم وکړي.

پنځمه قاعده: الله تعالی به تر هغې له یو چا سره مرسته وکړي تر څو چې دی له خپل مسلمان ورور سره مرسته کوي.

لوښي له والدینو سره د الله تعالی امانت دی، که ورته د ښک مېړه په غوراوي کې پوره پام ونکړي، د الله تعالی په امانت کې به یې خیانت کړی وي.

## څومره توپیر دی د اوس او د پخوا ترمنځ؟

الله تعالی دې پر عمر رضي الله عنه ورحمیږي ډېر عادل شخصیت یې درلود. په واکمني کې یې یو وخت قحطي راغله او طبیعي غوړي یا ژیړ غوړي کم شول. عمر رضي الله عنه هم د دغو غوړو خوراک بند کړ. یوه ورځ یې ګېډې قر قر غړونه کول.

امیر المؤمنین و او هر څه یې په واک کې وو، خو د دې په ځای چې تر ټولو ښه خواړه وخوري، خپلې خېټې ته یې وکتل او ویې ویل: "قرقر ما شئت فوالله لاتأكل السمن حتى يأكله الناس)."[٥٣]

ژباړه: څومره چې غواړې غړونه کوه، خو په الله قسم تر هغې به غوړ ونه خورې تر څو نورو خلکو نه وي خوړلی.

## ریښتیني زیان کوونکي

الله تعالی د العصر سورت په پیل کې په زمانه قسم کوي او فرمایي چې بې له شکه انسان په تاوان کې دی، ورپسې ایتونو کې یې ځینې کسان له دې تاوانه مستثنا کړي دي چې دا صفات ولري:

﴿إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ﴾[٥٤]

---

٥٣: دا روآیت د اما احمد بن حنبل په کتاب الزهد کې راغلی

٥٤: العصر، دریم آیت

لیدلي به مو چې کله ځینې ملګري زنګ وهي ساعتونه یا لسګونه دقیقې په ټلیفون په داسې موضوعاتو غږېږي چې په څو دقیقو کې ټوله خبره او موضوع راټولېدای شي.

که ته خپل وخت پر هغه څه تېر کړې چې الله تعالی پرې راضي کیږي، ستا وخت به له برکته ډک وي او الله تعالی به په لږ وخت کې د ډېر کار توفیق درکړي.

که یې خلاصه کړم څلور شیان د انسان وخت ضایع کوي او ژوند بې معنی کوي: ټنبلي یا کسالت په ژوند کې د لوی هدف نه ټاکل او د هغې لپاره عملي پلان نه درلودل، د وخت نه تنظیمول، د نورو لخوا ستا وخت ضایع کول.

## لور څه ډول انسان ته واده کړم؟

یوه پوښتنه چې ډېرو پلارانو او میندو سره وي دا ده چې لور څه ډول شخص ته واده کړم؟

له حسن بن علي رضي الله عنه څخه پوښتنه وشوه: زه لور لرم او غواړم چاته یې نکاح کړم، څه ډول شخص سره یې باید نکاح وکړم؟

هغه رضي الله عنه ورته وفرمایل: له داسې چا سره یې نکاح وکړه چې له الله تعالی نه وېره ولري.

ځکه که یې ورسره مینه درلوده، اکرام او احترام به یې کوي او که یې ورسره مینه نه وه، د الله تعالی له ویرې به پرې ظلم نه کوي.

ته باید د خپل خالق د پېژندلو، عبادت کولو، قرآن لوستلو، مطالعې، دوستانو او کورنۍ، خلکو ته د خیر رسولو، حلالې روزي ګټلو او زدکړې لپاره وخت منظم او ځانګړی کړې. باید دا کار وکړې!

د وخت د ضایع کولو بل لوی لامل همدا د وخت نه تنظیمول دي.

ځینې انسانان دا عادت لري چې هر څه پخپله کوي او پر بل چا اعتبار نه کوي، دا لویه ستونزه جوړوي، ځکه خپل قیمتي وخت په کوچنیو شیانو ضایع کوي او لوی کارونه ترې پاتې کېږي. په پایله کې وخت ضایع شوی وي، خو پایله یې چندان نه وي.

کېدای شي دغه کوچني کارونه ستا ورور، زوی، مېرمن، ملګري او یا کارکوونکي وکړي چې د دوی د کچې یا د استعداد مطابق وي. دوی ته یې پرېږده او ته لویو کارونو ته لاس واچوه.

ته باید په خپل ژوند کې له ټنبلۍ او وخت ضایع کېدو سره جدي مبارزه وکړې او له ځانه یو فعال انسان جوړ کړې.

ته اړ یې چې ځان ته موخې او هدفونه وټاکې او هغې ته د رسېدو لپاره عملي پلان ولرې.

بل لامل چې ستا وخت ضایع کوي؛ هغه ملګري دي چې بل کار ترې ورک شي، ستا له خبرولو پرته راځي او بې فایدې خپل او ستا وخت ضایع کوي. هېڅ نه غواړي مګر دا چې له تا سره وخت تېر کړي او دې ته پام نه کوي چې ته به ضرور او ګټور کار لرې. ته باید دوی وپوهوې چې ستا وخت قیمتي دی او بې وخته او د بوختیا پر وخت ستا وخت ضایع نه کړي، باید دوی ته په نرمۍ د دې خبرې د ویلو جرأت ولرې.

﴿وَمَنْ أَرَادَ الْآخِرَةَ وَسَعَىٰ لَهَا سَعْيَهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُولَٰئِكَ كَانَ سَعْيُهُمْ مَشْكُورًا﴾[51]

ژباړه: او څوك چې د آخرت هيله من وي او د هغه لپاره هلې ځلې وکړي هغسې هلې ځلې چې د هغه لپاره په کار دي او هغه مؤمن وي، نو د هر دغسې وګړي هلو ځلو ته به د قدر په سترګه وکتل شي.

په بل آيت کې الله سبحانه و تعالی فرمايي:

﴿وَالَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يُهَاجِرُوا مَا لَكُمْ مِنْ وَلَايَتِهِمْ مِنْ شَيْءٍ حَتَّىٰ يُهَاجِرُوا ۚ وَإِنِ اسْتَنْصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ إِلَّا عَلَىٰ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِيثَاقٌ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ﴾[52]

ژباړه: چا چې ايمان راوړی دی خو هجرت يې نه دی کړی، نو له هغو سره ستاسې کومه دوستانه اړيکه نشته تر څو پورې چې هغوی هجرت نه وي کړی. هو که هغوی د دين په باب له تاسې نه مرسته وغواړي نو د هغوی مرسته کول پر تاسې فرض دي، خو د يو داسې قوم پر خلاف نه چې له هغه سره ستاسې تړون وي. تاسې چې څه کوئ الله هغه ويني.

له دې آيتونو ښکاري چې پر ما او تا حرکت لازم دی، يوازې په هيلو او دعاګانو نه کيږي، الله تعالی له تا حرکت غواړي.

له خپلو ګناهونو توبه وباسه او پنځه وخت لمونځ کوه، قرآن کريم ولوله، د رسول الله ﷺ لار ونيسه، علم او په ځانګړې توګه ديني زدکړې وکړه، نيک ملګري وټاکه او د خپل ژوند لپاره هدف وټاکه.

---

۵۱ الاسراء: ۱۹ آيت

۵۲: الانفال: ۷۲ آيت

د انسان وخت او ژوند هغه وخت ضایع کېږي چې دی د ځان لپاره لوی هدف ونه لري او یوازینۍ موخه یې دا وي چې ژوند تېر کړي  او خپل وخت په ساعت تېرۍ ضایع کړي، وخوري، وخښي او ویده شي او بس. همدا د دوی روال دی!

دوی په دې ځان هېڅ نه پوهوي چې دنیا ته د دوی د راتګ هدف څه دی او د څه لپاره پیدا شوي دي!؟

کېدای شي ځیني درته ووایي چې موږ الله تعالی د عبادت لپاره پیدا کړي یوو. دا بلکل سمه ده او الله تعالی یې په اړه فرمایلي:

﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾[٥٠]

ژباړه: ما پیریان او انسانان له دې پرته د بل څه کار لپاره نه دي پیدا کړي چې هغوی زما بندګي وکړي.

خو آیا د دې لپاره عملي تګلاره لرې؟

عملي تفصیلي پلان دې ورته جوړ کړی؟

ځکه له عمل پرته هدفونه یوازې هیلې دي او بس.

که ته پلان نه لرې او ځان ته دې د هدف ترلاسه کولو لپاره مهال وېش نه وي جوړ کړی، په حقیقت کې ته یوازې د هیلو پر بنسټ ژوند کوې او هدف ته د رسېدو نیت نه لرې. ستا هدف ګونګ دی او مشخص کړی دې نه دی.

ډېر داسې کسان به مو لیدلي وي چې هیله لري تر ټولو ښه مؤمن، لوی سوداګر، مشهوره کس او بالاخره بریالی انسان اوسي، خو دا یوازې هیلې دي. په دې برخه کې عمل تر ټولو مهمه ونډه لري.

---

٥٠: الذاریات: ٥٦ آیت

ځومره ځوانان پېژنئ چې هدف ته له رسېدو مخکې پرې ژوند وروستی شوی او هره ورځ یې په دې باور ژوند کړی چې زه سبا به یو څه وکړم او هغه سبا پرې نه دی راغلی؟

حسن بصري رحمه الله تعالی وايي: «الانسان بضعة ايام، كلما انقضى يوما انقضى بضع منه» یعنې انسان د ورځو یوه ټولګه ده، د هرې ورځې په تېرېدو د انسان یوه برخه کمېږي.

زموږ د ستونزو يو لوی لامل کسالت یا ټنبلي ده. همدا ټنبلي انسان بېوزله کوي او راتلونکی یې بربادوي.

ته باید د خپلې کورنۍ، اولادونو، مور پلار او نورو خپلوانو لپاره وخت بېل کړې. د عبادت لپاره باید وخت بېل کړې، د مطالعې، چکر، خیر ښیګڼې او ملګرو لپاره وخت ځانګړی او منظم کړې.

ټنبلي انسان او په ټوله کې ملتونه ناکاموي. نو ځکه ته باید سهار وختي راپاڅېږې، عبادت وکړې، علمي کارونه وکړې او د روزي ګټلو لپاره ووځې. ته حرکت وکړه الله تعالی برکت کوي ان شاء الله.

د مؤمن وخت قیمتی دی او باید په دې ځان او خلک وپوهوي چې وخت تر سرو زرو هم ډېر ارزښت لري.

رسول الله ﷺ تنکی ځوان و او ملګرو لوبو ته دعوت کړ، خو ځواب یې دا و چې "انا لم أُخلَق لهذا" یعنې زه د دې کار لپاره نه یم پیدا شوی!

زموږ ځوانان د ورځې لخوا کاروبار کوي او د شپې لخوا بیا داسې لوبې کوي چې ساعتونه نیسي او ورپسې ویده کېږي.

مطالعه، ځانګړي عبادتونه او نور خیر ښېګڼه ترې پاتې وي.

قرآن کریم جنت ته نېغه لار ده. هر سهار یې تلاوت کوئ، ډاډ اوسئ چې نېکمرغه دنیوي او اخروي ژوند به ولرئ، ان شاء الله.

## تنبلي او وخت ضایع کول د نه بخښنل کېدو وړ ګناه ده

له بده مرغه چې په اوسني وخت کې زموږ د اکثره خلکو ډېر مهم وخت په بې ګټې خبرو، د سریالونو یا فلمونو په کتلو او نورو بې ګټو کارونو ضایع کیږي. شپې تر سهاره بې فایدې مجلسونه کوي. په دې ډول شیانو د دوی انرژي مصرفیږي او لټان ترې جوړیږي!

تر څو به موږ په دې عیاشیو اخته یوو؟

کله به علمي کارونه کوو او د دې اُمت او د خپلې ټولنې لپاره به خپل مسؤلیت ادا کوو؟

پوهېږئ تاسې نه یوازې خپله دنیا او آخرت بربادوئ، بلکې د خپل اُمت او ټولنې پر وړاندې مسوول یاست او د دوی په حق کې ظلم کوئ.

زموږ د پیدایښت علت څه شی دی؟ همدا چې شپه په ساعت تېریو او ورځ په خوبونو تېره کړو؟ او بیا دا نارې وهو چې ولې زموږ هر څه برباد دي او ولې الله تعالی زموږ د هېواد او ټولنې حالت نه بدلوي؟

پوهېږئ چې ولې موږ ځان دومره بدبخته کړی دی؟

ځکه چې موږ د وخت په ارزښت نه پوهیږو، ځوانان مو ځانونو ته روښانه هدفونه نه ټاکي او هر فرد خپل مسؤلیت په سم ډول نه اداء کوي.

موږ باید ځان ته برنامه جوړه، لومړیتوبونه مشخص او خپل وخت منظم کړو. ځکه وخت هېچاته انتظار نه کوي او هره ثانیه چې موږ یې ضایع کوو، الله تعالی به یې پوښتنه کوي.

حلال هغه چې الله تعالی او د هغه رسول موږ د هغې ترسره کولو ته هڅولي یوو.

حرام هغه چې الله تعالی موږ ته د هغې د نه ترسره کولو امر کړی.

عیب بیا هغه چې زموږ له کلتور او ټولنیزو اصولو سره په ټکر کې وي.

کله چې یو انسان د حلالو او حرامو څخه بې پروا شي، یو بل شی چې د ورانکارۍ او بد اخلاقۍ مخه نیسي عیب دی.

څکه ټولنیز محدودیتونه هم د دې لامل کېدای شي چې څینې انسانان د ناوړه کار له ترسره کولو ډډه وکړي.

نو موږ باید خپلو اولادونو او نسلونو ته د عیب په وربښودلو کې پوره هڅه وکړو. څکه تاسې کفري هېوادونه وګورئ حلال او حرام نه مني خو ټولنو کې یې څینې ښېګنې وي، دا څکه چې دوی خپل نسلونه په کلتوري لحاظ روزلي او خپل ارزښتونه یې ورته په ګوته کړي.

مثلاً ماشومانو ته ښوونځي کې ورزده کول کیږي او میندې او پلرونه هم ورسره په دې کې کار کوي چې دروغ ویل ناسم کار او عیب دی.

## قرآن کریم زموږ د ژوند تګلاره

پر مخلوق د الله تعالی د کلام فضلیت همدومره لوړ دی لکه د الله تعالی برتري په بنده باندې!

قرآن کریم د دنیا او آخرت د ښېرازۍ بنسټ او جنت ته د تلو یوه مهمه وسیله ده. له دې پرته دا لوړ نعمت او لویه بریا ترلاسه کول ناشوني دي. کلام الله زموږ د ژوند تګلاره ده. زموږ قانون دی.

## دين چېرې دی؟

يوه ډله خلک په دې باور دي چې دين يوازې په جومات کې دی. دا بشپړه خبره نه ده. دا له دين څخه سرسري برداشت دی.

حقيقت دا دی چې دين د جومات ترڅنګ په نورو ځايونو کې دی. دين ستا په دفتر کې دی، ستا په دوکان کې دی. دين په بازار کې په راکړه ورکړه کې، په توليد کې، له خلکو او ګاونډيانو سره په چلند کې، دين ستا په کور کې او بلاخره دين د ژوند په ټولو چارو کې دی. که ستا ټول ژوند ديني نه وي يوازې د جومات دينداري دې د آخرت په لوی امتحان کې نه شي بريالی کولای! دينداري ستا په اخلاقو او چلند کې نغښتې. ښه اخلاق د دين درېيمه او د ديندارۍ بشپړوونکې برخه ده.

د دنيا عمر لنډ دی، ژوند ګران، وخت کم، مسؤوليت لوی او د آخرت امتحان سخت دی. هغه سخت امتحان ته چمتوالی مه هېروه!

که غواړې په دغه لويه آزموينه کې بريالی شې، د جومات ترڅنګ دينداري د ژوند په ټولو اړخونو کې ولټوه.

## زموږ د اُمت د اوسني وضعيت د بدلون حل لار

زموږ د اُمت اوسنی وضعيت د درې اصطلاحاتو له پامه غورځولو له امله دی: حلال، حرام او عيب.

که په ماشومتوب کې موږ ته دغه درې اصطلاحات په سم ډول را زده شوي وای، نن به مو ښايي ډېرې ستونزې حل وې.

که نن هم موږ د خپل ښوونيز او روزنيز نظام بنسټ په همدې درې کلمو ودروو، راتلونکې ته به مو د ډېرو ستونزو مخنيوی کړی وي.

الله تعالی به د هغه د دنیا او آخرت د هغو ټولو چارو لپاره کافي شي چې ده ته يې غم او فکر ور اچولی وي.»[٤٧]

ځلورم: سهار او ماښام درې ځل دا دعا وایه: «بسمِ اللهِ الذي لا يَضرُ مع اسمِه شيءٌ في الأرضِ ولا في السماءِ وهو السميعُ العليمِ.»

ژباړه: د الله په نامه، هغه رب چې په نوم يې په ځمکه او اسمان کې هېڅ شی زيان نشي رسولی، هغه (د هر څه) اورېدونکی او پوه دی).

په دې اړه حديث کې راځي: «چا چې (ماښام) درې ځلې وويل: ‹بِسْمِ اللَّهِ الَّذِي لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ، وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ› نو تر سهار پورې به ورته هېڅ ناڅاپي بلا (مصيبت) ونه رسيږي او چا چې د سهار پر مهال دا دعا درې ځلې وويله، نو تر ماښامه به هېڅ ناڅاپي بلا ور ونه رسيږي.»[٤٨]

پنځمه طريقه: صدقه

د صدقې په اړه چې څومره ووايم کمه ده. ډېرې زياتې مالي او معنوي ګټې لري. د صدقې په ورکړې، يو خو به د سترګو، حسد او سحر له اغېز خوندي شئ، بل دا چې ستاسې په حق کې به د الله تعالی غضب په رحمت بدل شي.

په حديث کې راځي: «خپل مالونه په زکات سره خوندي کړئ، د خپلو ناروغانو درملنه (علاج) په صدقې سره وکړئ، او د بلاګانو (مصيبتونو) ليرې کولو لپاره په دعا او زارۍ مرسته وغواړئ.»[٤٩]

---

٤٧: دا حديث ابو داود (٥٠٨١)، او ابن السني په "عمل اليوم والليلة (٧١)" کې روايت کړی

٤٨: ابو داود (٥٠٨٨). ترمذي (٣٣٨٨)

٤٩: دا حديث ابو داود په خپل کتاب "المراسيل (١٠٥)" کې روايت کړی دی.

(سورت اخلاص) او معوذتين (سورت الفلق او سورت الناس)، سهار او ماښام درې، درې ځلې لوله؛ دا به تا ته د هر شي (له شر څخه د ساتنې) لپاره کافي شي.»[٤٥]

دويم: کله چې دې د چا له حسد، کينې، بدنيتۍ، سحر او بد نظر څخه ډار درلود، دا نبوي دعا وايه: «اللَّهُمَّ إِنَّا نَجْعَلُكَ فِي نُحُورِهِمْ، وَنَعُوذُ بِكَ مِنْ شُرُورِهِمْ».

ژباړه: اې الله! مونږ تا د هغوی په وړاندې کوو [چې ته يې مخه ونيسې او دفع يې کړې]، او د هغوی له شره تا ته پناه در وړو.

له أبي موسى الاشعري رضي الله عنه څخه روايت دی: نبي کريم ﷺ به کله له کوم قوم (کوم ډله خلکو) څخه د ډار احساس کاوه، نو دا دعا به يې کوله: «اللَّهُمَّ إِنَّا نَجْعَلُكَ فِي نُحُورِهِمْ، وَنَعُوذُ بِكَ مِنْ شُرُورِهِمْ»[٤٦]

دريم: هر سهار او ماښام اووه (٧) ځله دا دعا وايه: «حَسْبِيَ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ، عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ، وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ»

ژباړه: الله ما ته کافي دی، له هغه پرته بل د عبادت وړ نشته، يوازې په هغه مې توکل کړی او هغه د ستر عرش رب دی.

په دې اړه حديث کې راغلي: «څوک چې سهار او ماښام اووه ځلې ووايي: حَسْبِيَ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ، عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ.

---

٤٥: أبو داود (٥٠٨٢). ترمذي (٣٥٧٥)

٤٦: أبو داود (١٥٣٧). وأحمد (١٩٧٢٠)

نو مؤمن ملګري هغه شتمن ته همدا ویلي چې ته څه شي له دې منع کړې چې کله خپلو باغونو ته د ننه کېدې او دا و وایې چې دا هغه څه دي چې الله تعالی غوښتي، له الله تعالی پرته بل قدرت نشته.

یعنې دا هر څه چې ما ته یا تا ته الله تعالی راکړي، دا د هغه قدرت دی چې ساتنه یې کوي.

کله چې الله پاک په نعمتونو نازولی وې، تل د هغې شکر ادا کوه او منندوی اوسه، ور سره به دې نعمتونه دوام وکړي او لا به زیات شي.

خلاصه دا چې کله دې غوښتل چې ستا بد نظر په چا یا د نورو خلکو بد نظر په تا یا ستا په اولاد اغیز ونه کړي: کله چې د یوه شي صفت کېدو سملاسي دا دوه دعاګانې وایه:

- مَا شَاءَ اللَّهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ
- اللَّهُمَّ بَارِكْ فِيهِ

دریمه طریقه: سهار او ماښام اذکار

د سهار او ماښام اذکار بیلابیل دي، خو له حسد، بد نظر او نورو مصیبتونو او افتونو څخه د خوندیتوب په اړه لاندې اذکار په مبارکو حدیثونو کې روایت شوي دي.

لومړی: هر سهار او هر ماښام په خپلو اذکارو کې درې ځل سورت اخلاص، درې وارې سورت فلق او درې ځل سورت ناس (د قران کریم درې اخري سورتونه) دوامداره وایه. الله تعالی به دې د حسد او بد نظر په ګډون له هر ډول افتونو، بلاګانو او شر څخه وساتي.

په دې اړه حدیث مبارک کې راځي: «عبدالله بن خبیب رضي الله عنه روایت کړی چې رسول الله ﷺ راته وفرمایل: ﴿قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ﴾

یوه بل حدیث مبارک کې أنس بن مالک رضي الله عنه روایت کړی چې نبي کریم ﷺ فرمایلي: «ما أنعَمَ اللهُ على عَبدٍ نِعمةً في أهلٍ أو مالٍ أو ولَدٍ، فيَقولُ: ما شاءَ اللهُ لا قوةَ إلَّا باللهِ، إلَّا دَفعَ اللهُ عَنه كُلَّ آفةٍ حَتَّى تَأتيَه مَنيَّتُه، وقَرَأ هذه الآيَةَ: ﴿وَلَوْلَا إِذْ دَخَلْتَ جَنَّتَكَ قُلْتَ مَا شَاءَ اللَّهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ ۚ إِنْ تَرَنِ أَنَا أَقَلَّ مِنْكَ مَالًا وَوَلَدًا﴾»[٤٣].

ژباړه: کله چې الله پاک په کوم بنده د کورنۍ، مال او اولاد نعمت پیرزو کړي، او هغه (د نعمت لیدلو یا ترلاسه کولو پر مهال) ووایي: «مَا شَاءَ اللَّهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ» (ژباړه:هغه څه کیږي چې د الله خوښه وي، له الله پرته بل هیڅ طاقت نشته). الله به له هغه (نعمت) څخه هر ډول آفت او بلا لرې کړي، تر دې چې مرگ ورته راشي. او (راوي وایي چې رسول الله ﷺ ورپسې د کهف سورت) دا آیت تلاوت کړ: ﴿وَلَوْلَا إِذْ دَخَلْتَ جَنَّتَكَ قُلْتَ مَا شَاءَ اللَّهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ ۚ إِنْ تَرَنِ أَنَا أَقَلَّ مِنْكَ مَالًا وَوَلَدًا﴾[٤٤] (ژباړه: او کله چې ته خپل باغ ته ننوتلې، ولې دې ونه ویل چې: دا هر څه د الله په خوښه دي، د الله له مرستې پرته بل هیڅ ځواک نشته، که ته ما وینې چې په مال او اولاد کې تر تا کم یم؟).

د کهف سورت د دې ایت په تفصیل کې راځي چې دوه کسان وو چې یو یې په خپله شتمنۍ مغرور شوی او له خپل رب څخه بې پروا شوی و او خپل ملگري ته چې مؤمن و او دومره مال یې نه درلود پېغور کاوه چې زه هر څه لرم ته یې نه لرې.

٤٣: المطالب العالية (٣٤٨/١٠). تفسير ابن كثير(١٥٨/٥).

٤٤: الكهف: ٣٩ آيت

اوورپسې د قرآن کريم درې آخري سورتونه (سورة اخلاص (قل هو الله احد) الفلق سورت (قل اعوذ برب الفلق) او الناس سورت (قل اعوذ برب الناس) درې درې وارې ووايه.

ځينې نبوي دعاګانې هم شته چې د سهار او ماښام د اذکارو په ډول يې هره ورځ ويلی شې چې د هغې په برکت به دې الله پاک له هر ډول شر او ضرر څخه ساتي.

دويمه طريقه: د برکت دعا کول

کله چې مو پر يو څه سترګې خوږې لګېدې يا ډارېدئ چې سترګې مو چاته ضرر ونه رسوي، د برکت دعا کوئ چې الله پاک يې په هغه نعمت کې برکت واچوي.

د برکت دعا: اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَيْهِ. يا داسې هم ويلی شي: اللَّهُمَّ بَارِكْ فِيهِ. (ژباړه: اې الله! په هغه (نعمت) کې برکت واچوې يا الهي پر هغه (نعمت يا د نعمت په خاوند) برکت نازل کړې).

که د دعا عربي الفاظ مو نه و زده، په خپله ژبه ورته دعا ووايئ: الله پاک دې ستا په دغه نعمت کې برکت واچوي.

رسو الله ﷺ فرمايلي: «إذا رأى أحدُكم ما يُعجبُهُ في نَفسِهِ ، أو مالِهِ فليبرِّكْ علَيهِ فإنَّ العَينَ حقٌّ»[٤٢]

ژباړه: «کله چې ستاسو څخه يو څوک په خپل ځان يا خپل مال کې کوم داسې شی ويني چې هغه يې خوښ شي (يا تعجب ورته وکړي)، نو بايد د برکت دعا ورته وکړي؛ ځکه نظر (د سترګو لګېدل) حق دي.

ځينې علماء وايي چې درود ويل حسد، کينه او سترګو اغېز ردوي.

---

٤٢: الکلم الطيب | پاڼه/حديث شمېره: : ٢۴۴.

۲: د الله د عبادتونو خیال ساتل او په خپل وخت پنځه وخته لمونځونه ترسره کول.
۳: په الله توکل او باور کول او د هغه کار لپاره اسباب برابرول (ډاکټر یا اړوند طبي متخصص ته مراجعه او درمل کارول) او انساني کوشش کول چې په اړه یې دعا کیږي.
۴: دوامداره نبوي اذکار او دعاګانې لوستل او د شیطان هغو وسوسو ته پام نه کول چې غواړي انسان ناهیلی کړي.
موږ د مسلمانانو په توګه ایمان لرو چې د سترګو اغېز حق دی او سحر شته. خو هره ستونزه یا هره ناروغي سحر یا نظر پورې تړلی ځکه نه شو چې دا غیبي مسائل دي او په آسانۍ یې توپیر نه شي کېدای. خو د زړه د ډاډ لپاره دا غوره ده چې الله تعالی ته له هر شر څخه پناه یوسو او دوامداره مسنونه دعاګانې او د سهار او ماښام اذکار ووایو.
ځینې طریقې دي چې موږ او تاسې پرې ځان د جادو او نظر یا د سترګو له تاثیره خوندي ساتلی شو:
لومړۍ طریقه: د قرآن کریم ځینې ایتونه سهار او ماښام لوستل.
که دې حس وکړ چې سترګو درباندې اغېز کړی، په دوامداره ډول سهار او ماښام سورة الفاتحه یا د قران کریم لومړنی سورت ووایه، ورپسې آیت الکرسي، بیا د بقرې سورت وروستي آیتونه (آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ... د سورت تر اخره ولوله. بیا د نهه ویشتمې سپارې د دویم یا القلم سورت وروستی آیت (فَاجْتَبَاهُ رَبُّهُ فَجَعَلَهُ مِنَ الصَّالِحِينَ...)

«استعيذوا باللهِ من العينِ فإنَّ العينَ حقٌّ». [41]

ژباړه: د سترګو له اغېز څخه الله تعالی ته پناه وړئ. ځکه سترګې (تاثير يا اغېز يې) حق دي.

د سترګو اغېز دومره پياوړی وي چې کېدای شي خپل اولاد، خپل د کورنۍ کوم غړی او ان خپل ځان هم په خپلو سترګو زيانمن کړې.

## څنګه د سترګو له تاثير يا سحر خوندي کېدای شو؟

شرعي رقيه يا دم او دعا د ناروغيو د درملنې او شفا غوښتلو يوه منل شوې او اغېزناکه وسيله ده. دا عمل په قرآن کريم او نبوي اذکارو (دعاګانو) ثابت دی چې د ايمان په ځواک او په الله جل جلاله د کلک توکل په بنسټ د روحاني او جسماني ناروغيو د درملنې، او همدارنګه د شر، جادو او بد نظر څخه د خونديتوب لپاره کارول کيږي.

رقيه يا دم کول شرعا جايز دي، خو په دې شرط چې د قرآن کريم، نبوي سنتو، اسماء الحسنی يا د الله تعالی د غوره نومونو او صفتونو، يا په شرعي دعاګانو وي. ورسره بايد په الله توکل وشي، اسباب برابر او وکارول شي او رقيه کوونکی دا عقيده ولري چې زيان او ګټه يوازې د الله په لاس کې ده. نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: «په هغو دمونو کې هيڅ باک (ګناه) نشته چې شرک پکې نه وي».

د شرعي دم (رقيې) له پيلولو وړاندې، لاندې ټکي اړين دي:

١: له ګناهونو توبه کول

---

٤١: رواه ابن ماجه، وصححه الألباني في صحيح الجامع

د دې لپاره چې نظر نه شئ) او ننوځئ (دوه دوه یا درې درې) له بېلابېلو دروازو څخه. او نشم دفع کولی زه تاسې د الله تعالی له (قضاء) څخه (په انساني تدبیر سره). حکم یوازې د الله تعالی دی او پر الله پاک ما توکل کړی او پر هغه دې توکل وکړي توکل کوونکي.

په حدیث مبارک کې زموږ قائد ﷺ فرمايي:

«العينُ حقٌّ، ونَهى عن الوَشْم»[٣٩]

ژباړه: سترګې حق دي او له ټاپو (ټټو یا په بدن د ټاپو لګولو) څخه یې منع کړې.

له ابن عباس رضي الله عنهما روایت شوي حدیث کې رسول الله ﷺ فرمایلي:

«العين حق، ولو كان شيء سابِقَ القَدَرِ لسبَقَتْه العين»[٤٠]

ژباړه: سترګې حق دي، او که کوم شی له قدر نه مخکې کېدای شوای نو هغه به سترګې (د سترګو تاثیر) وای.

علماء وایي په دې مبارک حدیث کې د سترګو د تاثیر په اړه مبالغه ده د دې لپاره چې د انسان په زړه کې د سترګو د تاثیر په اړه شک لرې کړي او د سترګو د تاثیر په قوت ټینګار وکړي.

د سترګو اغېز خپله په قدر کې راځي؛ خو دا د مبالغې اسلوب دی چې د زړه د ډاډ لپاره کارېدلی.

یو بل مبارک حدیث کې رسول الله ﷺ فرمايي:

---

٣٩: رواه البخاري

٤٠: رواه مسلم في كتاب السلام، باب الطب والرُّقَى

ته چې له الله تعالی هر څه غواړې، د هغه له بندګانو سره همغه کوه. که غواړې الله تعالی پر تا مهربان وي، ته د هغه پر مخلوق مهربان شه، ځکه الله تعالی شکور ذات دی، ستا د هر کار بدله څو چنده او په اخر کې لويه بدله يعنې جنت درکوي.

## د انسانانو سترګې خلک اغېزمنولی شي؟

ډېری خلک پر خپل جسد فکر کوي او تل د خپل بدن درملنه کوي. که ويټامين اخلي د جسد لپاره، که ورزش کوي د جسد لپاره او بلاخره ټول پام يې پر جسم او د هغې په پياوړي کولو ورټول وي. دوی د روح د پياوړي کولو او د درملنې او ساتنې لپاره توجه نه کوي، حال دا چې څومره پام چې پر بدن کېږي، تر دې ډېر بايد پر روح وشي. د انسان روح دومره پياوړی دی چې پر نورو انسانانو اغېز کوي.

په ځانګړې توګه سترګې داسې ځواک لري چې انسان اغېزمنوالی شي. قرآن کريم هم دې موضوع ته اشاره کړې.

کله چې د يوسف عليه السلام وروڼه د هغه څنګ ته ورتلل، پلار يې ورته نصيحت وکړ چې الله پاک يې په اړه فرمايي:

﴿وَقَالَ يَا بَنِيَّ لَا تَدْخُلُوا مِنْ بَابٍ وَاحِدٍ وَادْخُلُوا مِنْ أَبْوَابٍ مُتَفَرِّقَةٍ ۖ وَمَا أُغْنِي عَنْكُمْ مِنَ اللَّهِ مِنْ شَيْءٍ ۖ إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ ۖ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ۖ وَعَلَيْهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُونَ﴾[٣٨]

ژباړه: يعقوب (عليه السلام له شفقته) خپلو زامنو ته وويل، اې زما زامنو! تاسې (مصر ته) له يوې دروازې مه ننوځئ، (تفسير کې راځي:

---

٣٨ : يوسف: ٦٧ آيت

څلورم: «و رجُلٍ لم يُوتيهِ اللهُ علماً و لا مالاً فهو يقول، لو انَّ اللهَ اتانيِ مالا لفعلتُ مثلَ فلان، قال فهو بنيتِهِ و هما في الوِزرِ سواء».
ژباړه: هغه انسان چې الله تعالی نه علم او نه هم مال ورکړی وي، (جاهل غریب وي) او دی وایي که پیسې مې درلودای، نو د فلاني په شان کارونه به مې پرې کړي وو (ناروا لارو باندې به مې لګولې وای).
نو (رسول الله ) وویل: دی به په همدغه ډول نیت مسؤل ګڼل کیږي او دی له هغه مالداره بخیل سره په ګناه کې یو شان دی.
داسې انسانان چې کبرجن وي، په خپلو پیسو بې ځایه غرور کوي او عاید او مصرف یې دواړه ناروا وي.
دوی دواړه هغه چې بدکاره وي او هغه چې د بدکارۍ نیت لري، دواړه په ګناه کې برابر دي. یوه ته په بد عمل او بل ته په ناوړه نیت سزا ورکول کیږي.
ډېره سخته نه ده؟ تا ګنا کړې هم نه وي خو یوازې په ناوړه نیت او د بدنیتۍ او ناسمې ارادې له امله بدبخته کېږې!
نیت پاک ساتئ، په نیت مو هم الله تعالی بخښي او په بدنیتۍ مو مواخذه کوي.

## د ژوند لپاره څو مهمې قاعدې

که غواړې الله تعالی درسره نرمي وکړي، د هغه په بندګانو مهرباني او لطف کوه.
که غواړې الله تعالی مال درکړي، بندګانو ته یې صدقه ورکړه.
که غواړې الله تعالی تا وبخښي، بندګانو ته یې بخښنه کوه.

مال به مې ټول فقیران ماړه کړي وو. الله تعالی خپل نبي ته وحیه وکړه چې فلاني نېک بنده ته مې ووایه: ته الله تعالی رېښتینی بللی یې او ستا له نېک نیت څخه یې مننه کړې او د همدې شگو په اندازه د مال د صدقې ورکولو اجر یې درکړی دی.

الله اکبر! دا ځکه چې په نیت کې یې اخلاص و، رېښتینی و، نیت یې خالص کړی و او دا یې ارمان و چې کاش ډېر مال یې لرلای چې صدقه کړی یې وای. دا چې خپله بېوزله و، نو الله تعالی یې نیت باندې هم اجر ورکړ.

که د خیریه کارونو وس نه لرې، حد اقل دا نیت کوه چې که الله پاک ما ته امکانات راکړي وای نېک کارونه به مې پرې ترسره کړي وو.

دریېیم: «و رجلٍ اتاه الله مالً و لم یُؤتیهِ علما فهو یخبِطُ في ماله على غیرِ هداه، فهو بنیته».

ژباړه: هغه انسان چې الله تعالی مال ورکړی، خو علم یې نه دی ورکړی، دی خپل مال په ناروا لگوي، نو دی به هم په خپل خراب نیت مؤاخذه کېږي.

یعنې مال په داسې لار لگوي چې الله تعالی پرې راضي نه وي او له الله تعالی څخه نه ډارېږي. په دې نه پوهېږي چې په دې مال کې الله تعالی حق لري او کله چې یې ته د خیر لپاره وکاروې، د الله پاک حق اداء کېږي.

دا ډول انسان سره له دې چې ښه شتمن دی، خو دا چې بخیل دی او خپل مال په ناروا لگوي نو د همدغه نیت له کبله ورسره الله پاک حساب کوي.

ژباړه: هغه انسان چې الله تعالی علم ورکړی وي، خو مال یې نه وي ورکړی او هغه وایي: که الله تعالی ماته مال راکړی وای د فلاني په شان به مې لګولی و (صدقه به مې ورکړې وه یا د خیر په کارونو به مې لګولی و، د یتیمانو کفالت به مې په غاړه اخیستی و، څاه به مې کیندلې وه، د علم په خپرولو او دعوت به مې لګولی و او داسې نور خیریه کارونه به مې پرې کړي وو).

رسول الله ﷺ فرمایي: دا کس په خپل نیت همدومره اجر ترلاسه کوي لکه دا کار چې یې کړی وي او د دوی دواړو لپاره یو اندازه اجر دی.

سبحان الله! په نیت باندې دومره لوی اجر!

نه یې مال لګولی وي، نه یې زحمت ګاللی وي، یوازې نیت پاک ساتي او د خیر اراده لري، په همدې د هغه چا په اندازه اجر لري چې دا کار یې کړی وي!

ځکه انسان که بېوزله وي یا هغه څه چې د ده په تقدیر کې نه وي، دی پرې ملامت نه دی او یوازې دې خپل نیت سم کړي.

په خالص نیت هم الله پاک خپل بنده ته اجر ورکوي او د قیامت په ورځ به دغه د پاک نیت لرونکي مسکین او هغه مالداره ته یو شان اجر ورکوي چې خپل مال په نېکه لار مصرفوي.

امام ابو حامد الغزالي په خپل کتاب احیاء علوم الدین کې یو روایت را نقل کړی چې د بني اسرائیلو یو سړی چې خپله ډېر فقیر و، یو ځل په یوه شګنه غونډۍ باندې و او له ځان سره یې وویل چې که الله تعالی دا شګې (ریګ) مال کړی وای او واک یې له ما سره وای، په دې

لومړی: «رجُلٍ اتاهُ اللهُ مالاً و آتاهُ علماً فهوَ يَعملُ بعلمِهِ في مالِهِ»
هغه کس چې الله تعالی مال او علم ورکړی وي او دی خپل علم په خپل مال کې کاروي. يعنې په هره سوداګريزه معامله کې الله تعالی په ياد ساتي او رضايت يې غواړي.

په خپلې سوداګرۍ کې ظلم نه کوي، خراب مال په چا نه پلوري، شرکت ته نه وايي چې د دوا کيفيت ټيټ کړه، د سړک جوړونې موادو کيفيت د ډېرې ګټې لپاره نه خرابوي، حرام کاروبار نه کوي، هر کار چې کوي الله تعالی حاضر ګڼي او په هر کار کې له الله تعالی څخه ډاريږي او په هر کار کې د هغه رضا لټوي.

د دې ډول انسان مقام به الله تعالی ډېر لوړ کړي او په کاروبار کې به يې ګټه او برکت وي. له ده او کورنۍ څخه به يې ناروغۍ لرې وي، په زړه کې به يې سکون وي او له ژونده به خوند اخلي. که د دې برعکس و، له دې نعمتونو به محروم او در په در خاورې پر سر وي.

د قرآن کريم دې مبارک آيت ته دقيق پام وکړئ:

﴿ وَيَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ قُلِ الْعَفْوَ﴾[٣٧]

ژباړه: له تا پوښتنه کوي (اې محمد ﷺ) څېڅه شی صدقه ورکړي؟ ته ورته ووايه هغه څه چې ستاسې له اړتيا څخه زيات وي.

دويم: «و رجُلٍ اتاهُ اللهُ علماً ولم يُوتِيهِ مالاً فهو يقول: لو ان الله تبارک و تعالی لاتانِي مالاً لَفَعلتُ فيهِ کما يفعلُ فلانٌ. قال، فهو بنِيَّتِهِ و هما في الاجرِ سواءٌ».

---

٣٧: البقرة: ٢١٩ آيت

په پیل کې ستا پام د موضوع اهمیت ته ور اړوي او رسول الله ﷺ په الله تعالی قسم کوي چې د موضوع اهمیت او تا ته یې د ګټې رسولو باندې دلالت کوي!

دویم: و ما ظُلِمَ عبداً مَظلمةً فَصَبَرَ علیها الا زادَهُ اللهُ بها عزا!

ژباړه: او هر بنده چې د ظلم پروړاندې صبر وکړ، الله تعالی به عزت ورکړي او عزتمن به شي.

بخښنه وکړه، د خلکو له تېروتنو تېر شه، صبر وکړه او سینه پراخه ساته. د دنیا ژوند لنډ او د دښمنیو او کینې لپاره نه دی. د دې عادت په بدل کې به الله تعالی عزت او اجر درکړي.

ځینې خلک ظلم کوي چې تا له پښو وغورځوي، خو الله تعالی تا لا پسې لوړوي او پیاوړی کوي دې.

دریېم: «و ما فتحَ عبداً بابَ مسألَةٍ الا فتحَ اللهُ علیهَ بِهِ بابَ فقرٍ!»

ژباړه: او چا چې د سوال لپاره (د بنده) دروازه پرانیسته یا وټکوله، الله تعالی به ورته د بېوزلۍ یا فقر دروازه پرانیزي!

پام دې دی؟ رسول الله ﷺ دې هڅوي چې غیرتمن، با عفت او با عزت اوسې او د دې درې شیانو تر یادونې وروسته چې رسول الله ﷺ پرې قسم کړی، د حدیث په پای کې یې فرمایلي چې څو ښوونې درته کوم په یاد یې ساتئ:

«انما الدُّنیا لاربَعَةِ نفرٍ»:[٣٦]

ژباړه: په دنیا کې څلور ډوله خلک ژوند کوي.

د دغه مبارک حدیث په دوام کې ددغه خلکو ځانګړتیاوې بیان شوي:

٣٦: رواه الترمذي وقال: حدیث حسن صحیح.

ژباړه: په درې شیانو درته په الله تعالی قسم کوم او یوه خبره درته کوم په یاد یې ساتئ: صدقه د بنده مال نه کموي، او په هر بنده چې ظلم وشي او هغه یې په مقابل کې صبر وکړ، الله تعالی به عزت ورکړي او عزتمن به شي او څوک چې د سوال لپاره د بنده دروازه پرانیزي یا وټکوي، الله تعالی به ورته د بېوزلۍ یا فقر دروازه پرانیزي.

د دغه مبارک حدیث درې جملو کې کتابونه خبرې دي:

لومړی: ما نَقَصَ مالُ عبدٍ من صَدَقة.

ژباړه: صدقه د بنده مال نه کموي.

سبحان الله! د الله تعالی حبیب په خپل خالق درته قسم کوي چې صدقه د انسان مال نه کموي؛ بلکې درته پکې برکت اچوي او څو چنده بدله یې درکوي!

ډېری مسلمانان د دې لپاره صدقه نه کوي چې فکر کوي صدقه اقتصادي بوج دی او مال یې ورسره کمېږي.

چېرته دی زموږ یقین او ایمان؟ د الله تعالی او د هغه د رسول ﷺ په خبره مو یقین نه راځي؟

ستا نبي درته قسم کوي او د قرآن کریم ګڼ آیتونه پر دې دلالت کوي چې د صدقې بدله څو چنده ده، خو ته پرې باور نه لرې، د نتیجې د ترلاسه کولو لپاره یې بې صبره یې او دا نه منې چې صدقه د مال کمولو پر ځای په حقیقت کې مال زیات او برکتي کوي.

د حدیث شریف مقدمې ته مو پام شو؟

که د نېکیو په حساب کې باقي شوئ او ګناهونه مو ډېر و، توبه مو تور حساب سپینوي!

خپل عملونه وتلئ، مخکې له دې چې ستاسې عملونه وتلل شي. داسې نه چې په بې پروایۍ ورځ تر بلې د نېکو عملونو تله سپکېږي او بله ورځ ګورئ چې د الله تعالی پر وړاندې مو د نېکو عملونو تله سپکه او د بدیو هغه درنه وي.

بریالي انسانان هره شپه له ځان سره حساب کتاب کوي. او تل خپل عملونه تلي.

هره شپه چې د خوب بسترې ته ورتللئ، مخکې له دې چې ویده شئ، یوه حسابي له ځان سره کوئ.

## دا مبارک حدیث د خپل ژوند لپاره قانون وټاکه

امام احمد بن حنبل او امام الترمذي په خپلو کتابونو کې صحیح حدیث روایت کړی چې د الله پاک حبیب ﷺ په درې داسې شیانو قسم کوي چې زموږ لپاره ډېر زیات مهم دي.

« ثلاثٌ أُقسِمُ عليهنَّ وأُحدِّثُكم حديثًا فاحفظوه قال ما نقص مالُ عبدٍ من صدقةٍ ولا ظُلِم عبدٌ مظلمةً صبر عليها إلَّا زاده اللهُ عزًّا فاعفوا يُعزَّكم اللهُ ولا فتح عبدٌ بابَ مسألةٍ إلَّا فتح اللهُ عليه بابَ فقرٍ». [٣٥]

٣٥: الراوي : أبو كبشة الأنماري | المحدث : المنذري | المصدر : الترغيب والترهيب | الصفحة أو الرقم : ٢٨٥/٣ | خلاصة حكم المحدث : [إسناده صحيح أو حسن أو ما قاربهما] | التخريج : أخرجه الترمذي (٢٣٢٥)، وأحمد (١٨٠٦٠) مطولاً.

خو دومره وایم د چا چې د ژوند پیل ښه نه وي، د هغه به د ژوند پای روښانه نه وي.

هغه ځوان چې ډېری لمونځونه یې په جومات کې وي، علم کوي، خپلې سترګې، ژبه، غوږونه، لاسونه پښې او د بدن نور غړي له ناروا ساتي، د داسې انسان راتلونکې روښانه ده. د هغه لپاره دا آیت بس دی چې پرې ډاډه شي:

﴿مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً ۖ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾[٣٤]

ژباړه: هرڅوك چې ښه عمل وکړي، که هغه نارینه وي او که ښځینه، او (په دې شرط چې) مؤمن وي، په هغه به موږ په دنیا کې سپیڅلی ژوند تېرکړو او ( آخرت کې به) دغسې خلکو ته د هغو اجر له ډېرو ښه عملونو سره سم ورکړو.

د دنیا له منځه تګ الله تعالی ته تر دې آسانه دی چې خپله وعده دې پوره نه کړي. یعنې ټریلیونونه وارې یقیني خبره ده چې د الله تعالی وعده پوره کیږي، نو ډاډه اوسه.

## که په دنیا او آخرت کې بریا غواړې

مخکې له دې چې حساب درسره وشي، تاسې په خپله له ځان سره حساب کوئ. په دوامداره توګه له ځان څخه حسابي غواړئ چې د خیر کارونه مو ډېر کړي که د شر.

٣٤: النحل: ٩٧ آیت

د يوسف عليه السلام له شان او دب دبې ډک کاروان روان و، يوې وينځې د هغه په ليدو وويل:
"الحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي جَعَلَ المُلُوكَ بِمَعْصِيَتِهِ عَبِيدًا وجَعَلَ العَبِيدَ بِطاعَتِهِ مُلُوكًا."[۳۲]

ژباړه: ثنا او ستاينه ده د هغه رب چې په خپل طاعت يې غلامان پاچايان کړل او د ګناه له امله يې پاچايان غلامان کړل.
تاسې چې کله د الله تعالی اطاعت کوئ او د هغه لپاره ناروا پرېږدئ، الله تعالی درته څه فرمايلي؟
باور وکړئ چې که په قرآن کريم کې يوازې همدا آيت وای بسنه يې کوله، خو ګڼ داسې آيتونه شته چې تاسې د ناروا پرېښودو ته هڅوي.
﴿أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ اجْتَرَحُوا السَّيِّئَاتِ أَن نَّجْعَلَهُمْ كَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَوَاءً مَّحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ ۚ سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ﴾[۳۳]
ژباړه: آيا هغه کسانو چې بد کارونه يې کړي دا انګېرلې ده چې مونږ به هغوی او ايمان راوړونکي او نيك عمل كوونكي سره برابر کړو چې د هغو ژوند او مرګ يو شان شي؟ دا د دوی ډېره ناوړه فيصله ده.
آيا تاسې ګومان کوئ، هغه ځوان چې د الله تعالی لپاره له ناروا څخه ډډه کوي، له محارمو سترګې پټوي او نېک کارونه کوي، د هغه چا په شان دی چې بدکاره دی او ګناهونه کوي؟
ميلياردونه وارې ډاډه اوسئ چې داسې نه ده.
د ځوانۍ دورې د عبادت په اړه چې درته څومره ووايم کمه ده.

---

۳۲: الدر المنثور، جلال الدين السيوطي (۹۱۱ هـ)
۳۳: الجاثية: ۲۱ آيت

کله چې د مصر د عزیز مېرمنې یوسف علیه السلام څخه نا روا غوښتنه وکړه د هغه ځواب څه و؟

الله پاک یې په اړه فرمایي:

﴿وَرَاوَدَتْهُ الَّتِي هُوَ فِي بَيْتِهَا عَنْ نَفْسِهِ وَغَلَّقَتِ الْأَبْوَابَ وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ ۚ﴾[30]

ژباړه: د کومې ښځې په کور کې چې هغه (یوسف) و، هغې مېرمنې خپل ځان ته د هغه توجه جلبوله او یوه ورځ یې دروازې وتړلې او ویې ویل چې"زر راشه".

یوسف علیه السلام یې په ځواب کې وویل:

﴿قَالَ مَعَاذَ اللَّهِ ۖ إِنَّهُ رَبِّي أَحْسَنَ مَثْوَايَ ۖ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ﴾[31]

ژباړه: ویې ویل(یوسف علیه السلام) زه الله تعالی ته پناه وړم (له دې بد کار نه)، هغه زما رب دی او ما ته یې ښه منزلت راکړی. (که زه دا کار وکړم، ظالم به شم) او داسې ظالمان هېڅکله بری نه شي موندلی.

کله چې یې الله تعالی ته پناه یوړه، الله پاک همدغه بېوځله او د دربار خدمتګار د مصر د وخت د پاچاهي مهم چارواکی کړ.

که ته په داسې موقف او حالت کې برابر شې او د ځواني په اوج کې هم اوسې او د پاچا مېرمن در څخه داسې ناروا غوښتنه وکړي،

له ځان سره فکر وکړه چې د الله تعالی رضا به لومړی کړې او که خپلو خواهشاتو ته به تسلیم شې؟

---

۳۰: یوسف: ۲۳ آیت

۳۱: یوسف: ۲۳ آیت

رسول الله ﷺ فرمايي:
« إِنَّكَ لَنْ تَدَعَ شَيْئًا لِلهِ عزوجل إِلاَّ بَدَّلَكَ اللهُ بِهِ مَا هُوَ خَيْرٌ لَكَ مِنْهُ»[29]
ژباړه: ته هېڅ شی د الله عزوجل لپاره نه پرېږدې مگر دا چې الله پاک تا ته تر هغې ښه او بهتره بدله درکوي.
د علماوو په نظر ځينې خلکو ته د دوی د عمر او مجال پر وخت ځينې نفلي عبادتونه لومړيتوبونه وي.
مثلا: د سوداگر لپاره تر ټولو ښه نفلي عبادت دا دی چې حلاله روزي وگټي او صدقه ورکړي.
د نجونو لپاره حجاب دی. ځوانانو ته په داسې سخته زمانه کې چې فحشا او فساد پکې اوج ته رسېدلي او موبايلونه له هر ځوان سره شته او د نړۍ هرې ناکردې او انټرنټ له لارې ناروا فلمونو ته لاسرسی لري او له نامحرمو نجونو سره اړيکې جوړول ډېر آسانه شوي دي، په داسې وخت کې لومړی عبادت ستا لپاره تر شعائري عبادتونو وروسته دا دی چې له ناروا او نامحرمو خپلې سترگې او بدن لرې وساتې.
په تقوا کې بايد موږ يوسف عليه السلام خپل الگو وټاکو.
د ځوانۍ په اوج کې و او د پاچا مېرمنې ترې ناروا غوښتنه وکړه، له دوی دواړو پرته نور هېڅوک نه وو او دروازې هم بندې وې.
که يې د هغې غوښتنه منلې وای، يوه شېبه داسې فکر وکړه چې د دربار تر ټولو نږدې کس به شوای و او که نه؟ ځکه د پاچا مېرمنې به يې ملاتړ کاوه او هغه ته به يې ټول امکانات ورکړي وو.

۲۹: مسند الإمام أحمد (۳۸/ ۱۷۰) برقم (۲۳۰۷۴)، وقال محققوه: إسناده صحيح، وقال الألباني رحمه الله في السلسلة الضعيفة (۱/ ۱۹): وسنده صحيح على شرط مسلم.

## لویه خوشبختي

د هر انسان لپاره لویه خوشبختي دا ده چې دی مړ شي او ګناهونه یې هم ورسره مړه شي. بدبخته هغه دی چې دی له دنیا لاړ شي خو ګناهونه یې ترې ژوندي پاتې وي.

هغوی چې د خیر کارونه کوي یا خیر خپروي، له مړینې سره به یې د ثوابونه ور رسېدو بهیر جاري وي.

که غواړې له مرګ وروسته هم دوامداره ثوابونه در ورسیږي، د جاریه صدقې لپاره همداوس پرېکړه وکړه.

جاریه صدقې د حدیث شریف په بنسټ درې ډوله کارونه دي:

نېک اولاد تربیه کول، علم خپرول او کوهي کېندل یا قرآن کریمونه جومات کې ایښودل. یا ورته نور کارونه چې خلکو ته یې په دوامداره ډول خیر او ګټه رسیږي او نېکه استفاده ترې کیږي.

## مسلمان ته طلایي زیری

یو زیری درته لرم، ډاډه اوسه چې ارزښتناک او ریښتینی زیری دی.

هغه ځوان چې د الله تعالی له وېرې د حرامو ځیزونو د لیدو په وخت کې خپلې سترګې ټیټوي، باور وکړئ ډېر لوی، لوی او لوی اجر لري!

هر ځل چې ته د نامحرمه ښځو له کتلو سترګې ټیټوې، د عملونو په صندوق کې دې نېکۍ زیاتیږي. په پای کې چې څومره نېکي لرې، د واده په وخت به دې قسمت کې همغومره پاکه او باعزته مېرمن نصیب شي، ان شاء الله.

که دا خپله ورځنۍ وظیفه کړې، الله تعالی به دې په مال، عیال، کور، خوراک او څښاک او د ژوند نورو برخو کې برکت واچوي، ان شاء الله.
هر هغه څه کې چې برکت وي، که لږ وي ډېر دی او هغه څه کې چې برکت نه وي که څومره ډېر هم وي، په نشت حساب دي.

## څومره غوره ژوند به وي

د جبرائیل امین په واسطه نازل شو، جبرائیل تر ټولو ملائکو غوره شو.
پر محمد ﷺ نازل شو، محمد ﷺ تر ټولو غوره او خیر البشر شو.
د اسلامي اُمت لپاره نازل شو، دا اُمت تر ټولو اُمتیانو غوره شو.
په کومه میاشت کې چې نازل شو، هغه روژه او تر ټولو غوره شوه.
په کومه شپه چې نازل شو، هغه د قدر شپه او تر زرو شپو غوره شوه.
په کوم ځای کې چې نازل شو، هغه مکه او د ځمکې پر سر تر ټولو سپېڅلی ځای شو.
دا قرآن کریم دی چې په واسطه یې الله پاک دومره لوی عزت او فضیلت ورکوي!
که دا مبارک کلام زما او ستا په زړه کې وي، څومره غوره زړه به وي؟!
که یې د ژوند تګلاره وټاکو، څومره بهتر او نېکمرغه ژوند به مو وي!
که ته هره ورځ د قرآنکریم یوه برخه نه لولې، بیا ولې باید له بې خونده ژونده ګیله وکړې؟ ځکه تا یې اصلي لامل پرېښی.

دريیم: هره ورځ حد اقل سل وارې استغفر الله او سل وارې پر رسول الله ﷺ درود شريف وايه.

د استغفار لپاره ډېر کلمات دي چې څو يې په لاندې ډول دي، په دوی کې چې هره يوه درته آسانه وي همغه د ذکر په ډول هره ورځ حد اقل سل سل وارې وايه.

- أَسْتَغْفِرُ اللهَ العَظِيمَ.
- أَسْتَغْفِرُ اللهَ العَظِيمَ الَّذِي لاَ إِلَهَ إلاَّ هُوَ، الحَيُّ القَيُّومُ، وَأتُوبُ إِلَيه.
- اللَّهُمَّ أنْتَ رَبِّي لا إِلَهَ إلَّا أنْتَ، خَلَقْتَنِي وأنا عَبْدُكَ، وأنا علَى عَهْدِكَ ووَعْدِكَ ما اسْتَطَعْتُ، أعُوذُ بكَ مِن شَرِّ ما صَنَعْتُ، أبُوءُ لكَ بنِعْمَتِكَ عَلَيَّ، وأَبُوءُ لكَ بذَنْبِي فاغْفِرْ لِي؛ فإنَّه لا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إلَّا أنْتَ.[۲۷]

درورد شريف:

- اللَّهُمَّ صَلِّ علَى مُحَمَّدٍ وعلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كما صَلَّيْتَ علَى إبْرَاهِيمَ وعلَى آلِ إبْرَاهِيمَ؛ إنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، اللَّهُمَّ بَارِكْ علَى مُحَمَّدٍ وعلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كما بَارَكْتَ علَى إبْرَاهِيمَ وعلَى آلِ إبْرَاهِيمَ؛ إنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ.[۲۸]

---

۲۷: دې ته سيد الاستغفار (د استغفار يا بخښنې غوښتلو تر ټولو لوړ مرتبه لرونکي کلمات) ويل کيږي. په صحيح بخاري کې د دې په اړه حديث روآيت شوی چې که څوک دغه کلمات په پوره يقين سهار ولولي او په همغه ورځ تر ماښام مخکې مړ شي د جنت له خاوندانو څخه به وي او که څوک يې ماښام په پوره باور او يقين ولولي او په همغه شپه تر سهار مخکې مړ شي د جنت له خاوندانو به شي. (حديث بخاري روايت کړی او رياض الصالحين کې د حديث نمبر: ۱۸۷۵).

۲۸: متفق عليه

رحمان بابا څومره ښه ویلي:

که دې تمه د بنده له دره پرې کړه

پادشاهي دې مبارک شه که ګدا یې

## په ژوند کې دې برکت نشته؟

په مال، کاروبار، رزق او په ټوله کې ژوند کې دې برکت نه شته؟

یوه آسانه حل لار لري.

کور او ژوند ته د برکت راستنولو لپاره درې کارونه دوامداره کوه او که دا درې کارونه دوامداره وکړې؛ ډاډه اوسه چې هر څه کې به د برکت له نعمته برخمن شې ان شاء الله.

لومړی: هر سهار یوه پاڼه قرآن کریم لوله، پوره پاڼه لوستل یې دوه دقیقې وخت نیسي. که یې نه شې کولای، حد اقل لس آیتونه خو روزانه لوله. که د کورنۍ ټول غړي دا کار وکړي څه فکر کوې جنتي کور او نېکمرغه کورنۍ به نه شي؟!

دویم: د ورځې یو حدیث لوله او مفهوم یې له کورنۍ سره شریکوه.

د صحیح بخاري او صحیح مسلم له کتابونو څخه هر سهار یو یو حدیث لوله او له نورو سره یې شریکوه. د دې مبارکو کتابونو پښتو او دري ژباړې اکثرو کتاب پلورنځیو کې ترلاسه کوای شې.

ریاض الصالحین هم د حدیثو معتبر کتاب دی چې د ټولنیزو او نورو مهمو مسائلو په اړه پکې حدیثونه راټول شوي دي او پښتو او دري ژباړې یې هم کتاب پلورنځیو کې شته.

شپه او ورځ په بې ځایه لوبو، بې ځایه خنداګانو او ګپ شپونو مه تېروه.
د هر څه لپاره وخت بېل کړه. داسې مه کوه چې ژوند کې دې هېڅ جدیت نه وي او هره خبره دې مسخره وي.
په هغه مجلس کې چې د دین او دنیا ګټه نه وي، هېڅ پکې مه کېنه.
دا ځان ته قاعده وټاکه، هر مجلس ته چې ورځې؛ وګوره چې د دین یا د دنیا لپاره یې ګټه څه ده؟
ډېرې مجلسونه له پیل تر پایه خنداګانې وي او هېڅ ګټه درته نه کوي.
دا ستا د زړه د سختوالي یا قسوة القلب لامل کیږي چې زړه به دې ورو ورو له هر څه تور شي او یوازې به لهو او لعب پسې ور روان یې او سر سري او بې ګټې او بې پروایۍ څخه ډک ژوند به دې وي.

## ناهیلی کېږه مه

که د خوښیو او نېکمرغۍ یوه دروازه دې پر مخ وتړل شي، ګڼې نورې پرانیستل کېږي.
کله چې ستا پر مخ د ځمکې دروازې وتړل شوې، پام دې وي، الله تعالی درته د آسمان دروازې پرانیزي.
دا د دې لپاره چې الله تعالی ته ور ستون شې، ځکه کېدای شي ستا او د خالق تر منځ دې فاصله پیدا شوې وي او پروردګار دې غواړي ستا غږ واوري او تا بېرته خپل لوري ورتلو ته اړ کړي.
که تا له ستونزو الله تعالی ته پناه ور وړه، هغه به ستا ضعف په قوت، فقر په مالدارۍ، ډار په ډاډ بدل او ټولې ستونزې به دې حل کړي.
دا کار یوازې او یوازې الله تعالی کوای شي.

وویل شول څوک اې د الله رسوله؟ ویې ویل: هغه څوک چې ګاونډی یې له شر څخه په امان نه وي.

څلورمه: هغه څه چې ځان ته خوښوې، بل مسلمان ورور ته هم همغه شان شی خوښوه، له دې سره به واقعي مسلمان شې.

داسې مه کوه چې خوسا شوي او پاتې شوني دې په نورو پېرزو وي.

ته چې له خلکو کومه تمه لرې، له خلکو سره همغه کوه.

که له خلکو احترام غواړې او د ته ورته احترام نه کوې، دا نصاف ندی.

که غواړې ستا آبرو او عزت خوندي وي، ته د نورو ابرو مه تویوه.

که له خلکو د صداقت تمه لرې؛ باید لومړی ته رېښتینی و اوسې.

په یوه بل حدیث مبارک کې هم راغلي:

«لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ، حتَّى يُحِبَّ لأَخِيهِ ما يُحِبُّ لِنَفْسِهِ».[٢٦]

ژباړه: په تاسې کې یو کس تر هغې مؤمن کېدای نه شي؛ تر څو هغه څه چې ځان ته خوښوي، خپل (مسلمان) ورور ته یې هم خوښ کړي.

پنځمه: ډېره خندا مه کوه، ځکه ډېره خندا زړه وژني

ډېره خندا، لږه نه. بې ځایه خندا، موسکا نه.

پام مو وي، د حدیث شریف د دې برخې مفهوم دا نه دی چې بېخي مه خاندئ، بلکې خپل ژوند سرسري کوئ مه.

یعنې سطحي او بې ارزښته ژوند مه کوئ.

په اسلام مبارک دین کې د خلکو په شونډو موسکا رواستل، یا خلکو ته موسکا کول صدقه او عبادت دی.

خو داسې نه چې ځان ته یو بې ارزښته ژوند غوره کړئ.

---

[٢٦]: متفق علیه

﴿وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا ۖ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَىٰ وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ مُخْتَالًا فَخُورًا﴾[۲۳]

ژباړه: خاص د الله تعالی عبادت کوئ او هیڅ شی ورسره مه شریکوئ. د مور او پلار سره نېکي کوئ، له خپلوانو، یتیمانو، مسکینانو، نژدې او لرې ګاونډیانو، د څنګ ملګرو، مسافرو او خپلو غلامانو سره نېکي کوئ. الله تعالی کبرجن او ځانخوښي خلک نه خوښوي.

رسول الله ﷺ فرمايي:

«مازال جبريلُ يُوصينِي بالجارِ حتَّى ظننتُ انَّهُ سيُوِّرثُهُ»[۲٤]

ژباړه: جبرئیل علیه السلام ما ته تل د ګاونډي سره د ښه چلند نصیحت کاوه، تر دې چې ما ته داسې ښکاره شوه چې شاید ګاونډی په مېراث کې شریک کړای شي.

بل حدیث مبارک کې راځي چې رسول الله ﷺ فرمايي:

«والله لايُؤمنُ، والله لايُؤمنُ، والله لايُؤمنُ، قيل من يا رسول الله؟ قال: الذي لا يامَنُ جارُهُ بوائِقَهُ»[۲۵]

ژباړه: په الله قسم چې مسلمان نه دی، په الله قسم چې مسلمان نه دی، په الله قسم چې مسلمان نه دی.

۲۳: النساء: ۳٦ آیت

۲٤: متفق علیه

۲۵: متفق علیه

په دې آيت کې مطلب د زر او د مال نه دی، يعنې الله پاک د خير البشر نفس د خلکو له مال او دارايي خوښولو څخه غني يا بې پروا کړ او له دې سره هغه ﷺ ځان تر ټولو شتمن ګڼلو.

بېوزله يا فقير هغه انسان دی چې ټوله ورځ د نورو شته وو ته ګوري او زړه خوري چې ولې يې دی نه لري.

اصلي غنا معنوي او د انسان په داخل کې وي.

شتمني او بېوزلي مادي چارې دي.

د نورو په شان کېدو لپاره خپل وجدان او دين مه پلوره.

که غواړې چې له معنوي او مادي لحاظه غني انسان و اوسې، د رسول الله ﷺ په سپارښتنه عمل وکړه او په درکړل شويو نعمتونو شکر وباسه او قناعت وکړه. خو دا چې انسان طبيعتاً موقف، مال او منصب خوښوي او غواړي چې تر نورو په لوړ مقام کې وي؛ که د بل چا په پرتله ځان درته کم ښکاري؛ د رسول الله ﷺ دا وينا ځان ته تکراروه، زړه پرې ډاډه او آراميږي.

«اللهم لا عيشَ الا عيشُ الاخرة»[٢٢]

ژباړه: ربه، اصلي ژوند نه دی مګر د آخرت ژوند.

درېيمه: له ګاونډي سره نېکي کوه، پياوړی مؤمن به شې.

د ګاونډي د حق په اړه چې کله انسان شرعي نصوص لولي، دومره ټينګار پرې شوی لکه ګاونډی چې د انسان په ميراث کې شريک وي.

الله تعالی فرمايي:

---

٢٢: متفق عليه

ولې فلانی داسې دی او زه نه یم؟
باور وکړئ که د ژوند په ریښتینې معنی پوهېدای او اصلي هدف مو پېژندلی وای، هېڅکله به په داسې شیانو پسې سرګردان نه وو.
د خلکو پروا مه کوه، هر څه چې لري، لري دې یې، ما او تا ته یې ګټه او تاوان څه دي؟ له کومه ځایه یې ترلاسه کړي، څه پرې کوي؟
د دې هر څه ځواب به هغه وایي، ته یې پروا مه ساته او زړه مه خوره.
که ته له دې سیالیو ځان وژغورلی شې او قناعت وکړې، ته په حقیقت کې غني یې!
خو که هر څه درسره وي او قناعت نه لرې، ته تر ټولو فقیر انسان یې.
که په خپلو شته نعمتونو شکر وباسې نه یوازې دا چې غني کېږې بلکې الله تعالی به یې درته لا پراخ او زیات کړي.
څه چې الله تعالی درته په تقدیر کې لیکلي، هغه څه چې یې درکړي، په اولاد او کورنۍ، وظیفې او هر څه چې اوس یې لرې، قناعت وکړه، تر ټولو خوشبخت او غني انسان به شې!
رسول الله ﷺ درته د کاڼي کرښې خبره کړې چې د سرو زرو په اوبو یې باید ولیکو او ځانګړي ځای کې یې د ټابلو په شان وځړوو:
«هغه څه چې الله تعالی درکړي قناعت پرې وکړه یا پرې راضي شه، ته به تر ټولو غني انسان شې».
الله تعالی رسول الله ﷺ ته فرمایي:
﴿وَوَجَدَكَ عَائِلًا فَأَغْنَىٰ﴾[21]
ژباړه: او ته الله تعالی بېوزله پیدا او بیا یې غني کړې.

---

۲۱: الضحی: ۹ آیت

دویمه: «هغه څه چې الله تعالی درکړي قناعت پرې وکړه یا پرې راضي شه، ته به تر ټولو غني انسان شې».

ابو هریره رضي الله عنه له رسول الله ﷺ نه روایت کړی چې فرمایي: «لَيْسَ الغِنَى عَنْ كَثْرَةِ العَرَضِ وَلَكِنَّ الغِنَى غِنَى النَّفْس».[٢٠]

ژباړه: «غنا د مال ډېروالي ته نه وايي (انسان د مال په زیاتوالي نه شتمن کیږي)، بلکې اصلي غنا دا ده چې زړه غني یا مطمئن وي»

یعنې اصلي شتمني دا نه ده چې ته میلیونونه پیسې ولرې، بلکې اصلي شتمني دا ده چې ستا زړه موړ وي او احساس دې د غني وي.

که ته څومره شتمني ولرې او زړه کې دې بې حده حرص وي، ته نه مړیږې او نه غني یې.

که ته د خلکو له مال، جایداد، موټر، طلا او هر څه نه ځان بې پروا کړې او غم کې یې نه شې، زړه به دې په دې ډاډه وي چې دا هر څه دومره د تشویش او غم ارزښت نه لري.

دا ستا جدي اړتیاوې نه دي؛ د سیالۍ اسباب دي. که دې اړتیا وي خو خیر، مګر ته خو ښایي د تربور او له خپلوانو او ملګرو سره د سیالۍ او ځان ښودلو لپاره نوی ماډل ګاډی یا ورته نور قیمتي شیان اخلې.

د دې نعمتونو په کارولو کې ستونزه نشته، خو هر څه ستا په نیت پورې تړلي چې په کوم نیت مخکې ځې.

د ګڼو خلکو ستونزه دا ده چې منصب، مقام او لوړ موقف درلودل د دوی ټول ارمان وي، د همدې لپاره یې په ځان ژوند تریخ کړی وي او له همدې امله خپلو کې د دښمنۍ تر حده رسیږي.

---

٢٠: متفق علیه

هغه څه چې الله تعالی درکړي قناعت پرې وکړه، تر ټولو غني انسان به شې. له ګاونډي سره نېکي کوه، پیاوړی مؤمن به شې.

هغه څه چې ځان ته خوښوې، بل مسلمان ورور ته هم همغه شان شی خوښوه، له دې سره به واقعي مسلمان شې او ډېره خندا مه کوه، ځکه ډېره خندا زړه وژني.

لومړی: «له حرامو ځان وساته، تر ټولو ډېر عبادت کوونکی یا عابد به شې» د حدیث مبارک د دې برخې هدف دا دی چې که ته ټوله شپه په قیام اللیل او ورځ د جماعت په لمونځونو تېروې او نورو شعائري عبادتونو باندې عمل کوې خو ورسره رشوت خورې، د سود کاروبار کوې یا نور هغه کارونه چې الله پاک حرام کړي ترسره کوې ته ریښتینی عابد یا عبادت کوونکی نه یې او نه هغه پوره عابد دی چې ښه لونګۍ یې وهلې وي، د عالمانو جامې یې آغوستې وي، خو خلک یې له خولې، له لاسونو یا له نورو ضررونو څخه په تکلیف وي، ځکه په اسلام کې اخلاق عبادت دی، څنګه چې دې ځان دینداره جوړ کړی، همداسې دې باید اخلاق وي.

که دې ظاهر یو څه وایي او باطن بل څه؛ ته ښه عابد نه یې.

اسلام یوازې ظاهري بڼه یا جامې نه دي چې واغوستل شي یا څېره نه ده چې بدله شي، بلکې اسلام اخلاص او عملونه دي.

ښه عبادت کوونکی او عابد انسان هغه دی چې د الله تعالی له منع کړای شویو څېزونو یا محارمو څخه ځان وساتي او د دین سپارښتنې عملي کړي.

که دې کوم انسان آزار کړ يا دې داسې کار وکړ چې الله تعالی در څخه ناراض شو، ژر صدقه ورکړه او الله تعالی راضي کړه.
ځکه صدقه داسې راز دی چې د الله تعالی غضب په رضايت بدلوي.

## د خوشبخته او بريالي ژوند لپاره پنځه نبوي سپارښتنې

رسول الله ﷺ موږ ته پنځه ګټورې مشورې راکړې چې که عمل پرې وکړو؛ بريالی، نېکمرغه او خوشحاله ژوند لرلای شو.

«عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رضى الله عنه- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-:"مَنْ يَأْخُذُ عَنِّي هَؤُلاَءِ الْكَلِمَاتِ فَيَعْمَلُ بِهِنَّ، أَوْ يُعَلِّمُ مَنْ يَعْمَلُ بِهِنَّ؟". فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ -رضى الله عنه-: فَقُلْتُ: "أَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ". فَأَخَذَ بِيَدِي، فَعَدَّ خَمْسًا وَقَالَ:"اتَّقِ الْمَحَارِمَ تَكُنْ أَعْبَدَ النَّاسِ، وَارْضَ بِمَا قَسَمَ اللَّهُ لَكَ تَكُنْ أَغْنَى النَّاسِ، وَأَحْسِنْ إِلَى جَارِكَ تَكُنْ مُؤْمِنًا، وَأَحِبَّ لِلنَّاسِ مَا تُحِبُّ لِنَفْسِكَ تَكُنْ مُسْلِمًا، وَلاَ تُكْثِرِ الضَّحِكَ، فَإِنَّ كَثْرَةَ الضَّحِكِ تُمِيتُ الْقَلْبَ».[١٩]

ابو هريره رضي الله عنه روايت کړی چې رسول الله ﷺ را ته وفرمايل: څوک به له ما څخه دا کلمې واخلي او عمل پرې وکړي او هغه چا ته يې وښيي چې هغه هم پرې عمل کوي؟
ابوهريرة رضي الله عنه وايي، ما غږ وکړ چې زه غواړم دا کار وکړم اې د الله رسوله، نو زه يې له لاسه ونيولم او پنځه شيان يې را زده کړل: له حرامو ځان وساته، تر ټولو ډېر عبادت کوونکی يا عابد به شې.

١٩: رواه الترمذي وحسنه في صحيح الجامع

ځکه الله تعالی درته په زمانه قسم کړی چې اې انسانه که ته دا کارونه ونه کړې، خاسر (تاوان کوونکی) یې.

﴿وَالْعَصْرِ﴾[16]

ژباړه: زما دې په زمانه قسم وي.

﴿إِنَّ الإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ﴾[17]

ژباړه: بې له شکه، انسان په تاوان کې دی.

کوم انسان په تاوان کې دی؟

هغوی چې دا ځانګړنې نه لري:

﴿إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ﴾[18]

ژباړه: هغوی چې ایمان راوړی او نېک کارونه کوي او په حق باندې خلکو ته سپارښتنه او نصیحت کوي او خلکو ته د زغم سپارښتنه کوي.

که ته د هرې ورځې په پیلولو سره تر پرونۍ ورځ په دغه څلور کارونه کې زیاته هڅه نه کوې، د زمانې له تاوانه بچې کېدل ستونزمن دي.

## الله تعالی ته د رسېدو لار

الله تعالی ته د رسېدو لارې بې حسابه دي.

یوه له مهمو لارو چې انسان په آسانۍ پرې الله تعالی راضي کوای شي صدقه ده.

که دې ګناه وکړه او پرې پښېمانه شوې، ژر توبه وباسه او صدقه ورکړه. که دې بیا ګناه وکړه بیا هم توبه وکړه او صدقه ورکړه.

---

١٦: العصر: ١ آیت

١٧: العصر ٢ آیت

١٨: العصر، ٣ آیت

ځکه الله تعالی په زمانه قسم کوي چې انسان په تاوان کې دی، مگر له دې حکم څخه هغوی مستثنا دي چې ایمان یې راوړی او نېک عملونه کوي، په حق سپارښتنه کوي، خلکو ته حق وینا او په صبر او زغم خلکو ته سپارښتنه کوي.

د زمانې له تباه کولو څخه هغه څوک مستثنی دي چې ایمان یې راوړی وي، نېک عملونه کوي او دعوتگر وي، ان شاء الله!

هر مسلمان لازمه ده چې د خپلې پوهې په اندازه دعوت وکړي.

ځکه خو رسول الله ﷺ امر کړی چې: « بَلِّغُوا عَنِّي ولو آيَةً »[۱۵]

ژباړه: له ما څخه یې خلکو ته ورسوئ که د یو آیت په اندازه هم وي.

تکړه علماء چې په دین کې ښه پوهه او ژوره مطالعه لري، کله چې دوی دعوت کوي، له تا نه د دین ژور دعوت چې ستا له توان څخه پورته وي، فرضیت یې ساقطیږي او مسؤلیت یې جیدو علماوو ته راجع کېږي، خو د خپلې پوهې په اندازه دین ته دعوت پر تا هم لازم دی.

## هره ورځ نوی فرصت دی

که ته هر سهار راپاڅېږې او د پرون پرتله نن ورځ خپل علم کې زیاتوالی نه راولې، نېک عملونه یا ښه کارونه پکې نه زیاتوې، د الله تعالی دین ته د خلکو بلنه کې لا زیاتې هڅې نه کوې او د حقیقت موندلو او په دغه کارونو سختي نه زغمې، حقیقت کې ته تاوان کوونکی یې او تا زیان کړی.

۱۵: البخاري: د حدیث شمېره ۳۴۶۱.

دا هم دعوت دی چې ته یوه دیني ویډیو ګورې، خپلې کورنۍ، اولادونو یا مېرمنې ته یې معلومات ورسوې، یا یې خپلو ملګرو سره شریکه کړې. په صبر سره سپارښتنه دې ته وایي چې ته خپل مسلمان ورور ته د سختۍ پر وخت د صبر او زغم کولو سپارښتنه وکړې.

## ولې دعوت پر هر مسلمان لازم دی؟

د الله تعالی لور ته دعوت یا د دین خپرول پر هر مسلمان لازمي کار دی! زموږ په ټولنه کې باید داسې یوه ډله وي چې د الله تعالی دین ته دعوت یې اصلي دنده وي، دوی باید خپل وخت او ژوند د همدې خیر کار لپاره وقف کړي.

ته د مسلمان په توګه باید خپل دین ته دعوت وکړې، تر هغې اندازې چې پوهه پکې لرې، هغه چا ته چې چار چاپېر یې پېژنې.

د بېلګې په ډول د جمعې د لمانځه په خطبه کې دې یوه دیني مسئله زده کړه د کورنۍ غړو، ملګرو، ګاونډیانو، د دفتر همکارانو او نورو کسانو ته یې ورسوه همدا هم دعوت دی.

په ټولنیزو رسنیو کې دې دیني ویډیو وکتله یا کوم ګټور معلومات دې ولوستل، تر نورو یې ورسوه او خپلې مېرمنې او اولادونو یا د کورنۍ نورو غړو سره یې شریک کړه یا هغه ویډیو ورته ولېږه، همدا هم دعوت دی.

که دا کار وکړې، د دین د خپرولو مسؤلیت به دې ادا کړی وي، که یې ونه کړې تاوان دې خپل دی چې د دین خپرولو کې دې خپل مسؤلیت نه دی ادا کړی.

ژباړه: بې له شکه، انسان په تاوان کې دی.
له دې مبارک ایت څخه ښکاري چې انسانان په تاوان کې دي، مګر الله پاک ترې ځینې کسان بېل کړي او هغوی دا ځانګړنې لري:
﴿إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ﴾[١٤]
ژباړه: هغوی چې ایمان راوړی او نېک کارونه کوي او په حق باندې خلکو ته سپارښتنه او نصیحت کوي او خلکو ته د زغم سپارښتنه کوي.
د دې مبارک سورت په پیل کې پر زمانه د الله تعالی قسم یادول او ورپسې دا ویل چې انسان په تاوان کې دی، په حقیقت کې دا ښیي چې زمانه انسان بربادوي.
خو هغه خلک له دې تباهي په امان کې دي چې ایمان یې راوړی، نېک کارونه کوي، په حق او صبر خلکو ته سپارښتنې کوي.
همدا د ریښتیني بریا څلور ارکان دي چې هر انسان یې باید د ژوند قواعد وټاکي او عمل پرې وکړي.
نېک عملونه یوازې لمونځ، روژه، زکات او حج نه دي، د دې ترڅنګ له انسانانو سره په خوش اخلاقۍ چلند، دروغ نه ویل، حرام مال نه خوړل، رشوت نه اخیستل، ښه اولاد تربیه کول، له مېرمنې او اولادونو سره ښه چلند، علم حاصلول، صدقه ورکول او د اړتیا پر وخت له مسلمان سره مرسته کول هم نېک عملونه دي.
د حق سپارښتنه دا هم ده چې د الله تعالی لارې ته خلک دعوت کړې یا دین خپور کړې او آن که یوازې یو آیت یا یو حدیث دې زده وي، خلکو ته یې ورسوې.

١٤: العصر، ٣ آیت

هغه ځواب ورکړ، ما د دې قبر له خاوند څخه (اشاره يې د رسول الله ﷺ قبر ته وه) اورېدلي چې فرمايل يې: «ولأن أمشي مع أخي المسلم في حاجة أحب إلى من أن أعتكف فى هذا المسجد شهرا»[11]

ژباړه: په الله تعالی قسم دی، له يوه مسلمان ورور سره د اړتيا پر وخت مرسته کول په دې جومات (مسجد نبوي) کې له يوې مياشتې اعتکاف او روژې غوره دي (ثواب يې ډېر دی).

دې لوی اجر ته په کتو هېڅکله له خلکو سره کوچنۍ مرسته کمه مه ګڼه او د ثواب په نيت هر ډول مرسته چې دې له وسه پوره وي؛ له خلکو سره يې کوه.

## د ريښتينې بريا څلور اساسي ارکان

څلور شيان انسان له يوې لويې تباهي او تاوان بچ کوي.

امام شافعي رحمة الله عليه په دنيا او آخرت کې د ريښتينې بريا لپاره دغو څلورو ته اشاره کړې چې الله تعالی يې په العصر سورت کې په اړه قسم کړی. دا د بريا اساسي ارکان دي.

﴿وَالْعَصْرِ﴾[12]

ژباړه: زما دې په زمانه قسم وي.

﴿إِنَّ الإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ﴾[13]

---

۱۱: أخرجه ابن أبى الدنيا فى كتاب قضاء الحوائج (ص ۴۷، رقم ۳٦) وحسنه الألباني (صحيح الجامع، ۱٧٦).

۱۲: العصر: ۱ آيت

۱۳: العصر ۲ آيت

که دې انسان خوشحال کړ، الله تعالی به تا څو چنده خوشحال کړې، ځکه د هغه يو صفت "الشكور" دی او د نېکي بدله څو چنده ورکوي.
﴿مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا ۖ وَمَنْ جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَىٰ إِلَّا مِثْلَهَا وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ﴾[10]
ژباړه: څوك چې د الله حضور ته له يوې نيکۍ سره راشي؛ د هغه له پاره لس چنده ثواب دی. او څوك چې له بدۍ سره راشي؛ هغه ته به همغومره بدله ورکړل شي څومره چې هغه گناه کړې (په گناه کې زيادت ورته نه شته) او پر هغوی به ظلم و نه کړای شي.
جليل القدر صحابي عبدالله بن عباس رضي الله عنهما په مسجد نبوي کې اعتکاف کړی و، يو کس يې وليد چې اندېښمن دی، څنگ ته يې ورغی او ترې يې وپوښتل چې وروره خيرت خو به وي خپه ښکارې؟
سړي ځواب ورکړ: د فلاني راباندې پور (قرض) دی، هغه يې را څخه غواړي او زه يې د پرې کولو وس نه لرم؛ ځکه اندېښمن يم.
ابن عباس رضي الله عنهما ورته وويل، غواړې چې زه درسره د قرض خاوند ته ورشم او مهلت درته ترې وغواړم؟ سړي وويل خوښه مې ده.
ابن عباس رضي الله عنهما ورسره روان شو. په نبوي جومات کې نور کسان هم وو، له ابن عباس رضي الله عنهما يې پوښتنه وکړه چې ته خو اعتکاف کې يې څنگه له جوماته بهر وځې؟

١٠: الانعام: ١٦٠ آيت

پیدا کړي، خو بالاخره نه پوهیږي چې ورته د رسېدو لار ډېره آسانه او ارزانه ده.

دا نعمتونه کوم دي چې دومره مهم دي؟

خوشحالي، سکون او نېکمرغي!

اوس به مو پام شوی وي چې د دې نعمتونو ترلاسه کولو لپاره هر انسان شپه او ورځ سترې وي، خو ترلاسه کول یې ډېر ستونزمن نه دي.

پیاوړی سوریایي عالم محمد راتب النابلسي خپل یوه بیان کې یوه لنډه او له معنی ډکه جمله وایي:

"اذا اردت ان تکون اسعد الناس، فاسعد الاخرین"

ژباړه: که غواړې د دنیا تر ټولو نېکمرغه انسان اوسې یا سعادت او خوشحالي ترلاسه کړې؛ نور خوشحاله کړه.

یو غریب ته د څو پیسو په ورکولو، له یوه اړمن کس سره مرسته، په لار کې د یو کمزوري یا عمر خوړلي کس نه د پېټي یا بار اخیستل او تر یو ځای یې ورسره وړل، په خپل موټر کې د سړک پر سر د یو ولاړ کس را پورته کول او تر یو ځایه یې رسول، چا ته حسنه قرض ورکول، خلکو ته د علم ښودل، له چا څخه تشویش لرې کول، مالي او بدني مرسته کول او بالاخره هر هغه شرعي کار چې بل انسان پرې خوشحاله کېدای شي او زړه یې د آرامۍ احساس کوي، په حقیقت کې له دې کار سره الله پاک د بدلې په توګه تا خوشحاله کوي.

آن له حیواناتو سره مرسته او پر هغوی ترحم د خوښۍ احساس درکوي. ځکه دا ټول د الله تعالی مخلوق دي او کله چې ته د رب عزوجل له مخلوق سره نېکي کوې، الله تعالی به یې څو چنده بدله درکړي.

د الله تعالی قسم ته بیا پام وکړه چې په زمانه قسم کوي چې انسان تاوان کوونکی دی.
نو ریښتیني تاوان کوونکي هغوی دي چې ناڅاپه یې مرګ راګیر کړي او له دوی نه ټول امکانات او وخت تېر شوی وي.
خو هغه خلک له دغه تاوانه بچ دي چې الله تعالی یې په اړه وایي:
﴿إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ﴾[٩]
ژباړه: پرته له هغو خلکو چې ایمان یې راوړی اوښه عملونه کوي او یو بل ته د حق نصیحت او دصبر ښودنه کوي.
د الا کلمه د الله تعالی د رحمت نه ډکه ده. هغه کسان یې مستثنی کړي چې نېک عملونه کوي، د حق وینا کوي او خلکو ته د حق او صبر سپارښتنې کوي.

## څنګه د دنیا تر ټولو خوشبخت انسان شم!؟

یو اسلامي بیان مې اورېده، یوه جمله مې پکې ومونده چې له کلونو راهیسې یې د معنی په لټه کې وم. په داسې څه یې وپوهولم چې له مودو پسې سرګردانه وم. ډېره آسانه او ارزانه لار شته چې موږ پرې ځان د نېکمرغۍ تر آخري حده رسولی شو. شاید تاسې هم د دې نعمتونو ترلاسه کولو لپاره ډېرې لارې تجربه کړې وي.
دا هغه نعمتونه دي چې ځینې خلک یې د ترلاسه کولو لپاره بې حسابه پیسې یا مال لګوي، شته امکانات ټول مصرفوي چې دا لوی نعمتونه

٩: العصر: ٣ آیت

که نه الله مه کړه بیا به دا ارمان کوي:
﴿يَا لَيْتَنِي قَدَّمْتُ لِحَيَاتِي﴾[٦]
ژباړه: (هغه انسان چې په دنیا کې یې نېکي نه وي کړې، قیامت کې به وایي چې) کاشکې ما د خپل ژوند لپاره مخکې څه برابر کړي وای.
یا، الله مه کړه د هغه چا له ډلې نه شې چې وایي به:
﴿وَيَقُولُ الْكَافِرُ يَا لَيْتَنِي كُنْتُ تُرَابًا﴾[٧]
ژباړه: او کافر به د افسوس فریاد وکړي چې کاشکې زه خاورې وای.
دا چې په رتبه کې د الله تعالی لومړی مخلوق انسان د ثانیو یوه ټولګه ده، ځکه ورته الله تعالی په زمانه قسم کړی.
﴿ وَالْعَصْرِ ﴿١﴾ إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ﴾[٨]
ژباړه: (الله تعالی فرمایي) زما دې په زمانه قسم وي، بېشکه انسان په تاوان کې دی.
ولې تاوان کې دی؟
ځکه د وخت تېرېدل انسان ته تاوان اړوي. که انسان پکې خیر ښېګڼه ونه کړي، زمانه یې تباه کوي، ځکه په ده پسې بد کارونه لیکل کېږي او وخت پرې چټک تېرېږي.
که په دې یقین لرې چې یوه ورځ به له دې دنیا ځې، یعنې ژوند به دې پای مومي، باید له مرګ څخه وروسته د جنت ګټلو لپاره داسې توښه برابره کړې چې هلته دې بریالی کړي.

---

٦: الفجر: ٢۴ آیت

٧: النبأ: ۴٠ آیت

٨: العصر: ١-٢ آیتونه

## تل پر درې اړخونو پام ساته

د حرامو کارونو پرېښودل، پر فرضي عبادتونو دوامداره عمل کول او د وسې په اندازه نفلي عبادتونه ترسره کول، که دې د ژوند محور پر دغو درې برخو څرخېده؛ نو ته په دنیا کې تر ټولو نېکمرغه يې او آخرت کې به دې سعادت په برخه شي!

## هر انسان تاواني دی؛ مګر چې دا صفتونه ولري

انسان د څو ورځو ټولګه ده چې د هرې ورځې په تېرېدو يې عمر کمېږي. بلکې کوای شو ووایو چې انسان د ثانيو ټولګه ده چې د هرې ثانيې په تېرېدو يې د عمر يوه برخه کمېږي چې بيا هېڅکله نه راستنيږي.

فکر وکړه که ستا عمر سل کاله، يوه مياشت، يوه اونۍ، يوه ورځ، يو ساعت او څو ثانيې وي، د هرې ثانيې په تېرېدو دې عمر د پای په لور په چټکۍ درومي. يوه ورځ هغه ټاکل شوې نيټې ته ور رسېږې چې اجل دی او يوه ثانيه هم مخته او وروسته کيږي نه مګر دا چې الله پاک وغواړي. د ژوند د هرې ثانيې قدر وکړه او بې ځايه يې مه تېروه. د وخت په تېرېدو ستا د عمر يوه برخه ضايع کيږي او په يوه نامعلومه ورځ به ستا د ژوند ساعت ودريږي او له دنيا به لاړ شې! بيا به درسره هېڅ موقع نه وي چې ځان بدل کړې او د آخرت لپاره توښه برابره کړې. له دغو ثانيو د آخرت پانګه جوړه کړه چې په ابدي ژوند کې دې بريالیتوب نصيب شي.

## ته باید ځان پیاوړی کړې

په دنیا کې هر څه د پیاوړو خلکو په خدمت کې دي، کمزوري پکې ځای نه لري. نو ځکه ته باید د ژوند په هره برخه کې پیاوړی، بریالی او په حالاتو برلاسی شې. له دې پرته تر پښو لاندې کېږې!

## د هر کار له پیل مخکې له الله تعالی مرسته غواړه

مخکې له دې چې درس پیل کړې، مخکې له دې چې په روغتون کې عملیات یا درملنه پیل کړې، وړاندې تر دې چې د آزموینې په لور ورشې، یا د هر کار تر پیلولو مخکې لومړی له الله تعالی مرسته غواړه. د آسمانونو او ځمکې خاوند ته مخ واړوه او عذر ورته وکړه چې ربه: زه په دې کار کې کمزوری یم، ماته قوت راکړه، زه د دې کار په پایله او ګټه نه پوهېږم، ته مې پوه کړه، په حکمت یې نه پوهېږم، ته پکې خیر واچوه. لویه ربه! که دا کار زما په ګټه وي ته یې د ترسره کولو توفیق راکړه او که زما په خیر نه وي نو د زړه صبر راکړه.

کله چې الهي مرسته وغواړې، هر کار به دې سم پر مخ لاړ شي، له ټولو خلکو به پیاوړی شې او هېڅکله به دې کار ناوړه پایله ونه لري، الا ما شاء الله!

دا باید زموږ د هرې دقیقې او هرې شېبې تګلاره وي چې د هر کار له پیلولو مخکې له الله پاک مرسته وغواړو او بیا کار پیل کړو.

## لږ فکر وکړه

دا هیڅ د منلو نه ده چې ته له ستونزو کړېږې او شپه او ورځ دربانديې تېرېږي خو یو وار خپل رب ته سجده نه کوې!

د مسلماني دعوه کوې او په الله پاک ایمان لرې خو سجده ورته نه کوې؟!

دا بېخي د منلو نه ده چې ته دې په ځان دومره ظالم شې!

لږ فکر وکړه، الله تعالی څومره نعمتونه درکړي، په همغه نعمتونو د الله پاک نافرماني کوې؟

ایا الله تعالی ته سخته ده چې دغه نعمتونه در څخه واخلي؟

څوک چې دنیا کې الله پاک راضي ساتي، نا ممکنه ده چې الله تعالی یې په آخرت کې یوازې پرېږدي.

خو څوک چې له خپل رب څخه بې پروا شو، تر دغه انسان بل لوی تاوان کوونکی نه شته!

## د زړه سکون

تر ټولو نیکمرغه انسان هغه دی چې د الله پاک تقدیر ته تسلیم او په دې ډاډه وي چې الله تعالی د ده په چارو تر ده ښه پوهېږي.

همېشه په دې ډاډه اوسه چې الله پاک ته پیدا کړی یې او ښه پوهېږي چې څه شی ستا په ګټه او کوم شیان دې په تاوان دي.

ټول تشویش په دې کوه چې خپل رب سره فاصله پیدا نه کړې.

له دې سره دې زړه او ژوند ته لوی سکون راځي.

ابن القیم رحمة الله علیه څومره ښه ویلي:

"فَفِي الْقَلْبِ شَعَثٌ، لَا يَلُمُّهُ إِلَّا الْإِقْبَالُ عَلَى اللَّهِ. وَفِيهِ وَحْشَةٌ، لَا يُزِيلُهَا إِلَّا الْأُنْسُ بِهِ فِي خَلْوَتِهِ. وَفِيهِ حُزْنٌ, لَا يُذْهِبُهُ إِلَّا السُّرُورُ بِمَعْرِفَتِهِ وَصِدْقِ مُعَامَلَتِهِ، وَفِيهِ قَلَقٌ, لَا يُسَكِّنُهُ إِلَّا الِاجْتِمَاعُ عَلَيْهِ، وَالْفِرَارُ مِنْهُ إِلَيْهِ"[٥]

ژباړه: په زړه کې ګډوډي یا پراګندګي ده چې یوازې الله تعالی ته په رجوع کولو او هغه ته په نژدې کېدو راټولیدای شي. او په زړه کې وېره یا ډار دی چې یوازې له الله تعالی سره په خواله (راز او نیاز) او محبت کولو له منځه تللی شي. او په زړه کې غمونه دي چې هېڅ شی یې له منځه نه شي وړلی مګر دا چې د الله تعالی د پېژندلو او هغه سره د اخلاص په مټ له منځه یوړل شي او خوشحالي ترلاسه شي. او په زړه کې تشویش یا اندېښنه ده چې هېڅ شی یې نشي لرې کولای مګر دا چې الله تعالی سره ملاقات وشي او له هر څه هغه ته پناه یوړل شي.

٥ : مدارج السالکین [١٥٦/٣]

## د زړه بار دې سپک کړه

الله پاک د اسلام دين زموږ لپاره د ژوند لارښود ټاکلی.

د دې مبارک دين په تګلارو او سپارښتنو عمل کول زموږ لپاره دنيوي او اخروي ښېرازي او سعادت تضمينوي.

د دې سپېڅلي دين په مټ موږ په دنيا کې ارامه او نېکمرغه ژوند درلودای او په اخرت کې پرې جنت ګټلی شو.

يو مهم شی دی چې هر انسان يې ترلاسه کولو لپاره سرګردان دی.

داسې انسان نه شئ موندلی چې د دې نعمت ترلاسه کول نه غواړي.

ځينې يې په مال، ځينې يې په قدرت او يو شمېر يې په شهرت يا ورته نورو شيانو کې لټوي.

دا سکون يا د زړه اطمنان دی چې د سعادت او نېکمرغه ژوند مهم اصل دی.

که انسان د زړه ډاډ ترلاسه کړي، په مټ يې ژوند او مافيها ځخه رېښتينی خوند اخيستلی شي.

الله پاک د دې نعمت د موندلو دقيق او يوازينی ادرس موږ ته راښودلی:

﴿الَّذِينَ آمَنُوا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُمْ بِذِكْرِ اللَّهِ ۗ أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ﴾[٤]

ژباړه: هغه کسانو چې ايمان راوړی دی او د هغو زړونو ته د الله په ياد سره اطمنان (ډاډ) ورپه برخه کېږي؛ خبردار اوسئ! همدغه د الله ياد هغه شی دی چې په هغه سره زړونو ته اطمنان ورپه برخه کېږي.

---

٤: الرعد: ٢٨ آيت

﴿وَقَدْ خَابَ مَنْ دَسَّاهَا﴾[2]

ژباړه: او هغه څوک ناکام شو چې (نفس يې په ګناهونو کې) پټ کړ.

بل ايت مبارک کې الله پاک فرمايي:

﴿الَّذِينَ آمَنُوا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُمْ بِذِكْرِ اللَّهِ ۗ أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ﴾[3]

ژباړه: هغو کسانو چې ايمان راوړی دی او د هغو زړونو ته د الله په ياد سره اطمنان ور په برخه کېږي؛ خبردار اوسئ! همدغه د الله ياد هغه شی دی چې په هغې سره زړونو ته ډاډ يا اطمنان ور په برخه کېږي.

په دې کتاب کې مې درته د الهي دين په رڼا کې داسې لارې ښوولې چې د زړه او نفس د درملنې، په دنيا او آخرت کې د بريالي کېدو، له ګڼو ستونزو سره د مقابلې او د ريښتينې خوشحالۍ او سکون ترلاسه کولو کې درسره مرسته کوي.

د سکون ښار د کتاب له ليکلو اصلي هدف دا دی چې څنګه کوای شو الهي دين په خپل نننی عصري ژوند کې تطبيق کړو او د مسلمان په توګه بريالی او نېکمرغه ژوند ولرو او اخرت کې جنت وګټو.

---

۲: الشمس، ۱۰ آيت

۳: الرعد، ۲۸ آيت

# سریزه

داسې انسان نه شې موندلی چې د ناروغي لپاره درمل ونه کاروي.
که بېغوري وکړي ښايي ژوند له لاسه ورکړي.
څنګه چې زموږ بدني ناروغۍ طبي درملنې ته جدي اړتیا لري، همداسې مو روح هم له معنوي ناروغیو اغېزمنېږي او درملنه يې حتمي ده.
د بېلګې په ډول ریا (ځان ښودنه) تکبر، کینه یا حسد، منفي فکر، بد نیتي، ناشکري، شهرت طلبي، له دنیا سره مینه او داسې نور هغه څه دي چې د انسان روح او زړه ناروغوي.
بدني ناروغۍ له مرګ سره ختمیږي، خو روحي هغه بیا د دې ترڅنګ چې په دنیا کې انسان بدبخته کوي، ناوړه پایلې یې له مرګ وروسته هم دوام کوي او آن کوای شي دوزخ ته د انسان د تللو لامل شي.
د ژوند ډېرې ناخوالې او بدبختۍ د روح او زړه له ناروغیو سرچینه اخلي.
که یې سمه درملنه ونه شي؛ د ناکامۍ، زړه تنګوالي، غم، تشویشونو، بېلارۍ، فساد، تنبلۍ او ګڼو نورو ستونزو لامل کېږي چې انسان له ژونده بېزاره کوي او یو ناکام انسان ترې جوړوي.
خو له دې هر څه د بچ کېدو یوه درملنه ده، هغه دا چې خپل زړه او نفس پاک او سپیڅلي کړو.
﴿قَدْ أَفْلَحَ مَنْ زَكَّاهَا﴾[1]
ژباړه: په رښتیا سره بریالی هغه څوک شو چې (نفس) یې پاک کړ.

---

۱: الشمس، ۹ آت

د دې کتاب علمي بیاکتنه د شرعي علومو دوکتور استاد اسدالله حسام او د شرعي علومو ماسټر ګلاب ګل عزيزي کړې ده.
د ژبې بیاکتنه يې شاعر او د پښتو ادبیاتو ماسټر ګل رحمان رحماني، خبريال سید ولي ناصر او ليکوال او شاعر کرامت الله وردک کړې ده.
د ټایپ په برخه کې راسره نصرت الله الکوزي مرسته کړې.
د کتاب پوښ بخت منير فاروقي ډیزاین کړی.
د ورور په شان ملګري جاوید ابراهيمي د دې کتاب ليکلو او چاپ په برخه کې ښکلې مشورې راکړې او ستړيا يې راسره ګاللې.
له دوی ټولو مننه کوم او له پاک رب څخه ورته جنت غواړم!
موږ هڅه کړې چې دا کتاب له تېروتنو خالي وي خو بيا هم انسان ضعیف مخلوق دی، که تاسې کوم څه ته متوجه کېږئ چې باید اصلاح شي، د مهرباني له مخې يې له موږ سره شریک کړئ.

د دې کتاب لړلیک یا فهرست په پای کې لیکل شوی.

د سکون ښار د لیکلو بڼه د څېړنیزو او تخصصي علمي کتابونه په څېر نه ده چې فصلونه ولري او عنوانونه او موضوعات یې یو له بل سره نښتي وي یا تسلسل ولري.

هر مطلب مې په یوې ځانګړې موضوع لیکلی، په دې نیت چې ډېر موضوعات په یوه کتاب کې را ټول کړای شم.

ډېرى مطالب یې له هغو ویډیوګانو او لیکنو راخیستل شوي چې له تېرې شاوخوا یوې نیمې لسیزې راهیسې یې زه پر ټولنیزو شبکو (سوشل میډیا) خپروم.

ځینو مطالبو ته مې جزیات ور زیات کړي یا له ځینو مې کم کړي چې په کتابي بڼه برابر شي.

د دې کتاب د ځینو مطالبو لپاره مې مفکوره او معلومات د لسګونه تکړه علماوو له کتابونو او علمي بیانونو یا ویډیوګانو هم راخېستي او ورسره مې خپل معلومات هم ور زیات کړي.

که د هر یو نوم مې لیکلی وای ښایي لېست ډېر اوږد شوی و او که د څو تنو نومونه مې لیکلي وو، د نورو په حق کې به بې عدالتي وي.

هغوی ته په دې دعا بسنه کوم چې الله پاک دې علمي هڅې ورته په جاریه صدقه کې قبول کړي.

باوري یم چې ان شاء الله د دې کتاب قواعد او معلومات که زده او عملي کړئ، ستاسې پرمخ د کامیابي او نېکمرغي دروازې پرانیزي.

زه یې په بدل کې له تاسې دعا غواړم او بس!

د کابل هوايي ډګر کې يو ځوان ودرولم، څو نور همکاران يې هم ورسره وو، د يوه هوايي شرکت کارکوونکي وو، تر روغبړ وروسته يې را څخه غوښتنه وکړه چې له ملګرو ګوښه ورسره خبرې وکړم.

کله چې ګوښې ته لاړو، احساساتو پرې غلبه وکړه او په ژړا شو.

ويل ژوند مې له ناخوالو ډک دی، ډېرې ستونزې لرم، زړه مې له هر څه تور دی، ډېر بې جرأته يم، هر کار ته لاس اچوم نتيجه يې منفي وي، سرګردان يم او هيڅ نه پوهېږم څه وکړم او له ورته نورو ناخوالو يې شکايت کاوه.

ما ورته څو لارې وښودې او وعده مې ترې واخيسته چې زما د سپارښتنو تر عملي کولو وروسته به د نتيجې په اړه احوال راکوي.

شاوخوا ۱۵ ورځې وروسته لا هم په سفر کې وم چې اړيکه يې وکړه او سخت خوشحال او منندوی و او همدا جمله يې تکراروله "ستا مشورو زما ژوند بدل کړ".

همداراز هغوی چې ما په ټولنيزو شبکو کې تعقيبوي، کله چې ورسره مخامخ شم، ډېری يې همدا راته وايي چې ستا ويډيوګانو د الله پاک په فضل زموږ ژوند بدل کړی دی.

په دې کتاب کې مې د همدغو ويډيوګانو او نور مطالب ليکلي چې زما په ګډون يې د ډېرو کسانو ژوند بدل کړی او ستاسې ژوند هم بدلولی شي، ان شاء الله!

که خوشحالي، سکون او کامیابي غواړې؛ همدا کتاب در سره مرسته کوي، ان شاء الله!

**د سکون ښار**

لیکوال: عبیدالله حسام

خپرندوی: میزان اکاډمي

د چاپ کال: ۲۰۲٦/۱۴۰۵

ویب سایټ: www.hussambooks.com

ایمېل ادرس: info@hussambooks.com

واټس اپ: 0093772051025

د دې کتاب هر ډول چاپ او خپرولو حقوق له لیکوال سره خوندي دي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ